أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ

د جمهوريت د اسلام سره تضادات

او

سياسي نظامونه

تاليف: شيخ ګل محمد حفظه الله

اجمالي فهرست

اول باب: سیاست او سیاسي نظامونه----------------------------1

دویم باب: د جمهوریت تاریخ او بنیادونه---------------------------15

دریم باب:د جمهوریت مفاسد او د شرعي نصوصو سره تضاد----------------41

څلورم باب: د حاکمیت د موضوع تفصیل----------------------------80

پینځم باب: اسلام او سیاست-----------------------------------113

شپږم باب: د جمهوریت متعلق شبهات او جو ابات--------------------131

اوم باب: د جمهوریت په رد کښ د اکابرینو اقوال او دجمهوریانو حکم----158

تفصيلي فهرست

تمهيد: 1

اول باب: سیاست او سیاسي نظامونه 1

د سیاست معني لغوي او اصطلاحي 1

د سیاست معني اصطلاحي: 1

د علم سیاست تعریف موضوع او غرض................................ 2

د علم سیاست تعریف: 2

د علم سیاست غایه او غرض:................................ 2

د علم سیاست موضوع:................................ 3

په سیاست کښ اولني کتاب: 3

مختلف سیاسي نظامونه:................................ 3

بادشاهت: 3

۱ـ مطلق العنان بادشاهت:................................ 4

۲ـ شورائي بادشاهت:................................ 4

۳ـ مذهبي بادشاهت: 4

دستوري بادشاهت:................................ 5

اشرافیه نظام:................................ 6

نسلي اشرافیه................................ 6

مذهبي اشرافیه یا تهیوکریسي 6

د یهودیانو او هندوانو تهیوکریسي 7

عیسائي تهیوکریسي................................ 8

جاګیردارانه نظام:................................ 9

فسطائیت یا فاشیت یا فاشزم 10

نازي حکومت 12

پرولتاري حکومت 13

دويم باب: د جمهوريت تاريخ او بنيادونه 15
جمهوريت 15
د جمهوريت نومونه 15
د جمهوريت تعريف 15
د جمهوريت تاريخ 15
د جمهوريت فلسفه او فکري بنيادونه 15
وولټائر: 16
مونټيسکو 17
روسوو 18
د جمهوريت په قائميدلو کښې تاريخي عوامل 18
د امريکه آزادي 18
د فرانس د انقلاب تعارف 19
د جمهوريت زيرِ اثر قائميدونکي ادارے 22
سياسي جماعتونه: 22
د مشترکه مفادو ګروپ 22
پريشر ګروپ 23
سياسي جماعت (پولټيکل ګروپ يا پارټي) 23
انتخابات 23
د ووټر د اهليت صفات 24
د انتخاب عامه طريقه 24
دوباره انتخاب 24
مقننه 25
د مقننه دوه نظامونه 25
دستور 25
وحداني دستور او وفاقي دستور 26
وفاقي دستور 26

د دستور بنيادي اجزاء 27
بنيادي حقوق 27
تبصره 28
انتظاميه 29
عدليه 29
د جمهوريت عملي نظام 30
د برطانيه پارليماني نظام 30
دپارليماني نظآم مقصد 30
برطانوي پارليمنټ 30
دارالامراء 30
د امريكه صدارتي نظام 31
د فر انس پارليماني نظام 31
د سويټزرلينډ د حكومت نظام 32
په جمهوريت تبصره 33
جمهوريت دوه قسمه دے غربي او اسلامي:.. 35
اسلامي جمهوريت:.. 35
د جمهوريت بنيادونه 35
د مطلق حريت او آزادي دعوه صحيح نه ده 36
د لبرل ازم نومونه:.. 37
د جمهوريت څلورم بنياد كفټليزم دے يعني سرمايه داري او ماده پرستي:.. 38
د جمهوريت پينځم بنياد د نيشنلزم دے اود نورو قومونو بيخ كندي:.. 39
د جمهوريت شپږم بنياد پارټي ايزم دے يعني ډلي او ګوندونه:.. 39
جمهوريت محض انتظامي طريقه كارنه دے بلكه دا يوه نظريه ده 40
د جمهوريت د علم بردارو بنيادي عقيدے 40
دريم باب:د جمهوريت مفاسد او د شرعي نصوصو سره تضاد 41
د جمهوريت د اسلام سره تضادات.. 41

د جمهوریت د شرعي نصوصو سره تضاد: 43
حزب الله او حزب الشیطان............ 49
توصیه 51
د جمهوري او اسلامي طریقې د بعض تضاداتو تفصیل............ 51
د اسمبلي د ممبرانو په انتخاب کښې د شرعي طریقي او جمهوري طریقي د یو بل تضاد 51
جمهوري طریقه 52
شرعي طریقه............ 52
د اراکین شوري او ممبرانو دپاره شرطونه............ 52
اول شرط: ایمان او یقین 52
دویم شرط: عدل او تقوي............ 53
دریم شرط: علم 53
د اهل الحل والعقد تعریف............ 53
په مروجه طریقه زنانه رکن شوري جوړیدل یا ووټ ورکول او پدیکښې د جمهوري طریقي او اسلامي طریقي د یو بل سره تضاد54
د مروجه طریقي وضاحت 54
اسلامي طریقه 56
د مولانا مودودي صاحب وینا............ 56
د مولانا مودودي صاحب وینا............ 57
جمهوري طریقه 58
په مجلس شوري کښې د فیصلو کولو په طریقه کښې د جمهوریت او اسلام د یو بل سره تضاد 59
په جمهوریت کښې د پارلیمنټ کردار 59
آخري فیصله به امیر مجلس کوي او پدیکښې د جهوریت د اسلام سره تضاد 59
د بالغ رائې دهي په بنیاد په انتخاباتو کښې د جمهوریت او اسلام یو بل سره تضاد 60
سربراهي، وزارت، ممبري حقوق دي او که ذمواري ده او پدیکښې د جمهوریت او اسلام تضاد 62
د امیر او سربراه دپاره وخت او مده مقررکول او پدیکښې د جمهوریت او اسلام تضاد 63
د حزب اختلاف په باره کښې د جمهوریت او اسلام تضاد............ 64
د حکومت د سربراه په مقررکولو کښې د جمهوریت د اسلام سره تضاد 65

د سرېراه په کارونو او مسئولیتونو کښې د جمهوریت د اسلام سره تضاد 65
د اقلیتونو د رکنیت شوري (پارلمان) په باره کښې د جمهوریت د اسلام سره تضاد........ 66
په انساني مساوات کښې د جمهوریت د اسلام سره تضاد........ 67
دپارلمان حقیقت 68
پارلمان طاغوتي غېرشرعي اداره ده او د پارلمان منکرات او خلاف شرع کارونه 68
مروجه پارلمان مقرر کول کفر دے........ 69
فائده: جمهوریت یا ووټ شوري نه ده........ 69
خلاصه د سابقه بحثونو 69
د انتخاباتو مفاسد او ناروا کارونه 70
د جمهوریت او انتخاباتو فسادات او نقصانونه په بل تعبیر 71
د جمهوریت او انتخاباتو فسادات او نقصانونه په بل تعبیر 73
د جمهوریت مفاسد او ناروا کارونه 74
د جلسو جلسونو اوهړتال یا بهوک هړتال شرعي حیثیت: 76
څلورم باب: د حاکمیت د موضوع تفصیل........ 80
د عوامو د حاکمیت تردید:........ 80
د طاغوت معني: 81
د شرک في الحاکمیة په رد کښې نور آیاتونه:........ 81
د توحید في الحاکمیت د اثبات او د شرک في الحاکمیة د رد په باره کښې احادیث:........ 82
د شریعت په مقرر شوو سزاګانو کښې د کمي یا زیاتي کولو حق هیچا ته نه دے حاصل........ 82
د الله تعالی د حاکمیت اعلی په باره کښې د خلفاء راشدینو طریقه:........ 83
د الله تعالی د حاکمیت اعلی په باره کښې د امامانو او فقهاء اقوال:........ 84
شرک في الحکم:........ 85
د مولانا شبیر احمد عثماني رحمه الله وینا:........ 86
قانون سازي صرف د الله تعالي حق دے........ 87
د تقنین او تشریع دوه معني ګاني دي۔ 87
فائده: 87

اختیارد تشریع:.. 88

د قانون سازي تفصیل او د قانون دري قسمونه... 89

پارلیمنټ دوه قسمه قانون سازي نه شي کولي او یو قسم کولي شي.. 89

حکم بغیر ما انزل الله.. 90

یعني وپه وضعي قوانینو او د جاهلیت په زړو رسمونو رواجونو فیصلې کول او د دے په حرمت دیارلس دلائل : 90

د طاغوت اصطلاحي تعریف یعني معني 90

د طواغیتو مشران پینځه دي 90

فائده:.. 94

د الله تعالي د بندګانو دپاره شرعي نظام کافي شافي دے او پینځه ضروریات... 94

حفاظت د پینځه ضروریاتو 94

حفاظت د نفس... 96

حفاظت د عقل:.. 96

حفاظت د نسب او عزت 97

حفاظت د مال:... 97

په شرعي نظام او په ماانزل الله د فیصلو کولو فائدے 98

په وضعي او خود ساخته قوانینو د فیصلو کولو نقصانونه 99

د وضعي قوانینو په رد کښ د علماؤ ، اکابرینو عبارتونه 100

د وضعي قوانینو نمونه... 100

1- د شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ قول:.. 100

2- علامه ابن القیمؒ:.. 101

3- علامه ابن کثیرؒ:... 101

4- محمد بن عبدالوهابؒ فرمائي:... 101

5- امام شوکاني رحمه الله:... 101

6- علامه سلیمان بن عبدالله بن عبدالوهابؒ د کتاب التوحید په شرح کښ فرمائي: 102

7- علامه عبداللطیف بن عبدالرحمن آل الشیخ : 102

9- علامه عبدالرحمن بن ناصرالسعدي:.. 103

10ـ الامام محمد بن ابراهيم آل الشيخ مفتي الديار السعوديه:.. 103
۱۱ـ علامه شنقیطي؛ 103
د آئين پاکستان د شريعت مطهره سره يو څو واضحه تضادات 104
د كثرة الآراء په بنياد د فيصلے كولو شرعي حيثيت:... 105
اکثریت دوه قسمه دے یو د خواصو دویم د عوامو: 105
د رائ په كثرت د فيصلے كولو مختلف صورتونه او حكمونه دي:.................................. 106
په يو صورت كښ دراي په كثرت فيصله كول حرام دي۔ 106
دلائل: 106
په دويم صورت كښ د رائ په كثرت فيصله كول مباح دي: 107
د رائ ګانو په اکثريت د فيصلے كولو مثالونه:... 107
په دريم صورت كښ دا رائ ګانو په كثرت فيصله كول واجب دي: 107
د خلفاء راشدينو په دور كښ د رائ په كثرت د فيصلے كولو مثالونه:..................................... 108
په څلورم صورت كښ د رائ ګانو په كثرت فيصله كول اولى او راجح دي:.............................. 108
د ټولو انبياء خلاف د عوامو او اكثريت فيصله 109
دالله والا هميشه په اقليت كښ وي 110
په اهل كتابو او مشركانو او مؤمنانو او عوامو كښ د اكثريت كردار او فيصلے 110
په اهل كتابو كښ د اكثريت كردار او فيصلے 110
شپږم باب: اسلام او سياست.. 113
د سياست په باره كښ دري قسمه نظريے دي:.. 113
د افراط نظريه:.. 113
د اعتدال نظريه: 113
سياست د اسلام نه جدا نه دے: 114
دلائل: 114
د علامه عيني رحمه الله تشريح: 114
د حافظ ابن حجر رحمه الله تشريح:.. 114
مولانا تقي عثماني صاحب وائ:.. 115

د اسلام د سیاسي نظام په باره کښې دعلماء لیکل: 116
د هغه چا حکم چه اسلام او سیاست د یو بل نه جدا ګڼړي: 116
فائده: 116
د ابن جوزي رحمه الله وینا: 117
د سیاست قسمونه: 117
شرعي او وضعي سیاست 117
د شرعي او وضعي سیاست ترمنځ فرق: 118
عادلانه او ظالمانه سیاست۔ 118
الهي سیاست او انساني سیاست: 118
عقلي سیاست او دیني سیاست: 119
سیاست کونکي څلور قسمه دي: 120
الف: اعلی سیاست: 120
ب: د حاکمانو بادشاهانو او سلاطینو سیاست: 120
ج: د علماؤ سیاست: 120
په اسلامي او غربي سیاست محققانه تبصره: 120
په سیاست کښې بے احتیاطي: 125
د انساني سیاست قسمونه: 125
د سیاست او اصلاح شروع: 126
د خپل ځان د اصلاح کولو طریقه: 126
د خپل ځان د اصلاح ضرورت: 127
د خپل ځان د اصلاح کولو فائدي او د نه اصلاح کولو نقصانات: 127
د خپل نفس د اصلاح اسباب: 128
په ځان د حسن ظن څخه ډډه کول: 128
په خپل نفس د حسن ظن لوئ اسباب: 128
دکبر او ځان خوښي او ددي نقصانات: 128
د حضرت ابوبکر رضي الله عنه اثر: 129

د تکبر او ځان خوښئ تر منيځ فرق: 129

د تکبر او ځان خوښئ غټ اسباب: 129

اسلامي دولت چاته واي 130

د اسلامي دولت اساسي قانون چاته واي 130

پينځم باب: د جمهوريت متعلق شبهات او جوابات 131

اوله شبه: په اميدوارانو کښې چه څوک غوره وي هغه ته ووټ ورکول ضروري او واجب دي. 131

جواب: 131

دويمه شبه: بعض علماء کرامو فتوي ورکړي چه ووټ ورکول پکار دي ځکه ووټ شهادت دے سفارش دے وکالت دے. 131

د بعض علماء د خبري تفصيل: 131

د ووټ حيثيت: 131

د ووټ شرعي حکم د شهادت په حيثيت 131

د ووټ شرعي حکم د سفارش په حيثيت 132

د ووټ شرعي حکم د مشورے په حيثيت 132

د ووټ شرعي حکم په حيثيت د وکالت 133

حاصل بحث 133

اجمالي جواب: 133

تفصيلي جواب 133

مونږ وايو چه مروجه ووټ نه شهادت دے او نه سفارش او وکالت دے 133

دريمه شبه: 134

جواب: 134

څلورمه شبه: د ووټ په باره کښې بعض مشرانو علماء فتوي ورکړي 135

جواب: 135

قول او عمل د مشائخو او مشرانو دليل شرعي نه دے: 135

پينځمه شبه: د جمهوريت او انتخاباتو متبادل لارنشته 136

جواب: 136

زمونږ دين کامل دے احتمال د زيادت او نقصان نه لري 137

۶- شپږمه شبه: مخالفینو ته میدان خالي نه پرېږدو.. 138

جواب: 138

۷- اومه شبه: مونږ په اهون البلیتین عمل کوو.. 138

اتمه شبه: دجمهوریت په جواز اجماع سکوتي ده 138

نهمه شبه: هرکله جمهوریت غیر اسلامي او غیر شرعي عمل دے نو مذهبي جماعتونه پکښ ولې حصه اخلي-.............. 139

زمونږ اجمالي جواب: 140

زمونږ تفصیلي جواب.. 140

دویم قاعده 140

دریمه قاعده: د اهل السنة والجماعة 141

څلورمه قاعده علماء داسي ذکر کړي: 141

الحاصل:.. 142

اصل مقصد ته و اپسي:.. 142

لسمه شبه: آیا مروجه جمهوریت ته اسلامي جمهوریت ویل صحیح دي.................................... 142

یو لسمه شبه: او د اسلام د نورو ادیانو سره صلح او یو ځاي کیدل ممکن نه دي او د دے دیارلس وجوهات 143

وفد د ابو سفیان په مشري کښ د جنګ احد نه روستو مدینے ته 144

د اسلام او د کفر جوړنه راځي 148

دولسمه شبه : ووټ مشوره ده چه فلاني دِ د دے علاقې امیر یا وکیل شي او ممبر شي............. 148

جواب: ووټ مشوره نه ده، ځکه د ووټ او مشوري ډیر فرقونه دي... 148

دیارلسمه شبه: د جمهوریت پرستو د طرف نه یو اهم اشکال 149

څوارلسمه شبه: بعض علماء خو د زنانه د رکنیت او د ووټ ورکولو د جواز فتوه ورکړي 149

د دوي دلیلونه:... 150

د دے مثالونه.. 150

جوابونه... 150

څلورم جواب: 151

پینځم جواب:.. 152

شپږم جواب:.. 152

پينځلسمه شبه: د زنانو ووټ غورزول يا د شورې رکنيت ضرورت دے 153
شپاړسمه شبه: که زنانو رکنيت او نمائندګي په اسمبلي کښ نه وي نو د زنانو حقوق ضائع کيږي................ 153
اولسمه شبه: بعض خلق واي چه زنانه په انتخاباتو کښ حصه اخستلي شي د دے دپاره چه ټولني ته خدمت وکړي. 153
د جمهوری خلقو نه يو سوال 154
د ووټونو په ذريعه شرعی نظام نشی قائميدے 154
ګيله او شکايت 157
اوم باب: د جمهوريت په رد کښ د اکابرينو اقوال او دجمهوريانو حکم 158
جمهوريت د علماء ديوبند په نظر کښ 158
قاري طيب قاسمي رحمه الله واي: 158
مولانا ادريس کاندهلوي رحمه الله واي: 158
مفتي محمود رحمه الله واي: 158
مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله واي: 159
مفتي رشيد احمد رحمه الله واي: 160
مولانا يوسف لدهيانوي رحمه الله واي: 162
مولانا عاشق الهي بلند شهري رحمه الله واي: 163
مفتي تقي عثماني دامت برکاتهم واي: 163
مفتي نظام الدين شامزئي رحمه الله فرمائي: 163
مولانا فضل محمد دامت برکاتهم واي: 164
مفتي ابو لبابه شاه منصور دامت برکاتهم واي: 164
مفتي حميد الله جان رحمه الله واى: 164
مولانا محمد ادريس کاندهلويؒ فرمائي: 164
حضرت مولانا محمد منظور نعماني صاحب رحمه الله: 165
مولانا محمد حسين اله آبادي رحمه الله 165
د جمهوريانو شرعي حيثيت او د دوي مختلف حکمونه 166
د جمهوريت جوړونکي په اتفاق د امت کافر دي 166
دويم قسم جمهوريان عمل کونکي دي په جمهوريت 167

د دے څلورقسمونو حکم 167
اوس د دے څلورقسمونو حکم بیانوو 168
متاولین جمهوریان 170
د دوي حکم.. 170
تاویل.. 171
تعریف 171
د متاولینو تقلید کونکي.. 171
خلاصه بحث 171
د ظالم حکمر انانو په باره کښ وعیدونه او هغوي سره تعلق:... 172
د ظالم او فاسق حکمر انانو په باره کښ د علماء کرامو اقوال : 176
تتمه په باره د اکثریت او مساوات کښ 177
د جمهوریت په بنیادونو کښ یو مساوات دے او دا نظریه د دے آیاتونو نه خلاف ده:............................. 177
د جمهوریت په بنیادونو کښ یو اکثریت دے او دا نظریه د دے آیاتونو نه خلاف ده:.............................. 178
بلکي حقانیت په جانب د اقلیت کښ وي 180

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله. {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ} .{يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالاً كَثِيراً وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيباً}{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلاً سَدِيداً، يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزاً عَظِيماً} أما بعد فاعوذ بالله من الشيطان الرجيم

وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ (ال عمران:۸۵)

أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ (المائدة:۵۰)

وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ وَلِتَسْتَبِينَ سَبِيلُ الْمُجْرِمِينَ (الانعام:۵۵)

وعن حُذَيفَةَ بْنِ اليمَانِ قالَ:كانَ النَّاسُ يَسْأَلُونَ رَسُولَ الله - صلى الله عليه وسلم - عَنِ الخيْرِ؟ وَكُنْتُ أسْأَلُهُ عَنِ (وفي طريق: تعلَّمَ أصحابي الخير، وتعلَّمتُ) الشَّرّ؛ مَخَافَةَ أنْ يُدْرِكَني(متفق عليه)

وقال المحدث الشهير عبد الكريم بن ابى المخارق رحمه الله لان ارد رجلا من راى سيئ احب الى من اعتكاف شهر۔

تمهید:

د الله تعالی په نیز مقبول نظام او دین صرف اسلام دے۔ نور ټول ادیان مذاهب او نظآمونه مردود غیر مقبول دي۔ بیا وخت په وخت د اسلام په مقابله کښ مختلف دینونه او نظامونه وجود ته راغلي په دغه نظامونو کښ یو نظام جمهوریت دے او په موجوده وخت کښ دا ډیر خطرناک نظام دے ځکه دا داسلام خلاف یو غیر اعلانیه جنګ دے او ترڅو چه جمهوري نظام مستحکم وي نو اسلام او اسلامي نظام وده او ترقي نشي کولي او جمهوریت په اسلام یوه ډیره خطرناکه حمله ده۔

بل طرف ته په عالمي سطحه جمهوریت ته ډیر اهمیت ورکولي شي تر دي چه جمهوریت د دوي کلمه طیبه ګرځیدلي۔ ټول سیاسي قائدین دا خبره کوي چه د ټولو مشکلاتو واحد حل د جمهوریت بحالي او نفاذ دے او بس۔ هغه مشکلات که د غریبانو غربت وي او که د مظلومانو د ظلم قصے دي او که بے انصافي او بد امني ده او که بے ځیني بدعنواني او رشوت خوري ده۔ د دے ټولو حل دغه جمهوریت دے۔

پدے وجه کفري ملکونه د جمهوریت د استحکام دپاره په ډیره لویه پیمانه مالونه لګوي او د بعض ملکونو سره همکاري د جمهوریت د استحکام په اندازه کیږي چه څومره جمهوریت ته وده او ترقي ورکوي په هغه اندازه ورسره مالي همکاري کیږي۔

د جمهوریت د نفاذ او بحالي دپاره چه څوک څه کردار اداء کوي نو ټول طاغوتي قوتونه هغه د یو هیرو په طور پیش کوي بلکه هغه ته اعزازي تمغات هم ورکوي او د طاغوتي قوتونو دا پروپیګنډه دومره کامیابي ته ورسیده چه نن صبا په اسلامي ملکونو کښ هم که کومه پارټي یا لیډر د عوامي مقبولیت خواهشمن وي نو هغه باربار د جمهوریت ثنا خواني او صفتونه کوي بلکه بعض خلق د اسلام تعریف او تحسین په مغربي ملکونو کښ په داسے انداز د واضحه کولو کوشش کوي چه په اسلام کښ هم جمهوریت شته او د دے سره د اسلامي جمهورت پیوندکاري کوي۔ تردي چه بعض براي نام مسلمانانو په نیز دغه ام السیئات

یعني مروجه جمهورت په ام الحسنات او خیر مطلق بدل شوي۔ پدے وجه مونږ د دغه جمهوریت د تردید دپاره دا رساله شروع کړه لکن په اوله حصه کښ مونږ بطور تمهید نور سیاسي نظامونه هم ذکر کړل او د دغه سیاسي نظامونو بحث مونږ ټول د مولانا تقي صاحب د کتاب اسلام اور سیاسي نظریات نه نقل کړو۔ خو زمونږ اصل مقصد د جمهوریت تردید او وضاحت دے چه د جمهوریت تعریف څه دے او د دے بنیاد چا ایښي او د دے بنیادونه او اجزاء ترکیبي څه دي، د دے اسباب او عوامل څه دي، د دے اغراض او مقاصد څه دي او د جمهوریت د اسلام او نصوصو سره څومره نضادات دي او اسلام او جمهوریت څومره په بیلا بیل لارو روان دي او د مروجه جمهوریت په خپلولو کښ مسلمانانو څه اومندل او څه وشو۔

بیا پدي رساله کښ مونږ دا کوشش کړي چه د تنګ نظري او تعصب او د ‍بے ځایه جذباتو نه په غیر اصل حقائق پیش کړو او د ټولو لوستونکو حضراتو نه دا امیدکوم چه خپل ځان خالي الذهن کړي، د جمهوریت د حقیقت د پیجاندلونه روستو خپل انصاف وکړي او په انصاف بنا فیصله وکړي او د لوستونکو حضراتو نه دا مطالبه کوم کچري جمهوریت ام السیئات او ام الخبائث وي او د دے په نافذ کولو سره د اسلام جرړي پریکولي شي او د اسلام بنیادونه ختمیږي نو د رب د رضا دپاره د جمهوریت په تردید کښ خپل مسئولیت اداء کړي۔ ځاي په ځاي په درسونو بیانونو او جلسو کښ د جمهوریت خلاف بیانونه وکړي او د خلقو په ذهن کښ د دے فاسد نظام سره بغض او نفرت پیدا کړي او مسلمانان د دے نظام مخالفت او مقابلے ته رابیدار کړي او خپل رب ته د دے نظام نه صفائي او برائت پیش کړي۔

بیا پدے رساله کښ چه کوم مباحث شوي نو د دے دپاره مونږ د مختلفو کتابونو او رسالو مطالعه وکړه۔ پدے رساله کښ د دغه مطالعے حاصل او نچوړ ذکر کوو۔

الحمد لله الذی هدانا لهذا وماکنا لنهتدي لولا ان هدانا الله۔

اول باب: سیاست او سیاسي نظامونه

د سیاست معني لغوي او اصطلاحي

مولانا عبد الباقي د اسلام سیاسي او اداري نظام ص:۴۷ ج:۱ کښ واي مونږ ئے حاصل نقل کوو۔ سیاست د مصدر صیغه ده، د ساس یسوس نه په شان د قال یقول او د دے مادے بل مصدر سوس راځي په شان د قول۔

د سیاست لغوي معني ابن منظور افریقي رحمه الله المتوفي ۷۱۱ه په لسان العرب ص:۴۲۹ ج:۶ کښ او ابن الاثیر المتوفي ۶۳۰ه په النهایة في غریب الحدیث ص:۴۲۱ ج:۲ کښ واي:

السیاسة القیام علي الشيئ بما یصلحه

د یو شي د اصلاح دپاره ودریدل

یعني د یو شي د اصلاح دپاره ملا تړل او کلک ودریدل چه فساد ختم شي او اصلاح مینځ ته راشي۔

دغه رنګي سیاست په لغت کښ رعایت او تدبیر ته واي، لکه اسماء رضي الله عنها واي:

کان له (للزبیر) فرس کنت اسوسه

د زبیر رضي الله اس وو چه ما به د هغه رعایت او د هغه خدمت کولو یعني د اس د ساتنے وغیره تدبیر به مې جوړولو۔

نو د لغوي معني حاصل د اشو چه د یو شي د اصلاح دپاره مناسب تدبیر جوړول۔

د سیاست معني اصطلاحي:

امام غزالي رحمه الله په احیاء العلوم ص:۲۴ کښ واي:

استصلاح الخلق وارشادهم الي الطریق المستقیم المنجي في الدنیا والآخرة

د خلقو اصلاح کول او خلقو ته د هغه نیغي لار ښودنه کول چه هغه په دنیا او آخرت کښ نجات ورکونکي وي۔

ابو حفص عمر نسفي حنفي المتوفي ۵۳۷ ه په طلبة الطلبة ص:۳۰۲ کښ واي:

حیاطة الرعیة بما یصلحها لطفا وعنفا

(د رعیت د کارونو څارنه او اصلاح کول)۔

ابن خلدون په مقدمه ص:۱۴۳ کښ واي:

هی کفالة للخلق وخلافة لله في العباد لتنفیذ احکامه فیهم

سیاست د خلقو د ضرورتونو کفالت دي او دالله خلافت دي دالله په بندګاني کي ددي پاره چی په خلقو کی د الله تعالي حکومه تطبیق او نافذ کړي -د الله تعالي احکامو په جاري کولو د سیاست اطلاق ځکه کیږي چه د الله تعالي په احکامو د مخلوق کامله

اصلاح راځي. دغه رنګي حاکم او امیر چه د یو چا دپاره کوم تعزیر مقرر کړي هغه ته هم فقهاء کرام سیاست واي ځکه د هغه سره هم اصلاح راځي.

د سیاست دوه قسمونه شرعي او وضعي

شرعي هغه دے چه د هغه بنیاد په شرعي اصولووي او وضعي هغه دي چې د هغه بنیاد په شرعي اصولو نه وي بلکه بنیاد ئے په عرف او عادت وي یا ئے بنیاد په تجربو وي یا په زړو رواجونو وي د آسماني وحي لحاظ پکښ نه وي.

د علم سیاست تعریف موضوع او غرض

هرکله چه سیاست یو علم او فن دے او په هر علم او فن کښ درې خبرې پیجاندل ضروري دي، تعریف، موضوع او غرض.

د علم سیاست تعریف:

د سیاست د علم د تعریف په رابطه علامه حسن صعب لیکلی دی:

علم السیاسة هی علم تبحث عن الشؤون العامة والخاصة للدولة وتبحث عن تنظیماتها وارتباطها بالدول الاخری (علم السیاسة ص:١٩)

د سیاست علم بحث کوی د عامو او خاصو امورو د دولت نه دهغو امورو نه کوم چه د دولت د نظم او انتظام سره تعلق لری او همدا رنګی بحث کوی د ارتباط او تعلقاتو د دولت د نورو دولتونو سره.

طاش کبری زاده رحمه الله د علم سیاست تعریف دا رنګی کوی:

علم یعرف منه انواع الریاسات والسیاسات والاجتماعات المدنیة (مفتاح السعادة ومصباح السیادة ص:٣٨٦ ج:١ الشعبة الثالثة فی علم السیاسة)

دا هغه علم دي چه د دي په توسط د ریاستونو، سیاستونو او د مدني ټولنو اقسام پیژ اندلي شي.

طاش کبري زاده رحمه الله دا خبره واضحه کړه چه د علم سیاست احوال به بادشاهانو، امیر انو، اهل احتساب، قاضیانو، علماوو، د مالونو مشر انو، د بیت المال د وکیلانو او دهغه چا احوال وي چه د دوي مماثل وي.

د علم سیاست غایه او غرض:

د هر شي دپاره غایه او غرض وي، نو د علم سیاست غایه او غرض په ارتباط علامه عبد الوهاب خلاف رحمه الله چه په ١٩٥٦ء کښ وفات شوي لیکلي دي:

غایته: الوصول الی تدبیر شؤون الدولة الاسلامیة بنظم من دینها والابانة من کفایة الاسلام بالسیاسة الصادقة وتقبله رعایة مصالح الناس فی مختلف العصوروالبلدان (السیاسة الشرعیة فی شؤون الدستوریة والخارجیة والمالیة ص:٧)

د علم سیاست غرض او غایه رسیدل دي د تدبیر د امورو د اسلامي دولت ته په منظم او مرتب کولو د دیني امورو سره په کولو د صادق شرعي سیاست سره د دي ښکاره کول دي، چه اسلام په خپله خود کفیل نظام دي او د دنیا وضعي نظامونو ته محتاج نه دي او د دي خبري اظهار دي چه اسلام تر قیامته پوري د ټولو خلقو مختلفو وختونو او ښارونو او علاقو کښ د دوي د مصالحو ذموار دي.

د علم سياست موضوع:

دهر علم جدا جدا موضوع وي چه په دي علم کښ د دي موضوع د ذاتي عوارضو نه بحث کيدي شي نو د سياست د علم د موضوع په رابطه علامه عبد الوهاب خلاف رحمه الله ليکلي دي:

موضوعه: النظم والقوانين التى تتطلبها شؤون الدولة من حيث مطابقتها لاصول الدين، وتحقيقها مصالح الناس وحاجاتهم (السياسة الشرعية ص:۷)

د علم سياست موضوع هغه بنيادونه او هغه قوانين دي چه د دولت امور ئے تقاضا کوي او دا بنيادونه او قوانين به مطابق وي د اصولو د دين سره چه د خلقوګټې، مصلحتونه او ضرورتونه به ترسره کوي۔

(د اسلام سياسي او اداري نظام ص:۱۳۱ ج:۱)

په سياست کښ اولني کتاب:

په سياست کښ اولني کتاب د سقراط شاګرد افلاطون ليکلي۔ دهغه کتاب نوم دے جمهوريه۔ افلاطون د عيسي عليه السلام نه تقريبا څلورسوه (۴۰۰) کاله مخکښ تيرشوي او د جمهوريه لفظ د ټولونه مخکښ افلاطون استعمال کړي۔

د افلاطون نه روستو دهغه شاګرد ارسطو کتاب ليکلي، د هغه نوم دے "سياست"۔ پديکښ د افلاطون د کتاب نه ترتيب او تفصيل زيات بهتر دے او دا د ټول فکري نظريو دپاره بنياد دے۔ ارسطو د عيسي عليه السلام نه دري سوه (۳۰۰) يا دري نيم سوه کاله مخکښ تيرشوي۔

بهرحال د علم سياست مباحث ډيرد مخکښ نه رانقل شوي څکه پدي سقراط افلاطون او ارسطو مباحث کړي بيا روستو نورو خلقو پدے مباحث کړي۔ لکن دوي ټولو خيالي خبري کړي او د خيالي نظريو په بنياد ئے خپل کتابونه ليکلي۔

بيا روستو مسلمانانو او علماء کرامو پدے موضوع د قرآن او سنت په رڼرا کښ د السياسة الاسلامية يا السياسة الشرعية په نوم ډيرکتابونه ليکلي۔

مولانا عبد الباقي په خپل کتاب د اسلام سياسي او اداري نظام ص:۹۷ ج:۱ کښ پدے موضوع د دري سوه ديارلس (۳۱۳) کتابونو نومونه او دهغے د مصنفينو نومونه ذکرکړي لکه الاحکام السلطانيه د ماوردي ډيرمشهوردے، دغه رنګے الاحکام السلطانيه دابو يعلي۔

مختلف سياسي نظامونه:

د حکومتونو د چلولو دپاره مختلف سياسي نظامونه دي۔ د دے وخته پوري په دنيا کښ مشهورنظامونه درے قسمه چليدلي دي:

۱۔ بادشاهت ۲۔ اشرافيه ۳۔ جمهوريت

بيا په دے درے قسمه نظامونه کښ مختلف شاخونه جورشوي۔

بادشاهت:

د عالم په تاريخ کښ د ټولو نه ډيرجاري او نافذ سياسي نظام د بادشاهت نظام دے۔ بيا د بادشاهت ډيرقسمونه دي:

۱ـ مطلق العنان بادشاهت

۲ـ شورائي بادشاهت

۳ـ مذهبي بادشاهت

۴ـ دستوري بادشاهت

۱ـ مطلق العنان بادشاهت:

دیته واي چه په هغه کښ بادشاه د يو قانون پابند نه وي. د مشوري پابند نه وي، څوک ترينه تپوس نه شي کولي، د هغه ژبه قانون وي چه څه واي هغه قانون وي په خپله قانون جوړوي په خپله د حکومت انتظام چلوي. داسي نظام حکومت د فرعون او نمرود وو، تردے چه هغوي د خدائي دعوي هم کړيوه.

۲ـ شورائي بادشاهت:

دیته واي چه بادشاه په خپله قانون هم جوړوي، انتظامي فيصلي هم کوي لکن د هغه سره يوه شوري هم وي چه دهغوي سره د احکامو په جاري کولو کښ او په انتظامي معاملاتو کښ مشوري کوي.

بيا په بعض ځايونو کښ داسي وي چه بادشاه د مشوري پابند نه وي او په بعض ځايونو کښ د مشوري پابند وي.

په مخکښ تاريخ کښ به د ټولونه مهذب رياستونه د يونان رياستونه ګڼړلي شو. په دغه زمانه کښ د شهری رياستونو نظام جاري وو، يعني هر ښار مستقل حکومت وو او د مستقل ملک حيثيت ئے وو او دا نظام د ډيري زماني پوري جاري وو. په دغه زمانه کښ به ښار قلعه بند وو، ښار به په يو قلعه کښ محصور وو او په دغه قلعه کښ دننه اوسيدونکي به د يو رياست افراد ګڼړلي شو. د هر ښار به ځانله مشر وو او د هر يو به ځانله نظام حکومت وو. د دوي بادشاه په اول کښ مطلق العنان وو، روستو ئے د شورائي بادشاهت نظام غوره کړو.

په بعض رياستونو کښ به بادشاه د شوري پابند وو او په بعض کښ به د شوري پابند نه وو. په بعض رياستونو کښ حدود متعين کړيو، په بعض معاملاتو کښ به بادشاه په خپل صوابديد فيصلي کولي او په بعض معاملاتو کښ د شوری پابند وو. دا د دعيسي عليه السلام نه تقريبا دري، څلورسوه کاله مخکني زمانه وه.

۳ـ مذهبي بادشاهت:

دیته واي چه په هغه کښ د بادشاه د اقتدار او اختيار سرچشمه مذهب وي، يعني مذهبي خلق په مذهبي طور د هغه انتخاب کوي او د مذهبي مشرانو د تشريح مطابق د مذهب تابع وي.

دمذهبي بادشاهت رواج د ډيري زماني پوري په عيسايانو کښ چليدلي وو. چه کله عيسي عليه السلام اسمان ته تشريف ويوړ نو دهغه نه تقريبا دري سوه (۳۰۰) کاله روستو د دے آغاز شويو.

د عيسي عليه السلام په تابعدارو دري سوه (۳۰۰) کاله داسي تير شويو چه د هغوي سره به مخالفينو ظلمونه کول او د هغوي څه مرکز نه وو.

د دري سوه (۳۰۰) کاله پورې دا سلسله جاري وه چه هغوي به در پرده تبليغ کولو او د عيسي عليه السلام اصل تابعدار موحدين وو۔

لکن د دے دري سوه (۳۰۰) کاله په دوران کښ د عيسي عليه السلام په اصل مذهب کښ تحريف وشو، تردے چه د اصل مذهب خلق ختم او يا ډير کم شو۔ په دغه وخت کښ په دوي کښ يهودي عناصر داخل شو، پولوس پکښ داخل شو، په عيسائي مذهب کښ تحريفونه وکړل۔

روميان د مخکښ نه بت پرست وو لکن چه کله عيسي عليه السلام اسمانونو ته پورته شو نو دهغه نه دري سوه (۳۰۰) کاله روستو د روم بادشاه قسطنطين چه هغه ته قسطنطين اعظم هم واي هغه عيسائي شو، خو هغه عيسائيت ئے قبول کړو چه په هغه کښ پولوس تحريف کړيو۔

دا هغه بادشاه دے چه دده په نوم قسطنطنيه ښار جوړ شويو چه نن صبا ورته استنبول واي او دا بيا د عيسائي رياست پايه تخت جوړ شو۔

د قسطنطين اول د عيسائي کيدو نه روستو په روم کښ د عيسائي مذهب د حکومت آغاز وشو۔

په دغه وخت کښ د پولوس والا عيسائي مذهب پيشوا او مشر اتهانا سيوس وو۔ دغه مذهبي مشر قسطنطين اول لره په مذهبي طور بادشاه مقرر کړو او د دينه په روم کښ د مذهبي بادشاهت وجود شروع شو۔

د دے مذهبي بادشاه خصوصيت دا وو چه د کليسا مشر چه هغه ته پوپ واي په مذهبي معاملاتو کښ به دهغه فيصله آخري فيصله وه او په خالص سياسي معاملاتو کښ به بادشاه فيصله کوله۔ پوپ به دا فيصله هم کوله چه کومه معامله مذهبي ده۔ پدے وجه بادشاه د ډير حد پورې په خپلو فيصلو کښ د چرچ د سربراه د فيصلو تابع وو۔

پدے وجه د روم په تاريخ کښ به دا لوي مصيبت وو چه د پوپ او د بادشاه د اختياراتو حدود کوم کوم دي۔ پدے بۀ سخت جګړې کولې او دا د دوي لا ينحل مسئله وه۔ تردے چه د سيکولر نظام حکومت لاندې په ويټي کن کښ د پوپ ځانله رياست قائم شو۔

حاصل د اشو چه مذهبي بادشاهت په عيسايانو کښ د قسطنطين د دورنه شروع شويو چه کله هغه عيسائي شو۔

دستوري بادشاهت:

دستوري بادشاهت ديته واي چه په هغه کښ بادشاه د يو دستور او قانون پابندي وي چه د هغه قانون نه آخوا ديخوا کيدي نه شي۔

دا دستوري بادشاهت په مختلف دورونو کښ چليدلي دے۔ په يونان کښ چليدلي دے، د روم په تاريخ کښ هم داسي زمانه راغلي چه په هغه کښ بادشاه د دستور پابند وو۔ پدے وخت کښ هم دستوري بادشاهت د پارليماني نظام يوه حصه ده۔ په برطانيه کښ هم د دستوري بادشاهت نظام دے لکن دغه بادشاهت برائ نام دے، اختيارات ورسره نه وي۔ اصل انتظامي اختيارات ټول د کابيني سره وي يا د پارليمنټ سره۔

بهرحال د بادشاهت څلور قسمونه دي د مطلق العنان بادشاهت نه واخله د براي نام بادشاهت پورې۔

بیا بادشاهت ملوکیت سلطنت کله صحیح وي کله غلط۔ ځکه د دے دارومدار په اختیاراتو او اصولو دے چه د ده اختیارات څومره دي او د کومو اصولو او نظام د لاندي حکومت کوي که نظام ئے صحیح وو نو دغه بادشاهت او حکومت صحیح دے او که نظام غلط وو نو دغه بادشاهت یا حکومت صحیح نه دے۔ نوم له اعتبار نشته، نوم هر څنګه چه وي که نوم د خلیفه وي اوکه د ملک وي اوکه د سلطان اوکه د صدروي۔

اشر افیه نظام:

دویم قسم سیاسي نظام ته اشر افیه نظام واي۔ اشر افیه د اشراف نه دے۔ اشراف عزتمندو خلقو ته واي، یعني هغه خلق چه معاشره کښ قدر او احترام لري۔ د دے نظام حاصل دا دے چه حکومت کول د هر چا حق نه دے بلکښ دا د خاص عزتمندو خلقو کار دے او دهغوي حق دے۔

بیا د عزتمندو خلقو تعین مختلف خلق په مختلفو طریقو کوي۔ بعض واي چه د نسب په اعتبار امتیازي حیثیت لري، بعض واي چه د مذهب په اعتبار امتیازي حیثیت لري، بعض واي چه خاص صلاحیتونه او صفتونه لري، مثلا هوښیار وي او بهادر وي۔

بهر حال د اشر افو او عزتمندو خلقو نه مختلف تعبیرونه شوي لکن ټول پدیکښ متفق دي چه حکومت کول د هر چا حق نه دے بلکښ د مخصوص طبقے حق دے چه هغه حکمر انان وي او ټولو خلقو له دهغوي طاعت پکار دے او ددے تصور آغاز په حقیقیت کښ د ارسطو او افلاطون نه شوېو۔ ځکه دوي ویلي وو چه د حکمر اني حق د هغه چا دے چه هغه د علمي صلاحیت په اعتبار ممتاز وي، نو دوي د علمي اشر افیه تصور پیش کړېو لکن دا تصور عملا په وجود کښ نه دے راغلي۔ یعني عملا داسي نظام نه دے قائم شوي چه هغه خالص په علمي بنیادونو د حکومت انتخاب وکړي، دا صرف د هغوي دماغي تخیل او آرزو او تمنا وه۔

نسلي اشر افیه

اشر افیه نظام کښ ډیر قسمونه دي، یو علمي اشر افیه وو خو علمي اشر افیه نظام په وجود کښ نه دے راغلي۔

دویم قسم نسبي یا نسلي اشر افیه نظام دے۔ د دے مطلب دا دے چه د یو نسب یا نسل تعین وشي چه حکمر اني صرف د دے نسل یا نسب یا قبیلے حق دے او دا نظام په ډیرو قومونو کښ دے۔ خصوصا په هندوانو کښ چه حکومت کول د برهمن یا راجپوت یا کمشتري نسلونو حق دے۔

مذهبي اشر افیه یا تهیوکریسي

په اشر افیه نظام کښ دریم قسم مذهبي اشر افیه دے او دیته تهیوکریسي هم واي او دیته د مذهبي مشر انو حاکمیت هم واي۔

تهیوکریسي په اصل کښ یوناني لفظ دے۔ په یوناني ژبه کښ تهیو خدا ته واي او کریسي حاکمیت ته واي یعني د خداي تعالي حاکمیت۔

د دے نظام اصل تصور ډیر مبارک دے، ځکه پدے کائناتو کښ اصل حاکمیت د الله تعالي دے لکن دا سوال پیدا کیږي چه د الله تعالي د احکامو تعین به څوک کوي۔

په عيسائي دنيا کښې د دے عملي جواب د ادے چه د چرچ سربراه پوپ به د دے تعين کوي۔ هغه ته دا اختيار حاصل دے چه هغه د الله تعالي د احکامو تعين وکړي او بادشاه ته ئے وښاي۔

د چرچ سربراه چه کوم شئ ته د الله تعالي حکم اوواي نو د حکومت سربراه به مجبوروي په هغه به عملی کوي۔

د دے نتيجه دا ده چه عملا د تهيوکريسي مطلب د مذهبي مشر انو حاکميت دے۔ مونږ مخکښې ذکر کړيو چه د روم په عيسائي حکومتونو کښې دا ډير لاينحل مسئله وه، د پوپ او بادشاه په مينځ کښې ډير اختلاف وو۔ پديکښې بل نقصان دا وو چه هر کله پوپ ته مکمل اختيار وو چه هغه د مذهب د احکامو تعين وکړي چا به پے هيڅ اعتراض نه شو کولي۔ د دے وجه نه به پوپ په ډير ځايونو کښې خپل اختيارات په ناجائز طريقه استعمالول۔ خصوصا چه کله به داسي خلق پوپ جوړ شو چه هغه به د ذاتي مفاداتو غرضيان وو نو هغه به ډيرے ﺑﮯ رحمه پاليسياني جوړولي چه دهغه په وجه به ټول قوم د جبر او تشدد ښکار وو۔

د دے ټول صورت حال په نتيجه کښې د عوامو په مينځ کښې د مذهب خلاف بغاوت پيدا شو۔ آخر دا چه هغوي د حکومت نه د مذهب عمل دخل ختم کړو او سيکولر نظام حکومت ئے قائم کړو او تهيوکريسي لفظ بدنام شو، ځکه د دے لفظ په آوريدو سره په ذهن کښې هغه ټولي خرابياني راغلي چه د پوپ ادارے پيدا کړي وي۔

زمونږ په معاشره کښې هم خلق واي چه اسلام د تهيوکريسي خلاف دے، کله چه په پاکستان کښې د اسلامي حکومت خبره کيږي نو بعض تجدد پسند واي چه دا خلق تهيوکريسي غواړي او مونږ په پاکستان کښې تهيوکريسي نه غواړو۔ لکن دے خلقو اصل تهيوکريسي نه ده پيجاندلي، ځکه د تهيوکريسي اصل معني ده دخداي حاکميت۔ قرآن هم واي <u>ان الحکم الا الله</u>، که څوک واي چه په اسلام کښې تهيوکريسي نشته يعني په اسلام کښې د خداي حاکميت نشته نو دا خو ډيره خطرناکه خبره ده۔

نو تهيوکريسي اصل معني صحيح ده لکن د مختلف مذاهبو د طرف نه خصوصا د عيسايانو د طرف نه پديکښې خرابياني راغلي چه دهغه په نتيجه کښې دا لفظ بدنام شوي۔

د يهوديانو او هندوانو تهيوکريسي

د ټولو نه مخکښې چه کومه تهيوکريسي په وجود کښې راغلي وه نو هغه د يهوديانو تهيوکريسي وه۔

د دے بنياد دا وو چه د موسي عليه السلام نه روستو د عيسي عليه السلام پوري ټول بني اسرائيل د تورات د احکامو پابند وو او دا د دوي شريعت وو او د يهودو په اصطلاح کښې بئ د تورات احکامو ته قانون ويلو لکن په تورات کښې دعبادت طهارت وغيره احکام ډير وو خو لکن د تمدني زندګي احکام کم وو۔

د دے وجه د يهودي مذهب په بنياد به چه کوم رياست قائم شو نو دوي به ويل چه مونږ به دا رياست د تورات د قانون مطابق چلوو لکن د تورات په قانون کښې خو ټولي خبري نه وي، پدے وجه داسي صورت حال به مخي ته راغلي چه دهغه صريح حکم به په تورات کښې نه وو۔ نو په داسي صورت کښې د دوي مذهبي مشرته دا حق ورکړي شوي چه دوي د الله تعالي رضا معلومه کړي او دهغه مطابق قانون سازي وکړي او د الله تعالي د رضا د معلومولو دپاره دوي دا طريقه جوړه کړي وه چه يوه خيمه به وه، هغې ته بئ خيمه د عبادت ويله په هغه خيمه کښې به يو تابوت وو په هغه تابوت به د سروزرو غلاف غوړيدلي وو د دوي مذهبي پيشوا به دهغه تابوت خوا ته کيناست، او حتي الامکان بئ د داسي وخت انتخاب کولو چه په اسمان کښې وريځ او بريښنا وه۔ هلته په کيناست مراقبه بئ کوله او څه دعاګاني بئ لوستلي، دهغې په نتيجه کښې به په اسمان کښې بريښنا وشوه۔

دوي به اویل چه ما ته یهوواه دا حکم کړي (یهودو به یهووا خداي ته ویلو)- دوي به ویل چه یهووا د مذهبي مشر سره براه راست خبري وکړي او دنوي صورت حال په باره کښ قانون ورکړو-

او که په اسمان کښ به بریښنا ونه شوه نو بیا به هم دوي مراقبه کوله او دا دعوه یې کوله چه ماته دا الهام وشو- خو دا هسي وهمي خبري وي په خلقو ئې خپله مشري منله او دغه قانون په حقیقیت کښ د الله تعالي قانون نه وو بلکښ خپل خواهشات خپله راي او سوچ ئې الله تعالي ته منسوب کولو او په خلقو ئې نافذ کولو-

دا قسم تهیوکریسي په هندوانو کښ هم وه چه د هغوي برهمن پروهت ته دا اختیاروو چه براه راست د خداي سره رابطه قائم کړي او څه قانون جاري کړي-

د دے دوه قسمه مذهبي مشرانو فیصله به هیچا نه شوه چیلنج کولي چه تا کوم حکم الله تعالي ته منسوب کړي نو دا په حقیقیت کښ د الله تعالي حکم نه دے-

په بعض ځایونو کښ په بده مذهب کښ هم مذهبي مشرانو ته براه راست د خداي سره د رابطے کولو او د قانون د متعین کولو حق حاصل وو-

په تبت او جاپان کښ په لامه نومِ ډلو کښ دا سلسله تراوسه پوري موجود ده-

بهرحال چه کله مذهبي مشرانو د خپل خود ساخته الهام په بنیاد به کومِ خبري له د خداي حکم مقرر کړو نو بادشاه به دهغے په منلو پابند وو رفته رفته بادشاهانو دا سوچ وکړو چه دا خوعجیبه مصیبت دے چه مذهبي مشران څه اوغواړي الله تعالي ته ئې منسوب کوي او په مونږ ئې مسلط کوي- لهذا داسي ولي نه کوو چه دا اتهارټي ترینه هم مونږ واخلو چه دوي مراقبه کولي شي دالله تعالي مرضي معلومولي شي نو مونږ ئې هم کولي شو- لهذا رفته رفته دوي بعض مذهبي مشران په اعتماد کښ واخستل او دا اختیار ئې ځان ته نقل کړو-

یعني دا دعوي ئې وکړه چه بعض مذهبي مشرانو ته دا الهام شوي چه اوس دا اختیار بادشاه ته حواله کړي نو اختیار بادشاه ته حواله شو-

د دے په نتیجه کښ دا فیصله وشوه چه بادشاه څه اوواي نو دا خدائي قانون دے- د بادشاه هر حکم به خلقو له واجب الاطاعت وي او کچري ظم زیاتي کوي نو خلق به برداشت کوي، دهغه د برطرف کولو کوشش به نه کوي، ځکه دا هر څه د الله تعالي د مشیت مطابق کوي- پدے طریقه تهیوکریسي د مذهبي پیشوائیت نه لاړه د بادشاهت سره میلاؤشوه-

عیسائي تهیوکریسي

د عیسي علیه السلام نه روستو په څلورمه صدي کښ چه کله قسطنطین بادشاه عیسائي مذهب قبول کړو او هغه عیسائي مذهب سرکاري مذهب مقرر کړو او د عیسائي مذهب په څلور واړه انجیلونو کښ تمدني او سیاسي احکام دیر زیات کم وو ، د سیاست او حکومت متعلق احکام د نشت بر ابر وو نو سوال دا پیدا شو چه د مذهب په بنیاد به قانون څرنګي جوړولي شي-

نو دوي د احکامو او د قوانینو د جوړولو مکمل اختیار کلیسا (چرچ) ته ورکړو، د کلیسا سربراه پوپ یا پاپا ته- د رومن کیتهولک مذهب دا عقیده ده چه پوپ په مذهبي معاملاتو او امور تشریعیه وو کښ معصوم عن الخطا دي، یعني دوي واي چه پوپ کله د شریعت څه حکم جاري کوي یا کوم قانون نافذ کوي نو دا معصوم وي خطا ترینه نه کیږي، او پوپ صرف شارح د قانون نه وي بلکښ شارع یعني قانون ساز هم وي، یعني هغه ته د قانون د جوړولو اختیار هم وي او پدے معامله کښ د ا معصوم هم

وي۔ البته په باقي معاملاتو کښې د ده نه خطاهم کيديشي، او تر څو چه يو سړي پوپ نه وي جوړشوي هغه معصوم نه وي خو چه کله پوپ جوړشي نو بيا معصوم وي۔

اوس يو طرف ته په اناجيل اربعه ووکښې د حکومت او سياست په معاملاتو کښې واضحه قوانين موجود نه دي بل طرف ته پوپ د دومره زبردست اقتدارمالک دے چه هغه معصوم عن الخطا ګڼړلي شي۔ پدے وجه ټول دارومدارپه پوپ شو چه هغه کوم حکم جاري کول غواړي يا کوم قانون نافذ کول غواړي نو هيڅ قسم انسان هغه نه شي چيلنج کولي۔ مخکښې مونږ ذکر کړيو چه د پوپ او د بادشاه په مينځ کښې به په اختياراتو ډيراختلاف راتلو۔

بهرحال د دينه اندازه پکارده چه نوم د تهيوکريسي دے د خداي حاکميت لکن په حقيقيت کښې د يوڅو افرادو بدترين آمريت وو او دوي د خداي په نوم او د مذهب په نوم يو طوفان راپورته کړيو۔

جاګيردارانه نظام:

په اشرافيه نظام کښې شپږ قسمونه دي، علمي ، نسلي، مذهبي، جاګيرارانه نظام

د علمِ سياست مصنفين جاګيردارانه نظام د اشرافيه نظام د يو قسم په طورنه ذکرکوي لکن مونږ د دے ذکرکول دلته مناسب وګڼړل ځکه داشرافيه چه کوم وسيع مفهوم دے نو دهغه وسيع مفهوم مطابق جاګيردارانه نظام د اشرافيه نظام لاندي راځي، او هغه وسيع مفهوم دا دے چه اشرافيه نظام ديته واي چه په هغه کښې د يو خاص طبقے حکومت وي يا د يو خاص طبقے براه راست حکومت نه وي لکن دومره اثررسوخ لري چه معنا درپرده حکومت کوي۔

جاګيردارانه نظام په حقيقيت کښې د يورپ د قرون وسطي يو نظام وو۔ پدے دورکښې يوه زمانه داسي وه چه په هغه کښې د يورپي ممالکو د ډير جنګونو سره واسطه راغلي وه، بعض جنګونه د يورپي طاقتونو په خپل مابين کښې راغليو لکه د انګلستان او فرانس په مينځ کښې هميشه جګړي وي او د مسلمانانو سره هم د يورپي ملکونو جنګونه روان وو، ځکه مسلمانان هم ښه په طاقت کښې وو۔

د دے پرلپسي جنګونو په وجه دوي په مالي اعتبارډيرکمزوري شويو او د دے جنګونو مصارف برداشت کول آسان نه وو۔

د دے صرت حال د مقابلے دپاره دا جاګيردارانه نظام په وجود کښې راغلي۔ نو دا نظام د يو ضرورت لاندي وجود ته راغلي او کله چه يو نظام د يو ضرورت د لاندي وجود ته راشي نو دهغه د جوازدپاره يوه فلسفه اووجه هم ذکرکولي شي۔

نو د دے نظام دپاره فلسفه اووجه دا وه چه په حقيقيت کښې د حاکم او محکوم رشته د زمکي سره تړلي شوي ده۔ چه کوم سړي د زمکي مالک وي هغه حاکم دے او چه څوک دغه زمکي استعمالوي محکوم دے۔

لهذا د ټولي زمکي مالک الله تعالي دے او الله تعالي چه کوم بادشاه ته زمکه ورکړه نو دغه بادشاه د الله تعالي محکوم دے بيا بادشاه چه چاته کوم زمکه بطورجاګيرورکوي نو دغه جاګيردارد بادشاه محکوم دے، بيا جاګيردارچه کوم زميندارته زمکه ورکوي نو دغه زميندارد جاګيردارمحکوم دے۔ بيا چه غټ زميدارووړوکي زميدارته کومه زمکه ورکړي نو ووړوکي زميدارد غټ زميدارمحکوم دے۔

بهرحال د يو ادني سړي پوري دا سلسله جاري وه او بادشاه به چه کوم جاګيردارته زمکه ورکوله نو په هغه بۀ څه شرطونه مقررکول، مثلا يو جاګيردارته بۀ لس زره ايکړه زمکه ورکوله نو دهغه سره بۀ دا معاهده وکړه چه ته به بادشاه ته دومره

خراج ورکوي او چه کله د جنګ ضرورت راتلو نو ته به د خپل رعیت نه دومره سپاهیان تیاروي. د چا په ذمه به لس زره سپاهیان وو، د چا په ذمه پینځه زره، د چا په ذمه دوه زره.

کوم خلق به چه په دغه جاګیر کښ دننه اوسیدل نو هغه به د دغه جاګیردار محکوم وو او هغه به په دوي مطلق العنان حکمران وو چه د ده به څه خوښه شوه هغه بۀ یې کول. که په چا بۀ ټیکس مقرر کولو که د چانه بۀ د زمکي کرایه اخستله وغیره. د بادشاه یا آقا په شان اختیارات بۀ استعمالول او زمیداروو ته بۀ ویل چه د دے زمکو نه خپلي روزي هم ګټي او تاسو ته به تحفظ هم درکولي شي.

د بادشاه نه د رعیت دپاره مراعات حاصلول هم د جاګیردار ذمه داري وه. هر غټ به د وړوکي سره دغه معامله کوله او هر وړوکي به غټ ته خپل خدمتونه پیش کول تردے چه بادشاه ته به دا سلسله ورسیده. پدے طریقه دوي د جنګي مسائلو د حل کولو کوشش کړیو او د وختونو تقسیم ئے پکښ هم کړیو مثلا په کال کښ به څلویښت ورځي فلاني او فلاني جنګي خدمات کوي او بیا څلویښت ورځي به نورکسان دا خدمت کوي.

د دینه علاوه غټ جاګیردارانو په وړو زمیدارو په بعض نورکارونو کښ هم خرچي مقرر کړیوي، مثلا په ودونو کښ. دغه رنګي که مشر به قیدي شو دهغه د آزادولو په مصارفو کښ په دوي مصرف مقررووغیره ذلک.

د وخت په تیریدو بادشاه جاګیردارانو ته محتاج شو. ځکه د جنګ دپاره به فوج دوي ورکولو، د دے وجه نه بادشاه به د دوي جائزاو ناجائز مطالبات منل.ددے وجه نه دوي په سیاست هم عملا قابض وو. کوم قوانین به چه دوي غوښتل بادشاه به منظور کول. خودسري پکښ ډیره زیاته وه. د څه ورځو پوري د بادشاه او جاګیردارو د جوړ توړ په وجه دا نظام روان وو لکن بالآخر چه کله د بادشاه او جاګیردارو د مفادو ټکر راغلي نو د دوي په مینځ کښ جنګونه شروع شو.

دا هغه جاګیردارانه نظام وو چه د ډیرو کلونو پوري چلیدلي وو او د دے د مفاسدو د وجے نه ټول یورپ متاثره شویو او دا نظام دومره بدنام شو چه کنځلي ترینه جوړي شوي.

انګریز د دے جاګیري نظام عادي وو، د دے وجه نه چه کله په هندوستان کښ د دوي حکومت راغلي نو په بعض علاقو کښ تقریبا داسي نظام جاري کړیو لکه په بلوچستان کښ سرداري نظام.

په اسلام کښ اقطاع یعني چاته جاګیر ورکول شته لکن د دغه او د یورپ د جاګیردارانه نظام ډیر فرق دے. ځکه د یورپ په جاګیردارانه نظام کښ ډیر نقصانونه وو مخکښ ورته مختصر اشاره وشوه.

فسطائیت یا فاشیت یا فاشزم

دا یو سیاسي نظام دے، د دے باني او موجد د اټلي ډکټیټر مسولیني وو، دا لفظ هغه وضع کړیو. فا شزم د یو یوناني لفظ فاست نه وتلي او دا د عربي لفظ فأس نه اخستلي شوي. فأس په عربي کښ تبرګي ته واي.

مسولیني د خپل حکومت قومي نشان تبرګي ګرځولي وو، لکه د روس نشان تسکوره ده، د پاکستان نشان سپوږمي او ستوري دے. دغسي د دوي نشان تبرګي وو چه دا به د دوي په جنډے وغیره جوړ شویو. د فاشزم ترجمه ده د تبرګي بادشاهت.

د دے پس منظر دا دے چه په اولني جنګ عظیم کښ اټلي ته کافي نقصان رسیدلي وو. اګرچه په دیکښ اتحادیانو ته فتح شویوه او جرمني ته شکست شویو او اټلي په اتحادیانو کښ شامل وو، پدي وجه دا په فاتحینو کښ شامل وو لکن د دے جنګ نقصان هم ډیر وو، ډیر عجیب او غریب بدترین کیفیت پیدا شویو، معاشي حالت ئے تباه شویو، ادارے ختمي شویوي، خلق د

بد حالي دوچ نه پریشان وو، حکومت بالکل بے اثره وو، ملک د تباهي کنارے ته رسیدلي وو۔ پدے حالاتو کښ مسولیني په ۱۸۱۹ء په اټلي ښار میلان کښ د فاشسټ پارټي آغاز وکړو او د خپل انقلاني نظریو په وجه ئے ډیر زر په عوامو کښ مقبولیت حاصل کړو او په ۱۹۲۲ء کښ د خپلو ملګرو یو لشکرے تیار کړو چه د تور رنګ قمیص بۀ اغوستي وو او د روم په طرف ئے مارچ وکړو او د حکومت نه ئے مطالبه وکړه چه مسولیني وزیر اعظم جوړ کړي ورنه مونږ به د طاقت په ذریعه د حکومت تخته الټه کړو۔

آخر کار بادشاه مجبوره شو مسولیني ته ئے د حکومت د جوړولو دعوت ورکړو او هغه د اټلي مطلق العنان ډکټیټر جوړشو او هغه په نورو ټولو پارټیانو پابندي ولګوله۔

د مسولیني د فاشزم حاصل دا دے چه په حقیقت کښ فرد هیڅ شي نه دے چه څه دي هغه قوم دے چه دهغه نمائندګي سټیټ یعني حکومت کوي۔

د قوم مفاد مخې ته ایښودل پکاردي او داسي اقدامات کول پکاردي چه د هغه نه قوم ترقي وکړي او په اقوام عالم کښ زمونږ قوم ته ممتاز مقام حاصل شي۔ د دے دپاره کچري دنورو قومونو سره د جنګ ضرورت راشي نو جنګ به کوي ملکونه به فتح کوي د خپل اثر د لاندي بۀ راولي۔

د دے دپاره داسي حکومت پکاردے چه د ژوند په ټولو شعبو ئے مکمل ګرفت وي، په تعلیم و تربیت، قانون، اخلاق وغیره۔ د دے دپاره قوي او مضبوط حکومت پکاردے چه دافرادو د راي پابند نه وي، ټول افراد به د حکومت تابع وي، اختلاف به نه کوي حکومت به د ملک ملت او قوم د ترقي دپاره لاره خوښه وي۔

مسولیني به ویل چه مونږ عدم تشدد نه منو، عدم تشدد د بزدله خلقو کاردے۔ مونږ دخپل قوم د رعب داب د پیدا کولو دپاره جنګ هم کوو او دغه جنګ زمونږ د قوم دپاره د نوي ژوند پیغام راوړي۔

د مسولیني یوه مقوله مشهوره ده چه د سړي دپاره جنګ داسي دے لک د زنانه دپاره بچي زیګول۔ یعني څرنګي چه زنانه د بچي د زیګولو تکلیف نه برداشت کوي نو تخلیقي کارنامي سرته نه رسي او قوم نه شي پیدا کولي۔

دغه رنګي چه سړي جنګ نه کوي نو هغه تخلیقي کارنامه سر ته نه شي رسولي۔ د دے وجے نه جنګ کول پکاردي او د جنګ نه په غیر قومي اعتماد نه پیدا کیږي نه د قوم بالادستي قائمیږي۔

هغه به دا هم ویل چه مونږ د جمهوریت هم خلاف یو ځکه په جمهوریت کښ د اکثریت راي حتمي او قطعي ګڼړي۔

حالانکے دا ضروري نه ده چه اکثریت صحیح فیصله وکړي۔ اکثریت کله غلطه فیصله هم کوي او هغه د ملک او قوم دپاره ضرر رسونکي هم کیدیشي۔ لهذا د فاشزم د نظریه مطابق چه فاشسټ لیډر کومه فیصله وکړي هغه به ټول قوم مني۔

دریم دا چه دهغه دا وینا وه چه مونږ د افرادو آزادي او احترام نه منو، فرد په اعتبار د ذات سره هیڅ اهمیت او احترام نه لري، فرد په دے اعتبار اهمیت او احترام لري چه دا د قوم جزدے۔

لهذا د قوم د فلاح او ترقي دپاره داسي احکام یا قانون جاري کیدے شي چه په هغه کښ د فرد په آزادي پابندي وي۔

د دے نتیجه دا ده چه کوم سیاسي جماعت نه شي قائمیدے۔ د حکومت خلاف څوک تنقید نه شي کولي او که څوک تنقید کوي نو هغه دِ په فاشسټ پارټي کښ داخل شي۔ تنقید دِ وکړي او د اصلاح طریقه دِ وښاي۔ لکن د دے ګنجائش نشته چه د پارټي نه بهروي او په اخبار کښ بیان ورکوي یا جلسے کوي او د حکومت په پالسي تنقید کوي۔

پدے طريقه د افرادو آزادياني ختمي کړيوي او د جماعت د بالادستي د قائمولو فلسفه ئے پيش کړيوه۔

د فاشزم د لاندي چه کوم حکومت کولي شي هغه ته کليت پسند حکومت هم ويلي شي۔ ځکه هغه د ژوند په ټولو شعبو حاوي وي۔ ځکه د ژوند ټولے شعبي دهغه د تصرف او احکامو نه خالي نه وي۔

يو طرف ته د حکومت اختيارات غير متناهي وي، بل طرف ته د فرد د آزادي نه انکاروي۔چه کله دا دواړه څيزونه راجمع شي نو خامخا جبر او تشدد کيږي او دا جبر او تشدد په فاشزم کښ هم شويو۔

پديکښ هم څه شک نشته چه مسوليني د خپل قوم د مخکښ کولو دپاره ډير لوي کردار اداء کړيو او د اولني جنگ عظيم په نتيجه کښ چه کومه تباهي شويوه۔ هغه ئے د ډير حد پوري ختمه کړيوه او په خلقوکښ د قومي غيرت جذبه پيدا کړيوه۔

نازي حکومت

د مسوليني نه روستو د جرمن هټلر هم فاشزم نظام غوره کړو۔ دهټلر بعينه هغه فلسفه وه چه کوم د مسوليني وه چه سټيټ يعني حکومت هر څه دي او افراد هيڅ نه دي لکن هټلر د فاشزم سره نسلي قوم پرستي هم اضافه کړه۔

د هټلر دا فلسفه وه چه حکمراني صرف د آريائي قومونو حق دے او هټلر د سامي نسل سخت مخالف وو۔ دَ به ويل چه ترڅو د سامي نسلونو بالادستي د دنيا نه ختم شوي نه وي۔ دهغه وخته پوري به څه جنګيږم، دا د هټلر د ژوند مقصد وو۔

د دے وجود پدے طريقه راغلي وو چه داول جنگ عظيم په نتيجه کښ اټلي ته فتح حاصله شويوه لکن د فتح سره تباه شوي هم وو۔ د اټلي نور اتحاديان لکه انګلستان، فرانس، روس دومره نه وو تباه شوي څومره چه اټلي تباه شوي وو۔ هر کله چه د اټلي دا حال وو سره د دينه چه هغوي جنگ ګټلي وو نو د جرمني به څه حال وو ځکه چه هغوي شکست خوړلي وو۔ د دے وجه نه په جرمني کښ افراتفري او بد حالي وه۔

اوديو داسي چا په تلاش کښ وو چه هغه دوي د دے بدحالي نه را اوباسي، نو هټلر د قيادت جنډا پورته کړه او فاشزم ئے هلته نافذ کړو، يعني د مسوليني ټول په ټوله نظريه ئے واخسته او د دے سره ئے د قوم پرستي او نسل پرستي اضافه وکړه او نازي حکومت ئے قائم کړو۔

هر کله چه دا د سامي نسل د خلقو دشمن وو نو پدے وجه ئے ديهودو سره ډيره سختي وکړه او د جرمني نه په وتلو ئے مجبور کړل۔

بعض يهود د دے ظلمونو و اقعات ډير په مبالغے سره بيانوي او يهود خپل مظلوميت لره ډير پروپيګنډ پدے وجه ورکوي چه د اسرائيلي حکومت جواز پيدا کړي۔ د دے مقصد دپاره په اربونو ډالر خرچ کوي، فلمونه جوړي چه هغه په ټوله دنيا کښ کتلي شي۔

هټلر به خپل ځان او جرمني آريائي ګڼړل او د سامي نسل خلاف ئے د نفرت طوفان راپورته کړو۔ سامي نسل د سام بن نوح اولاد دے چه پديکښ زياده تر عرب او د مشرق وسطي خلق يهود او انګريزان راځي او پديکښ شک نشته چه هټلر جرمني ډيره مضبوطه کړه، په معاشي صنعتي، سائنسي اعتبار او په خلقوکښ د قوم پرستي دومره غيرت پيدا کړو چه د دے مثالونه په دنيا کښ دير کم ميلاويږي۔

د دے مکمل مظاهره د دویم جنګ عظیم په موقعه شویوه چه د دویم جنګ عظیم په موقعه جرمن قوم د اتحادیانو خلاف د جنګ په دوران کښ چه کومِ قربانیاني ورکړي وي نو د دے مثال میلاویدل ډیر مشکل دي۔ د ده دا کوشش وو چه څه د سامي نسل خلق ختم کړم او خپله برتري په ټوله دنیا قائمه کړم۔

حقیقت دا دے چه د ده د فتوحاتو سیلاب ډیر په تیزي روان وو لکن په آخر کښ چه روس ته لاړنو تباه شو او ختم شو۔

د ده جماعت ته نازي جماعت واي او د هټلر فاشزم ته نازي ازم هم واي۔ مسولیني او هټلر ډیره شوشا ښودلي وه لکن روستو دواړه تباه شوي او بیا فاشزم نظام په مختلفو ملکونو کښ چلیدلي وو لکه په جاپان، برازیل، ارجنټائن، اسپین کښ څه زمانه دا نظام چلیدلي وه۔

دے قومونو وکتل چه هټلر او مسولیني خپل قوم کوم ځاي ته رسولي وو۔ لهذا مونږ هم د دوي په لاره روانیږو لکن دوه هغه معیار ته ونه رسیدل کوم معیار ته چه هټلر او مسولیني رسیدلي وو۔

بالآخر فاشزم ختم شو، اګرچه نن صبا د کوم ملک مطلق العنان حکمران راشي هغه ته هم فاشسټ ډکټیټر واي لکن اوس څوک دا نوم د ځان سره لګول نه خوښوي۔

پرولتاري حکومت

شپږم قسم پرولتاري حکومت دے۔ دا په حقیقت کښ د کمیونسټ سټیټ د حکومت دویم نوم دے۔ د دے فلسفه په حقیقت کښ د کارل مارکس په نظریاتو مبني ده۔ د کارل مارکس په نظریاتو کښ یوه اهمه نظریه هغه ده چه هغه ته دا د جدلي مادیت نوم ورکوي۔ دهغه وینا دا ده چه د پیدائش د اول نه تراوسه پوري دنیا په دوه طبقو تقسیم ده۔

یو طبقه د امیرانو او مالدارانو، دویمه طبقه د محنت کش عوامو۔ اول طبقے نه هغه بورژوا واي او دویمه ته پرولتاریه واي۔ د دے دواړو طبقو په مینځ کښ کشمکش او جنګونه پیدا کیږي او بورژوا طبقه پرولتاریه دباوي۔ دهغے جائز حقوق نه ورکوي، خصوصا د صنعتي انقلاب نه روستو چه کله مشینونه جوړشو او صنعتونه په وجود کښ راغلل چه څومره مصنوعات تیاریږي هغه د مزدور د محنت نه تیاریږي لکن د حاصل شوي دولت ډیره کمه حصه دوېته میلاویږي۔ د دے خبري د ثابتولو دپاره د دوي یوه بله نظریه ده چه هغه ته د قدرزائد نظریه واي۔

دهغے خلاصه دا ده چه په کومه کارخانه کښ کوم شي تیاریږي نو پدیکښ دوه څیزونه پکاریږي، یو کچه مال او دویم محنت، لکه په مالوچو محنت وشي تار ترینه جوړشي او چه په تار محنت وشي نو کپړه ترینه جوړه شي۔ د دے محنت په وجه د دے قدر او قیمت ډیر شي۔ پدے وجه دغه زیاتي قیمت صرف د مزدور حق دے لکن دا حق سرمایه دار واخستي نو دوي به ویل چه اوس هغه وخت راغلي چه مزدوران بغاوت وکړي او بالآخر د دوي حکمراني قائم شي چه دهغے نوم پرولتاري حکومت دے۔ د دے دپاره دوي دا آواز پورته کړو چه د ټولي دنیا مزدورانو تاسو یو شي، دیته منشور د اشتراکیت واي۔

عملا داسي وشوه چه کال مارکس په خپل ژوند کښ اشتراکي حکومت قائم نه کړو لکن د هغه نه روستو لینن په روس کښ د زار روس تخته الټه کړه هلته ئے په اول ځل اشتراکي ریاست قائم کړو او هغے ته ئے د پرولتاري حکومت نوم ورکړو۔

د پورلتاري حکومت فلسفه دا وه چه د پیداوار په څیزونو مثلا زمکه، کارخاني پدے د چا انفرادي ملکیت نه شي راتلي۔

داټول څیزونه د ریاست ملکیت دے او د ریاست د چلولو ټول حق د محنت کش خلقو پرولتاري حکومت ته حاصله دے چه دهغے نمائنده ګان به په ټولو املاکو قبضه کوي او د یو منصوبه بند معیشت بنیادونه به جوړي۔

یعني افراد به دا فیصله نه کوي چه د کوم زمکي نه کوم کار واخستلي شي او په کومه کارخانه کښ کوم څیز په څومره مقدار جوړ شي او یو چا ته څومره اجرت ورکړي شي بلکه پرولتاري حکومت به د ریاست د عمومي ضروریاتو مطابق دا فیصله کوي۔ په ملک کښ به بله سیاسي پارټي نه وي تنقید به نه وي۔

د چا په ذمه چه کوم کار مقرر شي هغه به په غیر د چون چرا نه کوي او چه د هغه کومه معاوضه مقرر شي هغه به قبلوي۔ د چا به خپله خوښه او اختیار نه وي۔

دا خبره واضحه ده چه په کوم نظام کښ انسان ته انفرادي آزادي نه وي هغه د انتهائي مضبوط جبر او ظلم نه په غیر نه شي چلیدے۔

پدے وجه په عملي طور چه د فاشزم د کلیت پسندي کوم اصول وو هغه په پرولتاري حکومت کښ هم وو او دا به ئے ویل چه زمونږ مقصد د مزدور حالت بهتر جوړول دي۔

دغه رنګي دا هم د ډکټیټر شپ بد ترین شکل وو چه کوم لینن قائم کړیو۔

ددینه روستو استالن پدیکښ نور زیادت هم وکړو چه دوړو وړو سرمایه دارو په ځاي یو غټ سرمایه دار د پرولتاري حکومت په شکل کښ وجود ته راغلي چه هغه د ریاست په ټولو وسائلو قبضه وکړه او یو داسي نظام ئے قائم کړو چه په هغه کښ ژبه کولاو کول هم مشکل وو په روس کښ د څلور اویا کاله پوري دا نظام نافذ وو لکن رفته رفته دهغې معاشي معاشرتي اخلاقي او سیاسي نقصانونه دومره زیات شو چه ټولو چغي وکړي او دا نظام ئے ختم کړو۔

دویم باب: د جمهوریت تاریخ او بنیادونه

جمهوریت

جمهوریت هم د مختلف سیاسي نظامونو نه یو نظام دے۔ مونږ د دے تفصیل لږ زیات کوو، ځکه زمونږ په دور کښ جمهوریت د ټولو نظامونو نه بهتر نظامِ سیاست ګڼړلي شي او په جمهوریت ایمان راوړل د موجوده سیاست کلمه طیبه ګرځیدلي۔که څوک په جمهوریت اعتراض کوي نو هغه د سیاست په اصطلاح کښ د کافرنه کم نوي۔

د جمهوریت نومونه

سیکولرازم، دیموکریسي، جمهوریت، العلمانية، الدمقراطيه، اولس واکي، او په مشهوره اصطلاح ورته جمهوریت واي۔

د جمهوریت تعریف

جمهوریت لفظ د دیموکریسي لفظ ترجمه ده او دا په اصلکښ یوناني لفظ دے۔ ډیمو عوامو ته واي او کریسي حاکمیت ته واي۔ په عربي ژبه کښ ددے ترجمه په دیمقراطیه سره کیږي۔ په عربي ژبه کښ جمهوریت نه ویلي کیږي، په اردوکښ جمهوریت ویلي کیږي۔ د جمهوریت بنیادي تصوردا دے چه حاکمیت دعوامو حق دے۔

د جمهوریت تاریخ

جمهوریت صرف د دے دور پیداوار نه دے بلکه په یونان کښ جمهوریت موجود وو۔ پدے وجه په سیاست چه افلاطون کوم کتاب لیکلي وو د هغه نوم دے جمهوریه، لکن هلته چه کوم جمهوریت وو نو هغه نسبةً ساده او محدود وو۔ ځکه هلته هرښار مستقل حکومت وو او ښارونه هم واړه واړه وو۔

لهذا هلته جمهوریت داسي وو چه بادشاه به په خاص خاص غټو فیصلوکښ ټول عوام یو ځاي ته راجمع کړل چه مونږ دا کار کوو یا دا پالسي جوړه وو ستاسو څه راي ده۔

خو دا طریقه په وړو ملکونوکښ ممکن وه چه خلق کم وي آبادي کمه وي او چه کوم غټ ملکونه وو لکه دروم سلطنت ډیرغټ وو هلته دا طریقه ممکن نه وه۔ لهذا هلته جمهوریت داسي محدود شو چه بادشاه به د خپلي مشوري دپاره مجلس شوري جوړه وله او دهغوي نه بۀ کله مشوري هم طلب کولي۔

د دے نتیجه رفته رفته دا را اووتله چه داسي جمهوریت ختم شو چه عوام په پالسیانوکښ حصه دارجوړشي۔ لهذا د یونان په ریاستونوکښ جمهوریت ختم شو او د دے په ځاي مطلق العنان بادشاهت راغلي۔

بیا د اتلسمي صدي په اول کښ جمهوریت دوباره په یو منظم شکل ژوندي شو چه هغې ته لبرل دیوکریسي یعني آزاد خیال جمهوریت واي۔

د جمهوریت فلسفه او فکري بنیادونه

په یورپ کښ د نشأة ثانیه نه روستو د یو فکري آزادي دورشروع شو۔ د دینه مخکښ کلیسا ټول ترلي وو او د کلیسا د فکر او نظریه نه به چه چا د ویښته په اندازه خلاف کولو نو هغه ته بۀ بدعتي ویلو او د تشدد نشانه بۀ جوړولو بلکه په بعض وختونو

کښې بئ ژوندي سيزلے.لکن د یورپ د نشأة ثانیه نه روستو چه کله دویته د اندلس وغیره نه علمونه نقل کیدل شروع شو نو په خلقو کښې سوچ فکر پیدا شو۔

اګرچه د چرچ اختیارات په دغه وخت کښې هم په سیاسي طور ډیر مضبوط وو او کومو خلقو چه نوي سوچ شروع کړیو هغوي د چرچ د طرف نه د ډیرو مصیبتونو ښکار شویو۔ لکن دا د آزاد خیالي تحریک د ظلم او ستم باوجود روان وو۔ رفته رفته د چرچ خلاف د یو نفرت فضا پیدا شوه او وخت په وخت د چرچ اقتدار هم کم شو۔

د ژوند په مختلف شعبو کښې مختلف مفکرین پیدا شو چه هغوي د چرچ د غیر فطري نظام نه بغاوت وکړو او نوي افکارئ په خلقو کښې خورول شروع کړل۔ لکن په مغربي دنیا کښې چه کوم مفکرین د جدید آزاد خیاله جمهوریت بانیان ګڼړلي کیږي هغه دري کسان وو:

۱۔ وولټائر ۲۔ مونټیسکو ۳۔ روسوو

دا دري واړه د فرانس وو۔

وولټائر:

دا د ۱۷ صدي په آخر کښې پیدا شویو او په ۱۸ صدي کښې انتقال وکړو۔ د ده په نظریو کښې یو خبره دا وه چه مذهب د انسان ذاتي معامله ده او کومه اتهارټي بل کس له د یو مذهب په حق کیدو او باطل کیدو نه شي قائله کولي، دا د انسان ذاتي معامله ده که بت پرستي کوي، که یهودي کیږي، که نصراني کیږي او که کوم اسماني مذهب غوره کوي۔ پدیکښې چرچ یا حکومت دخل اندازي نه شي کولي، د حکومت د مذهب سره کوم تعلق نشته۔ دا نظریه نور هم زیاته شوه او دا مشکل ئے غوره کړو چه نن صبا په مغربي دنیا کښې د مذهب په باره کښې زیاده تر تصور دا دے چه په مذهب کښې د حق کیدو یا باطل کیدو څه سوال نه شته چه کوم مذهب حق دے او کوم باطل دے بلکه مذهب د انسان د ذاتي تسکین ذریعه ده، یعني مذهب یو داسي شي دے چه دهغه په ذریعه انسان خپل نفس او روح ته سکون ورکوي۔ که چا ته په مانځه کښې سکون ملاویږي نو دلره مونځ برحق دے او که چا ته په بت پرستي کښې یا مراقبه کښې سکون میلاویږي نو دلره دا کارونه حق دي او هر چاته دا اختیار حاصل دے چه د خپل سکون دپاره کوم مذهب غوره کوي۔

د دے وجے نه هر چاله د بل د مذهب احترام پکار دے۔ پدیکښې بحثونه مناظري یو بل قائل کول بے فائده کار دے۔ د یو بل د مذهب احترام پدے وجه نه دے چه مذهب في نفسه د احترام شي دے بلکښې احترام پدے وجه دے چه یو سړي دا د خپل سکون دپاره ذریعه جوړه کړي، لکه یو سړي د خپل سکون دپاره یو مکان جوړ کړي نو ستا دا فرض دي چه د دغه مکان احترام به کوي چه د دغه مکان چاردیواري ته به بے اجازته نه ورځې۔

هر کله چه دوي دا فیصله وکړه چه مذهب ذاتي معامله ده، د ذاتي تسکین ذریعه ده نو پدي وجه د ریاست او حکومت د مذهب سره هیڅ تعلق نشته، د حکومت به هیڅ مذهب نه وي.د دے سوچ په بنیاد د سیکولر ازم نظریه پیدا شوه۔

سوکولر معني دنیا وی فائدے یعني یو داسي نظام چه هغه صرف د دنیوي فائدو دپاره جوړشویوي۔ د دے لازمي نتیجه لادینیت او لامذهبیت دے۔ دا ټوله نظریه د وولټائر په نظریاتو مبني وه۔ او دا د چرچ دهغه کارونو ردعمل وو کوم چه دوي د تهیوکریسي په شکل کښې کړیو، یعني چرچ د مذهب په نوم ډیر ظلمونه کړیو، پدے وجه دے مفکرینو دا رد عمل وکړو چه تر څو

مونږ د مذهب جرړه نه وي ايستلي نو مونږ ترقي نه شو كولي. هغه جرړه ئ پدے طريقه ويستله چه د سيكولر استيټ نظريه ئ پيش كړه.

مونټيسكو

دويم شخص چه دهغه د جمهوريت په تصوير جوړولو كښ غټ كردار دے مونټيسكو دے. دهغه د جمهوريت په سلسله كښ يوه نظريه ده چه هغه ته د تفريق اختيارات نظريه واي. هغه واي چه د مطلق العنان حكومتونو نه خلقو ته كوم نقصانونه رسيدلي نو دهغه بنيادي وجه دا ده چه د رياست ټول اختيارات د يو شخص يا د يوي اداري سره وي چه دهغه په نتيجه كښ په خلقو ظلمونه هم كيدي شي او د حكومت په كارونو كښ بتري هم راځي.

يو شاعر واي:

وهي قاتل وهي شاهد وهي منصف ٹهہرے

اقرباء ميرے كريں خوں كا دعوي كس پر

كچري انتظاميه ظلم كوي نو دهغے خلاف فرياد بيرته هم دغه انتظاميه ته كيږي.

لهذا چه تر څو اختيارات په مختلف جهتونو كښ نه وي تقسيم شوي نو بهترين نتائج نه حاصليږي.

اوپه رياست كښ دري قسمه اختيارات دي، دا دري قسمه ادارو ته وركول پكار دي چه دغه اداري خود مختاره وي او يوه اداره په بله كښ دخل اندازي نه كوي. يوه اداره د بلے په دباؤ كښ نه وي.

١ . دقانون سازي اختيار

٢ . د ملك انتظام د دغه قانون مطابق د چلولو اختيار

٣. كه يو سري د قانون خلاف وكړي يا په يو معامله كښ تنازعه پيدا شي چه دا كار د قانون مطابق دے او كه نه نو د دغه تنازع د فيصله كولو اختيار.

د دے دپاره دري قسمه اداري پكار دي. د قانون سازي اختيار چه د كوم اداري سره دے هغې ته مقننه واي. په جمهوريت كښ دا اختيارات پارليمنټ يا اسمبلي ته حاصل دے.

دقانون مطابق د ملك انتظام د چلولو اختيار چه كوم ادارے ته دے هغې ته انتظاميه يا ايگزيكټو واي چه دهغے سربراه په صدارتي نظام كښ صدر مملكت وي او په پارليماني نظام كښ وزيراعظم وي.

دريم اختيار يعني د قانون تشريح يا د تنازعاتو تصفيه چه كومه اداره كوي هغې ته عدليه واي چه هغه په ملك كښ د عدالتونو په شكل كښ وجود ته راځي. كه د يو چا د مقننه يا انتظاميه نه څه شكايت وي نو هغه به عدليه ته ځي او عدليه به دهغه شكايت ختموي نو رياست په دے دري حصو تقسيمول ضروري دي، ديته تفريقي اختيارات واي.

روستو ټولو جمهوريتونو دا نظريه تسليم كړي وه. اوس چه د كوم رياست څومره دستور جوړيږي نو هغه پدے بنياد جوړيږي چه د مقننه انتظاميه عدليه ځانله ځانله اختيارات وي.

ترڅ چه کله مقننه یو ځل کوم قانون جوړکړي او نافذ ئ کړي نو دڅ نظریه مطابق مقننه ته د قانون جوړولو نه روستو د تشریح اختیار نه وي۔

د قانون جوړولو په وخت کښ چه دوي کوم الفاظ استعمال کړي هغه داسي وي لکه غشي چه د لیندي نه اوزي۔ اوس به د دڅ الفاظو تشریح عدلیه کوي چه د دڅ قانون څه مقصد دڅ چه یو سړي په خپل قلم قانون ولیکي او د مقننه نه دغه قانون پاس شي او بیا دا سړي واي چه ځما د فلاني لفظ نه دا مقصد دڅ نو د ده خبره به قابل قبول نه وي۔

اوس دا د عدلیه کار دڅ چه د دڅ لفظ څه مقصد دڅ۔ پارلیمنټ دا کولي شي چه دغه قانون منسوخ کړي یا نوي قانون راوړي یا پکښ ترمیم وکړي لکن تر څو چه دغه قانون په خپل شکل کښ نافذ وي نو د دغه وخته پوري د دڅ د تشریخ اختیار صرف عدلیه ته دڅ۔دڅ نظریه ته تفریق د اختیاراتو واي۔

یوه بله نظریه ده چه هغې ته تقسیم داختیاراتو واي۔ د تقسیم د اختیاراتو مقصد دا دڅ چه د مرکز او صوبو په مینځ کښ به اختیارات په کومه طریقه تقسیمیږي چه د مرکز سره به څومره اختیاروي او د صوبو سره به څومره وي۔

روسوو

دریم شخص چه هغه د جمهوریت په جوړولو کښ حصه اخستي وه هغه ته روسو واي۔ روسو دوه نظریې پیش کړي وي۔ یو د فرد په آزادي زور لګول یعني داسي حکومت پکار دڅ چه په هغه کښ افرادو ته آزادي وي۔

دویم د افرادو نمائنده حکومت یعني افرادو ته دا حق ورکول پکار دي چه کله دوي کوم حکومت جوړول غواړي جوړولي شي او چه کله دوي ختمول غواړي ختم ئ کړي ځکه افرادو چه د حکومت په حق کښ د خپل ذاتي حقوقو نه کومه دستبرداري کړي نو دهغې وجه داده چه حکومت به زمونږ د مفاداتو او آزادي تحفظ کوي۔

دا دري هغه بنیادي نظریات دي چه د دڅ په وجه د آزاد خیال او سیکولر جمهوریت تصویر جوړ شو۔

۱۔ ریاست د مذهب نه جدا کول

۲۔ تفریق د اختیاراتو

۳۔ دفرد د آزادي په نتیجه کښ نمائنده حکومت

د جمهوریت په قائمیدلو کښ تاریخي عوامل

په دنیا کښ د جمهوریت په قائمولو کښ بنیادي کردار دوه و اقعاتو اداء کړي:

۱۔ دامریکه آزادي ۲۔ دفر انس انقلاب

دا دوه و اقعات یو بل ته نذدي دي، د دوي په مینځ کښ دولس کاله وقفه ده۔

د امریکه آزادي

مناسب دا ده چه د امریکه د آزادي تعارف وکړي شي۔ د امریکه براعظم کولمبس معلوم کړیو۔ د یورپ والا د جنوبي ایشیا ریاستونو ته لکه هندوستان وغیره ته خپل تجارت غځول غوښتل لکن هلته د رسیدو سمندري لار دویته معلوم نه وه، په دغه وخت کښ نهر سویز نه وو جوړ شوي، د وچي په لار کښ مشکلات ډیر وو۔

د سمندري لاري د معلوملو دپاره د دوي ډیر کوششونه ناکام شو لکن د دوه کسانو کوشش څه نه څه کامیاب شو. یو واس کو ډي ګاما او دویم کولمبس.

واس کوډي ګامه د جنوبي افریقي د طرف نه د هندوستان لار معلومه کړه، هندوستان ته ورسید او کولمبس بالکل الټه طرف ته لاړ، مغرب ته روان وو تر دے چه امریکه ته ورسید. نوي تحقیق دا دے چه د دے دواړو رهنما یو عرب ملاح وو.

انګریز انو او یورپ والا اول چه دا خو د آبادکاري او تجارت ډیر لوي میدان میلاؤ شو ځکه امریکه ډیر لوي براعظم دے. اوس هم دوه پنځوش ریاستونه دي هلته ئے د آباد کاري مهمات لیګل شروع کړل. دغه رنګي ډچ قومونو او فرانس والا پرتګیزیانو هم د آباد کاري سامانونه ولیګل او هلته ئے خپلي کالوني جوړي کړي لکن دا کارزیات انګریز انو وکړو چه دهغے په نتیجه کښ د امریکه په زیات حصو باندي د برطانیه حکومت قائم شو او هلته ئے خپلي کالونیاني جوړي کړي. ډیره زمانه په لندن کښ ناست وو او په هغوي ئے حکومت کولو.

برطانیه په امریکه کښ تجارت کول او د خلقو نه ټیکسونه اخستل غوښتل. بل طرف ته د جمهوریت افکار هم هلته شروع شویو.

پدے وجه یوه مرحله داسي راغله چه برطانیه په هغوي باندي ټیکسونه زیاتول غوښتل. دامریکه خلقو اول چه مونږ ټیکس نه ورکوو او بالآخر ئے دا فیصله وکړه چه مونږ د برطانیه نه ځانله خود مختاره ریاستونه جوړه وو او د برطانیه لاندي وخت نه تیرو‌و.

د دے غرض دپاره دوي د برطانیه سره جنګ شروع کړو او د دے جنګ په نتیجه کښ جارج واشنګټن کامیاب شو او هغه د امریکه د ځانله حیثیت اعلان وکړو.

په دغه وخت کښ دا اعلان هم وکړو چه دامریکه کوم مختلف ریاستونه دي دا به یو ځاي کولي شي او یو نوي جمهوري نظام به پکښ قائم کولي شي. دیته اعلان د آزادي واي. د ټولو خلقو دپاره ئے د جمهوري حقوقو اعلان وکړو. د دے اعلان آغاز ئے پدے جملو وکړو چه انسان د مور د خیټي نه آزاد پیدا شوي، لهذا هیچا ته دا حق نشته چه هغه یو انسان غلام جوړ کړي. بعض واي چه دا اول باقاعده لبرل سیکولر ډیموکریسي ده چه په دنیا کښ قائم شویوه، لکن په یورپ کښ د امریکي جمهوریت څه خاص اثرات نه وو شوي ځکه یورپ د امریکي نه ډیر لري دے.

د یورپ په خلقو چه کوم شي اثر کړیو نو هغه د فرانس انقلاب دے. کله چه امریکه د آزادي اعلان وکړو نو د هغه نه دولس کاله روستو په فرانس کښ انقلاب راپیدا شو.

د فرانس د انقلاب تعارف

دا د ۱۸ صدي د اختتام زمانه وه. د ۱۷۸۹ء پوري په فرانس او ټول یورپ کښ بادشاهي نظام وو. په فرانس کښ په دغه وخت کښ چه کوم بادشاه حکمران وو دهغه لوئي نوم وو. د لوئي په نوم ډیر بادشاهان تیر شویو، دا شپاړسم نمبر لوئي وو. مخکښ تیر شویو چه دے بادشاهانو خپل مجلس شوري جوړ کړیو لکن دوي د خپلي مرضي وو که شوري بۀ کوله او که بۀ نه کوله، د لوئي هم دغه رنګي د شوري مجلس وو، د سینټ جنرل په نوم پدیکښ دري قسمه خلق وو، ۱. د کلیسا ارکان ۲. جاګیردار ۳ . عوام .

د دے دري واړو اجلاسونه بیلا بیل وو، او د دے دري واړو د افرادو تعداد مساوي وو۔ که دوي به کوم قرارداد پاس کولو نو په عام طوربه د کلیسا افرادو او جاګیردارو د یوبل سره جوړتوړوکړو او د عوامو د خبري به څه خاص اهمیت نه وو۔

بل طرف ته د مجلس راغوښتل د بادشاه په صوابدید وو، که دَ به غوښتل مجلس بۀ رابللوورنه نه بۀ رابللو۔ په ۱۷۸۹ء کښ د سینیټ اجلاس جوړشو لکن د یو سل شپاړس کلونو پوري د مجلس شوري کوم مجلس نه وو منعقد شوي۔ بل طرف ته د جمهوریت افکارپه خلقو کښ خوریدل۔

نو دا مطالبه شروع شوه چه ډیروخت ۱۱۶ کاله وشو د سینیټ جنرل اجلاس دِ را اوغوښتلي شي۔ بل طرف ته لوئي بادشاه په عیاشي او فضول خرچي کښ ډیر مشهوروو۔ هغه ته د خپلو خرچو دپاره د ټیکسونو د زیاتولو ضرورت وو۔ نو چه کله خلقو دا مطالبه وکړه چه د سینیټ اجلاس را اوغواړي نو بادشاه پدے امید اجلاس را اوغښتلو چه څه به د دے اجلاس په ذریعه ټیکسونه زیات کړم، ځکه د مخکښ تجربو مطابق د کلیسا د خلقو نه او د جاګیردارو نه حمایت حاصلول او منظوري کول ګران کارنه وو۔

د دے خوش فهمي په وجه بادشاه د سینیټ اجلاس طلب کړو لکن چه کله اجلاس طلب شو نو عوامو شورشروع کړو چه په ټول ایوان کښ د عوامو تعداد دریمه حصه دے، دا نا انصافي ده، لهذا د عوامو تعداد دِ د کلیسا او د جاګیردارو د تعداد برابر شي۔

عوامو د دے مطالبے دپاره مظاهرے جلسے جلوسونه شروع کړل، آخرکاربادشاه دا مطالبه اومنله چه څه به ستاسو تعداد زیات کړم۔ عوامو دویمه مطالبه دا شروع کړه چه ځانله ځانله اجلاسونه دِ ختم شي۔ د ټولو دِ په یو ځاي اجلاس کیږي او د اکثریت په بنیاد دِ فیصله کیږي۔ بادشاه دیته نه تیاریدو ځکه هغه پوهیده چه د دے په نتیجه کښ عوام غالبه کیږي۔

کله چه بادشاه تیارنه شو نو عوامو دا فیصله وکړه چه مونږ خپله قومي اسمبلي جوړه وو۔ د قومي اسمبلي لفظ په دغه وخت کښ وجود ته راغلي نو دوي ځانله ایوان جوړکړو۔ دهغه نوم ئے قومي اسمبلي کیښود چه مونږ به په خپله اجلاس را غواړو او په خپله به فیصلي کوو۔

بادشاه پوهه شو چه اوبه د سرنه بره رو اني دي نو هغه د تشدد سوچ وکړو۔ کومِ آبادي ته چه دوي اجلاس طلب کړیو دهغے نه ګیرچاپیره بادشاه فوج مقررکړو او خلق ئے هلته د تلو نه منع کړل۔

عوامو اویل چه مونږ دلته اجلاس نه کوو بل ځاي ټینس کورټ وو چه هلته به ټینس لوبه کیده۔ هلته دوي د قومي اسمبلي اجلاس مقررکړو۔ پدي اجلاس کښ دوي د ملک دپاره نوي دستورپاس کړو او دا دستورئے په هغه بنیادونو جوړکړو کوم چه د مونټیسکو نظریه وه، تفریقِ اختیارات، یعني مقننه، انتظامیه، عدلیه ئے بیلا بیل کړل او د دوي اختیارات ئے په بیلا بیل شعبو تقسیم کړل، افرادو ته د آزادي ورکولو دپاره چه کوم د بنیادي حقونو باب دے هغه ئے تیارکړو۔ البته بادشاهت ئے ختم نه کړو۔ پدے دستورکښ ویلي وو چه بادشاه به وي لکن د بادشاه اختیاربه صرف د انتظامیه پوري وي، مقننه او عدلیه به آزاد وي، د بادشاه زیراثربه نه وي۔

دا د فرانس اولني دستوردے چه دیته اولني جمهوریه ویلي شي چه دا دے قومي اسمبلي منظورکړیو۔

چه کله دا د قومي اسمبلي اجلاس کیده نو په دغه وخت کښ دوي د بادشاه په محل حمله آورشو۔ بادشاه ئے د خپل محل نه قومي اسمبلي ته راوستلو، د بادشاه په موجودګي کښ دا دستورپاس کړو، د بادشاه نه ئے دسخط واخستلو او دا دستورئے منظورکړو۔

بادشاه اویل چه کم از کم دانتظامیه اختیارات ځما سره شته اګر چه د مقننه او عدلیه اختیارات ختم شو هغه دا خبره غنیمت وګڼړله دسخط ئے وکړو۔ د بادشاه سره دا خطره پیدا شوه چه دا خو اولني قدم دے چه ځما نه د عدلیه او مقننه اختیارات واخستلي شو لکن په کوم رفتار چه دا سیلاب ډیریږي که دا مخکښ لاړشي نو دا خلق زمانه دانتظامیه اختیارات هم اخلي او ما د بادشاهت نه هم محرومه کوي۔

لهذا بادشاه درپرده د جرمني د بادشاه سره رابطه وکړه چه په وخت د ضرورت کښ به ماته فوج راکوي چه خپل عوام پے پائمال کړم۔

په جرمني کښ هم په دغه وخت کښ بادشاهت وو او چه کله د فرانس د بادشاه د ښپو نه تخت وتلو نو د جرمني بادشاه هم سوچ وکړو چه چري دا بلا او مصیبت په مونږ رانه شي۔ لهذا هغه هم د فرانس د بادشاه د امداد دپاره تیارشو او د دے خبري د عملي کولو دپاره د دے دواړو په مینځ کښ څه سازشونه وشو چه کوم انقلابي خلق وو هغویته معلومه شوه چه بادشاه د جرمني سره جوړ توړ کړي۔ دوي بادشاه ګرفتار کړو او په جیل کښ بند کړو۔

د بادشاه د ګرفتاري نه روستو دوي د قومي اسمبلي یو بل اجلاس وکړو، په هغے کښ دویم دستور جوړ کړو، پدے دستور کښ دانتظامیه ذمه دارياني د بادشاه په ځاي یو کمیټي ته وسپارلې، هغے ته ئے د کنونشن نوم ورکړو او دیته دویمه جمهوریه ویل کیږي۔

دے کنونشن په بادشاه د بغاوت مقدمه شروع کړه او په هغه ئے دا جرم ثابت کړو چه دَ د جرمني سره جوړ توړ کړي او د فرانس په عوامو ئے د حملي پروګرام جوړ کړي۔ د دے په نتیجه کښ بادشاه ته سزائے موت مقرر شوه او بر سر عام ئے دهغه سر قلم کړو۔ پدے طریقه د شهنشاهیت خاتمه وشوه۔ کوم انقلابي خلقو چه د بادشاهت خاتمه وکړه د دوي جوش او جذبه خو ډیره وه لکن د دوي سره د حکومت د چلولو هیڅ تجربه نه وه او نه ئے په خپل مینځ کښ د نظم و ضبط څه اصول وو۔

لهذا د دوي په خپل مینځ کښ اختلافات راپیدا شو چه د هغے په وجه د ډیري زماني پوري د دوي په مینځ کښ خانه جنګي شروع شوه او د دهشت ګردي بازار ګرم شو او د لاقانونیت دور شروع شو۔ تردے چه عوامو سوچ وکړو چه د دینه خو بادشاهت ښه وو۔

آخر کار دوي مجبور شو چه په انتظامي امورو کښ د فوج نه امداد حاصل کړي۔ په دغه وخت کښ دفوج سردار نپولین بوناپارټ وو چه دا مشهور فاتح دے۔ پدے وجه نپولین د حکومت واګي سنبهال کړي۔ ځکه عوامو دا ولیدل چه د کنونشن حکومت ناکام شو، د دینه خو بادشاهت غوره وو پدے وجه نیپولین ئے بادشاه کړو، پدے وجه دوباره بادشاهت شروع شو۔

د نپولین دا امتیاز وو چه عوامو په خپله دهغه په سرتاج کیښود۔ هغه ئے بادشاه کړو او هغه ته ئے ټول اختیارات هم ورکړل۔ ددے هر څه باوجود نپولین اویل چه په ماضي کښ کومِ غلطیاني وشوي، دا د انقلابیانو د فکر نتیجه وه۔ پدے وجه څه جمهوري فکر ته ترقي ورکوم۔

نپولین یو کار دا وکړو چه د خپل مینځ خانه جنګي ختمه کړه، د بیروني حمله آورو سره ئے جنګونه وکړل، آسټریا چه دا غټ مدمقابل وو دَ ته ئے شکست ورکړو او مصر ته ورسید۔

بل طرف ته ئے د جمهوري فکر د ترقي ورکولو دپاره دخپلو ملګرو یو جماعت تیار کړو۔ نپولین ډیر ملکونه فتح کړیو لکن چه کله ئے د برطانیه سره ټکر راغلي نو د واټرلو په مقام زبردست مقابله وشوه چه دهغے په نتیجه کښ نپولین ته زبردست شکست وشو او د دے شکست نه روستو هغه وفات شو۔ بیا د نپولین ټول ملګري د انقلابي فکر خاوندان وو۔

لهذا دهغه نه روستو هغوي دوباره د جمهوریت بنیاد شروع کړو، دیته دریمه جمهوریه ویلي کیږي. د دے په بنیاد مکمل جمهوري نظام قائم شو. بیا د فرانس زیرِ اثر د یورپ په تمام ملکونو کښ انقلاب راغلي.

دے د فرانس انقلاب په یورپ کښ دري بنیادونه ته ترقي ورکړه:

1. د افرادو آزادي
2. تفریق د اختیاراتو
3. تفریق د مذهب او ریاست

د دے په نتیجه کښ دا تصورات د یورپ په نورو ملکونو کښ رائج شو او لبرل سیکولر جمهوریت په ټوله دنیا کښ متعارف شو.

دا دانقلاب فرانس او انقلاب امریکه مختصر تعارف وو چه دا دواړه په دنیا کښ د مروجه جمهوریت د قائمولو بنیادي سبب جوړ شویو.

د جمهوریت زیرِ اثر قائمیدونکي ادارے

کومِ ادارے چه د جمهوریت زیر اثر قائم شویوي په هغے کښ څلور ادارے خصوصي اهمیت لري:

1. سیاسي جماعتونه
2. انتخابات
3. مقننه
4. دستور

سیاسي جماعتونه:

د جمهوریت په بنیادي فکرونو او نظریه کښ دا خبره داخل ده چه دملک ټولو اوسیدونکو ته د کوم جماعت یا انجمن جوړولو حق حاصل دے او په کومه ډله یا جماعت څه پابندي نشته.

بیا په کوم ملک کښ چه کوم انجمن یا جماعتونه قائمیږی هغه دري قسمه دي:

1. د مشترکه مفادو گروپ
2. پریشر گروپ
3. سیاسي جماعت

د مشترکه مفادو گروپ

د مشترکه مفادو گروپ یعني هغه جماعت یا انجمن چه هغه د مشترکه مفادو د حاصلولو دپاره وجود ته راغلي وي. د هغه مقصد اقتدار یا حکومت حاصلول نه وي بلکه دغه جماعت د غیر سیاسي مقاصدو دپاره جوړ شویوي مثلا د یو خاص پیشے والا خلق د خپلو حقوقو د تحفظ دپاره یا د باهمي امداد دپاره کوم جماعت جوړکړي، داسي جماعت ته د مشترکه مفادو گروپ یا انټرسټ گروپ واي.

پریشر ګروپ

د دے جماعت مقصد اقتدار او حکومت حاصلول نه وي لکن د دے مقصد د حکومت نه بهر اوسیدل او په حکومت دباؤ غورزول وي چه زمونږ فلاني مطالبه منظور کړي یا زمونږ فلاني پالیسي د خپلي پالیسي حصه جوړه کړي۔

سیاسي جماعت (پولټیکل ګروپ یا پارټي)

سیاسي جماعت دهغه افرادو مجموعے یا ډلي ته واي چه هغه د کوم خاص پالیسي د نافذ کولو دپاره اقتدار حاصلول غواړي۔ په جمهوریت کښ د سیاسي پارټي د جوړولو طریقه دا وي چه څه خلق اول دا سوچ وکړي چه د ملک دپاره کوم قسم معاشي یا معاشرتي پالیسي مفید کیدے شي۔

بیا د دے خبري د عملي کولو دپاره خپل یو منشور تیار کړي۔ کچري زمونږ اقتدار راشي نو ملک به د دے منشور مطابق چلوو، په دغه منشور کښ خپل مقاصد بیان کړیوي۔

بیا نور خلق د دے منشور سره متفق کوي او هغویته په خپله پارټي کښ د شمولیت دعوت ورکوي۔ بیا دا ټول یو ځاي شي، د اقتدار د حاصلولو کوشش کوي۔

د دوه سیاسي جماعتونو په مینځ کښ عموما د منشور په بنیاد فرق کولي شي۔ د یو جماعت یو منشور وي د بل جماعت بل منشور وي، په مختلف ملکونو کښ د سیاسي جماعتونو مختلف نظام رائج دے۔ په بعض ملکونو کښ صرف یو سیاسي جماعت وي چه هغې ته جماعتي نظام واي (آن پارټي سسټم)۔ اکثر په کمیونسټ ملکونو کښ دا نظام رائج دے، هلته دویمه پارټي جوړول قانونا منع دي۔

په بعض ملکونو کښ دوه جماعتي نظام رائج وي، په داسي ملکونو کښ په نورو جماعتونو جوړولو قانونا پابندي نه وي لکن د متعدد انتخاباتو په نتیجه کښ وړي وړي پارټیاني یا بالکل ختم شي یا غیر مؤثر شي چه په حقیقت کښ په ملک کښ دوه جماعتونه قابل ذکر وي۔ په دے دواړو کښ کله د یو جماعت حکومت راځي کله د بل جماعت حکومت راځي، لکه په امریکه او برطانیه کښ دا صورت حال وي۔

په بعض ملکونو کښ کثیر الجماعتي نظام رائج دے، هلته وړي او غټي ډیري پارټیاني وي او هغه د اقتدار د حاصلولو کوشش کوي لکن د مخکښ نه دا پیشګوئي مشکل وي چه کوم جماعت به برسر اقتدار راځي۔

اګرچه د جمهوري نظام دپاره د سیاسي جماعتونو وجود لازمي نه دے لکن عملا داسي شوي ده چه چرته جمهوري نظام قائم وي هلته ضرور سیاسي پارټیاني موجود وي۔

د علم سیاست د ډیرو ماهرینو وینا دا ده چه د سیاسي پارټیانو وجود د جمهوریت دپاره مفید نه دے بلکه مضر دے، لکن نن صبا په دنیا کښ داسي جمهوري ملک نشته چه په هغه کښ د سیاسي پارټیانو وجود نه وي۔

انتخابات

په جمهوري نظام کښ دا ضروري ده چه حکومت د انتخاباتو په نتیجه کښ برسر اقتدار راځي۔ د دے غرض دپاره په اول کښ د پارلیمنټ د رکنیت دپاره انتخاب کیږي۔ بیا په پارلیماني نظام حکومت کښ چه کوم جماعت دپارلیمنټ د اکثر ارکانو حمایت حاصل کړي نو هغه حکومت جوړئ۔

په عام طور په جمهوریت کښ د انتخاباتو دوه طريقې دي:

1. بلاواسطه يعني براه راست انتخاب
2. بالواسطه انتخاب

د براه راست انتخاب مقصد دا دے چه هر بالغ ته د ووټ غورزولو حق ورکولي شي که سړي وي که ښځه، بوډا وي که ځوان، تعليم يافته وي او که جاهل او چه کوم اميدوار د خپلے حلقے د اوسيدونکو زيات ووټونه حاصل کړي هغه منتخب کولي شي۔

د بالواسطه انتخاب مقصد دا دے چه عوام د خپل ووټونو په ذريعه د انتخاب کونکو انتخاب وکړي۔

يعني عوام اول د داسے خلقو انتخاب وکړي چه هغه دپارليمنټ دپاره د ارکانو د منتخب کولو صلاحيت لري، بيا دغه منتخب شوي افراد د مقننه دپاره د ممبرانو انتخاب وکړي، لکه په پاکستان کښ د صدر ايوب خان په دور کښ دبنيادي جمهوريت دا نظام وو، لکن پدے وخت کښ په دنيا کښ د براه راست انتخاب طريقه رائج ده۔

د ووټر د اهليت صفات

پدے وخت کښ په ټوله دنيا کښ د بالغ رائے دهي په بنياد د انتخاباتو د کولو نظام رائج دے، يعني چه کوم سړي بالغ وي هغه د ووټ ورکولو حق لري۔

د انتخاب عامه طريقه

په انتخاباتو کښ عامه طريقه دا ده چه څوک زيات ووټونه حاصل کړي هغه کامياب وي لکن کچرې اميدواران ډير وي نو هغه سړي هم کامياب وي چه هغه د خپلي حلقے صرف پينځلس فيصده ووټ حاصل کړي او باقي د پينځه اتيا فيصده خلقو ووټ پدے وجه بے کاره شي چه هغوي مختلف اميدوارانو ته ووټ ورکړو چه په هغوي کښ يو کس هم پينځلس فيصده ووټ نه دے حاصل کړي او صرف يو اميدوار ته د ټولونه زيات يعني پينځلس فيصده ووټ ميلاؤ شو نو صرف د پينځلس فيصده خلقو د ووټ په وجه يو سړي د ټولي علاقے نمائنده جوړ شي۔ حالانکے پينځه اتيا فيصده خلق دَ لره نمائنده جوړول نه غواړي۔

لهذا عامه طريقه د انتخاب د عوامو حقيقي نمائندګي نه شي کولي او ډير کرته د اقليت والا پارټي په اکثريت حکمراني کوي۔

دوباره انتخاب

د دے خرابي د لري کولو دپاره مختلف ملکونو مختلف طريقے اختيار کړي۔ لکه په فرانس کښ د دوباره انتخاب نظام رائج دے۔ ددے مطلب دا دے چه کچرې يو سړي د خپلي حلقے يو پنځوس فيصده ووټ حاصل کړو نو هغه کامياب دے، ځکه چه د اکثريت اعتماد ئے حاصل کړو۔

کچرې يو کس هم يو پنځوس فيصده ووټ حاصل نه کړي نو بيا يوه هفته روستو په دغه حلقه کښ دوباره انتخابات کولي شي او په دے دويم انتخاب کښ صرف هغه خلق ودريږي چه هغوي په مخکښ انتخاباتو کښ دولس نيم فيصده ووټ حاصل کړي وي او چه چا د دينه کم ووټ حاصل کړي وي نو هغه په دويم انتخاباتو کښ شموليت نه شي کولي، بيا په دے دويم انتخاباتو کښ چه کوم سړي اکثريت حاصل کړي هغه کامياب وي۔

د دينه علاوه د انتخاباتو نوري طريقي هم شته، لکه دريمه طريقه د متناسب نمائندګي طريقه ده او پديکښ هم ډير صورتونه دي۔

بهرحال د ساده اکثریت والا انتخابي نظام کښ چه کومِ خرابیاني دي، د دے خرابي د لرې کولو دپاره په مختلف ملکونو کښ د انتخاباتو مختلفې طریقې اختیار شوي لکن د دے مشکل د حل کولو دپاره یو نظام هم پوره نه دے کامیاب شوي. پدي طریقو کښ مصارف هم زیات کیږي او د ډیرو ورځو پورې یو غیریقیني کیفیت وي او سل فیصده نمائندګي پکښ هم نه شي کیدے.

مقننه

د جمهوریت دریمه اداره مقننه ده. دا په جمهوري نظام کښ د ټولو نه زیات اهمیت لري. دا اداره د ټولو نه بالاتر ګڼړلي کیږي او د جمهوریت په مذهب کښ مقننه معصوم عن الخطاء ګڼړلي کیږي ګویاکه د دینه هیڅ غلطي نه کیږي. د مقننه لفظي معني ده قانون ساز مجلس یعني قانون جوړوونکي مجلس. دے ادارے ته پارلیمنټ یا اسمبلي واي. د پارلیمنټ معني ده هغه ځاي چه کوم ځاي خلق کینی او بحث کوي او د اسمبلي معني ده اجتماع ګاه.

ددے ادارے بنیادي کار قانون سازي ده.داداره پدے بحث کوي چه په ملک کښ کوم قانون نافذ کول پکار دي. بیا په کوم قانون چه د اکثریت حمایت حاصل شي، هغه منظورکړي او نافذ ئے کړي، دا اداره د حکومت په پالیسیانو هم بحث کوي.

د مقننه دوه نظامونه

په جمهوري نظام کښ د مقننه دوه قسمه نظامونه مشهور دي:

1. د یو ایو اني مقننه نظام
2. د دوه ایو اني مقننه نظام

د یو ایو اني مقننه نظام واضحه دے چه په ملک کښ د حکومت د چلولو یوه مقننه وي چه هغه قانون سازي کوي او چه کوم قانون منظورکړي هغه به ملک کښ نافذ کولي شي.

ددوه ایو اني مقننه په نظام کښ یو ایوان زیرین وي او یو ایوان بالا وي. ایوان زیرین لکه زمونږ په ملک کښ قومي اسمبلي، په برطانیه کښ دارالعوام، په انډیا کښ لوک سبها، په امریکه کښ کانګریس.

ایوان بالا لکه زمونږ په ملک کښ سینیټ، په برطانیه کښ دارالامراء، په انډیا کښ راجیه سبها، په امریکه کښ سینیټ.

دستور

په جمهوري حکومت او مطلق العنان حکومت کښ بنیادي فرق دا دے چه مطلق العنان حکومت دکوم دستورپابند نه وي او په جمهوري نظام کښ حکومت د دستورپابند وي.

په عام طور خلق د دستور او قانون فرق نه کوي. دستورهغه دستاویز اتو ته واي چه په هغه کښ د حکومت د چلولو قواعد او ضو ابط درج وي، ګویه که دستورد حکومت قانون ته واي او حکومت د دغه قانون لاندي چلولي شي، مثلا دائے پکښ لیکلي وي چه د مقننه به کوم اختیارات وي، د انتظامیه کوم اختیارات دي، د صدر او وزیر اعظم څه اختیارات دي، انتخابات به څرنګې کیږي، مقننه به یو ایو اني وي یا دوه ایو اني، د اخراجاتو طریقه کار څه ده، د عدلیه به څه اختیارات وي، داټولي خبري په دستورکښ لیکلي وي.

قانون دعوامو دپاره وي چه عوام به خپل معاملات د کوم قو انینو د لاندي کوي.

وحداني دستوراو وفاقي دستور

بیا دستور دوه قسمه دے، وحداني دستور او وفاقي دستور۔ د وحداني دستور مطلب دا دے چه د ټول ملک دپاره یوه مقننه وي، یوه انتظامیه، یوه عدلیه وي او د ټول ملک نظام د مرکز نه چلیږي او ټولي علاقي د حکومت ماتحت وي۔

د علاقائي وحدتونو دپاره لکه صوبے، ضلعے ریاستونه د دے دپاره علیحده حکومت او مقننه نه وي۔ د انتظامي وحدتونو دپاره مثلا د صوبو، ضلعو ریاستونو وغیره د انتظام د چلولو دپاره سرکاري ملازمین مقرر کولي شي، لکه د ښار د انتظام دپاره کمشنر یا ډپټي کمشنر وي، هغه د ښار حاکم وي، هغه سیاسي حکمران نه وي بلکه سرکاري ملازم وي۔

دغه رنګي په صوبو کښ سرکاري ملازم نظام چلوي، دهغے دپاره علیحده اسمبلي یا کابینه یا سیاسي وجود نه وي۔

په عام طور دا نظام په هغه ملکونو کښ جاري کولي شي چه هلته صوبے زیاتي نه وي یا د کومو ملکونو خلق چه د یوے نظرے والا وي۔ هلته وحداني دستور غوره کولي شي، ځکه دهغوي په خپل مینځ کښ مفاداتو ټکراؤ نه وي۔

په برطانیه کښ وحداني نظام حکومت دے، ځکه چه هغوي ځان د یو نظام فکر پابند ګڼړي۔

حالانکے هلته مختلف علاقائي وحدتونه موجود دي او د مختلف علاقو په ثقافت، ژبه، لهجو او د ژوند په طریقه کښ فرق شته۔

وفاقي دستور

وفاقي دستور هلته نافذ کیږي چه چرته په یو ملک کښ متعدد علاقائي وحدتونه موجود وي۔ د وفاقي حکومت اصل تصور داسي پیدا شویو چه په شروع کښ د هر علاقائي وحدت خپل ځان له حکومت وو۔

یعني د هرے صوبے د یو مستقل ملک حیثیت وو لکن روستو دا حکومتونه یو ځاي شویو، یو اتحادئے جوړ کړو چه دیته وفاق واي۔

پدے طریقه یو مرکزي حکومت جوړ شو چه هغه ته وفاقي حکومت واي او د هرے صوبے ځانله یو ذیلي حکومت قائم شو او هغوي په خپل مینځ کښ اختیارات تقسیم کړل لکن عملا وفاقي دستور یا وفاقي نظام په هغه ځاي کښ هم جاري کړي شو چه چرته د شروع نه یو غټ حکومت په وجود کښ راشي او په هغے کښ د صوبو په شکل کښ واړه واړه علاقائي وحدتونه وو۔

نو دهغوي د مطمئن کولو دپاره د وحداني طرز حکومت په ځاي وفاقي طرز حکومت اختیار کړي شو۔ د دے دپاره چه د هرے صوبے سره احساس وشي چه زمونږ خپله یو آواز دے او تشخص دے۔

پدے طرز کښ یو وفاقي حکومت وي چه هغه ته مرکزي حکومت واي۔دویم د هرے صوبے خپل صوبائي حکومت وي، لکه په پاکستان کښ یو وفاقي حکومت دے او د هرے صوبے ځانله حکومت دے، د بلوچستان حکومت ځانله دے، پنجاب ځانله، سنده ځانله او د سرحد حکومت ځانله دے۔ دا صوبائي حکومتونه دي، ددے اسمبلیاني ځانله دي۔ د دوي کابینه ځانله دي او د دوي انتظامیه ځانله دي۔

په دستور کښ دا خبره فیصله شوي چه په کومو معاملاتو کښ د قانون سازي حق وفاق ته وي او په کومو معاملو کښ د قانون سازي حق صوبو ته وي او په بعض معاملاتو کښ دواړه قانون سازي کولي شي۔

د پاکستان په دستورکښ دوه فهرستونه دي، یو وفاقي، دویم مشترک۔ په وفاقي فهرست کښ هغه اموردرج دي چه په هغه کښ قانون سازي صرف وفاق کولي شي او په مشترکه فهرست کښ هغه اموردرج دي چه په هغه کښ وفاق او صوبه دواړه قانون سازي کولي شي۔

د دینه علاوه چه څومره اموردي پدے ټولو کښ د قانون سازي اختیارات ټول د صوبو سره وي۔

کله چه د بعض صوبو دطرف نه د صوبائي خود مختاري مطالبه کولي شي نو دهغے مطالبه دا وي چه مشترک فهرست ختم کړي شي او په دغه معاملاتو کښ هم د قانون سازي مکمل اختیار صوبو ته ورکړي شي او په هغے کښ د وفاق هیڅ اختیار نه وي۔

د دستور بنیادي اجزاء

مخکښ مونږ اویل چه دستوردوه قسمه دے، وحداني او وفاقي۔ هر ملک د خپل حالاتو په لحاظ سره د دستورترتیب او تدوین په مختلفو طریقو کوي۔ لکن په بنیادي طور په دستورکښ چه کومِ خبري درج وي د هغے څو حصے دي، اوله حصه د د ستور دیباچه ده، دویمه حصه بنیادي حقوق۔ د ستور په اول کښ دیباچه وي چه هغه ته په اردو کښ تمهید واي او په انگریزي کښ ورته پریمبل واي۔

دا د قانون د متن حصه نه وي، لهذا څوک د حکومت یو اقدام په عدالت کښ پدے بنیاد نه شي چیلنج کولي چه دا د فلاني قانون د دیباچے نه خلاف ورزي ده بلکښ په دیباچه کښ هغه اسباب یا حکمت او مصلحت بیانیږي چه دهغے د وجے نه د یو قانون د نافذ کولو ضرورت راځي، مثلا دا قانون د فلاني مقصد دپاره نافذ کولي شي۔ البته دیباچه د متن قانون د تشریح دپاره استعمال کیدیشي چه په یو قانون کښ څه اجمال یا ابهام وي نو دهغے د رفع کولو او تشریح دپاره د پریمبل خبري بنیاد گرځیدے شي۔

بنیادي حقوق

د دستور دویمه حصه چه نن صبا په جمهوري دستورونو کښ عموما موجود ده هغه د بنیادي حقوقو حصه ده او جمهوري دستورو نه د ټولو نه زیات فخر پدے خبره کوي چه زمونږ په جمهوري نظام کښ د انسان د بنیادي حقوقو تحفظ شوے دے۔ په مطلق العنان حکومتونو کښ د افرادو د بنیادي حقوقو څه تحفظ نه وو لکن مونږ انسانانو ته دا حقوق ورکړل۔

پدے وجه په دستورکښ د دغه بنیادي حقوقو ذکر شوي چه هغه ټولو افرادو ته حاصل دي۔

مثلا اول دا چه د هر فرد جان مال او آبرو ته تحفظ۔ یعني حکومت به داسي اقدام نه کوي یا داسي قانون به نه جوړوي چه هغه د فرد په مال جان یا آبرو حمله آوروي۔

دویم دا چه هرفرد ته داظهارراي مکمل آزادي ده۔ د ده چه هر څه راي وي هغه ښکاره کولي شي او په ده هیڅ پابندي نشته۔

دریم دا چه هرفرد ته په خپل خپل مذهب د عمل کولو مکمل آزادي ده۔ دا چه د خپل ځان دپاره کوم مذهب برحق وګڼړي دا په هغه عمل کولي شي۔

څلورم دا چه هرشخص ته د جماعت د جوړولو آزادي ده، یعني دا هر څرنګي جماعت یا انجمن جوړولي شي۔

پینځم حق دا دے چه هرشخص ته د خپل املاکو د تحفظ آزادي ده۔ لهذا د ده په املاکو دویم کس حمله آورنه شي کیدے۔

هر شخص ته د خپل ځان دپاره د حکمران منتخب کولو آزادي ده۔ لهذا دا دخپلي مرضي مطابق د حکمران د منتخب کولو دپاره آزاد دے او د ووټ حق استعمالولي شي۔

برطانیه پدے خبره فخر کوي چه په دنیا کښ د ټولو نه مخکښ د بنیادي حقوقو په متعارف کولو کښ زمونږ حصه ده چه مونږ او زمونږ بادشاه جان دوم په دیارلسمه صدي کښ د میګناکارټا دستاویز جاري کړل چه په هغے کښ خپلو اوسیدونکو ته د حقوقو د ورکولو وعده وه۔

تبصره

د میګناکارټا دستاویز صرف په ۴۲ صفحو مشتمل دي لکن په هغه کښ د انسان د بنیادي حقوقو په باره کښ صرف دا یوه جمله ده چه یو سړي به د قانون نه په غیرنه ګرفتاریږي او د مقدمے چلولو نه په غیر به هغه ته سزا نه ورکولي شي۔

د دے یوے دفعے نه ماسوا پکښ د انسان د بنیادي حقوقو متعلق بله خبره نشته، حالانکے اسلام او قرآن د انساني حقوقو وضاحت کړي۔

رسول الله صلي الله علیه وسلم د حجة الوداع په خطبه کښ انسان ته دومره واضحه او جامعه حقوق ورکړي چه میګنا کارټا دهغے ګرد و غبار ته هم نه شي رسیدلے۔ لکن دے خلقو سترګي بندي کړي یا قصدا د تجاهل نه کار اخلي، دا نه یادَوي چه اسلام، قرآن او پیغمبر څومره حقوق ورکړي۔

د دینه روستو چه دوي کوم حقوق د زیات وضاحت سره د امریکه د اعلان آزادي په وخت کښ شامل کړي، دهغے آغاز د دے جملے نه کیږي چه انسان دمورد ګیډي نه آزاد پیدا شوي، څوک د ده د غلام جوړولو طاقت نه لري۔ حالانکے دا جمله اول عمر فاروق رضي الله عنه عمرو بن العاص رضي الله عنه ته فرمائلي وه:

مذ کم تعبدتم الناس وقد ولدتهم امهاتهم احرارا (کنز العمال ص:٦٦٠، جز:١٢)

تاسو د کوم وخت نه خلقو له غلامان کړي او د دوي میاندو دوي آزاد زیګولي۔

دغه رنګي ربعي بن عامر رضي الله عنه چه د رستم په دربار کښ کوم تقریر کړي په هغه کښ د رستم د دے سوال په جواب کښ واي چه ستاسو څه مقصد دے، ولي راغلیوي، هغه ورته واي چه مونږ خلقو له د انسانانو د غلامي نه اوباسو د الله تعالي په غلامي کښ داخلوو۔ (البدایة والنهایة ص۴۲ جز:۷)

په حقیقت کښ بنیادي حقوق دغه خلقو ورکړیو لکن دوي هغو ته هیڅ اشاره هم نه کوي او واي چه اول دا حقوق مونږ ورکړي۔ بل دا چه په تمام سیکولر جمهوریتونو کښ د انسان د آزادي ذکر دے لکن د دے آزادي کوم شرط یا حدود او قیود نه دي بیان شوي، نو دا فیصله څوک نه شي کولي چه په فلاني آزادي فلاني پابندي صحیح ده او فلاني پابندي بے غلطه ده۔ داسي مطلق آزادي خو هم نه ده مراد چه هرڅاته دا آزادي شته چه د خلقو په مال جان د حملے کولو تبلیغ شروع کړي۔

حقیقت دا دے چه د لادینه جمهوریتونو سره د دے سوال کوم واضح جواب نه دے موجود۔ کله واي چه دا دقانون تابع ده، کله وي چه دا د ریاست د عمومي پالیسي یا د ریاست د سلامتي تابع ده۔

نو صحیح دا ده چه آزادي د وحي الهي او د شریعت تابع کول پکار دي چه کوم اظهار رائے د وحي الهي مطابق وي نو هغه صحیح ده، ورنه صحیح به نه وي۔

انتظاميه

انتظاميه دوه قسمه ده، يوه سياسي انتظاميه او دويمه غير سياسي انتظاميه۔ سياسي انتظاميه د حکومت هغه افرادو ته واي چه هغه د انتخاباتو په ذريعه برسر اقتدار راشي او هغه باقاعده ملازم نه وي او د انتخاباتو د مدے پورې خپل فرائض اور ذمواري اداء کوي، لکه وزير اعظم او د وزير انو کابينه۔ غير سياسي انتظاميه هغه ته واي چه هغه په سرکاري ملازمينو مشتمل وي، لکه د وزارتونو سيکريټري، د محکمو سربراهان، دويته تنخواه ورکولي شي، د دوي تعلق د انتخاباتو سره نه وي، بلکه هر حکومت چه راځي دا خپل فرائض اداء کوي۔

په دستورکښ د دے دواړه قسمه انتظاميو دپاره اصول او ضوابط درج دي چه حکومت به څرنګي جوړيږي۔ د دوي اختيارات به څه وي او سرکاري ملازمين به په کوم بنياد مقرر کولي شي وغيره۔

په عام طور سرکاري ملازمينو ته دا آئيني تحفظ حاصل دے چه دوي د کوم معقول وجے نه په غير د ملازمت نه نه لري کولي شي۔

د دے وجے نه سياسي حکومتونه ځي راځي لکن دا ملازمين په خپل ځاي برقرار وي۔ په بعض وختونو کښ په ځکومتونو د دوي عملي ګرفت دومره مضبوط وي چه د حکومت په فيصلو دوي اثر اندازوي۔

په داسي صورت کښ د دوي د اثر او نفوذ نه په افسر شاهي يا نوکر شاهي سره تعبير کيږي، په انګريزي کښ ورته بيوروکريسي واي۔

عدليه

د عدليه آزادي هم د جمهوريت دبنيادي اصولو نه ده۔ د دے وجے نه په دستورکښ دا خبره فيصله شوي وي چه د عدليه افراد به څرنګي مقرر کولي شي، څوک به د دوي تقرري کوي، د دوي د ملازمت شرطونه په کوم وي او څرنګي به دوي د سرکاري دباؤ نه آزاد ساتلي شي۔

په عام طور په جمهوري نظامونو کښ ددے خبرے کوشش کولي شي چه د جج مقرر کول خصوصا په اعلي عدالتونو کښ د جج مقرر کول د انتظاميه د دباؤ نه آزاد وي۔

لکه په امريکه کښ د دے دپاره د سينيټ منظوري لازمي ده لکن په ډيرو ملکونو کښ وزير اعظم يا صدر هم د جج تقرري کولي شي۔

البته چه کوم جج باقاعده مقرر شي نو انتظاميه هغه نه شي معزول کولي۔ دا د دے دپاره کچري جج د انتظاميه خلاف فيصله وکړي نو آزاد به وي۔ دهغه سره به دا ويره نه وي چه انتظاميه به ما معزول کړي۔ البته دهغه معزوله کولو دپاره ځانله ځانله طريقے په دستورونو کښ موجود دي، په امريکه کښ د سينيټ په ذريعه معزولي کولي شي۔

زمونږ په ملک کښ يو سپريم جوډيشل کونسل جوړ شوي دے۔ د دے مقصد دا دے کچري د جج خلاف څه الزام وي نو هغه به د دے تحقيق کوي۔ که الزام صحيح ثابت شو نو هغه د جج د معزول کولو اختيار لري۔

بهر حال ددے کوشش کولي شي چه جج ته تحفظ ورکړي شي۔

دغه رنګي په دستورکښ د فوج متعلق هم قواعد او ضوابط وي او دا پکښ هم وي چه د حکومت اخراجات به په کوم بنیاد کیږي، بجټ به څرنګي جوړولي شي او د دے دپاره څه اصول وي۔

د جمهوریت عملي نظام

د جمهوري نظام په عملي صورت کښ د څلور ملکونو طریق کار ذیات مشهور دے او پدے څلور ملکونو کښ جمهوریت مضبوط ګڼلي شي، برطانیه، امریکه، فرانس، سوئزرلینډ

د برطانیه پارلیماني نظام

د برطانیه جمهوري نظام ته پارلیماني نظام واي او مونږ د ډیرے زمانے پوري د برطانیه غلامان پاتي شویو، د دے وجے نه زمونږ په ملک کښ په هرشي کي د برطانیه د نقل کوشش کولي شي۔

د دے وجے نه زمونږ سیاسي نظام په پارلیماني بنیادونو قائم دے او زمونږ دستور پارلیماني دستور دے۔

دپارلیماني نظآم مقصد

د پارلیماني نظام مقصد دادے چه اصل قوت حاکمه پارلیمنټ دے او دا عجیبه خبره ده چه د جمهوریت بنیاد به تفریق داختیاراتو دے چه مقننه انتظامیه عدلیه به بیلا بیل وي۔ لکن د برطانیه د پارلیمنټ په سسټم کښ مقننه او انتظامیه په یو بل کښ ضم شوي، ځکه پارلیمنټ قانون سازي هم کوي او حکومت او کابینه هم جوړوي او وزیر اعظم د دے کابینے سربراه وي۔ پارلیمنټ ته دا اختیارشته چه کله اوغواړي نو وزیر اعظم او کابینه معزول کولي شي او نوي کابینه جوړولي شي۔

د دے نظام بنیاد پدے خبره وي چه د ریاست سربراه ځانله وي او د ا نتظامیه سربراه ځانله دے۔ په برطانیه کښ د ریاست سربراه بادشاه دے اوس ملکه ده او د انتظامیه سربراه وزیر اعظم وي۔ په برطانیه کښ د بادشاه یا ملکه څه عملي اختیار نه وي، صرف مشوره ورکولي شي۔

دا بادشاهت موروثي دي، په انتخاب سره نه دي او څه خاص ضرورت ورته هم نه دي، لکن په انګریزانو کښ دا یوه طریقه ده چه کوم ادارے د دوي په کارکښ رکاوټ نه وي نو دهغوي د باقي پریښودلو کوشش کوي۔

برطانوي پارلیمنټ

د بارطانیه په پارلیمنټ کښ دوه ایوانونه دي، یو دارالعوام چه په انګریزي کښ ورته هاؤس آف کامنزواي۔ دویم دارالامراء چه هغے ته هاؤس آف لارډز۔ دار العوام داسے دے لکه زمونږ د ملک قومي اسمبلي یعني د هغے ارکان د بالغ رائے دهي په بنیاد منتخب کیږي او بیا د خپلو ارکانونه د انتظامیه سربراه یعني وزیر اعظم منتخب کوي، بیا نور وزیران منتخب کیږي۔

دار الامراء

دویم ایوان دارالامراء دے چه هغے ته هاؤس آف لارډزواي۔ دا یو عجیب قسم موروثي ایوان دے چه د ډیرو صدو نه روان دے۔ د دے د ممبرانو یو لوي تعداد موروثي دے، انتخاب ئے نه وي شوي، بلکه څو صدي مخکښ چه څوک ممبر کړي د هغه د انتقال نه روستو دهغه ځوي رکن شي چه کله ئے د ځوي انتقال وشي نو نمسي رکن شي۔

البته پدے ایوان کښ د زنانوورکنیت نشته، ځکه په عیسائي مذهب کښ زنانه وارثه نه ګرځي۔

د دے ايوان يوه حصه داسي ده چه د هغے ارکان د ملکه د طرف نه مقررشوي، ځکه ملکه ته دا حق حاصل دے چه يو چا له د دار الامراء رکن جوړکړي۔ دا يو عجيب قسم اداره ده، په دنيا کښ د دے مثال مشکل دے او د دے ادارے څه خاص فائده هم نشته۔

د برطانيه په سياسي نظام کښ يوه دلچسپ خبره دا ده چه دهغوي څه تحريري دستورنشته۔ دا صرف روايت او رواج دے او دغه رواج ته آئيني حيثيت حاصل دے، يعني څومره خبري چه د آئين سره متعلق دي دا ټول روايات او رواجونه دي او دا رواجونه دومره مضبوط دي چه د دے شان د يو تحريري دستورنه کم نه دے۔عدالتونه د دغه رواجونو په بنياد فيصلے کوي۔

په برطانيه کښ داپوزيشن او سرکاري حکومت هميشه مخالفت وي، که لبرل پارټي حکمران وي نو کنزروټيو پارټي مخالفت کوي او که کنزروټيو برسر اقتدار وي نو لبرل ئے مخالفت کوي، لکن د مخالفت سره هره پارټي د خپل روایاتو پوره خيال ساتي، د يو بل د حقوقو احترام کوي، د دے وجے نه برطانيه د پارليمنټري سستم امام ګڼړلي شي۔

د امريکه صدارتي نظام

د برطانيه نظام حکومت ته پارليماني نظام واي او د امريکه نظام ته صدارتي نظام واي چه دا د برطانيه د پارليماني نظام بالمقابل دويم غټ نظام دے۔ په دواړو نظامونو کښ ډير فرق دے۔ اول دا چه د برطانيه نظام وحداني دي او د امريکه آئين وفاقي دے۔

دويم دا چه په برطانيه کښ مقننه او انتظاميه د يو حد پوري يو دي او د امريکه په نظام کښ مقننه انتظاميه عدليه بيلا بيل ادارے دي۔ دري واړه خود مختاره دي۔

د انتظاميه سربراهي صدرکوي او مقننه چه هغے ته کانګريس واي په دوه ايوانونو مشتمل ده۔ يو ايوان ذيلي چه هغے ته ايوان نمائندګان واي، دويم ايوان بالا يعني سينيټ۔ د انتظاميه سربراهي صدر کوي او د صدر تعين مقننه يا اسمبلي يا پارليمنټ يا کانګريس نه کوي بلکښ دهغه انتخاب براه راست کيږي او د انتخاب نظام ئے هم پيچيده دے۔ د صدر انتخاب دوباره کيږي، يو ځل انتخاب په عام ووټونو سره کيږي چه هغه د براه راست انتخاب يو شکل دے او ديم ځل انتخاب انتخابی اداره کوی چه دا د مختلف رياستونو په افرادو مشتمل وی۔ په دواړو انتخاباتو کښ د کاميابيدو نه په غير صدر نه منتخب کيږي۔

وجه دا ده چه امريکه يو وفاقي رياست دے چه دا په دوه پنځوس رياستونو مشتمل ده، پدے وجه ورته رياست هائے متحده واي، او د هر رياست نه په دے انتخابي اداره کښ افراد شته۔

د صدر په انتخاب کښ دومره اهتمام ځکه کيږي چه د امريکه د صدر سره اختيارات ډير زيات وي۔ د انتظاميه سربراهي کوي خپله کابينه په خپله منتخب کوي۔ د رياست سربراهي هم کوي، حکومت چلوي، بيروني پاليسياني جوړي، اعلان جنګ کوي، البته هر پاليسي دکانګريس نه منظور کوي، او مخکښ بيان شويو چه د برطانيه طريقه د دينه بدل وه۔

حاصل دا دے چه د پارليماني نظام او صدارتي نظام په طريقو کښ د يو بل سره ډير فرقونه دي۔

د فر انس پارليماني نظام

دا خبره مخکښ ذکر شو يوه چه په يورپ کښ د جمهوريت په قيام کښ د ټولو نه لويه حصه د فر انس د انقلاب وه، لکن عجيبه خبره دا ده چه د فر انس نه دا انقلاب راپورته شو چه د هغے په بنياد د جمهوريت تحريک شروع شو او په نورو ملکونو کښ مضبوط جمهوري نظام قائم شو۔

لکن فرانس په خپله د دیري مدے پوري د ډیر زبردست دستوري کشمکش شکار شو، وخت په وخت په دستورکښ بدلون راتلو، لکن په آخرکښ دوي د پارلیماني نظام په بنیاد یو دستورجوړکړو، څرنګي چه په برطانیه کښ پارلیماني نظام وو۔

پدے وجه د ۱۹۵۸ء نه لړ مخکښ دغه سستم وو چه وزیراعظم بااختیاره وو او د صدر سره څه خاص اختیارنه وو۔ بادشاه د تاش د بادشاه په شان برائے نام بادشاه وو۔ نو د برطانیه او د فرانس بادشاهان براي نام وو، د وزیراعظم د تصدیقي دستخط نه په غیرئے څه نه شوکولي۔

په پاکستان کښ بهټو صاحب هم ۱۹۷۳ء په دستورکښ دا نظام مقررکړیو چه کله چوهدري فضل الهي صاحب صدرجوړشو نو هغه به د وزیراعظم د دستخط نه په غیرڅه نه شوکولي۔

پدے وجه د صدر او وزیراعظم په مینځ کښ اختلافات هم روان وو، لهذا ۱۹۵۸ء کښ چه کله جنرل ډیګال صدرجوړشو نو هغه نوي دستورجوړکړو او په هغه دستورکښ د صدر او د وزیراعظم په مینځ کښ د اختیاراتو د توازن قائمولو کوشش وکړو او بیائے دغه دستور د اسمبلي په ځاي د ریفرنډم دپاره د عوامو مخے ته پیش کړو چه د هغے په نتیجه کښ په ډیرزیات اکثریت سره هغه دستورکامیاب شو۔ پدے وجه د ۱۹۵۸ء نه روستو دا دستورنافذ شو۔ د اصل په اعتباردا نظام پارلیماني دے، لکن د صدر سره هم څه اختیارات شته، مثلا دا د اسټیټ سربراه وي، دغه د ملحق ریاستونو یعني فرانس چه د افریقے په کومو ریاستونو قبضه ده نو دهغے هم سربراه وي۔ د کابینو د اجلاسونو صدارت هم کوي نو په انتظامیه کښ في الجمله دخل شته۔ دغه رنګي چه په قانون کښ د ترمیم ضرورت وي نو هغه قانون دستوري کونسل ته حواله کولي شي چه هغه اوګوري چه دا د دستورسره موافق دے او که نه۔

د فوج د سربراه تعین هم کولي شي، د وزیراعظم د مشورے نه په غیرکه اسمبلي د آئین مطابق کارنه کوي نو هغه هم ماتولي شي لکن د وزیراعظم د مشورے نه روستو، اګرچه د وزیراعظم د مشوري پابند نه دے او یو لوي اختیارئے دا هم دے که په ملک کښ ایمرجنسي صورت راشي نو د ملک د حفاظت په خاطرهر مناسب اقدام کولي شي۔ دا د برطانیه او د فرانس د بادشاه بنیادي فرق دي۔

د سویټزرلینډ د حکومت نظام

د دے ملک نظام حکومت د ټولو نظامونو نه بالکل مختلف دے۔ د علم سیاست مصنفین او مفکرین واي چه په صحیح معنو سره جمهوریت په سوئیټزرلینډ کښ دے۔ دا ملک د رقبے په اعتبارتقریبا د سنده هومره دے، آبادي تقریبا شپیته لاکه ده او رقبه ئے هم زیاته په غرونو کښ راګیرده، په دومره وړوکي ملک کښ تقریبا ۲۲ صوبے دي، هره صوبه په انتظامي طورخود مختاره ده۔ د هرے صوبے ځانله حکومت، ځانله اسمبلي او ځانله کابینه ده۔ د دوي په مینځ کښ وفاقي حکومت دے، انتظامیه، عدلیه، مقننه دري واړه بیلا بیل دي۔

وفاقي اسمبلي په خپل مینځ کښ د اوه افرادو انتخاب کوي، هغے ته فیډرل کونسل واي۔ دا اوه افراد د څلورو کالو دپاره وي او دوي د انتظامیه سربراه وي، یو کس سربراهي نه کوي۔ ددے افرادو په انتخاب کښ دا کوشش کوي چه پدیکښ د مختلف صوبو مختلف ژبو مختلف مذاهبو خلق شامل وي۔ دوي د ټول ملک وفاقي نظام چلوي۔ چونکه پدے ملک کښ ۲۲ صوبے دي او د دوي اختیارات ډیردي، پدے وجه وفاقي معاملات کم وي۔

مخکښ زنانو ته د ووټ ورکولو حق نه وو، اوس زنانو ته هم د ووټ ورکولو حق شته۔ د دے نظام یو اهم خصوصیت دا دے چه پدے نظام کښ د ډیرو قوانینو او حکومتي پالسو د منظوري دپاره ریفرنډم کول ضروري دي۔ لهذا پدے ملک کښ ریفرنډم

زيات وي. په بعض خبرو کښ ريفرنډم لازمي دے، لکه د دستور په تبديليانو کښ د ريفرنډم نه په غير په دستور کښ تبديلي نه کيږي، او په بعض خبرو کښ ريفرنډم ضروري نه دے، لکن کچري يو لاکه کسان په څه خبره د ريفرنډم کولو تجويز پيش کړي نو په حکومت ريفرنډم کول لازمي وي.

په جمهوريت تبصره

د دے ځاي پوري مونږ مختلف سياسي نظريات او د مختلف سياسي نظامونو مختصر تعارف وکړو او په آخر کښ مونږ د جمهوريت بنيادي فکرونه او د جمهوريت قائم کړي شوي ادارے او د جمهوريت د لاندي قائم کړي شوي د مختلف طرزونو حکومتونه بيان کړل.

هر کله چه په موجوده وخت کښ د جمهوريت نه علاوه نور سياسي نظريات د دنيا نه تقريبا ختم شوي او په موجوده وخت کښ د ټولونه زياته سياسي نظريه سيکولر جمهوريت دے نو پدے وجه مونږه په جمهوريت تبصره کوو.

مفتي مولانا تقي صاحب واي ناپوهه خلق واي چه په دنيا کښ مختلف نظامونه تجربه شو لکن په ټولو کښ بهترين نظام سيکولر جمهوريت دے، تردے چه داسي هم ويلي شي چه د دينه بهتر نظام په وجود کښ نه شي راتلي.

د امريکه د وزارت خارجه د يو لوي افسر د طرف نه يو کتاب شائع شوي، د هغه ترجمه ده "د تاريخ خاتمه او د آخري سړي"، دهغه خلاصه دا ده چه د تاريخ ترقي انتهاء ته رسيدلي، د سيکولر جمهوريت د معلوملو نه روستو او د لبرل جمهوريت د تيار کولو نه روستو شائسته نظام په وجود کښ نه شي راتلي.

دا داسي پيش گوئي ده لکه چه کارل مارکس ويليو چه اشتراکي نظام د دنيا آخري نظام دے او د دينه روستو کوم بهتر نظام په وجود کښ نه شي راتلي.

پديکښ خو څه شک نشته چه د جمهوريت نه مخکښ مطلق العنان حکومتونه او بادشاهتونه يا ډکټيټر شپ وو. په هغه کښ چه کوم جبر او تشدد وو يا په افرادو ناروا پابندياني وي، په جمهوريت کښ د ډير حد پوري د هغې خاتمه شوي او په مجموعي لحاظ افرادو ته آزادي ميلاؤ شوي لکن جمهوريت د بنيادي تصور په لحاظ په حقيقت کښ په يو سنجيده فکر نه دے بنا. بلکښ دا د هغه خود ساخته نظامونو رد عمل دے چه مغرب په سوونو کاله په خلقو جابر انه حکومت کولو.

دغه رنگي جمهوريت د پوپ دهغه ذاتي تصوراتو رد عمل دے چه دغه تصورات خلقو معصوم گڼړل او د مذهبي حکم په طور نافذ شويو او په هغه کښ د خلقو حقوق پائمال شويو.

د دے په رد عمل کښ د جمهوريت والا د مذهب بيخ کندي وکړه او دا تصور ئے قائم کړو چه حاکميت اعلي د عوامو حق دے او د دے سره ئے د سيکولر ازم تصور يو ځاي کړو چه د رياست په معاملاتو کښ د کوم دين او مذهب پابندي نشته. مذهب دانسانانو ذاتي معامله ده چه د دوي دانفرادي زندگي سره تعلق لري لکن په سرکاري معاملاتو کښ د دے هيڅ کار نشته بلکښ عوام په خپل حاکم وي، په حکومتي معاملاتو کښ دوي د کوم الهي قانون پابند نه وي بلکښ دوي به په خپله فيصلي کوي چه کوم شي ښه دے او کوم شي بد دے. د دے وجے نه آزاد جمهوريت يا لبرل ډيموکريسي د سيکولر ازم نه په غير نه شي چليدے.

پدے نظريه کښ اوله خبره دا ده چه ټول عوام حاکم دي نو محکوم څوک دے، آيا زمکه محکوم ده او که د ملک عمارتونه يا جمادات يا نباتات، ځکه د حاکم کيدو لازمي نتيجه دا ده چه څوک بۀ محکوم وي.

د جمهوریت په تعریف کښ دا جمله مشهوره ده چه ګورنمنټ آف الخ

یعني د عوامو حکومت د عوامو په ذریعه دعوامو دپاره۔ د دے مطلب دا دے چه عوام په خپله حاکم هم دي او په خپله محکوم هم دي او دا کیدے نه شي چه یو کس د هم حاکم وي او هم محکوم او دهغه په ذریعه دِ حکومت هم کولي شي۔

لهذا د عوامو د حاکمیت بنیادي تصور مفقود دے۔

په جمهوریت کښ بله خبره دا ده چه پدیکښ نه داخلاقو پابندي شته نه پکښ آسماني هدایت شته بلکښ د دے ټول دارومدار د عوامو په خپل مرضي او خواهش دے۔ د دے وجې نه چه څومره بدتر او ناکاره کارونه دي هغه ته د آزادي په نوم د جواز سند ورکړي شوي ، لکه د برطانیه پارلیمنټ دهم جنس پرستي د جواز سند ورکړو او د دے جواز قانون ئے د لاسونو به پړقولو سره منظور کړو او د دینه روستو د یورپ په بعض ملکونو کښ د هم جنسو ودونه په قانوني طور تسلیم کړي شو۔امریکه هم دغه قانون جوړکړو او اوس په امریکه او یورپ کښ د دوي باقاعده جماعتونه دي چه هغوي ته هم جنس پرست واي۔

دغه رنګې د دوي په قانون کښ غیر شادي شده زنانه ته اجازت وو چه هر څه کولي شي لکن شادي شده زنانه به زنا نه کوي ځکه د دینه د خاوند حق پامال کیږي بیا دا مطالبه شروع شوه چه دا پابندي هم هم ختمول پکار دي۔ د دے وجې نه یورپ او امریکه اکثر خلق غیر ثابت النسب دے۔

حاصل دا دے چه هر بدتر او ناکاره کار په جمهوریت کښ جائز دے، ځکه د عوامو حاکمیت دے او هغه دا کارونه خوښوي۔

الله تعالي په دوي د عذاب په طور ایڼز بیماري مسلط کړه او دا بیماري د دوه وجونه پیدا کیږي، یو د هم جنس پرستي د وجې نه او دویم دا چه یو سړي د ډیروزنانوو سره یا یوه زنانه د ډیرو سړو سره جنسي تعلق قائم کړي۔

په ډیرو نکاحونو ئے پابندي لګولي او که د لس فحاشه زنانوو سره تعلق جوړي نو اجازت دے۔

دا ټول د عوامو د هغه بے لګامه حاکمیت نتیجه ده چه کوم سیکولر جمهوریت پیدا کړي، بل دا چه په حقیقت کښ د عوامو حاکمیت لفظ هم یوه غټه دوکه ده، ځکه پدے لفظ خو عوام خوشحاله کولي شي چه تاسو حاکم ئیوي لکن عملا په اکثر ځایونو کښ عوامو ته پته هم نه وي چه حکومت څه کوي۔

شیخ عبد الهادي په خپل کتاب عالم اسلام پر فکري یلغار ص ۱۳۷ کښ وائ چه ددي کفري دین فلاسفر او پیروکار دا غواړي چه دا په عقل جوړ شوي دین په باقي ټولو اسماني مذهبونو غالب شي او د ژوند په هر موړ کښ مخکښ شي او ټول انسانان په جبري طور ددے نوي دین په منلو آماده کړي او چه څوک جمهوریت نه مني نو هغه ته انسان ویل هم مناسب نه دي۔

مثلا امریکه د مسیحي مذهب ملک دے لکن که هلته څوک د مسیحي دین نه انکاروکړي نو د حکومت د طرف نه هغه ته څه مشکلات نه پیدا کیږي لیکن که څوک د جهوریت نه انکاروکړي نو هغه په امریکه کښ دا وسیدو حق نه لري او دا حال د نورو مسیحي ملکونو هم دے لکه برطانیه فر انس جرمني اټلي اسټریلیا دغه رنګې که څوک په اسر ائیلو کښ یهودیت نه مني نو هلته اوسیدے شي لیکن چه جمهوریت نه مني هلته نشي اوسیدے۔ دغه رنګې د دنیا د ټولو ملکونو دا حالت دے تردي چه په یو اسلامي جمهوري ملک کښ یو سړے اسلام نه مني مرتد شي نو څه خبره نشته لیکن که څوک جهوریت نه مني نو هغه د هر قسم انساني حقوقو نه محرومه کولے شي۔

جمهوریت دوه قسمه دے غربي او اسلامي:

مولانا عبد الباقي په خپل کتاب د اسلام سیاسي او اداري نظام ص ۴۱۰ ج ۱ کښ وائ چه جمهوریت دوه قسمه دے یو غربي جهوریت دویم اسلامي جمهوریت غربي جمهوریت دیته وائ چه دعوامو حکومت د عوامو په ذریعه په فائده او خواهش د عوامو۔

پدي قسم حکومت کښ مقتدار اعلي د عوامو رائ او خواهش وي د عوامو هر خواهش به په ملي قانون کښ روا وي او د عوامو هر ناخوښ به حرام او بند وي۔

پدي حکومت کښ مجلس شوریٰ یعني پارلمان چه د عوامو د خواهشاتو نمائندګي کوي د شارع حیثیت لري د خلقو د ژوند دپاره د قانون جوړولو حق ځان ته ورکوي او کوم مادے چه په قانون کښ تصویب شي هغه به د مملکت د خلقو دپاره قانون وي اګر که په اسماني ادیانو کښ ددے دپاره هیڅ ګنجائش نه وي بلکه ددے بنیاد په بے دینۍ وي د اکثریت فیصله قطعي وي او د مذهب دپاره پکښ هیڅ د خل نه وي۔

اسلامي جمهوریت:

اسلامي جمهوریت دیته وائ چه د رعیت د خواصو په فیصله جوړ حکومت د الله تعالی د رضا په خاطر- پدي کښ مقتدر او حاکم اعلی عوام نه وي او نه د دوئ نمائنده ګان یعني پارلیمان بلکه پدي نظام کښ اعلی حاکم د الله تعالی ذات وي <u>ان الحکم الا الله</u> حکومت خو صرف یواځي د الله تعالی حق دے۔

او مجلس شوریٰ د الٰهي نظام د تنفیذ او تطبیق دپاره طریقه کار جوړوئ او په الٰهي نظام کښ د بدلون حق نه لري که د مجلس شوریٰ یعني د پارلمینټ ټول اراکین یا د ټولي دنیا مسلمانان راجمع شي نو یو قطعي حرام حلال یا حلال حرام نه شي ګرځولے۔

د جمهوریت بنیادونه

شیخ دوست محمد رحمه الله په نداء الفرسان ص:۹ کښ او شیخ ګوهر رحمن په اسلامي سیاست ص:۸۶ کښ واي، حاصل ئے دا دے چه د جمهوریت یا دیموکریسي شپږ غټ بنیادونه دي او هر یو بنیاد د کفر او الحاد بنیاد دے، سیکولرازم، لبرل ازم، حکم بالاکثریت، کیپیټل ازم، نیشنل ازم او پارټي ازم۔

اولني بنیاد سیکولر ازم دے یعني د دین او سیاست ترمینځ پوره بیلوالي۔ د سیکولر ازم تعریف دا دے چه لادین في السیاسة ولاسیاسة في الدین یعني په حکومتي کارونو کښ د دین څه حق نشته او په دیني کارونو کښ د حکومت څه کار نشته، لکه د عربي یوه مقوله ده <u>اعطوا القیصر ما للقیصر والکلیسا ما للکلیسا</u> یعني په جمهوري حکومت کښ هیڅ رسمي دین وجود نه لري الخ (اسلامي سیاست ص:۸۶)

دا خلق د دے آیت مصداق کیدے شي چه **نُؤۡمِنُ بِبَعۡضٍ وَنَكۡفُرُ بِبَعۡضٍ**، لکه سورة النساء:۱۵۰ او ۱۵۱ او په بقره ۸۵ کښ واي **أَفَتُؤۡمِنُونَ بِبَعۡضِ ٱلۡكِتَٰبِ وَتَكۡفُرُونَ بِبَعۡضٍ**

ابن تیمیه رحمه الله واي:

<u>اذا کان بعض الدین لله وبعضه لغیر الله وجب قتالهم حتي یکون الدین کله لله (مجموع الفتاوي ص:۱۲۹)</u>

سورة حجر کښ واي:

الَّذِينَ جَعَلُوا الْقُرْآنَ عِضِينَ (الحجر:٩٠)

د عضین په تفسیر کښ مفسرین واي:

اقتسموا القرآن وجعلوه اعضاء فامنوا ببعضه وکفروا ببعضه۔ (کسائي ابوعبیده وابن عباس، زاد المسیر ص:٤٦ ج:٤)

اوس تاسے قضاوت وکړي چه یو سړي د دین پوره نیمه حصه نه مني هغه څرنګي مسلمان پاتي کیدے شي۔

مفتي تقي عثماني صاحب واي:

ان هذه النظریة في الحقیقة نوع من انواع الاشراك بالله تعالي (تکمله فتح الملهم ص:٢٧٤ ج:٣)

یعني دا نظریه په حقیقت کښ د شرک یوه نوعه ده۔

د جمهوریت دویم بنیاد لبرل ازم دے، یعني بے قیده او بے واګو خپلواکي۔ د لبرل ازم تعریف دا دے چه الحریة المطلقة في الفکر والعقیدة والبیان والمذهب والصحافة وقضاء الشهوات۔ یعني د فکر آزادي او د عقیدے او د بیان آزادي او د تعین د مذهب آزادي، د صحافت آزادي، د جنسي تعلقاتو آزادي۔ یعني انسان ته په خپله زندګي کښ مطلق العنان آزادي ده۔ د کفري فکر د کفري عقیدے آزادي ده۔ د کفریاتو د بیانولو آزادي ده، د لادینیت د اختیارولو آزادي ده، د کفري کلماتو د لیکلو آزادي ده، د زنا کولو آزادي ده، شیخ ګوهر رحمن رحمه الله واي الله او رسول ته کنځل کولي شي، د مور خور لور سره جنسي تعلق کولي شي، بربنډ ګرځیدلي شي، په لارو کوڅو کښ د خلقو په مخکښ زنا کولي شي۔ که مور او پلار پے اعتراض کوي هغه نیولي کیږي، بندي کیږي، جزا سزا هم ورکولي شي، پدے وجه چه د یو چا په شخصي ژوند کښ مداخله کول قانوني جرم او د جمهوري حقوقو خلاف کار دے۔ دسیاسي خپلواکي په نوم تحریک چلول ، مظاهره او احتجاج کول اور لږول ګټي ویشتل، تخریبي کار کول، جمهوري حق ګڼل کیږي۔

لبرل ازم یواځي د بادشاه یا پوپ د غلامي نه آزادي ته نه واي بلکه د دے سره د الله تعالي د هدایاتو او د رسول الله د اخلاقو نه آزادي ته هم ویلي کیږي او دا هغه خپلواکي او آزادي ده چه د جمهوریت جنډه پورته کونکي ئے د خپل ځان دپاره فخر او نازګڼړي لکن په حقیقت کښ دا قسم جمهوریت او آزادي د حیوانیت دویم نوم دے او بس۔ العیاذ بالله لکن بل طرف ته د جهاد فرضیت بیانول قرآن بیانول بند دے چه دا دهشت ګردي ته وده ورکوي، په شرعي پرده پابندي ده، په اسلامي اصولو د کلک ودریدلونه پابندي ده۔

د مطلق حریت او آزادي دعوه صحیح نه ده

جمهوریان واي چه حریت او آزادي ده، نو د مطلق آزادي خبره بالکل صحیح نه ده، ځکه مطلق آزادي به کله د قانون خلاف وي، مثلا په اکثر ملکونو کښ د سړک په چپ طرف تلل کیږي اوس یو سړي په ښي طرف ګاړي روان کړي چه آزادي ده ، خپله خوښه ده، نو دا څوک نه مني۔

یا یو سړي ـــ تېوسه په یو ځاي کښ کوریا دکان جوړئ چه آزادي ده نو دا څوک نه مني او مطلق آزادي به کله د عرف خلاف وي، مثلا په یو کورکښ د مړي تعزیه کیږي او یوه زنانه ورشي د ریښمو جامي اغوستي په شوشا کښ وي چه آزادي ده نو دا زنانه هر څوک بده ګڼړي، ځکه دا طریقه د عرف نه خلاف ده.

او مطلق آزادي کله د عام ذوق او مزاج نه خلاف وي، مثلا یو سړي دال او الوګان وخوري او د خلقو مخي ته هوا اوباسي چه آزادي ده نو د خلقو عام مزاجونه دا بده ګڼړي.

د لبرل ازم نومونه:

شیخ نور محمد رحمه الله په خپل کتاب جمهوریت عقل و نقل کے آئنے میں ص:۵۵ کښ واي چه د لبرل ازم دپاره په عربي اردو کښ متعدد اصطلاحي نومونه ایجاد شوي، مثلا وسیع النظري، وسیع المشربي، اعتدال پسندي، روشن خیالي، ترقي پسندي، آزاد خیالي، وغیره.

او چه څوک په دین عمل کوي او په الله او رسول مضبوط یقین لري نو دهغوي دپاره ئے هم نوي نوي نومونه او اصطلاحات ایجاد کړي مثلا قدامت پسند، رجعت پسند، فرسوده خیال، مذهبي جنون.

د جمهوریت دریم بنیاد حکم بالاکثریت دے یا د عوامو حاکمیت چه اکثر خلق څه خواهش لري او څه غوښتنه کوي هغه به قانون وي. حالانکے قرآن کریم واي چه وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ (الانعام:۱۱۶) یعني اکثریت د ګمراهانو دے او الله تعالي واي:

وَمَا وَجَدْنَا لِأَكْثَرِهِمْ مِنْ عَهْدٍ وَإِنْ وَجَدْنَا أَكْثَرَهُمْ لَفَاسِقِينَ (الاعراف:۱۰۲)

یعني اکثریت دبے لوظو او فاسقانو دے. او الله تعالي واي:

وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ (الاعراف:۱۷۹)

یعني اکثریت دجهنمیانو دے او دهغه خلقو دے چه دهغوي اسباب د فهم بند شوي او اکثریت د هغه خلقو دے چه هغه د ډنګرو په شان دي بلکه د ډنګرو نه هم زیات ګمراه دي. الله تعالي واي:

وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ (الاعراف:۱۸۷)

یعني اکثریت د بے علمو دے

وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَاكِرِينَ (الاعراف:۱۷)

وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ (الشعراء)

یعني اکثریت د بے ایمانو دے.

وَأَكْثَرُهُمْ كَاذِبُونَ (الشعراء:۲۲۳)

یعني اکثریت د دروغ جنو دے.

په حديث كښ راځي چه په زورو كسانو كښ به يو كس جنت نه ځي او يو كم زردوزخيان دي۔

وَمَا أَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِينَ (يوسف:۱۰۳)

وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُمْ بِاللَّهِ إِلَّا وَهُمْ مُشْرِكُونَ (يوسف:۱۰۶)

بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ الْحَقَّ فَهُمْ مُعْرِضُونَ (الانبياء:۲۴)

أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا (الفرقان:۴۴)

لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ عَلَى أَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ (يس:۷)

فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ (حم سجده:۴)

وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ (البقرة:۲۴۳)

حديث كښ راځي چه ان من الانبياء من لم يصدقه من امته الا رجل واحد (مسلم)

که اکثريت هميشه په حق وي نو د بعض انبياء سره د ټول قوم په مقابله كښ صرف يو ملګري وو او رسول الله صلي الله عليه وسلم د غرباء په باره كښ واي:

ناس صالحون قليل في ناس سوء كثير و من يعصيهم اكثر ممن يطيعهم

يعني غرباء لږ نيكان وي په ډيرو ناكاره خلقو كښ د دوي نافرمان ډيروي د دوي د منونكو نه۔

او حديث كښ راځي:

انما الناس كالابل المئة لا تكاد تجد فيها راحلة **(متفق عليه)**

يعني د اخري زماني مسلمانان به داسي وي لكه سل اوښان وي او يو پكى د بار والا نه وي

د جمهوريت څلورم بنياد كفتليزم دے يعني سرمايه داري او ماده پرستي:

ديته آزادي ملكيت هم واي۔ د كفتليزم تعريف دادے چه تمول على خلاف الشرع **يعني د شرعي احكامو د لحاظ نه په غير مال حاصلول په هره طريقه چه وي كه د سود او رشوت د لاري نه وي اوكه په عصمت پروشي سره وي اوكه په غصب او غلا سره وي۔**

يعني په هره طريقه چه ته مال ګټلے شي وي ګټه، د دين او روحانيت نه د سركشئ لازمي نتيجه داده چه انسان د ګيډي غلام شي د الله تعالى د بندګي په ځائ د زور بنده شي ددي وجه په غربي نظامونو كښ د سود او ګټي نه په غير چا ته قرض هم نه وركول كيږي او الله تعالى واى:

وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ (البقره ۱۸۸)س

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ (النساء:٢٩)

د شعیب علیه السلام او دهغه د قوم په مینځ په اختلافي مسائلو کښ یوه امتیازي مسئله آزادي د ملکیت وه۔ قوم دا غوښتله چه د اقتصادیاتو او د ملکیت په باره کښ مونږ ته مکمل آزادي وي چه مونږ څرنګي غواړو هغسي بۀ ګټو او خرچ کوو، پدیکښ دِ مونږ ته مکمل حریت او آزادي وي چه نن صبا د مروجه جمهوریت دا یو بنیادي رکن دے لکه قوم ویل:

قَالُوا يَا شُعَيْبُ أَصَلَاتُكَ تَأْمُرُكَ أَنْ نَتْرُكَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا أَوْ أَنْ نَفْعَلَ فِي أَمْوَالِنَا مَا نَشَاءُ (هود:٨٧)

او شعیب علیه السلام ﮮ پابندیاني لګولي:

فَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ (الاعراف:٨٥)

د جمهوریت پینځم بنیاد د نیشنلزم دے اود نورو قومونو بیخ کندي:

یعني قوم پرستي یو قوم بما هو قوم معیار د فضیلت ګرځول او نورو ته په ټیټو سترګو کتل د خپل قوم د ګټو دپاره نور قومونه لوټ کول فخر ګڼړي د خپل وطن ناکاره سړے خپل رور ګڼړي الله تعالی وائ:

يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا (الحجرات:١٣)

یعني قومیت صرف د پیژ اندلو دپاره دے نه د فخر او یا د بل امتیاز دپاره نو هر هغه چغه او کلمه حرام ده چه هغه اسلامي اخوت او وحدت پاره پاره کوي۔

لکه د پشتون او پنجابي چغه یا د سندي او بلوچ چغه او کلمه یا پشتون او فارسیوان یا تاجک او ازبک۔

لکه یوځل صحابه کرام وران شول او د مهاجر او انصاري چغه وشوه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل دعوها فانها منتنة دا کلمه او چغه پریږدئ دا بد بوداره ده

د جمهوریت شپږم بنیاد پارټي ایزم دے یعني ډلي او ګوندونه:

یعني کم ازکم دوه پارټیاني یا دري یا زیاتي به وي چه په انتخابي مهم کښ د یوبل سره مقابله وي د مقتدر پارټي او مخالف پارټي مقابله وي د یوبل په ر اپرځولو کښ وخت تیرئ که مقتدر ډله ښه فیصله هم وکړي خو اپوزیشن بۀ مخالفت کوي پدي وجه چه دا ځما د پارټۍ موقف نه دے د پارټۍ موقف د حق معیاروي ددے وجه نه د انتخاباتو په وخت کښ چي پارټي څوک مقرر کړي نو د هغه تائید ضروري دے که هغه هر څومره نا اهله وي بدکاره بد معاش وي بد اخلاقه وي۔

حالا نکي دا انتخابي مهم په ډیرو محرماتو مشتمل وي، لکه مشري غوښتل د یوبل غیبت کول د دروغو وعدي کوّل وغیره۔

او هغه جهوریت نه دے چه هلته ډیري سیاسي پارټۍ وجود نه لري حالا نکے د تحزب او تفرق شرعاً حرام دے الله تعالی و ائي:

وَإِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً (المؤمنون:٥٢، الانبیاء:٩٢)

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا (ال عمران:١٠٣)

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ (ال عمران:۱۰۵)

مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ (الروم:۳۲)

حاصل دادے چه په جمهوريت کښې دين او اسلام ته شا کول دي او په هر څه کښې د غربي طاغوت تقليد کول دي۔

او د جمهوريت خشتِ اول او بنيادونه خراب دي

ے خشت اول چون نهد معمار کج تاثريا ميرود ديوار کج

جمهوريت محض انتظامي طريقه کار نه دے بلکه دا يوه نظريه ده

جمهوريت صرف يو انتظامي طريقه کار نه دے بلکه دا باقاعده يوه نظريه او عقيده او نظام دے او دا خبره د جمهوريت د بنيادونو او د ترکيبي اجزاء نه معلوميږي چه د جمهوريت بنيادونه کوم کوم دي او جمهوريت دکومو اجزاء نه جوړ دے۔

د جمهوريت د علم بردارو بنيادي عقيدے

د جمهوريت اصول او بنيادي عقيدے مخکښې هم بيان شويوي خو مونږ ئے بعض بنيادي عقيدے دوباره ذکر کوو۔

۱۔ عوام هميشه صحيح فيصلي کوي۔

۲۔عوام هميشه په حقه وي۔

۳۔ د خلقوژبه د خداي تعالي نغاره ده۔

۴۔ عوام هيڅکله غلطي نه کوي۔

۵۔ د طاقت سرچشمه عوام دي۔

اوس تاسو انصاف وکړي د قرآن کريم دغه مذکوره آياتونه اوګوري او د جمهوريت دغه فاسدے عقيدے او بنيادونه اوګوري۔

ببين تفاوت راه ازکجاست تابکجا

دریم باب:د جمهوریت مفاسد او د شرعي نصوصو سره تضاد

د جمهوریت د اسلام سره تضادات

۱- په اسلام کښ قانون ساز صرف الله تعالي دے او په جمهوریت کښ اصل قانون ساز پارلیمنټ دے، تر دے چه قرآن هم د پارلیمنټ د منظوري نه په غیرقانون نه دے۔

۲- په اسلام کښ چه یو سړي د یو ضروري بنیادي عقیدے نه یا د یو حکم نه انکاروکړي هغه کافر دے او په جمهوریت کښ چه پارلیمنټ چا ته کافر او نه واي هغه کافر نه دے لکه ملحدین۔

۳- په اسلام کښ مرتد واجب القتل دے په جمهوریت کښ نه دے بلکښ مذهبي آزادي ده اقلیت ته به خپل حقوق ورکولي شي۔

۴- په اسلام کښ مسلمان او کافر عالم او جاهل، نیک عمله او بد عمله بر ابر نه دي، په جمهوریت کښ بر ابر دي او که یو ووټ ئے زیات شي نو کافر جاهل او بد عمله بهتر دي۔

۵- په اسلام کښ مشري د نارینه حق دے زنانه مشري نه شي کولي، په جمهوریت کښ دواړه بر ابر دي، زنانه هم هر قسم مشري کولي شي، لکه قضا، وزارت دفاع، ددولت مشري۔

۶- په اسلام کښ چه څوک عهده غواړي هغه نااهله دے په جمهوریت کښ د عهدے د حاصلولو دپاره به هر ممکن کوشش کوي۔

۷- په اسلام کښ داسي پارټي بازي حرام ده چه د مسلمانانو تقسیم او تفرق ورسره راځي۔ په جمهوریت کښ داسي پارټي بازي قانوني حق دے او د دغه پارټیانو مشر انو ته سیکورټي ورکول د ریاست ذمه داري ده۔

۸- په اسلام کښ خپل صفت کول منع دي، په جمهوریت کښ د دے هیڅ باک نشته۔

۹- په اسلام کښ امیر تاحیات امیر وي، په جمهوریت کښ امیر د محدود وخت دپاره وي۔

۱۰- په اسلام کښ د حق معیار قرآن او سنت دي، په جمهوریت کښ اکثریت دے۔

۱۱- په اسلام کښ د حزب اقتدار او حزب اختلاف تقسیم غلط دے، په جمهوریت کښ دا تقسیم ضروري دے۔

۱۲- په اسلام کښ هرکس و ناکس د راي اهل نه دے، په جمهوریت کښ هر هغه څوک راي ورکولي شي چه هغه شناختي کارډ لري۔

۱۳- په اسلام کښ په ارتداد، فسق، بدعاتو او د ګمراهي په خورولو پابندي ده، په جمهوریت کښ د اظهار راي آزادي ده۔

۱۴- په اسلام کښ زنا مطلقا ناروا ده، په جمهوریت کښ په رضامندي سره روا ده۔

۱۵- په اسلام کښ په جواري سود وغیره پابندي ده، په جمهوریت کښ پے هیڅ پابندي نشته۔

۱۶- په اسلام کښ د هر ناروا قانون احترام حرام دے، په جمهوریت کښ د ټول ملکي قوانینو احترام لازم دے۔

۱۷ـ په اسلام کښ تحلیل او تحریم صرف د الله تعالي حق دے، په جمهوریت کښ حلال حرام کیدے شي او حرام هم حلال کیدے شي۔

۱۸ـ اسلام د انسانانو جوړکړي شوي نظام نه دے او جمهوریت د کافر انو جوړکړي شوي مادي نظام دے۔

۱۹ـ په اسلام کښ حاکم اعلي الله تعالي دے او حقیقي او اعلي حاکمیت الله تعالي لره دے۔ په جمهوریت کښ حاکم اعلي عوام دے، حقیقي او اصلي حاکمیت د عوامو دے، ځکه په جمهوري نظام کښ هر څه په خلقو پوري مربوط دي۔

۲۰ـ په اسلام کښ کافر په مسلمان حاکم کیدلے نه شي، په جمهوریت کښ هر څوک حاکم کیدیشي، مسلمان وي او که کافر هیڅ پروا نشته۔

۲۱ـ د اسلام سیاسي نظام همیشه د نیکانو خلقو په لاس کښ وي ځکه د امت امامت عظیم امانت دے، هر څوک د دے اهل نه وي او د جمهوریت سیاسي نظام همیشه د ناکاره خلقو په لاس کښ وي ځکه د جمهوریت بنیاد اکثریت دے او اکثریت د ناکاره خلقو وي۔

۲۲ـ اسلام په هیڅ صورت کښ باطل نه برداشت کوي قل جاء الحق وزهق الباطل ان الباطل کان زهوقا۔ ددے وجه نه مرتد به وجلي کیږي۔ په جمهوریت کښ مکمل آزادي ده که څوک کوم دین خوښوي هیڅ پابندي نشته او نه کومه سزا شته۔

۲۳ـ د باطل ختمول د اسلام فریضه ده او د دے دپاره به جهاد جاري وي۔ په جمهوریت کښ د باطل سره د جهاد کولو تصور نشته بلکه جهادي فریضه ختمول غواړي۔

۲۴ـ په اسلام کښ ایمان تقوي علم امانت عدالت صداقت ته اعتبار دے، که په یو چا کښ دا صفات وي نو دا د مشري حقدار دے او ډیر غوره دے دهغه یو لاکه کسانو نه چه په هغه کښ دا صفات نه وي او په جمهوریت کښ اکثریت له اعتبار دے چه د چا ووټونه ډیروي که په ټګي او رشوت سره وه او که په بله دوکه سره وي هغه د مشري حقدار دے۔ یعني حق او ناحق معیار نه دے بلکه اکثریت او اقلیت معیار دے۔

۲۵ـ په اسلام کښ په خپله خپل ځان منتخب کول روانه دي برابره خبره ده که د پارلمان دپاره وي او که د حکومت د ریاست دپاره وي، ځکه چه یو خو پدیکښ د ځان تزکیه او په نورو ځان غوره ګڼړل دي او الله تعالي واي فلا تزکوا انفسکم (النجم:۳۲) مه پاکوي ځانونه خپل۔ دویم پدیکښ د منصب غوښتنه ده۔ رسول الله صلي الله علیه وسلم واي:

انا والله لا نولي علی هذا العمل احدا سئله ولا احدا حرص علیه (مسلم, کتاب الامارة)

او په جمهوریت کښ د هر دولتي منصب غوښتل د هر چا قانوني حق دے۔

۲۶ـ په اسلام کښ شوري د خواصو او پوهه خلقو وي، په جمهوریت کښ د عوامو وي۔

۲۷ـ په اسلام کښ به ووټر یعني دووټ ورکونکي تول کولي شي چه دا د ګواهي اهل دے او که نه دے او په جمهوریت کښ تول نشته چه آیا دا د ګواهي اهل دے او که نه دے بلکه صرف شمار له اعتبار دے۔

۲۸ـ په اسلام کښ بعض عبادتونه فرض او واجب دي، لکه مونځ، روژه، حج، زکوة، جهاد، دا فرض او واجب التعمیل دي۔ او په سیکولر جمهوریت کښ دا عبادتونه مباح دي، ستا خوښه ده که کوي او که نه ـ د اقیمو الصلوٰة حکم انسان ته متوجه نه دے او په انسان د الله تعالي کوم حکم نه دے فرض۔

۲۹ـ د اسلام په معاشرتي نظام کښ بعض پابندیاني دي چه دا به خورئ، دا به نه خورئ، دا به اغوندئ، دا به نه اغوندئ، شرعي حجاب به کوي، د ده سره به تعلق اورشته ساتي او د ده سره بۍ نه ساتي.

او په سیکولر جمهوریت کښ آزادي او اجازت دے چه هر څنګه لباس وي، خوراک، څکاک وي هر څنګه ولاړه ناسته وي د غیر دینه یا د پردو خلقو سره تعلق ساتلي شي، هیڅ قیدو بند او پابندي نشته.

۳۰ـ د اسلام په معاشي نظام کښ چه په کتاب البیوع وغیره کښ ذکر دے، خصوصي هدایات دي چه په حلاله طریقه به روزي او روپي ګټلي کیږي، او په سیکولر ازم کښ رأسمالیه یعني سرمایه داري ده. پدے نظام کښ د شریعت نه آزادي ده او د روپي او اشرفي بندګي ده چه څومره ګټلي شي او په کومه طریقه او په کوم کارے ګټلي شي.

د جمهوریت د شرعي نصوصو سره تضاد:

۱ـ رسول الله صلی الله علیه وسلم وائ:

من بدل دینه فاقتلوه (البخاري)

چه چا خپل دین بدل کړو هغه قتل کړئ او په جمهوریت کښ قتل نشته بلکه هر چا ته مذهبي آذادي ده.

۲ـ د قرآن او حدیث په ډیرو نصوصو کښ د امر با المعروف او نهي عن المنکر فریضه ذکر شوي لکه **تأمرون با المعروف وتنهون عن المنکر** وغیره.

لیکن په جمهوریت کښ امر بالمعروف او نهي عن المنکر هیڅ ګنجائش نشته او په جمهوریت کښ معروف او منکر شخصي امور دي او د چا په شخصي امورو کښ هیچا ته د مداخلت اجازت نشته که څوک زناء کوي که هم جنس پرستي کوي سړي د سړي سره او ښځه د ښځي سره واده کولی شي د مغربي ملکونو په قو انینو کښ ددے ټولو کارونو اجازت دے.

۳ـ رسول الله صلي الله علیه وسلم واي:

اخرجوا الیهود والمشرکین من جزیره العرب (البخاري)

مشرکین او یهود او نصاري د جزیرة العرب نه اوباسي. پدے وجه عمر رضي الله عنه په خپل خلافت کښ ټول یهود او نصاري د جزیرة العرب نه ایستلي وو. لکن په جمهوریت کښ د دوي ویستل نشته ځکه په جمهوریت کښ هر چا ته د اسیدو په باره کښ د آزادئ حق دے. که یو کافر په مکه یا مدینه کښ اوسیږي څوک ۓ نشي منع کولي. که څوک د یهودو یا نصاري وو یا د بل کافر د جزیرة العرب نه د ویستلو مطالبه کوي نو دا مجرم دے، د دے دقتل جواز پیدا کیږي، ځکه د جمهوریت مخالفت ۓ اوکړو.

۴ـ قرآن وائ چه د هر طاغوت او طاغوتي نظام نه به انکار کوي:

وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ (النساء:٦٠)

او الله تعالی وائ:

فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى (البقرة:٦٠)

او الله تعالی وای:

وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ (النحل:٣٦)

او په جهوریت او مجوده حکومتونو کښ د آئین دپاسدارئ او احترام حلف پورته کولي شي.

۵. الله تعالی واي:

وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا (النساء:١٤١)

دا ایت دلیل دے پدي خبره چه کافر په مسلمانانو حکمر اني او مشري نه شي کولے بلکه د مسلمانانو مشر به مسلمان وي او په جمهوریت کښ هر قسم کافر که یهودي نصر اني وي او که بل وي په مسلمانانو حکمر اني کول شي.

۶. الله تعالی وائ:

الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ (النساء:٣٤)

یعني مشري د نارینه حق دے زنانه حکمر اني نه شي کولے بلکه د مسلمانانو مشر او حکمران به نارینه وي او رسول الله صلی الله علیه وسلم وائ:

لن یفلح قوم ولوا امرهم امرأة (البخاري)

هغه قوم نه شي کامیابیدے چه زنانه يې مشري کوي.

او په جمهوریت کښ زنانه مشري کولے شي نارینه او زنانه دواړه بر ابر دي لکه د افغانستان د اساسي قانون په ۳۳ ماده کښ لیکي چه د افغانستان خوینده په انتخاباتو کښ د حصے اخستلو او د منتخب کیدو حق لري.

۷. الله تعالی وائ:

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ (الانفال:٣٩)

د کفارو سره وجنګیږئ تردي چه فتنه پاتي نه شي او دین پوره پوره د الله تعالی دپاره شي.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم وائ:

امرت ان اقاتل الناس حتی یقولوا لا اله الا الله (الحدیث)

ددي نصوصو نه معلومیږي چه د اسلام د ټولو نه لوئ خصوصیت دادے چه اسلام په خپله مقابله کښ د بل دین او نظر يې برتري نه مني او اسلام د ټولو نه اعلی دین دے خپل تابعدارو ته حکم کوي چه د هغه وخته پوري د کفارو سره وجنګیږئ چه د کفر فتنة ختمه شي او د الله تعالی کلمه د ټولو نه په اوچت حیثیت اومنلي شي.

لکن جمهوریت ټولو ادیانو ته په یو نظر ګوري په کفر او اسلام کښ د فرق قائل نه دے ددے وجه نه په جمهوریت کښ مسلمان او کافر ته یو شان انتخابي حقوق حاصل دي او کافر د کفر دوجے نه د حکمر انئ نه نه محرومه کوي.

بلکه په جمهوریت کښې دا خبره عملاً په نظر راځي چه مسلمان د مسلمانۍ د وجې نه د حکمرانۍ نه محرومه کولے شي او کافر ته په مسلمان فوقیت ورکولے شي او د اسلام او د کفر په مینځ فرق نه کول لوئ کفر دے۔

۸۔ الله تعالی وای:

قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ (الزمر:٦)

أَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا لَا يَسْتَوُونَ (سجدة:١٨)

أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِينَ كَالْمُجْرِمِينَ (القلم: ٣٥)

أَفَمَنْ يَعْلَمُ أَنَّمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ الْحَقُّ كَمَنْ هُوَ أَعْمَى (الرعد:١٩)

أَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ كَمَنْ مَثَلُهُ فِي الظُّلُمَاتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِنْهَا (الانعام:١٢٢)

قُلْ لَا يَسْتَوِي الْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيثِ (المائدة:١٠٠)

حاصل ددي ایاتونو دادے چه عالم او جاهل مؤمن او فاسق مسلمان او مجرم نه دے بر ابر او په جمهوریت او انتخاباتو کښې دا ټول یو شان دي۔

۹۔ الله تعالی وای:

وَاللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ (الرعد: ٤١)

یعني د الله تعالی د فیصلو او قانون د رد کولو هیچا ته اختیار نشته او په جمهوري نظام کښې پارلمینټ ته دا حق حاصل دے او الله تعالی وای:

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ (الاحزاب: ٣٦)

یعني مؤمنانو له د الله تعالی په فیصلو کښې خپل اختیار نشته خپله خوښه به نه کوي او په جمهوري نظام کښې پارلمیټ ته اختیار دے که د الله تعالی فیصله قبلوي او که رد کوي۔

او الله تعالی وای:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ (الحجرات:١)

یعني د الله او رسول نه ځانونه مه مشران کوئ د الله تعالی او د رسول الله د حکم په مقابله کښې د هیچا درائ له اعتبار نشته په جمهوریت کښې د عوامو رائ له اعتبار دے۔

۱۰۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم عبد الرحمن بن سمرة رضي الله عنه ته وای:

لا تسئل الامارة فانك ان او تیتها عن مسئلة وُکِلت الیها وان او تیتها من غیر مسئلة اعنت علیها (البخاري کتاب الایمان)

د امير د جوړيدو طلب مه کوه ځکه که ستا په مطالبه تا ته امارت درکړے شي نو ته به ديته حواله کړے شي او که ستا دمطالبے نه په غير تا ته امارت درکړے شي نو ستا مدد به کولے شي۔

او ابو موسى اشعري رضي الله عنه وائ چه زمونږ د قبيلے دوه کسانو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته اويل چه مونږ ته په حکومت کښ څه منصب راکړے شي، رسول الله صلى الله عليه وسلم اويل:

انا لا نولي هٰذا من سئله ولا من حرص عليه (البخاري)

مونږ داسي سړي ته منصب نه ورکوو چه هغه ددي طلب کوي يا پدي پسي حرص کوي۔

ددي احاديثو نه ښه په صراحت سره دا خبره واضحه کيږي چه امارت په خپله غوښتل ناروا دي او چه څوک ددي طلب کوي هغه په حقيقت کښ ددي منصب اهل نه دے او مولانا تقي صاحب په اسلام او سياسي نظريات ص ۱۹۹ کښ ددي وجه دا بيان کړے چه حکمر اني يو مسئوليت دے حق نه دے نو ددينه دا اصول را اوزي چه ددي طلب کول نا جائز دي۔

بهر حال ددي احاديثو په وجه امارت حکمر اني منصب ووټ غوښتل ناروا دي او چه څوک عُهده غواړي هغه نا اهله دے او په جمهوريت کښ روا دي او چه څوک عُهده غواړي هغه نا اهله نه دے۔

۱۱۔ الله تعالي واي:

إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ (الانعام:۵۷، يوسف:۴۰)

أَلَا لَهُ الْحُكْمُ (الانعام:۶۲)

يعني حاکميت اعلي صرف الله تعالي لره دے او په لاديني جمهوريتونو کښ د اقتدار او حاکميت سرچشمه عوام دي، لهذا عوام د کثرت راي په وجه د الله تعالي د حکمونو خلاف فيصله کولي شي۔

۱۲۔ الله تعالي واي:

وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ (المائدة:۴۴)

او الله تعالي واي:

فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ (المائدة:۴۸)

د دينه معلومه شوه چه د قرآن او سنت خلاف به هيڅ قانون نه منظوريږي او نه به باقي پريښودلي کيږي او نه به د قرآن او سنت خلاف کوم انتظامي حکم کولي شي او په جمهوريت کښ د کثرة الرأي په بنياد د قرآن او سنت خلاف قانون منظوريږي۔

۱۳۔ الله تعالي واي:

الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ (الحج:۴۱)

یعني د اسلامي حکومت په بنیادي مقصدونو کښې یوه خبره دا ده چه هغه به د مسلمانانو دپاره د عبادتونو د اداء کولو انتظام کوي، په نیکو به خلق آماده کوي، د بدو کارونو نه به خلق منع کوي. او په جمهوریت کښې دا د خلقو شخصي کارونه دي، پدیکښې د حکومت یا د بل چا د مداخلت هیڅ حق نشته.

۱۴۔ الله تعالي واي:

وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَفَسَدَتِ الْأَرْضُ وَلَكِنَّ اللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ (البقرة:۲۵۱)

یعني د اسلامي حکومت او مسلمانانو دا فرض دي چه هغه ټولي داخلي او خارجي فتنې او فساد ختم کړي او په جمهوریت کښې د فتنو نه دفاع او د فتنو تحفظ کیږي.

۱۵۔ الله تعالي وايَ:

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ (النساء:۵۸)

د حکومت ټولے عهدے او منصبونه دغه رنګي مالونه د حکمرانانو په لاس کښې امانت دے. د دے وجه نه د حکومت دا زمواري ده چه دا امانتونه د دے مستحقینو ته ورسوي او په جمهوریت کښې د اهلیت او مستحقینو هیڅ لحاظ نشته.

۱۶۔ الله تعالي واي:

إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ (الحجرات:۱۳)

یعني مدارد کرامت په تقوي دے.

او واي:

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ (الحجرات:۱۰)

یعني مدارد اخوت په ایمان دے او په جمهوریت کښې مدارد کرامت او اخوت په قومیت دے.

۱۷۔ الله تعالي واي:

لَا يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ (البقرة:۱۲۴)

او الله تعالي واي:

إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ (البقرة:۲۴۷)

د دینه معلومه شو چه د مملکت سربراه به مسلمان وي، رشتیني به وي او په علمي او عملي صلاحیتونو به متصف وي. او په جمهوریت کښې د مملکت سربراه کافر، منافق، جاهل او دروغجن هم کیدے شي.

۱۸۔ الله تعالي واي:

وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا (النساء:۱۴۱)

یعني کافر به مسلمان مشري نه شي کولي او په جمهوریت کښ کولي شي، ځکه مذهب شخصي معامله ده، د حکومت او مشري سره ئے هیڅ تعلق نشته۔

۱۹۔ الله تعالي واي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِنْ دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا (ال عمران:۱۱۸)

د دینه معلومه شوه چه غیر مسلم ته به په مملکت کښ څه داسي کلیدي عهده نه ورکولي کیږي چه هغه د مسلمانانو د رازونو سره تعلق لري او په جمهوریت کښ پدے هیڅ پابندي نشته۔

۲۰۔ الله تعالي واي:

لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ (الانعام:۱۱۵)

د دینه معلومه شوه چه د دستور هغه خبري چه هغه براه راست د قرآن او سنت نه اخستلي شویوي هیڅ کله په هیڅ طریقه پکښ تبدیلي نه شي کیدے۔

او په جمهوریت کښ د راي ګانو د ډیروالي په وجه تبدیلي کیدلي شي۔

۲۱۔ الله تعالي واي:

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا (ال عمران:۱۰۳)

او ټول مضبوط ونیسي د الله تعالي رسي او پارټي بازي مکوي۔

او الله تعالي واي:

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ (الحجرات:۱۰)

بے شکه مسلمانان رونړه رونړه دي۔

او الله تعالي واي:

وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ (الانفال:۴۶)

او په خپل مینځ کښ لانجي مکوي پس تاسو به بزدله شي او ستاسو رعب به لاړ شي۔

دغه رنګي:

يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا (الحجرات:۱۳)

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ (ال عمران:۱۰۵)

إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا لَسْتَ مِنْهُمْ فِي شَيْءٍ (الانعام:۱۵۹)

ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ (حم سجده:۳۴)

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ (ال عمران:۱۵۹)

د قرآن كريم د دے تعليماتو نه ظاهريږي چه دين اسلام د الفت، اخوت، د صلح او دوستي دين دے، د خپل مينځ دشمنياني ختموي۔ او د دے بے مثاله نمونې دي۔

بل طرف ته جمهوريت وحدت او اخوت ټوټي ټوټي كوي، رورد رور سره جنګوي۔

حزب الله او حزب الشيطان

البته په اسلام كښ د ابتداء نه د آدم عليه السلام د وخت نه دوه پارټي دي، حزب الله او حزب الشيطان۔ او دا دواړه د يو بل سره برسر پيكار دي، لكه الله تعالي واي:

وَقُلْنَا اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ (البقرة:۳۶)

او اويل مونږ چه كوزشي (په داسي حال كښ) چه تاسو به د يو بل دشمنان ئيوي۔ او الله تعالي واي:

هَذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ (الحج:۱۹)

خلاصه دا ده چه اسلام مسلمانانو ته په خپل مينځ كښ د وحدت او اخوت حكم كوي او د ډله بازي، ګروه بندي د نظريه نه ئے منع كوي او بيا دغه متحده محاذ ته د حزب الله نوم وركوي۔ او بيا په هره زمانه او هر مكان او هر محاذ كښ ورته د حزب الشيطان د مقابلے حكم كوي۔

بل طرف ته د دين جمهوريت بنياد پدے اصول دے چه هر حزب اقتدار بر ابره خبره ده چه هغه سو فيصد متشرع اسلامي او په حقيقي طورپه قرآن او سنت جوړشوي وي۔ د دے خلاف به اپوزيشن جوړولي شي چه هغه به په قرآن او سنت مبني آئين او د منصوصي احكامو او نظام خلاف قولا او عملا سرګرم عمل وي۔

او د يو يو حكم خلاف به د حقارت آميز بيانونو په اسمبلي، سينيټ نشرو اشاعت، جلسو جلوسونو كښ اجازه وي، بلكه دا كار به د هغوي كمال ګڼړلي شي۔

او چه كله د مسلمانانو دا حالت وي چه هغه د قرآن او سنت خلاف د جمهوريت د بقاء دپاره ښكاره ميدان د مقابلے ته را اوزي او د اسلام بيخكندي كوي۔ نو د غير دينو نه به څه ګيله وي۔

چون كفر از كعبه بر خيزد كجا ماند مسلماني

۲۲۔ الله تعالي واي:

وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ (المائدة:۲)

او امداد كوي د يو بل سره په نيكي او پرهيزګاري كښ۔

او الله تعالي واي:

وَلَا تَكُنْ لِلْخَائِنِينَ خَصِيمًا (النساء:١٠٥)

او د خیانت کونکو د طرف نه جګړه کونکي مه کیږئ.

د دینه معلومه شوه چه د یو بل سره د تعاون او همکاري بنیاد تقوي ده، د نیکي په هر کارکښ به یو مسلمان د بل دپاره مدد ګار جوړیږي، که هغه د خپلي پارټي نه وي او که د بلي پارټي نه وي.

د دے برعکس په جمهوریت کښ بنیاد د تعاون او همکاري خپله پارټي ده، د خپلي پارټي او دهغے د منشور او لائحه عمل حمایت او تائید به کوي، بر ابره خبره ده که هغه په حقه ده او که په باطله. ځکه د قرآن او سنت د صریح نصوصو مخالفت وي او که مو افقت وي، او د مخالف پارټي مخالفت به کوي، بر ابره خبره ده که هغه په حقه وه او که په باطله وي. او که داسي نه کوي نو تا مجرم ګرځوي، رکنیت دِ ختموي، بلکه ممبري او وزارت ئے هم ختموي.

۲۳۔ الله تعالي واي:

اتَّبِعْ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ (الانعام:١٠٦)

یعني د قرآن او سنت تابعداري وکړه او الله تعالي واي:

قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِي إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ (یونس:١٥)

او و ایه نشته مالره چه ځه دخپل طرف نه پدے کتاب کښ څه تغیر تبدیل وکړم ځه صرف د وحي تابعداري کوم.

د دینه معلومه شوه چه معیار د حق او باطل قرآن او سنت دے او هیڅوک د الله تعالي په کتاب کښ تغیر تبدیل نشي کولي او ښه او بد، روا او ناروا متعین دي.

بل طرف ته په دین جمهوریت کښ معیار د حل او حرمت، د حق او باطل، د جواز او عدم جواز، د ښه او د بد دپاره عوام دي، او د عوامو طاقت لامحدود دے او ښه او بد متعین نه دي، بلکي ښه او بد، روا او ناروا د اکثریت د نفساني خواهشاتو تابع دي، پدیکښ تغیر او تبدیلي کیدے شي.

او په جمهوري ملکونو کښ د دے ډیر مثالونه دي، مثلا په امریکه کښ پارلیمنټ یو ځل شراب بند کړه، لګه زمانه روستو ئے بیا آزاد کړل. په ډنمارک کښ د هلکانو سره د نکاح باقاعده قانون جوړ شو. په لندن کښ لواطت قانونا جائز کړو، ځکه دا د اکثریت راي وه. په لندن کښ یو انګریز د خپلي سپي سره په ډیره ګڼر ګونړه کښ نکاح وکړه او په پاکستان کښ یوے زنانه مطالبه وکړه چه د یوے زنانه دپاره دِ څلور سړو سره نکاح قانونا جائز شي، خو د اکثریت راي د دینه خلاف وه.

۲۴۔ الله تعالي واي:

وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ (الجاثية:١٨)

او تابعداري مکوه د خواهشاتو د هغه کسانو چه نه پوهیږي.

د دے آیت نه معلومه شوه چه څوک بے علمه وي، جاهلان وي نو د هغوي راي به رد کولي شي او که جاهلان هره فیصله وکړي، هغه خواهشات دي او خود غرضي او نفس پرستي ده او د داسي راي فیصلے او ووټ قبلول او منل هم جهالت او خود غرضی ده۔

رقم بر خود به ناداني کشیدي چون نادان را بصحبت برگزیدي

بل طرف ته د جمهوریت په اصولو کښ یو اصل بالغ رائے دهي ده، یعني چه یو سړي یا ښځه بلوغ ته رسیدلي وي نو دهغه راي معتبره ده، اگرکه هغه لوي جاهل او بے علمه وي، نو قرآن واي چه د جاهلانو راي معتبر نه ده او جمهوریت واي چه معتبر ده۔

او د جمهوریت د دے باطل اصل مطابق د یو جاهل او د یو ماهر فیصله او سوچ یو شان دے، ځکه دواړه بالغان وي۔

دغه رنګي د یو غل او ډاکو او د یو قاضي القضاة فیصله بر ابر ده۔ دغه رنګي د یو ډم او د ملک د صدر او وزیر اعظم فیصله بر ابر ده او د یو شر ابي زاني سود خور جوارگر او د ملک د مفتي اعظم فیصله یو شان قدر او قیمت لري۔ او د یو اجرتي قاتل او جر ائم پیشه فیصله او د یو مذهبي او روحاني امام اعظم فیصله یو شان بر ابر وزن لري، ځکه دا ټول یو شان بالغان دي۔

جمہوریت ایک طرز حکومت ہے کہ جس میں بندوں کو گنا کرتے ھیں تولا نہیں کرتے

گریز از طرز جمهوری غلام پخته کارے شو که از مغز دو صد خر فکر انسان نمی آید

بہر حال دوي واي چه هر کس في کس فیصله کولي شي، ووټ او راي ورکولي شي، صرف بلوغ شرط دے، د بلوغ نه علاوه د علم، فضل، سعادت، مهارت، هنر، تقوي، شر افت، خدا پرستي هیڅ ضرورت نشته۔

هزار خنده کفر ست بر این مسلمانی

توصیه

د ټولو علماء او حقیقي مسلمانانو دا فرض دي چه د جمهوریت نه خپل ځان محفوظ کړي او د دے باطل نظریے تردید وکړي او د اسلام د نفاذ دپاره جهاد شروع کړي او د رسول الله صلي الله علیه وسلم د درویشت کالو زندګي خپله مشعل راه او ګرځي۔

تا تهه و بالا نه گردو این نظام دانش و تهذیب دین سودائے خام

د جمهوري او اسلامي طریقے د بعض تضاداتو تفصیل

د اسمبلي د ممبر انو په انتخاب کښ د شرعي طریقي او جمهوري طریقي د یو بل تضاد

د پارلیمنټ او د اسمبلي د ممبر انو نه په شریعت کښ مختلف تعبیرات کیږي، لکه په قرآن کښ داسي تعبیرات دي ، اولوالامر، ملأ القوم، النقباء۔ په احادیثو کښ ورته العرفاء واي۔ فقهاء کرام ورته اهل الحل والعقد واي، علامه ماوردي رحمه الله ورته اهل الاختیار واي، ابو یعلي رحمه الله ورته اهل الاجتهاد واي، امام بزدوي رحمه الله ورته اهل الراي والتدبیر واي۔ او بعض اسلامي ملکونو کښ ورته مجلس وکلاء او مجلس نمائندګان هم واي۔

هر کله چه اسلام یو شورائي نظام حکومت دے لکن مشوره د ټول ملت نه نه اخستلي کیږي بلکه مشوره د ملت داعتمادي خلقو نه اخستلي کیږي او د هغوي فیصله د ټول ملت فیصله ګڼړلي کیږي، ځکه هغه عزتمند او مخوریز خلق وي، مشران وي،

علماء وي، نیکان وي او دښائسته صفاتو خاوندان وي نو د ملت پے اعتماد وي چه هغویته اولوالامر، ملأ القوم، النقباء، العرفاء او اهل الحل والعقد، ارکان شوري نمائندگان قوم، وکیلان قوم، ممبران اسمبلي ویلي کیږي۔ دا ټول اصطلاحات په عرف او شریعت تقریبا تقریبا په یوه معني او مفهوم کښ استعمالیږي، دا د قوم او ملت نمائندګي کوي۔

بیا د داسي مشرانو په انتخاب کښ دوه طریقي دي، یوه جمهوري طریقه ده او دویمه شرعي طریقه ده۔ پدے دواړو طریقو کښ د یو بل سره ډیر تضاد دي۔

جمهوري طریقه

په جمهوري طریقه کښ د دے مشرانو په انتخاب کښ د دین او مذهب د اخلاقو او کردار او د دیانت امانت اهلیت هیڅ قسم لحاظ نشته، بلکه د دوي په انتخاب کښ د انتخاب کونکو د سرونو او کثرت لحاظ کیږي۔ مزید برآن د دوي انتخاب هم د بیلټ پیپر (دراي کاغذ) په ذریعه کیږي۔ اګر چه په دغه بیلټ پیپر کښ هر څومره جعلسازي او ضمیر فروشي هم وي۔ پدے طریقه هر کس و ناکس هر کدو کریلا منتخب کیدے شي اګر چه د قوم بیړه غرقوي او بیا هغه د قوم حقیقي نمائنده او مشروي۔

شرعي طریقه

په شرعي طریقه کښ دغه اراکین شوري او مشران اهل الحل والعقد وي بلکه د اسلامي مملکت دپاره روح روان وي او په دین اسلام کښ دا ډیره درنه فریضه، زمواري او امانت دے۔

پدے وجه د دے د اهلیت دپاره ډیر مضبوط شرطونه لازمي دي که دغه شرطونه په آقا او مولي کښ موجود نه وي او په آزاد شده غلام کښ موجود وي نو آقا د دغه منصب اهل نه دے او آزاد شده غلام د دغه منصب اهل دے۔ بیا دغه شرطونه چا ډیر ذکر کړي او چا کم ذکر کړي خو بنیادي شرطونه د امیدوار او د مشر د انتخاب دپاره دري دي:

۱۔ ایمان

۲۔ عدالت

۳۔ علم

باقي شرطونه د دے تفصیل او تشریح ده۔

د اراکین شوري او ممبرانو دپاره شرطونه

اول شرط: ایمان او یقین

یعني د دین اسلام په قطعي او ضروري احکامو بئے مضبوط ایمان او یقین وي ایمان بئے متزلزل نه وي۔

دا ایمان او یقین بئے وي چه قرآن کریم کامل او مکمل او غیر محرف دے او دا ایمان او یقین بئے وي چه اسلامي نظام د هر دور او زماني دپاره برابر او فټ دے او باعث د فلاح او کامیابي دے۔ د ختم نبوت یقین بئے وي او د ده په افعالو، اقوالو او تحریر او تقریر کښ به داسي خبره نه وي چه هغه د ایمان سره منافي وي او د کفر او ارتداد سبب وي۔ په جمهوري طریقه کښ د داسي ایمان او یقین هیڅ لحاظ نشته۔

دویم شرط: عدل او تقوی

د شورې رکن به عادل او متقي وي يعني د مونځ روژې حج زکوة او د نورو اسلامي فرائضو او اعمالو به پابند وي او د ټولو کبيره گناهونو نه به ځان ساتي. په جمهوري طريقه کښې د داسي تقوي هيڅ ضرورت نشته.

دريم شرط: علم

د شورې رکن به عالم وي، ضروري علم به ورسره وي کچري جامعه علم ورسره نه وو لکه نن صبا په امت کښې د داسي ارکان شورې وجود ناممکن دے چه د هغه سره علم جامعه مانعه وي. نو د دے دپاره متبادل او آسان صورت دا دے چه د ملک د ضروري شعبو دپاره بيلا بيل ارکان شورې متعين کړي او په هره شعبه کښې داسي ماهرين مقرر کړي چه هغه د دغه شعبې متعلقه کارونو او مسائلو د حل دپاره استنباط کولي شي. دهرے شعبي متعلق د غه شعبي دپاره د منتخب شوي ارکانو راي معتبر کړي شي. په قرآن کريم کښې ديته اشاره شوي چه <u>واذا جائکم امر من الامن</u> (النساء:۸۳)

او چه کله د دوي خوا ته يو خبر (يا مسئله) د امن او بد امني راشي نو هغه مشوره کوي او کچري دوي دغه خبره رسول الله صلي الله عليه وسلم يا د خپل جماعت ذموارانو ته پيش کړي نو ماهرينو او محققينو به د دے تحقيق کړے وےاو دا بۀ حل کړيوے.

د اهل الحل والعقد تعريف

په الموسوعة الفقهية الكويتية ص:۱۱۵ جز:۷ کښې داسي تعريف کوي:

<u>يطلق لفظ اهل الحل والعقد علي اهل الشوكة من العلماء والرؤساء ووجوه الناس الذين يحصل بهم مقصود الولاية وهو القدرة والتمكين وهو ماخوذ من حل الامور وعقدها.</u>

د اهل الحل والعقد د لفظ اطلاق کيږي په خاوندانو د قوت چه هغه علماء مشران او مخوريز خلق دي. هغه خلق چه په هغوي د حکومت مقصد حاصليږي چه هغه طاقت او ځاي حاصلول دي او دا ماخوذ دے د کارونو د پر انستلو او تړلو نه.

بيا واي چه د تاريخي و اقعاتو نه داسي معلوميږي چه په اهل الشوري کښې امتيازي صفت علم دے او په اهل الحل والعقد کښې امتيازي صفت قدرت دے.

فائده:

ځومره علماء چه د اهل الحل والعقد تعريفونه کړي نو دا خبره پکښې ضروري دي چه هغه علماء وي، مشران وي او اعتمادي خلق وي.

امام ماوردي رحمه الله او امام ابو يعلي رحمه الله د اراکين شوري او ممبرانو دپاره دري شرطونه ذکر کوي. هغه واي:

<u>فاما اهل الاختيار فالشروط المعتبرة فيهم ثلاثة احدها العدالة الجامعة لشروطها والثاني العلم الذي يتوصل به الي معرفة من يستحق الامامة علي الشروط المعتبرة فيها والثالث الراي والحكمة المؤديان الي اختيار من هو للامامة اصلح وبتدبير المصالح اقوم واعرف</u> (الاحكام اسلطانيه للماوردي ص:۱۸، الاحکام السلطانيه د ابو يعلي رحمهم الله ص:۱۹)

هر چه اهل الاختيار دي (چه ديته اهل الحل والعقد واي زمونږ په زمانه کښ ورته د اسمبلي ممبران واي) د دوي دپاره دري شرطونه دي يو عدالت دے (چه فرائض اداء کوي او د گناهونو نه ځان ساتي) دويم شرط علم دے هغه علم چه د هغه په ذريعه د امامت حقدار او د امامت هغه شرطونه پيجني چه کوم د امامت دپاره ضروري دي۔ دريم شرط داسي راي او حکمت دے (عقل دے) چه دهغې په ذريعه دهغه چا ترجيح کولي شي چه هغه د امامت دپاره ډير صلاحيت لري او د فائدو په تدبيره ښه برابر او پوهه وي۔

په مروجه جمهوري نظام کښ دا يو شرط هم ضروري نه دے۔

د مروجه اسمبلي ممبران اولو الامر او اهل الحل والعقد نه دي او نه هغه څوک امام او حاکم دے چه دوي ئے انتخاب وکړي۔

د مخکښ تفصيل نه معلومه شوه چه په مروجه جمهوري نظام کښ کوم اراکين پارليمنټ او د اسمبلي ممبران وي نو هغه نه اولو الامر او اهل الحل والعقد دي او نه هغه څوک شرعي حاکم او اولو الامر دے چه دوي ئے انتخاب وکړي او دوي ځکه اولوالامر نه دي چه په دوي کښ هغه شرطونه نشته چه کوم علماء کرامو د اولو الامر دپاره ضروري گرځولي او په انتفا، دشرط سره انتفاء د مشروط راځي۔ هرکله چه دوي اهل احل والعقد نه شو نو د دوي انتخاب هم صحيح نه دي که دوي يو څوک د ملک دپاره صدر او وزير اعظم مقرر کړي نو هغه شرعي امير حاکم او اولو الام نه دے لکه چه يو سړي ـے اودسه مونځ وکړي نو مونځ نه کيږي او نه د ده د ذمه نه فرض ساقطيږي۔

بله وجه دا ده چه په مروجه جمهوري نظام کښ د اسمبلي په ارکانو کښ زنانه هم وي او زنانو ته دا حق نشته چه هغه د امام او حاکم انتخاب وکړي، لکه علامه جويني رحمه الله واي:

ان النسوة لا مدخل لهن في تخيير الامام وعقد الامامة (غياث الامم)

د زنانو دپاره د امام په خوښولو کښ او د امامت په تړلو کښ هيڅ حق نشته او نه د زنانو دپاره دا حق شته چه هغه د اسمبلي ممبره شي ځکه د اسمبلي ممبرانو ته د حکمران په انتخاب کښ مراجعه کيږي او د حکمران انتخاب کوي او زنانه دا انتخاب نشي کولي لکه مخکښ ذکر شو او نه په ټول اسلامي تاريخ کښ زنانو ته د حکمران په انتخاب کښ مراجعه شوي لکه علامه جويني رحمه الله واي **فانهن ماروجعن قط** (غياث الامم) زنانو ته هيڅکله (په اسلامي تاريخ کښ) مراجعه نه ده شوي۔

په مروجه طريقه زنانه رکن شوري جوړيدل يا ووټ ورکول او پديکښ د جمهوري طريقي او اسلامي طريقي د يو بل سره تضاد

د مروجه طريقي وضاحت

اول مونږ د مروجه طريقي وضاحت کوو چه په دے مروجه طريقه کښ څومره ـے حسابه منکرات دي نو نن صبا د هيڅا نه د اپته نه ده چه په مروجه طريقه کښ ډير زيات منکرات دي۔ مثلا په مروجه اليکشن کښ بدمعاشي، گډوډي د يو بل ذليله کول د يو بل خلاف نعره بازي، د پوليسو لاټي چارج، فائرنګ، قتل وقتال، ډهول او باجي وهل، رقص او گډا کول، د هلکانو او جينکو لاس پړقول، گاني سندري وهل، تصويرونه ويستل او د منصوبي تحت د پرق پروق لباس اغوستل، د حسن نمائش کول او پدے باندے ووټران ځان ته کهينچ کول۔ دا ټول منکرات په اليکشن کښ معمول جوړ شوي۔

د بې حیائي دا حالت دے چه روزانه په اخبارونو کښې په غټو سرخیانو سره دا خبرونه چهاپ کیږي چه د فلاني غټ شخصیت بي بي یا لور او خور په زبردستي سره اغوا کړي شوه او ځوکسانو دهغې سره په اجتماعي طور بدکاري وکړه او د فلاني ښار په بلدیاتي انتخاباتو کښې امیدواره زنانه اغواء کړي شوه او د هغې بې عزتي وکړي شوه. دا ټول و اقعات د انتخاباتو په ورځو کښې عملا مخې ته راځي.

د هرکورکلي او محلي ووټران (ووټ غورزونکي) نارینه اوزنانه په یوه کوڅه یو سړک او بازارکښې تګ راتګ کوي او ذهني شوق او اشتهاء یو بل ته ډیرنزدي شي.

شوق درهر دل که باشد رهبرے درکارنیست

سیل بے رهبربدریا میرساند خویش را

پدے وجه د جینکو حیا سوزو اقعات مخې ته راځي او د سرکاري ځوکیدارو په ذریعه هم د دے سد باب ممکن نه دے ځکه پیشو د مږو ځوکیداري نشي کولی. او د دے خو داسي مثال دے چه خر د وربښو رشې ته اوتړئ او ورته او ایه چه دا مه خورا نو خرخامخا هغه خوري. روز مره چه په میډیا کښې د زنا بالجبر او قتل و غارت کوم و اقعات مخې ته راځي نو اکثرپکښې سرکاري حفاظتي عمله شریک وي.

بیا د اسمبلي او سینټ په اجلاسونو کښې چه کوم منتخب زنانه وي نو اکثربربنډ سروي او میک اپ ئے کړیوي.

چه کله یو مسلمان رکن شوري او عالم دین د زنانو په باره کښې بعض امتیازي احکام بیانوي چه په هغې سره د بې حیائي دروازي بندیږي مثلا:

۱. د زناء متعلق د کوړو او یا سنګسارولو حکم

۲. د شرعي پردے حکم

۳. په میراث کښې د زنانو دنیمي حصے بیان

۴. یا د زناء د اډو او د زنانو د ګډا او سرودنو متعلق د شریعت دپابندي احکام بیانول

۵. د زنانو ګواهي د نارینو د ګواهي په نیمه مقررکول او د دے متعلق قرآني آیاتونه بیانول

۶. یا د ملک په اندرون او یا د ملک په بیرون کښې دزنانو لوبے کول او د نارینو تماشه کول په دي د اسلامي پابندي خبره کول.

۷. یا د نارینو او د زنانو د مخلوط تعلیم په باره کښې د پابندي خبره کول.

مقصد دا چه د مذکوره حکمونو متعلق چه هر څوک د الله او د رسول خبره کوي یا د ننګ او د غیرت کومه خبره کولي شي نو دغه ممبران زنانه لمبه او غصه شي، ودریږي او چغې شروع کړي او کله یو خوا بل خوا په غصي سره ګوري او د خورو ورو زلفو سره سر ته جټکي ورکي او د رقص او ګډا کیفیت پیدا کړي او بیا د باران په شان خبري شروع کړي چه دا د ملیانو دقیانوسي او ظالمانه قوانین دي او دا د نارینه او زنانو د مساوات خلاف غیر منصفانه قوانین دي، مونږ پدے ملک کښې ملا ازم نه شو برداشت کولی. د دے ملیانو د زنانو د مخالفت نه په غیر څه کارنشته او نه ورته د زنانو د مخالفت نه په غیر بله فتوي ورزي.

داسي خبري کوي چه ګویه دغه حکمونه بالکل د الله او د رسول خبره نه وي بلکه دا د ملیانو د تنګ نظري په نتیجه کښې د ملیانو خود ساخته حکمونه دي. او بیا دغه زنانه د ملا ازم په بهانه په ټوله دنیا کښې د ذرائع ابلاغ او میډیا په ذریعه د قرآن او

حدیث خلاف توهین آمیز او نفرت انګیز شور مشور راپورته کړي او واي چه مونږ د ملا ازم خلاف یو او په حقیقیت کښ دا د قرآن او حدیث خلاف وي۔ په ملک کښ د الله او د رسول د قرآني پابندونه باغي زنانه جلسے جلوسونه او مظاهري شروع کړي چه ملیانو د زنانو د حقوقو د غصب کولو اراده کړي۔

اسلامي طریقه

د دے ځاي پوري مونږ د مروجه طریقي وضاحت وکړو اوس اصل مقصد ذکرکوو چه په مروجه طریقه په اسلام او شریعت کښ زنانه رکن شوري جوړیدي شي او که نه او ووټ ورکولي شي او که نه ۔

نو په اسلام او شریعت کښ هیڅکله د زنانو دپاره د مروجه طریقي د ووټ ورکولو یا د رکن شوري د جوړیدو اجازت او جواز نشته۔ ځکه مخکښ مونږ دا وضاحت وکړو چه په مروجه طریقه کښ بے شماره منکرات دي او دا هغه حقائق او منکرات وو چه پدیکښ مبالغه نشته۔ بلکه د دینه پکښ علاوه نورهم ډیر منکرات شته۔

نو آیا د دے هر څه باوجود یو باعمله او غیرتي عالم یا یو غیرتي مسلمان د زنانو د ووټ ورکولو یا د رکنیت شوري د جواز فتوي ورکولي شي۔ بلکه د دے علاج دا آیت دے چه الله تعالي واي:

وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ (الاحزاب:۳۳)

په خپلو کورونو کښ اوسیږي او د جاهلیت قدیمه په شان په ډول سنګارکښ د خپلو کورونو نه مه اوزي۔

د مولانا مودودي صاحب وینا

مولانا مودودي صاحب د دے آیت او بعض احادیثو په رڼا کښ داسي استدلال کوي او واي چه د قرآن مجید د دغه واضحه حکم په موجودیت کښ د دے هیڅ ګنجائش نشته چه مسلماني ښځي د شوري ګانو او پارلمانونو رکن شي او د کورنه بهر د ټولني او اولس په کارونو کښ حصه واخلي، په دولتي ادارو کښ د نارینو سره یو ځاي کاروکړي، په یونیورسټو کښ د هلکانو سره یو ځاي تعلیم حاصل کړي، د نارینو په هسپتالونو کښ د نرسو وظیفه اجراء کړي، په جهازونو او ریل ګاړو کښ میزباني او مسافر پالونکي وټاکل شي۔ د زده کړو او تعلیمونو دپاره یورپ او امریکه ته ولیږل شي۔ (تفهیم القرآن ص:۹۰ ج:۴ سوره احزاب:۳۳)

زنانه جوماتونو ته په غیرد شرطونو نه نشي تلي نو د پارلمان د تلو اجازه د کوم ځاي نه ده۔ امام نووي رحمه الله واي چه زنانه د جوماتونو نه منع کول روا نه دي مګر دا اجازه هم په لاندي شرطونو مشروط ده چه دغه شرطونه علماء د نورو احادیثو په رڼا کښ بیان کړي۔

۱۔ عطر به نه استعمالوي

۲۔ ډول او سنګاربه نه وي کړي۔

۳۔ په لاسونو او ښپو کښ به داسي زیورات نه وي چه آواز کوي۔

۴۔ ښائسته لباس به نه وي اغوستي۔

۵۔ په صفونو او لارو کښ به د سړو سره اختلاط او ګډون نه وي۔

۶- داسي ماحول به نه وي چه د فتني او فساد مبتلا کیدو خطره او ویره لري- (نووي شرح مسلم باب خروج النساء الي المساجد)

فائده:

نو هر کله چه د الله تعالي کورته په غیر د داسي سختو شرطونو نه نه شي تلي نو پارلمان او نورو ځایونو ته تلل به د کوم طرف نه روا وي-

د مولانا مودودي صاحب وینا

مولانا مودودي صاحب واي چه د اسلام په باره کښ د دے تصور هم نشي کیدے چه په تعلیمي ادارو، دفترونو، کلبونو او غونډو کښ د ښځو او سړو د اختلاط اوګډون اجازه ورکوي- (تفهیم القرآن ص: ۳۹۰ ج:۳، سوره نور)

دغه رنګي د مولانا مودودي صاحب د کتاب "اسلامي ریاست ص:۴۵۳ ج:۲" په اتم باب کښ د اسلامي دستور لس بنیادي اصول بیان شوي دي چه په هغه کښ شپږم اصل د ښځو منصبونه د عنوان د لاندي داسي بیان کوي-

الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ (النساء:۳۴)

سړي حاکمان دي په ښځو

او لن یفلح قوم ولوا امرهم امرأة (بخاری)

هغه قوم هیڅ کله کامیابي نشي موندے چه خپل کارونه ئے ښځو ته سپارلي-

دغه دواړه نصوص پدے باره کښ قطعي حکم کوي چه د مملکت د مسئولیت منصب که هغه صدارت وي یا وزارت یا د شوری رکنیت یا د مختلفو ادارو مدیریت وي، ښځو ته نشي سپارل کیدے- پدے خاطر د یو اسلامي ملک په دستور کښ ښځو ته داسي منصبونه ورکول او دهغې دپاره ځاي پیدا کول د صریحي نصوصو نه خلاف دي او د الله تعالي او دهغه د رسول اطاعت کونکي ریاست د دے په خلاف د تللو جواز نه لري-

ا د دے تفصیلي تشریح د اسلامي ریاست ص:۵۹۹ ج:۲ یولسم باب عنوان په داخلي سیاست کښ د ښځو رول- پدي عنوان کښ مولانا مودودي صاحب واي، حاصل ئے دا دے چه په اوسني زمانه کښ دپارلیمنټ کاریوازي قانون جوړول نه دي بلکه پارلیمنټ د ټول ملکي سیاست کنټرول په لاس کښ لري، دوي کابینه جوړئ او ورانئ- دوي د نظم نسق پالسي جوړوي، دوي د مالیاتو او اقتصاد قانون جوړئ، د دوي په لاس کښ د جنګ او صلح ټول واک وي، د ټول ملک واک لري او دغه رنګي د ملک د واک دارټاکنه کوي-

بیا واي چه الله تعالي په الرجال قوامون کښ د واکداري مقام نارینو ته ورکړي، د هیواد د سیاست او نظم مسئولیت ښځو ته سپارل د اسلام خلاف کاردے-

د مذکوره آیت نه معلومه شوه چه زنانه د یو کورو اکداري نشي کولي نو د لکونو او ملینو کورونو واکداري به څه وکړي-

بیا روستو په ص:۶۰۷ د اسلامي ریاست کښ واي پاتي شو هغه خلق چه د هغوي په نیز د حق معیار صرف د دنیا د غالبه قومونو طریقه او طرز عمل دے، په هر حال هغه طرف ته ځي چه کوم طرف ته اکثریت ځي نو هغویته چا ویلي چه خامخا

اسلام د ځان سره ورانئ۔ چرته چه دهغوي زړه ځي هم هغه طرف ته دِ لاړشي مګرکم ازکم پکارده چه دومره رشتیا او واي چه په چاپسي روان دي، دهغه نوم دِ په جرأت سره واخلي او اسلام ته هغه خبري منسوب نه کړي چه قرآن او سنت او د صحابه کرامو او تابعینو تاریخ دهغه په ښکاره طریقه انکارکوي۔

او واي چه اسلام په اصولي طورد نارینو او زنانو د مخلوط ټولني مخالف دے۔ او واي چه ښځي خو لا پریږده چه د موجوده پارلیمان نارینه ارکان هم داهلیت په شرعي معیارونو برابر نه دي۔ د دے پارلمانونو ټول نظام دغربي جمهوریت په اصولو ولاړ دے او مونږ د دے پارلمانونو په ځاي د اسلام شورائي نظام راوستل غواړو۔

دا اقتباسات مونږ د اسلامي رياست نه نقل کړل او دا اقتباسات د مولانا ګوهر رحمان په کتاب اسلامي سیاست کښ هم شته۔

فائده:

د مخکښ نه معلومه شوه چه د بعض خلقو دا غلطي وي چه په جمهوریت پسي روان وي، دویم دا چه دوي د ځان سره اسلام ورانئ ځکه د دے جواز په اسلام کښ ګوري۔

دریم دا چه د قرآن او سنت او پیغمبر او صحابو او تابعینو په ځاي دوي د فرانس په انګریزانو پسي روان دي چه هغه وولتائر او روسو او مونتیسکوو او د موجوده عصر په طواغینتو پسي روان دي لکه امریکه وغیره۔

جمهوري طريقه

دویمه جمهوري طريقه ده، په جمهوري طريقه کښ زنانه ووټ ورکولي شي او د شوري رکنیت کولي شي بلکه د حکومت مشري هم کولي او د ملک صدر او وزیر اعظم هم جوړیدلي شي او دا د دوي بنیادي حق ګڼړل شي۔

ځکه په جمهوریت کښ د جائز او ناجائز دپاره د ټولو نه لوي دلیل د عوامو نفساني خواهشات دي او د غربي جمهوریت بنیاد په عوامي حاکمیت دے۔ په جمهوریت کښ اصل مقصود او مطلوب دا دے چه په هر ځایکښ نارینه او زنانه اوګه په اوګه د یو بل دپاره باعث د تسکین او لذت وي۔

که یو سړي په ملازمت کښ افسر وي نو پکار ده چه جیني ورسره اسسټنټ (معاونه) وي او که نارینه پائلټ وي نو پکار دا چه زنانه ورسره میزبانه ائیرهوسټس وي او که نارینه د اسمبلي او سینټ اسپیکر او چیرمین وي نو لازم ده چه زنانه ډپټي اسپیکر او ډپټي چیئرمین وي۔

د جمهوریت پرستانو د ټول دین خلاصه هم دغه ده چه زنانه قیمتي سامان او مال غنیمت جوړ کړي۔ تردي چه د انساني ضروریاتو د روزمره استعمال په څیزونو ـــ ے هم بربنډ تصویرونه لرولي او ـــ بے تصویره مزه نه کوي۔

کچري دټي وي او سینما د پردے نه زنانه لري کړي شي نو کیدے شي چه څوک ـــ ے سهوا هم اونه ګوري او حقیقت هم دا دے چه کله انسان د الله تعالي د بندګي نه آزاد شي او د نفس او خواهش بنده جوړ شي۔ خو دهغه دپاره هر محفل په غیر د زنانه د ملګرتیا نه خفګان وي۔ او هر سپرلي ورله خزان وي او هره تفریح او لوبه ـــ بے مزے وي او هر نعمت کده غم کده جوړه شي۔

د دے وجے نه په جمهوریت کښ د رنګینو زنانوونه په غیر الیکشن ـــ بے مزي وي او د اسمبلي اجلاس هم په غیر د تورو شوو سترګو نه او په غیر د سرو شونډو او په غیر د مشکبارزلفو نه ـــ بے مزي وي۔

په جمهوريت کښ صرف جائز نه بلکه دا فرض دي چه نارينه او زنانه د يو بل سره اوګه په اوګه شي او د يو بل په لاس کښ لاس وارچوي او پيش قدمي شروع کړي۔

په مجلس شوري کښ د فيصلو کولو په طريقه کښ د جمهوريت او اسلام د يو بل سره تضاد

دا بحثونه مخکښ هم ذکر شويو اوس ئے دوباره تکرار کوو چه خبره ښه واضحه شي۔ په جمهوريت کښ د فيصلو کولو طريقه بيناد او معيار اکثريت دے۔ او په اسلام کښ د فيصلو کولو طريقه بنياد او معيار قوت او صحت د دليل دے۔

يعني په جمهوريت کښ د اسمبلي د اراکينو اکثريت چه کوم طرف ته وي نو هغه خبره حقه وي او هغه به د ملک قانون وي اګرچه هغه ښکاره حماقت او واضحه بے ديني او بے حيائي وي۔

او په اسلام کښ د فيصلو بنياد په قوت او صحت د دليل دے۔ يعني چه کومه فيصله د قرآن او سنت او د اجتهاد په رنړا او نتيجه کښ اقرب الي الحق وي نو هغې له به اعتبار وي هغه به فيصله او قانون وي، اګرچه د دے دباره کښ راي ورکونکي په ډير اقليت کښ وي او مخالفت کونکي په ډير اکثريت کښ وي۔

البته کچري دواړه طرفونه په صحت او قوت د دليل کښ برابر وي نو بيا به ترجيح اکثريت لره وي۔ خو دا خبره دِ واضحه وي چه د اسلامي احکامو په باره کښ د هر رکن شوري راي له اعتبار نشته بلکه د قرآن او سنت او فقه د ماهرينو راي له اعتبار دے، ځکه په دليل او د دليل په صحت او قوت دوي پوهيږي۔ هر رکن شوري پے نه پوهيږي۔

په جمهوريت کښ د پارليمنټ کردار

په جمهوري رياست کښ پارليمنټ هغه اداره ده چه کوم ځاي ته عوام د ووټ په ذريعه خپل نمائنده ګان ليږي۔ د دے دپاره چه د عوامو په مفادو کښ قانون سازي وکړي، خو دا ظاهري خبره ده۔ په حقيقت کښ د حکم او حکومت ټول هغه اختيارات چه هغه په الله تعالي پوري خاص دي نو ارکان پارليمنټ هغه خپل ځان لره خاص کوي او يو قسم له د ځان نه خدايان جوړ کړي۔

پارليمنټ ته دا اختيار وي چه دوي کوم قانون غواړي نو جوړولي شي اګرچه د کتاب الله مخالف وي۔

پدے وجه پارليمنټ د کتاب الله د رد کولو مرکز وي او د انسانانو د حاکميت اعلي او اقتدار اعلي مظهر وي او د فحاشي او عرياني او د زناء او شر ابو د تحفظ او د ترقي اداره ده۔

الله تعالي واي:

إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ (يوسف:۴۰)

او الله تعالي واي:

قُلْ إِنَّ الْأَمْرَ كُلَّهُ لِلَّهِ (ال عمران:۱۵۴)

آخري فيصله به امير مجلس کوي او پديکښ د جهوريت د اسلام سره تضاد

په مجلس شوري کښ چه کله په څه خبرو بحث وشي او د بحث نه روستو د اراکينو د طرف نه متضاد او مختلفې راي ګاني راشي نو په آخري فيصله کښ دوه متضاد طريقي دي۔ يوه جمهوري طريقه ده دويمه اسلامي طريقه ده۔

جمهوري طریقه دا ده چه فیصله به خامخا په اکثریت کیږي او دغه فیصله به د ملک سربراه صدریا وزیراعظم ته لیګلي شي او هغه به خامخا په دغه فیصله دستخط کوي او دهغې تائید به کوي اګرچه دغه فیصله دهغه د راي نه خلاف وي. د دینه علاوه امیرمجلس یعني سربراه ته هیڅ اختیارنشته.

او اسلامي طریقه دا ده چه آخري فیصله د امیرمجلس او د سربراه اختیاردے. هغه د اکثریت تابع نه دے بلکه هغه به فیصله په قوت د دلیل او صحت د دلیل کوي.

او کچري د مجلس شوري په یو اجلاس کښ د سربراه په یو طرف پوره اطمنان رانغلي چه داسي فیصله مفیده او حق بجانب ده نو مجلس شوری په هغه خبره په دویم او دریم ځل هم بحث کولي شي. دغه رنګي د شوري داراکینو نه علاوه د متعلقه مسئلے د ماهرینو نه راي اخستلي شي. ترڅو چه ورته مسئله پوره واضحه شوي نه وي فیصله به نه کوي.

د خیرالقرون په زمانه کښ ډیرے شورا ګاني داسي شوي چه په هغې کښ فیصله په اکثریت نه ده شوي بلکه په قوت د دلیل او صحت د دلیل شوي. د دے تفصیل د مولانا نورمحمد صاحب په کتاب (جمهوریت عقل و نقل کے آئنے میں) ص:۳۸۳ کښ شوي .

البته دا خبره مخکښ ذکر شویوه چه په دین اسلام کښ په بعض ځایونو کښ په اکثریت فیصله کولي شي، لکه د خلیفه په انتخاب کښ یا چه کله په یوه مسئله کښ د قرآن او سنت کوم نص نه وي او په دغه مسئله کښ د دواړو طرفونو دلائل یو شان وزن لري نو په دغه صورت کښ امیریا قائد ایوان په اکثریت د راي ګانو فیصله کولي شي. لکن دا فیصله به په دے وجه نه وي چه اکثریت بذات خود یو دلیل شرعي دے او په اکثریت فیصله ضروري ده بلکه د دے حیثیت د قرعه اندازي وي، دا صرف د تطییب القلوب دپاره وي.

د بالغ رائے دهي په بنیاد په انتخاباتو کښ د جمهوریت او اسلام یو بل سره تضاد

په جمهوریت کښ د ووټ ورکولو بنیاد په بلوغ دے چه هر بالغ راي او ووټ ورکولي شي، که هغه مسلمان وي او که کافر، عالم وي او که جاهل، نیک عمله وي که بد عمله وي، نارینه وي او که زنانه وي، او که په هغه کښ امانت، عدالت، صداقت وي او که نه وي، هیڅ تول نشته، په دوي کښ د هریو فیصله او راي یو شان ده، ځکه هر یو بالغ دے.

دغه رنګي د یو جاهل بانډچي او د قاضي القضاة فیصله او ووټ یو شان دے او د یو شرابي زنا کار، سود خور، جوارګر او د ملک د مفتي اعظم یو شان قدرو قیمت لري او د یو اجرتي قاتل او جرائم پیشه او د یو مذهبي روحاني امام اعظم فیصله یو شان وزن لري، ځکه هر یو بالغ دے.

او په اسلام کښ د ووټ او راي ورکولو بنیاد صرف په بلوغ نه دے بلکه د راي د اهلیت په صفاتو دے چه په ده کښ د راي او ووټ ورکولو د اهلیت صفات شته او په ده کښ نشته یعني تول او چانړ به کیږي.

مثلا د خلیفه انتخاب به د اهل الحل والعقد په ووټ او راي سره کولي شي او د اهل الحل والعقد دپاره ډیر صفات ضروري دي، یواځي بلوغ کافي نه دے، لکه اهل الحل والعقد دپاره دا صفات ضروري دي چه په هغوي کښ به علم وي، عدالت به وي، داسي صحیح راي به وي چه د صحیح کس انتخاب کولي شي.

دا دري شرطونه امام ماوردي رحمه الله او ابویعلي حنبلي رحمه الله ذکر کړي. د دینه علاوه بعض علماء نور شرطونه هم ذکر کړي، لکه په نهایة المحتاج الي شرح المنهاج ص:۳۷۰ ج:۷ کښ واي:

قد تناقل كثير ممن جاء بعد الماوردي وابي يعلي رحمهما الله هذه الشروط: الاسلام والحرية والتكليف والعدالة والمروءة

د امام ماوردي او ابو يعلي رحمهما الله نه روستو ډيرو علماء دا لاندي شرطونه ذكر كړي:

۱ـ مسلمان به وي

۲ـ آزاد به وي

۳ـ مكلف يعني عاقل بالغ به وي

۴ـ عادل به وي

۵ـ د مروءت خاوند به وي.

امام بخاري رحمه الله واي:

كانت الائمة بعد النبي صلي الله عليه وسلم يستشيرون الامناء من اهل العلم في الامور المباحة ليا خذوا باسلهلها فاذا وضح الكتاب او السنة لم يتصدوه الي غيره اقتداء ابالنبي صلي الله عليه وسلم (بخاري كتاب الاعتصام ص:۹۵ ج:۲) باب قول الله تعالي وامرهم شوري بينهم

د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه روستو امامانو به دهغه علماء سره مشوره كوله چه دهغوي په امانت، ديانت به اعتماد وو او دا مشوره به په هغه مباح كارونو كښ وه (په كومو كښ چه نص نه وو راغلي)، د دے دپاره چه په آسانه او ګټوره لار عمل وكړي خو چه كله به دويته د قرآن او سنت نه حكم واضح شو نو دوي به د دينه تجاوز نه كولو او دا كار د دوي د نبي صلي الله عليه وسلم د تابعداري په بنياد وو.

فائده:

د دينه معلومه شوه چه د شوري ركن به عالم وي او د علم سره به اعتمادي او امانت داروي او دا ترينه هم معلومه شوه چه د په يوه خبره كښ د قرآن او سنت نص معلوم شي نو دهغے خلاف به نه كيږي او نه پكښ مشوري ته ضرورت شته.

د دينه داهم معلومه شوه چه د هر چا نه به مشوره نه اخستلي كيږي، يوازي بلوغ كافي نه دے، لكه څرنګي چه جمهوري طريقه ده.

امام شيزري رحمه الله المتوفي ۵۸۹ هـ په المنهج المسلوك في سياسة الملوك ص:۴۸۴ نه ۴۸۷ الباب التاسع في بيان اوصاف اهل الشوري وحكايات لائقة كښ واي:

ينبغي ان يجتمع في اهل الشوري سبعة شروط الخ

حاصل ئے دا دے چه د شوري (او پارلمان) اركان له پكار دے چه په دوي كښ اوه صفات وي:

۱ـ پوهه او زيركتيا

۲ـ امانت

۳ـ رشتيني لهجه يعني چه په خبرو كښ رشتيني وي.

۴- د شوري د اراكينو په مينځ کښ به بغض او حسد نه وي.

۵- د نورو خلقو سره بۀ دشمني نه وي.

۶- نفسي خواهشات به پکښ نه وي.

۷- مشران به وي

فائده:

د دينه هم معلومه شوه چه يوائې بلوغ كافي نه دے- نو په جمهوريت کښ تول نشته، هر سړي ووټ وركولي شي او په اسلام کښ به تللي كيږي چه دا ووټ او مشوري وركولو اهل دے او كه نه- بل دا چه كه صرف بلوغ بنياد وګرځي نو د ډيرو هغه نصوصو خلاف راځي چه په هغه کښ د نر او ښځي د عالم او جاهل، د مسلمان او كافر او د متقي او فاجر فرق ذكر شوي- ځكه كه صرف بلوغ بنياد اوګرځي نو د دے ټولو ووټ يو شان وزن لري-

سربراهي، وزارت، ممبري حقوق دي او كه ذمواري ده او پديكښ د جمهوريت او اسلام تضاد

په جمهوريت کښ سربراهي، حكمراني وزارت ممبري حقوق دي او هر دولتي منصب غوښتل د هر چا قانوني حق دے- او د دے د حاصلولو دپاره به هر ممكن كوشش كوي او دا مفاد ګڼړلي كيږي او كه يو سړي ته حكمراني ميلاؤ شي نو دا خوش قسمته دے او كه څه منصب ورته ميلاؤ نشي نو دا محرومه او بدقسمته دے- هر ملكي باشنده د دے طلب كولي شي يعني هر كس و ناكس نارينه زنانه هيجړا جاهل، فاسق، فاجر د دے طلب كولي شي-

او په اسلام کښ دا مسئوليت او زمواري ده او يو امانت، فريضه او بوج دے، حقوق نه دي او نه به د دے د حاصلولو دپاره كوشش كيږي او نه به مفاد ګڼړلي كيږي او نه منصب حاصلول خوش قسمتي ده- ځكه رسول الله صلي الله عليه وسلم واي:

الامام راع ومسئول عن رعيته (بخاري كتاب الجمعه)

د حكومت سربراه نګران دے او د چا نګراني چه د ته سپارلي شويوي نو دهغوي په باره کښ به د ده نه تپوس كيږي-

پدي حديث کښ مشر ته او د حكومت سربراه ته مسئول او ذموار ويلي- نو معلومه شوه چه دا بوج او زمواري ده- او د دينه حتي الامكان ځان ساتل بهتر دي، البته كه د ضرورت او مجبوري په صورت کښ چا ته مشري او حكمراني حواله شي نو دا به يو امانت او زمواري ګڼړي، لكه نبي صلي الله عليه وسلم ابو ذر رضي الله عنه ته ويلي وو انها امانة (رواه مسلم باب كراهية الامامة بغير ضرورة) دا حكمران يو امانت دے-

دغه رنګي نبي صلي الله عليه وسلم ابو ذر رضي الله عنه ته ويلي وو لا تامرن علي اثنين (ابو داؤد و جامع الاصول) د دوه كسانو مشري هم مكوه-

او ابو هريره رضي الله ته رسول الله صلي الله عليه وسلم ويلي وو انكم ستحرصون علي الامارة وستكون ندامة يوم القيامة فنعمت المرضعة وبئست الفاطمة (بخاري ونسائي باب مايكره من الحص علي الامارة)

يقينا تاسو به حرص كوي په امارت پسي حالانكې دا د قيامت په ورځ د پښيمانتيا سبب جوړيږي، ځكه شوده وركونكي ډيره ښه ده او شوده كټ كونكي ډيره بده ده-

يعني امارت او حکومت په اول کښ په سړي ښه لګي، لکن چه کله د دے حساب کتاب کیږي نو په هغه وخت کښ به پته لږي چه دا څومره مشکل کاردے۔

د دے وچ نه رسول الله صلي الله علیه وسلم د مقدام بن معدي کرب رضي الله عنه په اوګو لاس کیښود اوویل:

افلحت یا قدیم ان مت ولم تکن امیرا ولا کاتبا ولا عریفا (مسند احمد وابو داؤد وجامع الاصول)

اي قدیم ته به کامیاب ئے کچري تاله په داسي حالت کښ مرګ راشي چه ته نه امیر ئے نه (د حکومت) کاتب او نه د یو قوم نمائنده ئے۔

فائده:

معلومه شوه چه حکمراني څه د ګلونو هار نه دے بلکه دا د ازغو بستره ده او دا د اوسپني بش او د اوسپني نیني دي۔

د دے وجه نه خلفاء راشدین د دے زمداري نه ډیر لړزیدل، لکه عمر رضي الله عنه چه کله د شهادت نه مخکښ خلقو د ده صفتونه وکړل نو هغه اویل:

وددت ان ذالك کفاف لا علي ولا لي (بخاري باب قصة البیعة و الاتفاق علي عثمان)

زما دا خوښه ده چه څه (د دے حکومت او مشري د زمواري نه) سر بر خلاص شم چه نه په ما څه ګناه وي او نه ما ته څه ثواب میلاؤ شي۔

د امیر او سربراه دپاره وخت او مده مقررکول او پدیکښ د جمهوریت او اسلام تضاد

په جمهوریت کښ منصب یعني امیر او سربراه یا ممبر د محدود وخت دپاره وي، څلور پینځه کاله روستو نوي انتخابات کیږي او په اسلام کښ سربراه یا بل څه منصب د محدود وخت دپاره نه وي بلکه د ژونده پوري وي چه کله په دغه منصب دارشخص کښ د اهلیت شرطونه او د کارکولو استعداد وي۔ او کچري په صدر یا وزیر اعظم یا بل منصب دار کښ دغه شرطونه او صلاحیتونه نه وي نو هغه په ډیره لږه مده کښ معزوله کیدے شي خو خاص وخت ورله نه دے مقرر اوکه په اسلامي معیار برابروو نو د ډیري زماني پورے په دغه عهده او مسئولیت پاتي کیدے شي۔

مثلا د خلفاء راشدین په دورکښ هر خلیفه د وفات او شهادت پوري په خپله مشري پاتي وو او یو صحابي ہے دا اعتراض نه دے کړي چه تاسو د مدے او وخت تعین ولي نه کوي نو دا د صحابه کرامو اجماعي او اتفاقي فیصله ده چه یو مشر د ژوند پوري په خپله مشري پاتي کیدے شي۔

البته که د حکومت سربراه په دے امانت کښ خیانت وکړي خواهش پرستي او فسق و فجور شروع کړي غیر اسلامي حکمراني کوي نو هغه په لړو ورځو کښ د معزوله کیدو مستحق ګرځي۔ او مسلمانانو له پکاردي چه معزوله ئے کړي خو په دوه شرطونو، یو دا چه د ده د معزوله کیدو نه غټه فتنه نه پیدا کیږي، دویم دا چه د ده په ځاي د ده نه بل ناکاره په مسئولیت نه راځي۔

ځکه الله تعالي واي لاینال عهدی الظالمین نو فاسق فاجر سربراهي نه شي کولي او د دے تفصیل جصاص رحمه الله په احکام القرآن ص:۲۹ نه ۷۱ کښ کړي۔

او په جمهوریت کښې سربراهي، وزارت، ممبري په حقوقو کښې شماریږي. بعض خلق دا حق حاصل کړي او بعض انتظار کوي چه دا غنیمت به مونږ ته کله میلاویږي، د دے وجې نه د حزب اقتدار او حزب انتظار په مینځ کښې لانجه روانه وي. د دے حرص او د خواهش د لګام دپاره جمهوریانو څلور پینځه کاله مده مقررکړیوي او په دے مده کښې چه اهل اقتدار هرڅومره خود سري او کجروي کوي نو دهغوي د وخت نه مخکښې معزوله کول د جمهوري اصولو نه خلاف دي، بلکه د جمهوري اصولو اطاعت او پیروي فرض ده. نو یو فرق دا شو چه په جمهوریت کښې د منصب دپاره مده مقرر ده او په اسلام کښې نه ده. دویم دا چه د فسق وفجور په وجه په جمهوریت کښې د وخت نه مخکښې معزولي نشته او په اسلام کښې شته.

د حزب اختلاف په باره کښې د جمهوریت او اسلام تضاد

په جمهوري نظام کښې د حزب اقتدار او حکومت په مقابله کښې د حزب اختلاف وجود شرط دے. او په اسلام کښې د شرعي او عادلانه سیاست او حکومت په مقابله کښې د حزب اختلاف او اپوزیشن کردار اداء کول د مسلمان دپاره حرام او ناجائز دي او چه کله ظالمانه او غیر شرعي سیاست او حکومت وي نو دهغه په مقابله کښې د حزب اختلاف او اپوزیشن کردار اداء کول په ټولو مسلمانانو فرض او لازم دي. ځکه دین اسلام مسلمانانو ته د خپل حکمرانانو او امیرانو د سمع او طاعت دعوت ورکوي او د تفرق او اختلاف او د امیر د نافرماني نه ئے منع کوي.

او دا دعوت او سبق هم ورکوي چه د ګناه په کارونو کښې د هغوي سمع او طاعت نشته او د دے دواړو خبرو په باره کښې ډیر نصوص موجود دي، لکه:

أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ

او

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ

وغیرذالک

او رسول الله صلي الله علیه وسلم واي:

السمع والطاعة علي المرء المسلم فیما احب وکره مالم یؤمر بمعصیة واذا امر بمعصیة فلاسمع ولا طاعة (متفق علیه)

په هر مسلمان (د خپل امیرانو) خبره اوریدل او منل لازم دي دهغه وخته پوري چه د ګناه امرورته نه کیږي او که د ګناه امر ورته کیږي نو بیا د امیر د خبري اوریدل او منل نشته.

او د دے سره پدي هم ځان پوهه کول پکاردي چه حکومتونه دوه قسمه دي، یو شرعي او عادلانه او دویم غیرشرعي او ظالمانه.

او منافقانه سیاست هم غیرشرعي او ظالمانه دے.

او زمونږ د علم مطابق مروجه سياست او حکومتونه ټول غير شرعي او ظالمانه دي، ځکه ټول کفري سياست او کم از کم منافقانه سياست کوي، نو ټول مسلمانانو له پکار دي چه د مروجه حکومتونو په مقابله کښې شرعي او عادلانه حکومتونه قائم کړي۔

او دا صحيح نه ده چه يو غيرشرعي ظالمانه حکومت ختموي او بل دغه رنګي غيرشرعي او ظالمانه حکومت يا د سابقه نه زيات ناکاره قائموي۔

د حکومت د سربراه په مقررکولو کښې د جمهوريت د اسلام سره تضاد

د ملک د سربراه په مقررکولو کښې هم د اسلامي طريقي او جمهوري طريقي د يو بل سره په ډيرطريقو تضاد دے۔ اول دا چه په اسلامي طريقه کښې به د سربراهي د اهليت صفاتو او شرطونه کتلي شي چه پدے سربراه کښې د اهليت صفات او شرطونه شته او که نه۔

او شرطونه او صفات ورله ځکه ضروري دي چه د ملک او حکومت مشري ډير غټ کار دے۔ خطره ئې ډيره زياته ده۔ او چه کله يو کار غټ وي نو شرطونه ئې زيات وي او دغه شرطونه چاډيرذکرکړي او چا کم، مثلا دا چه د ملک سربراه به:

۱۔ مسلمان وي ۲۔ نارينه وي ۳۔ عالم ۴۔ عادل ۵۔ عاقل ۶۔ بالغ ۷۔ بهادر ۸۔ مدبر ۹۔ آزاد به وي ۱۰۔ روغوالي د حواسو او اندامونو به وي وغيره وغيره

او په جمهوريت کښې د دے شرطونو او صفات هيڅ لحاظ نشته۔

دويم فرق دا دے چه په اسلامي طريقه کښې د سربراه انتخاب هغه اهل الحل والعقد کوي چه هغه په خاص صفاتو سره موصوف وي۔

او په جمهوري طريقه کښې د اهل الحل والعقد دپاره دغه صفات شرط نه دي۔ مخکښې تفصيل ذکرشوېو۔

د سربراه په کارونو او مسئوليتونو کښې د جمهوريت د اسلام سره تضاد

په اسلام کښې حکمر اني ټوله نيابتي وي، يعني حکمران د الله تعالي نائب وي، د الله تعالي په مخلوق کښې به د الله تعالي فيصلے کوي او نافذ کوي بۀ۔

مثلا شرعي نظام به قائموي، تطبيق د احکامو به کوي، د خلقو په مينځ کښې به عدل او انصاف کوي، حقدارو ته به د هغوي حقونه رسوي، کمزوري به د ظلم او دهوکي نه خلاصوي۔

ټول خلق به يو شان په امن او سکون کښې وخت تيروي، حدود به قائموي، د اسلام د خورولو او د اعلاء کلمة الله د پاره به د مجاهدينو تشکيلونه کوي، زکاتونه به راټولوي او هغه به په خپل ځايونو کښې خرچ کوي، د سرحدونو حفاظت به کوي، امر بالمعروف او نهي عن المنکر به کوي او اقامت د حجونو او جمعو او اخترو به کوي، په شرعي طريقه به د رعيت صحيح نګر اني کوي۔

او په جمهوريت کښې حکمر اني د الله تعالي نيابت نه دے او د دغه مذکوره خبرو هيڅ لحاظ پکښې نشته۔ په تشريع کښې رئيس جمهوريت اولس مشرد الله اورب او معبود مرتبه لري۔

ځکه اولس مشر او پارلمان ورله شریعت او قانون جوړئ او په دغه قانون دویته تربیه او روزنه ورکوي او سزا او جزا د دغه قانون مطابق ورکوي او د دغه قانون په منلو یا د دغه قانون مطابق په ژوند تیرولو ئے مکلف کوي۔

او اولس مشر د الله تعالي سره شریک وي په ربوبیت او حاکمیت کښ۔ ځکه ربوبیت او حاکمیت دوه قسمه دے، تکویني او تشریعي۔ نو دا د الله تعالي سره شریک دي په تشریع کښ، څرنګې چه الله تعالي واي دا حلال دي او دا حرام، دا کوه دا مه کوه، دا خوره دا مه خوره، دا اغونده دا مه اغونده، نو د دے په مقابله اولس مشر تحریم تحلیل کوي چه دا روا دي او دا ناروا، دا کوه دا مکوه، دا خوره دا مه خوره، دا اغونده دا مه اغونده۔ مثلا الله تعالي واي شراب، سود، جواري، زناء حرام دي ، دوي واي حلال دي حرام نه دي، د مهاجر او مجاهد سره همکاري الله تعالي فرض کړي، دوي ہے پابندي لګوي او د دوي په قانون کښ دا کارحرام دي۔

اسلحه ساتل او ګرځول الله تعالي فرض کړي، د دوي په قانون کښ حرام دي، الله تعالي غیرشرعي لباس حرام کړي، دوي حلال کړي بلکه په بعض ملکونوکښ په شرعي لباس سخته پابندي وي۔

دغه رنګې نورکارونه پدے قیاس کړه۔

نو په اسلام کښ د سربراه کارونه مسئولیت او ذمواري معلومه ده چه هغه د الله تعالي نیابت دے په احکاموکښ، د الله تعالي حکمونه به نافذ کوي او د ځان نه به حکمونه نه جوړئ۔ او په جمهوریت کښ د سربراه د دغه زمواري هیڅ لحاظ نشته، سربراه د الله تعالي نائب نه دے او د الله تعالي حکمونه نه نافذ کوي، بلکه د الله تعالي د حکمونو په مقابله کښ نورحکمونه جوړئ۔ نو شرعي حکمراني او جمهوري حکمراني بیلا بیل دي۔ د دواړو په مینځ کښ ډیرفرق دے او د یو بل سره ئے تضاد دے۔

د اقلیتونو د رکنیت شوري (پارلمان) په باره کښ د جمهوریت د اسلام سره تضاد

اقلیت د اکثریت په مقابل کښ د کم تعداد والا ګروپ ته واي۔ مذهبي اقلیت یوه اصطلاح ده چه په یو ملک یا صوبه علاقه وغیره کښ د مذهب پیروکاروي په هغوي کښ د کم تعداد والا ته مذهبي اقلیت واي، لکه په پاکستان کښ د نوي فیصد نه زیاته ابادي د مسلمانانو ده نو د دوي په مقابل کښ مسیحیت اقلیتي مذهب دے۔ او په آسټریا کښ اسلام د مسیحیت په مقابل کښ کم دے نو هلته اسلام اقلیتي مذهب دے۔

په جمهوریت کښ اقلیتونه د پارلمان رکنیت کولي شي او دا خبره ئے د پاکستان د ۱۹۷۳ء په آئین کښ هم لیکلي، او واي چه دویته به هرقسم تحفظ وي۔

او په اسلام کښ اقلیتونه د پارلمان رکنیت نه شي کولي، ځکه په اسلام کښ د پارلمان (مجلس شوري اهل الحل والعقد) دارکانو دپاره ډیر شرطونه دي، یو بنیادي شرط پکښ اسلام دے، لکه دا خبره مخکښ تفصیلا ذکر شویوه او کوم چه غیر اسلامي اقلیتونه دي، لکه په پاکستان کښ هندوان، سکان، عیسایان په دوي کښ اسلام نشته نو دوي د پارلمان ارکان نشي جوړیدے او د پارلمان رکنیت نشي کولي۔

او امام الحرمین رحمه الله په غیاث الامم ص:۶۲ کښ واي چه اهل ذمه (یعني اقلیتونه) د پارلمان رکنیت نشي کولي، واي چه پدي دټول امت اجماع ده او پدي خبره کښ هیڅ پټوالي نشته او دا د علم انتهاء ده۔

د امام الحرمين رحمه الله عبارتونه اوګورئ، هغه چه کله د اهل الاختيار يا په بل تعبير د اهل الحل والعقد او په بل تعبير د پارلیمنټ د ارکانو صفات ذکر کوي نو هغه واي:

فلتقع البداية لمجال الاجماع في صفة اهل الاختيار

يعني مونږ اول د اهل الاختيار هغه صفات ذکر کوو چه په هغه د ټول امت اتفاق دے، بيا واي:

ولا مدخل لاهل الذمة في نصب الائمة

يعني زميانو لره د حکمرانانو به مقررکولو کښ هيڅ دخل او اختيار نشته، بيا واي:

فخروج هؤلاء عن منصب الحل والعقد ليس به خفاء

يعني د ذميانو وتل د اهل الحل والعقد نه (د پارلمان د رکنيت نه) پديکښ هيڅ خفاء نشته، بيا واي:

فهذا مبلغ العلم علي هذا الفصل

يعني پدي مسئله کښ دا د ټول علم انتهاء ده۔

حالانکې په براي نام اسلامي ملکونو کښ موجوده اقليتونه د ذميانو نه هم ډيرناکاره دي، ځکه په اسلام کښ چه د ذميانو دپاره کوم اصول او شرطونه دي هغه په دوي کښ نشته۔

دغه رنګې په نهاية المحتاج الي شرح المنهاج ص:۳۷۱ ج:۷ چه د اهل الحل والعقد (په بل تعبير د مجلس شوري او په بل تعبير د پارليمنټ د رکنيت) دپاره اسلام شرط دے او په موجوده اقليتونو کښ اسلام نشته۔

په انساني مساوات کښ د جمهوريت د اسلام سره تضاد

په جمهوريت کښ د انساني حقوقو په باره کښ واي چه د ټولو انسانانو په مينځ کښ به مساوات وي۔ د مساوات مطلب دا دے چه ټول انسانان برابر دي۔ نارينه، زنانه، عالم، جاهل، نيک عمله، بد عمله، متقي او ډاکو۔ د يو په بل څه فوقيت (اوچتوالي) نشته۔ هر انسان د ممبرجوړيدو اهل دے۔ هر انسان د ترقي په کارکښ شرکت کولي شي، د هر انسان ووټ مراعات برابر دي، دټولو حقوق زمدارياني د انساني حقوقو د عالمي چارټرمطابق ټول انسانان د قانون په نظرکښ برابر دي۔

په اسلام کښ د داسي مساوات هيڅ تصورنشته، ځکه اسلام په نارينه، زنانه کښ فرق کوي، په عالم او جاهل کښ فرق کوي، هرسړي په هره خبره کښ د راي ورکولو اهل نه دے۔

اسلام واضحه فرقونه کړي، لکه:

وَلِكُلٍّ دَرَجَاتٌ مِمَّا عَمِلُوا، وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ، لَا يَسْتَوِي مِنْكُمْ مَنْ أَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ، لَا يَسْتَوِي أَصْحَابُ النَّارِ وَأَصْحَابُ الْجَنَّةِ، هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ

نو جمهوري مساوات د اسلام سره په مکمل طورمتصادم (ټکراؤ) دے۔

په اسلام کښ مساوات او عدل اعطاء كل ذي حق حقه ته واي، يعني هرحقدارته د هغه حق ورکول۔

دپارلمان حقيقت

پارلمان د خلقو د منتخب نمائندګانو هغه اداره ده چه هغه د خلقو دپاره قوانين جوړئ او د شريعت سازي يعني د تحليل او تحريم مطلق العنان (بے واکو) حق او اختيار لري او په پارلمان کښ قانون ديته واي چه د پارلمان د دواړه ايوانونو نه منظور شي او صدر مملکت ئے منظور کړي۔

پارلمان طاغوتي غیرشرعي اداره ده او د پارلمان منکرات او خلاف شرع کارونه

۱۔ په جمهوريت کښ تشريع يعني حلالول او حرامول دپارلمان د طرف نه وي ځکه د پارلمان ارکانو ته د قوانينو د جوړولو کلي حق ورکول شي۔ پدے وجه ديته قانون ساز هم ويلي شي۔ او په اسلام او په شريعت کښ دا حق صرف او صرف د الله تعالي دے، لکه الله تعالي واي:

أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُمْ مِنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ (الشوري:۲۱)

آيا د دوي دپاره داسي شريکان شته چه هغوي د دوي دپاره هغه دين جوړئ چه دهغے الله تعالي اجازت نه دے ورکړي۔

۲۔ د پارلمان د قوانينو احترام او تقدس د قرآن او سنت نه زيات وي، ځکه که په يوه خبره د قرآن او سنت نه ډيرزيات دلائل ذکر کړي لکن چه د آئين مطابق نه وي نو پارليمان هغه رد کوي او نه ئے قبلوي يعني پارليمان ته د قرآن او سنت د فيصلو د رد کولو اختيارشته۔ حالانکے د الله تعالي فيصله هيڅوک نشي رد کولي۔ وَاللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ (الرعد:۴۱)

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ (الاحزاب:۳۶)

۳۔ په پارليمان کښ فيصله په اکثريت کيږي او په اسلام کښ فيصله په قوت د دليل کيږي اګرچه ددليل خاوند يو کس وي۔

۴۔ د جمهوري پارلمان رکنيت هرڅوک کولي شي، که هغه مسلمان وي او که يهودي عيسائي هندو کميونسټ او ملحد وي او په اسلام کښ د مجلس شوري او اسمبلي رکنيت هغه څوک کولي شي چه هغه صحيح سمجدار مسلمان وي۔ په قرآن کښ چه کله د شوري ذکر کيږي نو هلته شوري دهغه مؤمنانو په صفت کښ ذکر کوي چه هغوي نهه صفات لري، لکه سوره شوري:۳۶ نه تر ۳۹ پوري وَمَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَى لِلَّذِينَ آمَنُوا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ (36) وَالَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ وَإِذَا مَا غَضِبُوا هُمْ يَغْفِرُونَ (37) وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ (38) وَالَّذِينَ إِذَا أَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ يَنْتَصِرُونَ (39)۔

۵۔پارلمان ته د تشريع او قانون سازي او ووټنګ او مشوري ورکولو حق حاصل وي په منصوصي او غير منصوصي ټولو امورو کښ۔ او په اسلام کښ مشوره صرف په هغه امورو کښ کيږي چه په هغے نص موجود نه وي او چه په کومو خبرو کښ نص موجود وي نو په هغے د مشوري کولو هيڅ ضرورت نه وي۔

۶۔ په جمهوري پارليمان کښ اکثريت د اله مرتبه لري د اکثريت د مرضي مطابق به قوانين جوړيږي او په قوانينو جوړولو کښ د وحي (قرآن او سنت) د مداخلت هيڅ حق نه وي او په اسلام کښ د شوري او اسمبلي ممبر د آسماني وحي پابند وي او د خپل امير په اطاعت مکلف وي او امام او امير په هره مسئله کښ د اکثريت تابع نه وي بلکه اکثريت د امير په اطاعت مکلف دے۔

۷۔ د جمهوري پارلیمان رکنیت یو جاهله او بے علمه سړي کولي شي او په اسلام کښ د پارلیمان رکنیت جاهله او بے علمه سړي نشي کولي بلکه د مجلس شوري رکن به عالم وي، لکه د دے تفصیل مخکښ ذکر شویو۔

۸۔ د مروجه پارلیمان رکنیت زنانه هم کولي شي او په اسلام کښ د پارلیمان رکنیت زنانه نشي کولي بلکه د پارلیمان رکن به نارینه وي او امام الحرمین رحمه الله واي چه پدے د ټول امت اجماع ده او د دے تفصیل هم مخکښ ذکر شویو۔

مروجه پارلمان مقررکول کفر دے

ځکه مروجه پارلمان ته د تشریع حق ورکړي شوي او د الله تعالي نه ماسوا بل چا له د تشریع حق ورکول یا منل کفر دے او مروجه پارلمان ته د تشریع حق ځکه ورکړي شوي چه د پارلمان تعریف په آکسفورډ په قاموس کښ داسي شوي چه پارلمان په جمهوریت کښ د خلقو د منتخبو استاذو هغه اداره ده چه د خلقو دپاره د قوانینو جوړولو د تحلیل تحریم مطلق حق لري او بل چا له د تشریع حق ورکول یا منل کفر دے، ځکه دا شرک في الربوبیة دے او بیا دغه قوانین په مینه محبت سره منل او دهغے اطاعت او احترام کول شرک في الالوهیة دے، ځکه دا د غیرالله عبادت دے۔

او واضحه دلیل پے دا آیت دے چه اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ (التوبة:۳۱) او نور بحث پے مخکښ تیر شویو چه جمهوري پارلمان د کتاب الله د رد کولو مرکز دے، د انسانانو د حکمیت اعلي او اقتدار اعلي مظهر دے، د کفري او شرکي اقتدار منبع ده، د فحاشي عریاني، زناکاري، شراب خوري، اباحیت د تحفظ او ترقي اداره ده۔

فائده: جمهوریت یا ووټ شوري نه ده

بعض خلق جمهوریت یا ووټ ته د شوري نوم ورکوي او واي چه دا مشوره ده یا جمهوریت او ووټ د شوري یو جدید شکل دے او په اسلام کښ خو شوري شته او اسلام یو شورائي نظام دے او یا جمهوري پارلمان د اسمبلي داسي دي لکه په اسلام کښ چه مجلس شوري وي۔

نو د مخکښ بحث نه معلومه شوه چه په مابین د مروجه پارلمان یا جمهوریت او ووټ کښ او په مابین د اسلامي شوري کښ ډیر زیات فرقونه دي نو د مروجه پارلمان یا جمهوریت او ووټ قیاس په شوري یا مجلس شوري صحیح نه دے۔

خلاصه د سابقه بحثونو

د جمهوریت متعلق چه کوم بحثونه وشو نو دهغے خلاصه او نتیجه دا ده چه جمهوریت یو غیر اسلامي کفري شیطاني دین دے چه د انساني ژوندګي ټول طرفونه ئے راګیر کړي۔

او جمهوریت په حقیقت کښ د الله تعالي نه د انسانیت دپاره د هر قسم نظام او قانون جوړولو حق اخستل دي او الله تعالي دقانون سازي په باره کښ بے واکه کول دي (نعوذ بالله)

او جمهوریت په مغرب کښ د مسیحیت نه د انحراف او الحاد په وجه وجود ته راغلي په جمهوریت کښ هر څه د دیني پابندي نه آزاد دي او هر څه د انسانانو په خپله خوښه کیږي۔ په جمهوریت کښ د الله تعالي منل او نه منل دواړه برابر دي ځکه د الله تعالي د منلو په صورت کښ هم د الله تعالي قانون او شریعت منل د جمهوریت د اصولو خلاف کار دے۔

جمهوریت د مغرب د ملحد فلسفے د افکارو او نظریاتو په بنیاد قائم دے او د دے د اسلام سره هیڅ مشابهت او رابطه نشته۔ لکن مغرب زده سیکولر او بے دینه عناصر او دهغوي نه بعض متاثر او غولیدلي مسلمانان دا کوشش کوي چه عامو مسلمانانو

ته په دروغو او دوکه د اسلام او جمهوريت په مينځ کښې روابط او مشابهتونه ولټي. د دے دپاره چه عام مسلمانان د جمهوريت په خلاف د مبارزي او جهاد نه راوګرځي.

جمهوريت په اسلامي دنيا د مغربي استعمار او تسلط د هميشه ساتلو يوه خطرناکه منصوبه ده. هغه تسلط او قبضه چه مغرب ئے د زور، زر، زندان او مرګونو په مټ او طاقت په اسلامي دنيا دخپل غلام حکومتونو په ذريعه هميشه ساتل غواړي.

او ددے د خورولو او نافذ کولو دپاره په زرګونو مليون ډالر په فوجونو او فوجي وسائلو خرچ کوي او د دے مصارفو په ذريعه د جمهوريت په خلاف د مزاحمت او جهاد د ختمولو دپاره په اسلامي ملکونو کښې د لکونو مسلمانانو قتل عام کوي او اسلامي جماعتونه او پارټي صرف پدے وجه ختموي او ترقي ته ئے نه پريږدي چه چري دوي مظلوم او متاثره مسلمانان د جمهوريت دناکاره حقيقت او بنيادونو نه خبر نه کړي.

اوس چه کله افغانستان د مغرب په قبضه کښې راغلي نو دلته ئے هلاکت خيز او تباهي کونکي جنګ ځکه مسلط کړو چه پديکښې جمهوريت نافذ کړي، نو دا صليبي جنګ نه بلکه په حقيقت کښې جمهوري جنګ دے. ټولو مسلمانانو له پکاردے چه د خپل دشمن د فکري، اعتقادي او اخلاقي حقيقت نه ځان خبر کړي او د دشمن بنياد د هرے زاويے نه معلوم کړي.

د انتخاباتو مفاسد او ناروا کارونه

د انتخاباتو مطلب دا دے چه يو کس يا ډير کسان د يو مجلس د مشري يا رکنيت دپاره غوره کول.

د انتخاباتو مروجه طريقه د شريعت نه خلاف ده او پديکښې ډير مفاسد منکرات او ناروا کارونه دي، مثلا:

۱ ـ په مروجه طريقه انتخابات کول طاعت د کافرانو دے او طاعت د کافرانو حرام دے، ځکه الله تعالي واي:

وَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَالْمُنَافِقِينَ (الاحزاب:۱)

او دا طاعت د کافرانو ځکه دے چه دا انتخابات د جمهوري نظام حصه ده او جمهوري نظام کافرانو د اسلام دشمنانو جوړ کړي چه مسلمانان د الله تعالي د نازل کړي شوي نظام نه واړئ د مخلوق جوړ کړي شوي نظام ته.

۲ ـ په مروجه انتخاباتو کښې عقيده د ولاء او براء په بل تعبير حب في الله او بغض في الله ختميږي، ځکه د دوستي او محبت او د دشمني او بغض بنياد په پارټي او په ووټ ورکولو او په ووټ نه ورکولو وګرځي. د الله تعالي دپاره دوستي او محبت او دشمني او بغض ختم شي، د چا اسلام او کفر ته نه ګوري، د چا تقوي او فسق ته نه ګوري، د چا د بے ديني او بيلمازي هيڅ تپوس نه وي. حالانکے عقيده دولاء او براء په بل تعبير عقيده دحب في الله او بغض في الله د ايمان اهم جزدے او په حديث کښې ديته اوثق عري الايمان ويلي شوي يعني د ايمان د ټولونه مضبوطه کړي، د الله تعالي د پاره مينه کول او د الله تعالي دپاره بغض کول دي.

او د دے په باره کښې ډيرګڼر آياتونه او حديثونه دي. مثلا:

أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ (المائدة:۵۴)

أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ (الفتح:۲۹)

وغيره

۳- په انتخاباتو کښې بې ځایه وختونه او مالونه ضائع کیږي، حالانکې وخت او مال لوي غنیمت او نعمت دے او د وخت د یویو سیکنډ او د مال د یوے یوے روپۍ حساب کتاب به کیږي- مال او وخت بې ځایه ضائعه کیږي، د الله تعالی د راضي کولو په ځاي الله تعالی ناراضه کړي، لکه خلق واي هندو ستړي او خداي ناراضه، او سالک واي:

ترسم بکعبه نه رسي اي اعرابي کین راه که تو میروي بترکستان ست

۴- په انتخاباتو کښې د کم لحاظ وي خو د کیف هیڅ لحاظ نه وي، یعني صرف د افرادو اکثریت او تعداد ته کتلي شي او د دغه افرادو د صفاتو هیڅ لحاظ نه وي-

او په شریعت کښې کیفیت یعني د افرادو صفات ضروري دي، لکه د اهل الحل والعقد خاص صفات دي او دا بحث مخکښې تیر شویو-

۵- په انتخاباتو کښې غیر شرعي مساوات کولي شي، لکه د مسلمان او کافر ووټ برابروي- دغه رنګي د عالم او جاهل ، د نارینه او زنانه د متقي او فاسق د اهل الحل والعقد او د ډم غل ډاکو او دا قسم مساوات دډیرو آیاتونو او حدیثونو نه خلاف دے-

۶- په انتخاباتو کښې زنانه شرکت کوي، ځکه په جمهوریت کښې دا د دوي حق دے او په جمهوریت کښې د نارینه او زنانو په مینځ کښې مساوات دے او د زنانو شرکت ډیره لویه فتنه ده-

۷- په انتخاباتو کښې تصویرونه ډیر زیات وي، په مختلف شکلونو، مختلف تصویرونه وي، په لارو کوڅو کښې په کورونو، دیرو کښې په دکانونو او بازارونو کښې-

په شریعت کښې د دے په باره کښې ډیر سخت سخت وعیدونه راغلي، لکه په بخاري او مسلم شریف کښې په روایت د عائشې رضي الله عنها راځي چه رسول الله صلي الله علیه وسلم واي:

ان اشد الناس عذابا یوم القیامة المصورون

د قیامت په ورځ به د ټولونه سخت عذاب د تصویرونو والا وي- په بل حدیث د بخاري او مسلم شریف کښې په روایت د ابو طلحه رضي الله عنه راځي چه رسول الله صلي الله علیه وسلم واي:

لاتدخل الملائکة بیتا فیه کلب ولا صورة (ملائک هغه کورته نه داخلیږي چه په هغه کښې سپي یا تصویروي-)

د جمهوریت او انتخاباتو فسادات او نقصانونه په بل تعبیر

دا نقصانونه ددے دپاره بیانوو چه خلق د انتخاباتو نه ځان بچ کړي او د خپل ایمان حفاظت وکړي او د همیشه دپاره د جمهوریت او انتخاباتو نه توبه وکړي او نور خلق هم د جمهوریت او انتخاباتو د تباهي او نقصانون نه خبر کړي-

۱- د تصویر په حرمت د علماء اتفاق دے ځکه په حدیث کښې راځي چه د قیامت په ورځ به سخت عذاب د تصویر جوړونکو وي لکن نن حال اوګوري چه څه کیږي غټ غټ تصویرونه جوړولي شي-

۲- د قرآن او حدیث مطابق غیبت لویه ګناه ده لکن د انتخاباتو په ورځو کښې په لاکونو او کروړونو غیبتونه کیږي، په زرګونو جلسو کښې په سټیجونو غیبتونه کیږي او بیا لاسونه پړقولي شي او د غیبتونو تحسین کیږي حالانکې د ګناه تحسین خومره

خطرناکه ګناه ده۔ ملیان صاحبان هم په سټیجونو دیو بل غیبتونه کوي او لاندي ناست خلق د الله اکبر په عرو سره د هغے تحسین کوي۔ دا څومره لوي جاهلیت دے چه د ګناه تحسین د الله اکبر په لفظ سره کولي شي۔

۳۔ د دینه علاوه په یو بل د بهتانونو سیلاب بهیږي او دهغے تحسین کولي شي، د دے وجه نه انتخابات ډیره خطرناکه بیماري ده۔

۴۔ په انتخاباتو کښ د یو کور د بل کور سره د یو محلے د بلے محلے سره د یو جمات د بل جمات سره د یو کلي د بل کلي سره بغض او نفرت پیدا کیږي۔ دیو بل سره دشمني او خفګان ډیریږي، رور د رور سره ناراض وي، وراره د تره نه جاړي، استاذ د شاګرد نه بیزاره وي، پلار د ځوي نه خفه وي، امام د مقتدي نه و بالعکس د جماتونو او مدرسو ماحول خراب وي۔آیا دا ټول حقائق او و اقعیتونه نه دي۔

۵۔ په انتخاباتو کښ بے حسانه مالونه خرچ کولي شي چه دیته تبذیر واي او قرآن واي چه د بذروالا د شیطان رونړه دي۔

۶۔ په انتخاباتو کښ دروغ ډیر زیات خوربیږي، د دروغو په وعدو سره شنه باغونه ښودلي کیږي، دعوامو نه بے وقوفه جوړولي شي او عوام په دے دروغو کښ اخته وي چه د هر یو سره وعدے کوي چه څما ووټ ستا دے حالانکے ووټ یو کس ته ورکولي شي۔

۷۔ په انتخاباتو کښ د علماء عزت پائمالیږي ځکه په جمهوریت کښ دوه رنډي د یو شیخ او مفتي او عالم نه غوره وي۔ دوه فاسقان فاجران د یو عالم او متقي نه غوره وي۔ حالانکے یو دینداره انسان د یو لاکه بلکه د یو کروړ بے دینه خلقو نه غوره دے او کوم عالم چه پدے میدان کښ قدم ګدي نو د ټولونه مخکښ هغه په خپله خپل عزت د خپلو ښپو د لاندي کوي۔ ځکه دغه عالم پدے مو افقه کړیوي چه دا دیو رنډي سره بلکه د یو فاسق سره بر ابر دے بلکه د یو کافر سره بر ابر دے۔

۸۔ په انتخاباتو کښ د الله تعالي د بهترینو نعمتونو بے قدري او ناشکري کیږي، لکه د ایمان، اسلام، علم تقوي وغیره۔ ځکه په جمهوریت کښ دغه مسلمان مؤمن عالم متقي د یو کافر سره او د یو جاهل سره بر ابر ګڼړلي شي او یو شریف د رذیل سره او هوښیار او عاقل د یو بے عقله سره بر ابر ګڼړلي شي۔

۹۔ د خلقو محبت او نفرت د ایمان او تقوي په ځاي د پارټي په وجه وي، لکه هر یو د خپلي پارټي کامیابي غواړي اګر که هغه هندو یا نصر اني یا شیعه وي او د مقابل پارټي ناکامي غواړي اګر که هغه صحیح العقیده مسلمان عالم وي او دا د مشاهدے خبره ده او دا د ایمان مرګ دے او د عصبیت بدترین صورت دے چه د دینه رسول الله صلي الله علیه وسلم بر ائت کړي او دیته ئے جاهلیت ویلي۔

۱۰ جمهوریت شرک في الحکم دے او د توحید في الحاکمیت نه انکار دے او چه څوک توحید في الحاکمیت نه مني نو د هغوي سره الله تعالي د قتال امر کړي لکه قرآن کریم واي:

قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ (التوبة:۲۹)

پدے آیت کښ الله تعالي د قتال دري اسباب بیان کړي یو عدم ایمان په الله تعالي او قیامت دویم عدم تحریم د حرامو دریم عدم عقیده د دین اسلام۔ په جمهوریت کښ د الله تعالي حرامو ته حرام نه ویلي کیږي او په جمهوریت کښ په اسلام عقیده نه وي بلکه په اکثریت وي۔

د جمهوريت او انتخاباتو فسادات او نقصانونه په بل تعبير

د انتخاباتو په ذريعه اقتدار ته د رسيدلو پوړي د عوامو ووټ دے۔ د دے وجے نه د زيات عوامي حمايت حاصلولو دپاره هر چل ول او سازش کولي، فريب، دوکه، منافقت، دروغ ےي لوظي، بد اخلاقي، بهتان، غيبت، غيرت اوضميرفروشي، خيانت، بد دياتي کيږي او دا کارونه په مروجه جمهوريت کښ صرف مباح نه بلکه لازم دي۔

د خپل مقابل ذليله کول

د دينه علاوه خپل حريف او مقابل ذليله کول، په جلسو جلوسونو، اخبارونو، اشتهارونو کښ دهغه پټه گناه ښکاره کولي شي، بلکه بعض هغه گناهونه چه هغه نه وي کړي، هغه هم تشهيرکولي شي۔

د خپل ځان صفتونه کول

هر اميدوار خپل ځان فرشته ښکاره کوي، خپل ځان خپلو عوامو ته د هر دور د دوا په طور پيش کوي، د خپل پشم دار او لوخړي کونکي تقريرونو په ذريعه عوامو ته دا يقين ورکوي که مونږ دا دريکتاد ےي مثله ملغلره کامياب کړو نو زمونږ د ټول دکه درد دو ائي به وشي او که ددے مشفق يگانه غمخوارزمانه نه محروم شو نو مونږ به هر څه د لاس نه ورکړو۔

د دروغو وعدے کول

د اليکشن په دوران کښ د خپل عوامو د ےي وقوفه کولو دپاره او دهغوي د حمايت د حاصلولو دپاره دلفريب نعرے ايجاد کړي، د شنو باغونو دروغجني وعدے کوي او عجيبه خبره دا وي چه يو ليډر په مختلفو جلسو کښ د سامعينو د نوعيت او مزاج مطابق متضاد وعدے کوي۔ رکشه والا ته واي موټرے به درکړو، غريبانو ته واي بنگلي به درکړو، ےي روزگارو ته واي کارخاني به درکړو، تاجر انو ته واي ستاسو تجارت به مضبوط کړو، د کارکسب والا ته واي ستاسو کارونه به مضبوط کړو، اسلام پسندوته واي اسلامي نظام به رائج کړو، جمهوريت پسندوته واي اسلامي جمهوريت به نافذ کړو۔

جانان ما بشيوه مغرب بر ابر است باما شراب خورد به زاهد نمازکرد

ارمان دے چه عوام مسلمانان د ظاهر د ليدو په ځاي د حقيقت د ليددو نه کارواخلي۔

د ووټر انو اخستل خرڅول

چه کله اليکشن نزدي شي نو د ووټونو اخستل خرڅول شروع شي او د دے دپاره ےي شماره ايجنټان او دلالان گرځي۔

د دشمني او نفرت فضا جوړه شي

د انتخاباتو نه روسته د شکست خوره پارټي افراد حسرت او افسوس کوي او د غم نه ډک وي، بل طرف ته کامياب فريق د شکست خورده ډ لے مخي ته د فخر او خوشحالي جشنونه مناوول شروع کړي بلکه د هغے تذليل کوي او انتقامي کاررواي کوي۔

وحدت او اسلامي اخوت پکښ قتل شي

د اليکشن په نتيجه کښ ټول قوم په حزب اقتدار او حزب اختلاف کښ تقسيم شي، چه په هغه کښ هريو فريق د دويم فريق د هرے ښې او بدي خبري مخالفت کوي او د هغے خلاف عوام سړکونو ته راويستل، خپله جمهوري فريضه گڼړي۔

دغه رنګي د جلسو او جلوسونو په ذریعه هر یو فریق د خپل قوت د مظاهري دپاره یوه نه ختمیدونکي سلسله شروع کړي او دهغې په انجام کښې هړتالونه توړپوړ ګډوډي شروع شي۔ کله بازارونه بندیږي، کله کارخاني او کاروبار بندیږي، کله تعلیمي اداري او درسګاهونه بندیږي، بل طرف ته د دوي خلاف لاټهي چارج، اوښکي بیونکي ګیسونه، پکړ دهکړ شروع شي، تردي چه کله پکښې ډزډوز او قتلونه شروع شي۔

د جمهوریت مفاسد او ناروا کارونه

مخکښې هم د جمهوریت مفاسد ، نقصانونه او ناروا کارونه په مختلفو طریقو او عنواناتو سره ذکر شو۔ اوس ئې بعض مفاسد او ناروا کارونه په بله طریقه او عنوان سره ذکر کوو۔

۱۔ د جمهوریت بنیاد کفارو ایښي، اول په یونان کښې، بیا روستو ښه په منظم شکل د اتلسمي صدي په اول کښې په یورپ کښې د آزاد خیال جمهوریت دري بانیان وو، وولټائر، مونټیسکو او روسو۔ او دا دري واړه د فرانس وو۔

۲۔ د جمهوریت بنیادونه بعض خلقو شپږ ذکر کړي او چا زیات ذکر کړي او دغه بنیادونه ټول د ګناه د کفر او د الحاد بنیادونه دي۔

۳۔ د جمهوریت د اسلام او قرآن او سنت سره په ډیرو خبرو کښې تضاد دے۔

۴۔ په جمهوریت کښې اکثریت ته د اله او رب مرتبه ورکولي شي، ځکه اکثریت تحلیل او تحریم کولي شي، حالانکې دا صرف د الله تعالي حق <u>ان الحکم الا لله</u>۔ او اکثریت د الله تعالي حکمونه د دین واضحه او ضروري خبري رد کولي شي، حالانکې د الله تعالي حکمونه هیڅوک نشي رد کولي، **والله یحکم لامعقب لحکمه**۔

۵۔ په جمهوریت کښې اسلام ناقص دین ګڼړلي شوي چه اسلام ناقص او عاجز دے، د خلقو د اصلاح نه او د دے وخت سره دغه نظام نه چلیږي۔

حالانکې اسلام مکمل نظام حیات دے، ځکه الله تعالي واي:

ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗا

او الله تعالي واي چه قرآن کافي شافي دے:

أَوَلَمۡ يَكۡفِهِمۡ أَنَّآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ (العنکبوت)

او الله تعالي واي چه د قرآن نظام ډیر برابر نظام دے:

إِنَّ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ يَهۡدِي لِلَّتِي هِيَ أَقۡوَمُ (الاسراء)

او الله تعالي واي چه په قرآن کریم کښې یوه ضروري خبره هم نه ده پاتي:

مَّا فَرَّطۡنَا فِي ٱلۡكِتَٰبِ مِن شَيۡءٖۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يُحۡشَرُونَ (الانعام:۳۸)

او الله تعالي واي چه د هر شي بیان پکښې دے:

وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ (النحل:۸۹)

او الله تعالي واي چه:

وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ (المائدة:۴۸)

يعني قرآن حاکم دے په هره زمانه کښ په هر مکان کښ په هر قائل او قاعل، په هر فعل او قول، په هر حرکت۔ د دے آياتونه نه معلومه شوه چه اسلام په هر شي انتهائي محيط او جامعه نظام دے۔ مخلوق د اسلام نه علاوه بل نظام ته ضرورت نه لري۔

او په مسلم شريف کښ په حديث د عبد الله بن عمرو رضي الله عنه کښ راځي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم واي:

مابعث الله من نبي الا كان حقا عليه ان يدل امته علي خير مايعلمه لهم وينذرهم شرما يعلمه لهم

يعني هر نبي خپل امت ته د خير هره خبره او د شر هره خبره بيان کړي، نو زمونږ دين هم جامعه دين دے، د خير او شر هره خبره پکښ بيان شوي۔

او اسلام هغه کامل نظام دے چه د دے سره قطعا بد بختي او گمراهي نه راځي لکه الله تعالي واي:

فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَىٰ (طه:۱۲۳)

او په مستدرک د حاکم کښ د ابو هريرة رضي الله عنه په روايت راځي:

تركت فيكم شيئين لن تضلوا بعدهما كتاب الله وسنتي

يعني زمانه روستو چه کله تاسو په قرآن او سنت عمل کوي نو هيچري به نه گمراه کيږي۔

نو اسلام مکمل نظام دے او جمهوريان ئے ناقص گڼړي۔

۶۔ د جمهوريت په وجه د الله تعالي هغه نظام او دستور پريښودلي کيږي چه هغه منزل دے او د شپږ زره نه د زيات آياتونو نه او د لس لاکه نه د بره د صحيح احاديثونه جوړشويدے۔ نو دغه شپږ زره آياتونه او لس لاکه احاديث پريښودل کيږي او هغه جمهوري نظام غوره کولي شي چه هغه خود ساخته يعني مخلوق جوړکړي او په مخلوق کښ بيا ناکاره مخلوق جوړ کړي چه کفاردي، خصوصا د يورپ د فرانس عيسايان او تول بنيادونه ئے د فساد او د الحاد دي۔

۷۔ جمهوريت دهغه مساوات قائل دے چه په شريعت کښ هيڅ تصور نشته، لکه مسلمان او کافر برابر دي، عالم او جاهل، متقي او فاسق، نارينه او زنانه برابر دي، وغير ذلک۔

۸۔ په جمهوريت کښ مرور د مدے سبب د عزل وي، يعني د حکمران دپاره خاص مده، لکه ځلور پينځه کاله وخت مقرروي، د دغه وخت په ختميدو د ده حکومت هم ختميږي او په شريعت کښ تعين د مدے نشته، بلکه ترڅو چه حکمران د شريعت پابند وي نو د مرگه پوري حکمران پاتي کيدے شي۔

۹۔ په جمهوريت کښ زنانه حکمراني کولي شي او په شريعت کښ د زنانو حکمراني د ډيرو نصوصو نه خلاف ده، لکه:

الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ او لن يفلح قوم ولوا امرهم امرءة

۱۰- په جمهوريت کښې کافر هم په مسلمانانو حکمران کولي شي او په شريعت کښې د دے هيڅ ګنجائش نشته:

وَلَنْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا (النساء:۱۴۱)

د جلسو جلسونو او هړتال يا بهوک هړتال شرعي حيثيت:

۱- حکيم الأمت حضرت مولانا اشرف علی تهانویؒ:

”یہ ”بھوک ہڑتال“ خود کشی کے مترادف ہے اگر موت واقع ہو جائے گی تو وہ موت حرام ہوگی“۔ (الافاضات الیومیہ ص ۳۰،ج ۳، ملفوظ نمبر ۱۴)

”دا بهوک هړتال د خودکشۍ په شان کاردے که چرے مرګ پکښې و اقع شي نو هغه مرګ به حرام وي “.

ایک اور موقع پر جلسہ جلوس کے بارے میں حضرت نے فرمایا ہے: ”جب کوئی تدبیر تدابیر منصوصہ کے خلاف اختیار کی جاوے گی تو اس کو ممنوع ہی کہا جاوے گا۔ خصوص جبکہ وہ فعل عبث یا مضر بھی ہو تو اس کی حرمت میں پھر کیا شبہ ہو سکتا ہے؟ وہاں تو الضرورات تبیح المحظورات کا شبہ بھی نہیں ہو سکتا مثلاً ہڑتال میں جلوس ہیں ان میں وقت کا ضائع ہونا، روپیہ کا صرف ہونا، حاجت مند لوگوں کو تکلیف ہونا، نمازوں کا ضائع ہونا کھلے مفاسد ہیں تو یہ افعال کیسے جائز ہو سکتے ہیں؟ (ایک صاحب نے عرض کیا کہ اگر نیت امداد حق کی ہو؟ تو فرمایا کہ) ان باتوں سے حق کو کوئی امداد نہیں پہنچتی، دوسرے نامشروع فعل نیت سے مشروع نہیں ہو جاتا“۔ (الافاضات الیومیہ ص: ۳۲،ج ۵، ملفوظ نمبر ۱۵۲)

” کله چه يو تدبير د هغه تدبيرونو په خلاف اختيارکړيشي په کومو چه نص وارد شوے وي نو هغه ته به يوازے ممنوع وئيل کيږي - خاصکر چه هغه کار بے فائدے او د ضرر هم وي نو د هغې په حرام والي کښې بيا څه شبه ده ؟ هلته د ''الضرورات تبيح المحظورات'' شبه هم نشي پيدا کيدلے مثلا هړتال کښې جلوس وي د وخت ضائع کيدل، د روپو خرچ کيدل، حاجتمند خلقو ته تکليف رسيدل، د مونځونو ضائع کيدل دا ښکاره خرابيانے دي نو دا کارونه څه رنګه جائزکيدلے شي؟ (يو کس عرض اوکړو چه که دا چا نيت د حق مدد کول وي؟ نو هغه جواب کښې اوفرمائيل) پدے خبرو حق ته هيڅ مدد نه رسي، بله دا چه ناجائزکار په نيت سره نه جائزکيږي

آپ سے پوچھا گیا کہ ”جھتے (حکومت) کے مقابلے کے لئے جاتے ہیں اور گرفتار ہوتے ہیں، خاموش مقابلہ کرتے ہیں، اگر حکومت کی طرف سے تشدد بھی ہو تب بھی جواب نہیں دیا جاتا۔ ان صورتوں کے متعلق شرعی حکم کیا ہے؟

آپ نے فرمایا: ”عقلی دو ہی احتمال ہیں، یا تو مقابلہ کی قوت ہے یا قوت نہیں، اگر قوت ہے تو گرفتار ہونے کے کیا معنی؟ مقابلہ کرنا چاہئے، اور جب مقابلہ نہیں کر سکتے تو یہ صورت عدم قوت کی ہے جیسا کہ ظاہر ہے تو عدم قوت کی حالت میں قصداً ایسی صورت اختیار کرنے کی خود ضرب و حبس میں مبتلا ہو شریعت اجازت نہیں دیتی بلکہ ایسے مخترع مقابلے کے مکارہ (ناگوار امور) پر صبر سے کام لینا چاہئے۔ خلاصہ یہ کہ اگر قوت ہے مقابلہ کرو، اگر قوت نہیں صبر کرو، ان دو صورتوں کے علاوہ تیسری صورت منقول نہیں“۔ (الافاضات ص ۱۶۸، ۱۶۹،ج ۵، ملفوظ نمبر: ۱۹۰)۔

عقلي صرف دوه احتماله دي ، يا د مقابله کولو قدرت شته يا نشته ، که قوت دمقابلے شته نو ګرفتاري بيا څه معني لري ؟ مقابله کول پکار دي ، او چه کله مقابله نشي کولے نو دا د قوت د نشتوالي صورت دے لکه چه ښکاره ده نو د قوت د نشتوالي

په صورت کښې قصدا داسې شکل اختیارول چه په خپله په وهلو او بند کښ و اقع شي شریعت ئې اجازه نه ورکوي بلکه د داسې منکرت مقابلې په ناگوارو امورو باندې صبر کول پکار دي ۔ حاصل دا چه که طاقت موجود وي مقابله کول پکار دي او که طاقت نه وي نو صبر پکار دے ، د دې دوه صورتونو نه علاوه بل صورت نه دئ نقل "۔

۲۔ مولاناخالد سیف الله رحمانی دجدید فقهی مسائل په باره کښې لیکي :

"اپنی ناراضگی کے اظہار اور تنقید کا ایک طریقہ "بھوک ہڑتال" بھی ہے جس میں انسان بھوکا رہ کر اپنے آپ کو ناراض ظاہر کرتا ہے اور احتجاج کرتا ہے۔ بسا اوقات اس کی جان تک چلی جانے کا اندیشہ رہتا ہے اور ایسے واقعات بھی ظہور میں آتے رہتے ہیں اسلامی نقطہ نظر سے یہ صحیح نہیں ہے۔ زندگی کے تحفظ کے لئے اور اپنی توانائی کو معمول پر رکھنے کی غرض سے غذا کھانا واجب ہے :

"أما الأكل فعلى مراتب فرض و هو مايندفع به الهلاك فإن ترك الأكل والشرب حتى هلك فقد عصى --- ولا يجوز الرياضة بتقليل الأكل حتى يضعف عن أداء الفرائض ----- و لو جاع و لم يأكل مع قدرته حتى مات يأثم" (الفتاوى الهنديه ج:۵، ص: ۳۳۶تا ۳۳۸ كتاب الكراهيه في الأكل)

"کھانے کے چند درجات ہیں۔ اتنا کھانا جس کے ذریعے جان بچ سکے فرض ہے۔ لھذا اگر کھانا پینا چھوڑ دے یہاں تک کہ مر جائے وہ گنہگار ہوگا------ کم کھانے کی ایسی ریاضت جائز نہیں ہے کہ فرائض کی ادائیگی سے عاجز ہو جائے-----اگر بھوک لگے اور قدرت کے باوجود نہ کھائے یہاں تک کہ مر جائے تو گنہگار ہوگا"۔

اسلام اس قدر غلو اور افراط کو ناپسندیدگی کی نظر سے دیکھتا ہے۔ اسی لئے حضور ﷺ نے ان صحابہ رضی اللہ عنھم کو بھی منع کر دیا جو عبادات کی غرض سے مسلسل روزے رکھنا چاہتے تھے۔ اور اس نے تنقید و احتجاج کا طریقہ بھی واضح کر دیا ہے جسے قرآن و حدیث کی اصطلاح میں "نہی عن المنکر" کہا جاتا ہے کہ اس کے لئے جہاں ممکن اور ضرورت ہو قوت کا استعمال کیا جائے ورنہ پر امن طور پر زبان سے کام لیا جائے"۔ (جدید فقہی مسائل: ج: ۱، ص: ۳۰۴)

" د خپل خفگان او تنقید د ښکاره کولو یوه طریقه " بهوک هرتال " هم دے چه پکښې انسان وږے پاتې کیږي او د خپل خفگان څرګندونه پکښې کوي او احتجاج کوي ، چه کله کله پکښې د ساه ورکولو خطر هم وي او داسې و اقعات هم پکښې راپه ډاګه کیږي ۔ په اسلامي نقطه نظر سره دا صحیح کار نه دے ۔ د ژوند حفاظت په خاطر او د خپلې توانائي په معمول ساتلو په غرض غذا خوړل واجب دي :" خوراک په څو درجو دے یو فرض دئ په کوم سره چه هلاکت دفع کیږي که چرے خوراک څښاک ئې پریخودلو تر دے چه هلاک شو نو گناهګاربه وي ---- او جائز نه دئ تمرین کول په کمو خوړو تر داسې حده چه د فرائضو د اداء کولو نه کمزورے شي ---- او که چرے انسان اوږے شي او خوراک نه کوي سره د قدرته تردے چې مړ شي نو دا ګناهګار شو" ۔ اسلام داسې قسم غلو او افراط ناښوښه ګنړي ۔ د دے وجې نه حضور صلي الله علیه وسلم هغه صحابه کرام رضي الله عنهم منع کړل کومو چه د عبادت په خاطر مسلسل روژے نیول غوښتل او هغه د تنقید او احتجاج طریقه هم واضحه کړه چه د قرآن په اصطلاح کښې ورته "نهي عن المنکر" وئیل کیږي، چه د دغه د پاره چرته ممکن وي او ضرورت وي د قوت استعمال اوکړیشي ورنه په پرامن طریقه د ژبې نه کاروا خستل شي"

۳۔ حضرت مفتي تقي عثماني صاحب فرمائي :

"ایک دوسرا مسئلہ بھی یہاں قابل ذکر ہے اور وہ یہ کہ جن صورتوں میں خروج ناجائز ہے، ان میں حکومت کی تبدیلی، حکومت سے کوئی جائز مطالبہ منوانے یا اس سے اپنے حقوق حاصل کرنے کا پر امن طریقہ کیا ہو سکتا ہے؟ اور ان اغراض کیلئے آجکل کی سیاسی تحریکوں میں ہڑتال، بھوک ہڑتال، جلوس وغیرہ کے جو طریقے رائج ہیں، شرعی اعتبار سے وہ کس حد تک جائز ہیں؟ صورت حال یہ ہے کہ آجکل ہماری زندگی کا سارا ڈھانچہ، بالخصوص سیاسی زندگی کا ڈھانچہ، پچھلی چند صدیوں میں مغربی افکار کی بنیاد پر تعمیر ہو رہا ہے، اس لئے بہت سی باتیں سیاسی زندگی کا لازمی حصہ سمجھ لی گئی ہیں، انہی میں سے احتجاج کے یہ طریقے بھی داخل ہیں۔ یعنی ہڑتالیں، جلوس، توڑ پھوڑ وغیرہ جن کے ذریعے حکومت کا پہیہ جام کرکے اس کو بالآخر اس بات پر مجبور کیا جاتا ہے کہ وہ مطالبات تسلیم کرلے۔ اس قسم کی سیاسی تحریکوں کی شرعی حیثیت کے بارے میں گزارش یہ ہے کہ ان میں سے بعض طریقے تو بالکل حرام اور ناجائز ہیں، مثلاً بھوک ہڑتال جو خودکشی کی حد تک پہنچ جائے، یا کوئی بھی ایسا طریقہ جس سے کسی کی جان، مال، آبرو پر حملہ کیا جاتا ہو، یا سرکاری املاک کو نقصان پہنچایا جاتا ہو، کیونکہ سرکاری املاک درحقیقت حکمرانوں کی نہیں، بلکہ ملک کے تمام باشندوں کی اجتماعی ملکیت ہوتی ہیں، اور انہیں نقصان پہنچانے سے پوری قوم کا حق پامال ہوتا ہے، اور یہ ایسا گناہ ہے کہ اس کی معافی بہت مشکل ہے، کیونکہ اس کا تعلق حقوق العباد سے ہے جن کے بارے میں یہ اصول ہے کہ وہ صرف توبہ سے معاف نہیں ہوتے، بلکہ صاحب حق کا معاف کرنا ضروری ہے، اور سرکاری املاک میں صاحب حق پوری قوم ہوتی ہے، اور انسان کیلئے یہ بات تقریباً ناممکن ہے کہ وہ قوم کے ہر فرد سے معافی مانگے۔ اس لئے ایسی املاک کو نقصان پہنچانے کا معاملہ شخصی املاک سے زیادہ سنگین ہے۔ جہاں تک عام ہڑتال کا تعلق ہے تو فی نفسہ اس کا حکم یہ ہے کہ حکومت کے کسی عمل پر ناراضگی یا احتجاج کے اظہار کیلئے اگر لوگوں سے یہ اپیل کی جائے کہ وہ اپنا کاروبار بند رکھیں، اور اس پر عمل کرنے کیلئے کسی شخص پر کوئی جبر نہ کیا جائے، تو تنہا اس اپیل میں، یا اس اپیل پر خوش دلی سے عمل کرنے میں شرعاً کوئی گناہ نہیں، اور ایسی ہڑتال ایک مباح تدبیر کے درجہ میں فی نفسہ جائز ہے، بشرطیکہ اس میں ایسے استثناء بھی رکھے جائیں جو انسانوں کے لئے ضروری ہیں، مثلاً مریضوں کا علاج وغیرہ۔ لیکن عملاً ہوتا یہ ہے کہ ہڑتال کروانے والے اتنی بات پر بس نہیں کرتے، بلکہ ہڑتال کا لازمی حصہ بن گیا ہے کہ ہڑتال کرانے والے لوگوں کو اپنا کاروبار بند کرنے پر مجبور کرتے ہیں۔ اگر کوئی گاڑی چلا رہا ہے تو اس پر پتھراؤ کیا جاتا ہے، راستے میں رکاوٹیں کھڑی کر دی جاتی ہیں، اور اگر کوئی شخص ہڑتال میں حصہ نہیں لے رہا تو اس کو کم از کم غم وغصہ کا نشانہ بنایا جاتا ہے، یا اُسے زبردستی ہڑتال میں شریک ہونے پر مجبور کیا جتا ہے، یا اُس پر تشدد کیا جاتا ہے۔ ظاہر ہے کہ یہ سارے اقدامات شرعاً بالکل حرام ہیں۔ ان کا نتیجہ یہ ہوتا ہے کہ غریب لوگ جو روز کے روز اپنی روزی کماتے ہیں، وہ اپنی روزی سے محروم ہو جاتے ہیں، بہت سے مریض علاج نہ ملنے کی وجہ سے سختیاں جھیلتے ہیں، اور بہت سے تو موت کے منہ میں چلے جاتے ہیں اور یہ عجیب قصہ ہے کہ ایک طرف جمہوریت اور آزادیٔ اظہار رائے کا دعوی کیا جاتا ہے، اور دوسری طرف جو شخص اس ہڑتال میں حصہ نہیں لینا چاہتا، اس کو اپنی رائے کے اظہار کا موقع دینے سے انکار کیا جاتا ہے۔ یہ بات نہ تو اسلام کے مطابق ہے، اور نہ یہ اخلاق اور آزادیٔ اظہار رائے کے اصول کے مطابق ہے۔ عام طور سے آج کل کی ہڑتالیں ان امور سے خالی نہیں ہوتیں۔ ایسی ہڑتال جس میں ہڑتال کی اپیل کرنے والے شرافت کے ساتھ لوگوں سے اپیل کرکے بیٹھ جائیں کہ جو چاہے دکان کھولے، اور جو چاہے نہ کھولے، ایسی شریفانہ ہڑتال آج کے ماحول میں تقریباً نایاب ہے، اور جب کسی مباح کو ناجائز امور کا ذریعہ بنالیا جائے تو سد ذریعہ کے طور پر اس کو ممنوع ہی کہنا چاہیے، اگرچہ فی نفسہ جائز ہو۔ اس لیے ہڑتال کی یہ تدبیر جس میں توڑ پھوڑ اور امن وامان میں خلل اندوزی اور لوگوں کے کاموں میں رکاوٹ پیدا ہو شرعی تدابیر کے تحت نہیں آتی۔ اور جب سیاست بذات خود مقصود نہیں، مقصود اللہ تعالی کی اطاعت ہے تو اس صورت میں تدبیر بھی وہ اختیار کرنی چاہیے جو شریعت کے مطابق ہو جس میں شریعت کی کوئی خلاف ورزی لازم نہ آئے، ورنہ اس کے کوئی معنی نہیں ہیں کہ اسلام کے احکام توڑ توڑ کر اسلام نافذ کرنے کی تحریک چلائی جائے

جلوسوں کا مسئلہ بھی یہ ہے کہ اگر ان سے لوگوں کو غیر معمولی تکلیف نہ پہنچے تو وہ فی نفسہ جائز ہیں، لیکن عام طور سے ان میں بھی توڑ پھوڑ اور عوام کیلئے مشکلات پیدا ہونا ایک لازمی حصہ بن گیا ہے، اور ظاہر ہے کہ اس پہلو کو جائز نہیں کہا جاسکتا۔

اب سوال یہ پیدا ہوتا ہے کہ کیا شریعت میں حکومت پر دباؤ ڈالنے کا اور کوئی طریقہ ہے؟ جواب یہ ہے کہ حقیقت میں شریعت نے ایک راستہ تجویز کیا ہے کہ اگر قوم اس پر عمل کرلے تو بڑی سے بڑی حکومتوں کے گھٹنے چند گھنٹوں میں ٹکوائے جاسکتے ہیں، اور وہ راستہ یہ ہے کہ اس اصول پر عمل کیا جائے کہ:

لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق

"خالق کی معصیت میں کسی مخلوق کی اطاعت نہیں ہے"۔

جب ایک مرتبہ یہ اصول مان لیا جائے کہ کسی مخلوق کے حکم پر خالق کی نافرمانی نہیں کی جاسکتی، تو جتنے غیر اسلامی احکام نافذ ہیں، ساری قوم اگر ان میں شرکت سے انکار کردے تو اندازہ کیجئے کہ حکومت کے پاس کیا چارۂ کار رہ جاتا ہے؟ فرض کیجئے کہ عدالتوں میں بیٹھنے والے جج اگر یہ کہہ دیں کہ جب تک ہمیں شریعت کے مطابق فیصلے کرنے کا اختیار نہیں دیا جاتا، اُس وقت تک ہم عدالتوں میں کام نہیں کریں گے، اور اگر وکلاء یہ کہہ دیں کہ جب تک قوانین شریعت کے مطابق نہیں ہوجاتے، ہم عدالتوں میں بحیثیت وکیل کے پیش نہیں ہونگے، اگر بنک کے ذمہ دار اور بنک کے ملازمین یہ کہہ دیں کہ جب تک بنکاری کا نظام سود سے پاک نہیں ہوجاتا، ہم بنکوں میں کام نہیں کرینگے، اور عوام یہ کہہ دیں کہ جب تک بینکوں کا نظام سود سے پاک نہیں ہوجاتا، اس وقت تک ہم اس سے تمویلی معاملات نہیں کریں گے۔ اگر "لاطاعۃ لمخلوق فی معصیۃ الخالق" کی بنیاد پر جو ان کی شرعی ذمداری ہے، سارے عوام مل کر غیر شرعی احکام کی تعمیل سے انکار کردیں تو آپ ذرا تصور کریں کہ جس دن یہ ہڑتال ہوگی، اُس دن چند گھنٹوں میں حکومت گھٹنے ٹیکنے پر مجبور ہو جائے گی۔

یہ شرعی ہڑتال ہے، لیکن چونکہ اس میں اپنے مفادات کو تھوڑا سا قربان کرنا پڑتا ہے، اس لئے اس کی وجہ سے تھوڑی سی دشواری ہے۔ یہ بات تو بڑی آسان ہے کہ ایک آدمی سود کھا رہا ہو، اور پھر کسی سیاسی جماعت کے جلوس میں اسلام کے نعرے بھی لگا رہا ہو، اور یہ بھی آسان ہے کہ غیر اسلامی قوانین کے تحت فیصلے بھی کر رہا ہو، اور یہ بھی ان کی بنیاد پر وکالت بھی کر رہا ہو، لیکن جب جلوس نکلے تو اس میں شامل ہو کر اسلام زندہ باد کے نعرے بھی لگائے، اور ہڑتال بھی کردے۔ لیکن یہ بات کہ اپنے وکالت یا قانون دانی یا بینکنگ یا اکاؤنٹس وغیرہ کے پیشے کو بطور ہتھیار کے استعمال کرے، اس کے تھوڑی سی قربانی دینے اور تھوڑی سی ہمت کی ضرورت ہے۔ (اسلام اور سیاسی نظریات: ص: ۱۷۳تا۳۷۴)

حاصل ئے دا دے چه " په جلسو جلوسونو کښ او یا په هړتالونو کښ لازما د خلقو په زور راویستل په هغوي دکانونه بندول ، د نه بندیدلو په صورت کښ هغوي ته نقصان رسول ، او د خلقو املاکو ته نقصان ، مریضانو ته مشکل ،د محتاجو خلقو روزي ګټلو کښ مانع کیدل دا ټول فسادونه وي ، او د نن صبا په دورکښ د جلسو جلوسونو اویا د هړتالونو چونکه د دے نه بغیر کامیابي نه تصورکیږي ؛ لهذا د دے امورو نه د کوم هړتال او یا جلوس خالي کیدل په هغے کښ د خلکو په رضاکارانه طور راوتل او کاروبارونه بندول ، یا د هړتال او د جلوس والا خلقو هغه چاته نقصان نه رسول چه دوي سره برخه نه اخلي ناګزیر امر دئ ۔ او دا امور چونکه ناجائز او حرام دي نو کوم کارچه ذریعه وي ناجائز او حرام امورو ته که هغه په خپله في نفسه مباح هم وي نو د سد ذرائع په بنیاد هغه ناجائز ګرځي "۔

څلورم باب: د حاکميت د موضوع تفصيل

د عوامو د حاکميت ترديد:

د جهوريت په بنيادونو کښې يو بنياد د عوامو حاکميت دے د حاکميت معنى داده چه د يو چا د پابندئ نه په غير د فيصلے کولو او د حکم د جاري کولو کښې کلي حق او پدي معنى سره د الله تعالى نه ماسوا بل چا ته حاکم ويل شرک دے۔

د اسلامي حکومت او خلافت او د جمهوري حکومت په بنيادونو کښې ډير فرق دے او لنے بنيادي فرق او مابه الامتياز دادے۔

د اسلامي حکومت او لنے بنياد د الله تعالى حاکميت دے چه د ټولو کائناتو اصل حاکميت د الله تعالى دے او د دنيا د حکمر انانو حکومتو نه به د الله تعالى د حاکميت تابع وي، دا هغه اصولي بنياد دے چه پدي کښې د اختلاف هيڅ گنجائش نشته او نه دا هيروے شي نه پکښې کوم مفاهمت کيدے شي۔

او دا د اسلامي سياست د دستور اولني بنيادي دفعه ده او دا اصل قرآن کريم ځائ په ځائ بيانوي إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ (الانعام:۵۷) حاکميت د الله تعالى نه ماسوا د هيچا دپاره نه دے أَلَا لَهُ الْحُكْمُ (الانعام:۶۲) يادساتئ چه حاکميت صرف الله تعالي لره دے۔ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ (الاعراف:۵۴) ياد ساتي چه خاص الله تعالى لره پيدا کول او حکم دے، پدي وجه د اسلامي حکومت اولني ماخذ وحي ده يعني قرآن او سنت او حکومت د وحي او اسماني هداياتو نه په غير نه کوم قانون جوړولي شي او نه کوم اقدام کولي شي او په سيکولر جمهوريت کښې حاکميت د عوامو حق دے ددي وجے نه د عوامو د نمائنده گئ په حيثيت پارلمينټ دومره مختار مطلق دے چه دوئ کوم قانون منظورول غواړي نو کولي شي او په ائين کښې ترميم او تبديل هم کول شي۔

او د اسلامي حکومت په دستور کښې چه قرآن او سنت دي هيڅ تبديلي نه شي کيدے نه د قرآن او سنت نه علاوه کوم قانون جوړولي شي او نه دستوريو داسي دفعه منظورولي شي چه هغه د قرآن او سنت د حکم نه خلاف وي۔

بهرحال د جمهوريت دابنياد او دانظريه چه حاکميت د عوامو حق دے دا د اسلامي حکومت سره مابه الامتياز دے او دا نظريه کفر او شرک ده او دا نظريه د قرآن او سنت د ډيرو نصوصو نه خلاف ده مثلا الله تعالى واى:

إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ (الانعام:۵۷، يوسف:۴۰، ۶۷)

أَلَا لَهُ الْحُكْمُ (الانعام:۶۲)

أَفَغَيْرَ اللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا (الانعام: ۱۱۴)

وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا (الکهف:۲۶)

فَالْحُكْمُ لِلَّهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيرِ (المؤمن:۱۲)

وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ (الشورى: ۱۰)

أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ (المائدة: ۵۰)

ددي ایت نه معلومه شوه چه د انسان په جوړ شوي قانون فیصله کول جاهلیت دے او شرعي قانون بهترین قانون دے او د شرعي قانون او نظام غوښتنه د ایمان او یقین تقاضی ده او ابن کثیر رحمه الله ددي ایت په تفسیر کښ د چنګیز خان د کتاب په باره کښ لیکلي چه هر څوک داسي قانون جوړئ هغه کافر دے او قتال ورسره فرض دے:

وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ ، الظَّالِمُونَ ، الْفَاسِقُونَ

د شرک في الحاکمیة بیان قرآن کریم په څلورو طریقو کړے یوه طریقه د اثبات ده چه الله تعالی ځانله حاکمیت ثابتوي دویمه طریقه د نفي ده چه د غیر الله نه نفي د حاکمیت کوي دریمه طریقه د نفي او اثبات د مجموعے ده یعني د حصر طریقه ده ځکه په حصر کښ نفي او اثبات دواړه وي او دا د مخکښ نصوصو نه معلومیږي لکه چه په مخکني ایاتونو کښ سوچ وشي نو په بعض ایاتونو کښ صرف اثبات دے په بعض کښ صرف نفي او په بعض کښ نفي او اثبات دواړه دي۔

څلورمه طریقه انکار عن الطاغوت دے یعني کله د الله تعالی د حاکمیت بیان پدي طریقه کوي چه د انکار عن الطاغوت حکم کوي۔

لکه:

فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ (البقرة:۲۵۶)

وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَوْلِيَاؤُهُمُ الطَّاغُوتُ (البقرة :۲۵۷)

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِنَ الْكِتَابِ يُؤْمِنُونَ بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوتِ (النساء:۵۱)

وَالَّذِينَ كَفَرُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ الطَّاغُوتِ (النساء:۷۶)

وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ (النحل:۳۶)

وَالَّذِينَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوتَ أَنْ يَعْبُدُوهَا وَأَنَابُوا إِلَى اللَّهِ لَهُمُ الْبُشْرَىٰ (الزمر:۱۷)

د طاغوت معني:

د طاغوت د سلفو نه مختلف معنی ګاني نقل شوي یوه معنی مجاهد رحمه الله کړي الطاغوت الشیطان في صورة الانسان یتحاکمون الیه وهو صاحب امرهم طاغوت د انسان په شکل کښ شیطان وي چه هغه ته خلق د خپلو لانجو د حل کولو دپاره ورځي او دا د دوئ حاکم او قاضي وئ او په سورة نساء کښ حاکم غیر شرعي ته طاغوت ویلي لکه کعب بن اشرف ته۔

د شرک في الحاکمیة په رد کښ نور آیاتونه:

ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٍ مِنَ الْأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ (الجاثية:۱۸)

أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُمْ مِنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ (الشورى :۲۱)

وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ (ال عمران:٦٤)

قرطبي رحمه الله وائ چه د هغوئ ربوبیت داوو چه اهل کتابو د خپل ملیانو او پیرانو تحریم او تحلیل منلو په غیر د تحریم او تحلیل د الله تعالی نه:

اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ (التوبة:٣١)

ددي وضاحت د عدي بن حاتم رضي الله عنه په حدیث کښ راځي۔

د توحید في الحاکمیت د اثبات او د شرک في الحاکمیة د رد په باره کښ احادیث:

مخکښ مونږ د توحید في الحاکمیة د اثبات په باره کښ او د شرک في الحاکمیة د رد په باره کښ ایاتونه ذکر کړل وس حدیثونه ذکر کوو۔

اولني حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم به د تهجدو د مانځه په وخت کښ یوه اوګده دعاء لوستله چه د هغې یو جمله داده

والیك تحاکمت (بخاري باب التهجد مسلم باب دعاء النبي صلی الله علیه وسلم اذا قام من اللیل) **یعني خاص ستا په وحي فیصله کوم۔**

ابن حجر رحمه الله ددي په شرح کښ وائ چه ځه د ټولو معاملاتو او لانجو فیصله ستا د حکم مطابق کوم او د جاهلیت په مشرکانه رسمونو ئے نه کوم۔

دویم حدیث:

عن صهیب قال قال رسول الله صلي الله علیه وسلم ما امن با القرآن من استحل محارمه (ترمذي ابواب فضائل القرآن)

د هغه چا په قرآن ایمان نشته چه د قرآن حرام حلال ګڼري

دریم حدیث د عدي بن حاتم رضي الله عنه:

پدي ایت او حدیث کښ پاپائیت او تهیو کریسي ته شرک ویلي چه په هغه کښ پاپ ته د تحریم او تحلیل مکمل اختیارات ورکړے شویو او هغوي ته اعلی حاکمیت ورکړیو۔

د شریعت په مقرر شوو سزاګانو کښ د کمي یا زیاتي کولو حق هیچا ته نه دے حاصل

مفسرینو په تفسیر د سورة النور:۲ وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ کښ یو حدیث نقل کړي:

«یؤتی بوال نقص من الحد سوطا، فیقول: رحمة لعبادك، فیقال له: أأنت أرحم بهم مني، فیؤمر به إلی النار. ویؤتی بمن زاد سوطا فیقول لینتهوا عن معاصیك فیؤمر به إلی النار د قیامت په ورځ به یو حکمران راوستلي شي چه هغه به د حد نه یوه کوره کمه کړیوي، تپوس به ترینه وشي چه ولي دِ کمي کړي هغه به واي چه ستا په بنده ګانو مِ رحم راتلو، دَ ته به اویلي شي چه آیا ته ځما نه ډیر مهربانه ئے دا جهنم ته بوزي او هغه حکمران به راوستلي شي چه هغه په حد کښ یوه کوره زیاته کړیوي تپوس به ترینه وشي چه زیاتي دِ ولي کړي۔ دا به اوواي د دے دپاره چه دوي ستادنافرماني نه منع شي۔ دَ ده به په باره کښ به د جهنم امروشي۔

فائده: دد ےحديث نه معلومه شوه چه په شرعي حد کښې يوه کوره کمول يا زياتول د جهنم سبب دے۔ نو دهغه چا به څه حال وي چه هغه ټول شرعي نظام بدل کړي۔

فائده ۲: دا حديث ډيرو مفسريو نقل کړي لکه امام رازي علامه زمخشري (تفسير کبير ص:۲۳۹ ج:۱۱، الکشاف ص:۳۷۵ ج:۴)

خو د دے حديث په باره کښې علامه زيلعي رحمه الله او ابن المنير الاسکندري رحمه الله واي لم اجده بهذا اللفظ چه دا حديث مونږ پدے الفاظو اونه مندلو، البته ابو يعلي د حذيفه رضي الله عنه نه مرفوعا داسي الفاظ نقل کوي:

يؤتي بالذي ضرب فوق الحد فيقول له الله تعالي عبدي ضربته فوق الحد فيقول غضبا لک فيقول اکان غضبک اشد من غضبي ويؤتي بالذي قصر فيقول عبدي لم قصرت فيقول رحمته فيقول اکانت رحمتک اشد من رحمتي ثم يؤمر بهما جميعا الي النار (حاشية الکشاف ص:۲۱۰، ج:۳)

هغه سړي به راوستلي شي چه د حد شرعي نه زيات وهل ئے کړيوي ، الله تعالي به ورته اوواي ځما بنده دا سړي دِ د حد نه زيات ولي وهلي، دا به اوواي چه ستا د دين په وجه غصه راغلي وه، الله تعالي به ورته اوواي چه آيا ستا غصه ځما د غصې نه سخته ده او هغه کس به راوستلي شي چه هغه د حد شرعي نه کمي کړي وي الله تعالي به ورته اوواي ځما بنده ولي دِ کمي کړي دا به اوواي چه په دے بنده مِ رحم راغلي وو الله تعالي به ورته اوواي چه آيا ستا رحمت ځما د رحمت نه سخت وو بيا به د دے دواړو په باره کښې د جهنم امروشي۔

د الله تعالی د حاکميت اعلی په باره کښې د خلفاء راشدينو طريقه:

د قرآن او سنت نه روستو د مسلمانانو دپاره غوره نمونه د خلفاء راشدينو سنت او طريقه ده په بخاري شريف کښې د څلورواړه خلفاء راشدينو طريقه داسي بيان شوي:

فاذا وضح الکتاب والسنة لم يتعدوه الی غيره اقتداء با النبي صلی الله عليه وسلم کله به چه يو حکم په قرآن او سنت کښې واضحه شو نو د هغې نه بئے تجاوز نه کولو د وجے د اقتداء کولونه په نبي صلی الله عليه وسلم پوري۔

فائده:

هرکله چه خلفاء راشدينو د قرآن او سنت په مقابله کښې کوم حکم يا قانون نه شو جوړولي ځکه حاکميت حق د الله تعالی دے نو د جمهوريت پاسدارانو ته دا حق د کوم ځائ نه حاصل دے۔

امام دارمي رحمه الله د ابوبکر رضي الله عنه طريقه بيانوي:

کان ابوبکر اذا ورد عليه الخصم نظر في کتاب الله (الحديث) کله به چه ابوبکر رضي الله عنه ته دوه جګړه کونکو کومه مسئله د فيصلے دپاره راوړه نو اول بئے په قرآن کريم کښې د هغې د حل کولو دپاره فکر کولو که په قرآن کښې بئے د هغې د حل دپاره کومه لارپيدا کړه نو د هغه مطابق بئے فيصله کوله او که په قرآن کښې به نه وو او په سنتو د رسول الله صلی الله عليه وسلم کښې به ورته کوم حکم معلوم شو نو د هغه مطابق فيصله بئے کوله او که په قرآن اوسنت دواړو کښې به د حکم مندلو نه عاجزه شو نو بيا به راووت د مسلمانانو نه بئے تپوس کولو چه ما ته داسي موضوع راغلي آيا تاسو ته پدي باره کښې د رسول الله صلی الله عليه وسلم کوم فيصله معلومه ده څو کرته داسي شوي چه د ابوبکر رضي الله عنه سره به د مسلمانانو يوه ډله يوځائ کيدله هريو به پدي حقله د رسول الله صلی الله عليه وسلم فيصله نقل کوله نو ابوبکر رضي الله عنه به اويل صفتونه دي الله تعالی لره چه

په مونږ کښ داسي خلق شته چه زمونږ د پيغمبر سنت ئے ياد دي او که د دينه به هم عاجزه شو چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت پيدا کړي نو مشران او غوره خلق بۀ راجمع کړل د هغوئ نه بۀ مشوره اخستله که د هغوئ به په يوه خبره اتفاق راغلي نو فيصله بۀ ـپے وکړه [بخاري كتاب الاعتصام باب قول الله تعالى وامرهم شورى بينهم،] او دا روايت په سنن بيهقي کښ هم رانقل شوي خو په آخر کښ ويلي شوي چه د عمر رضي الله عنه هم دغه طريقه وه۔

فائده:

ددينه معلومه شوه چه ابوبکر او عمر رضي الله عنهما د ځان نه کومه فيصله نه شوه کولي ځکه حاکميت او فيصله د الله تعالى حق دے نو پارلمان ته دا حق د کوم ځائ نه حاصل دے بله ترينه دا خبره معلومه شوه چه که يوه خبره واضحه په قرآن او سنت کښ نه وه نو بيا به مشوره د خواصو او غوره مشرانو نه طلب کولي شي مشوره ورکول د هرچا کار نه دے لکه چه جمهوريت کښ دا حق عوامو ته ورکړي۔

د الله تعالى د حاکميت اعلى په باره کښ د امامانو او فقهاء اقوال:

١۔ كان ابو حنيفة رحمه الله يقول حرام على من لم يعرف دليلي ان يفتي بكلامي وقال لا ينبغي لاحد ان يقول قولا حتى يعلم ان شريعة رسول الله صلى الله عليه وسلم يقبله

امام ابو حنيفة رحمه الله به ويل چه د دليل معلومولو نه په غير ځما په وينا فتوه ورکول حرام دي او چا ته په دين کښ يوه خبره کول مناسب نه دي ترڅو چه دا معلومات ونکړي چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم شريعت دا خبره قبلوي۔ (الميزان الكبرى للشعراني ص٥٨)

فائده:

هرکله چه د امام ابو حنيفة رحمه الله په خبره ـبے د دليل معلومولو نه فيصله نه شي کولي ځکه چه حاکميت د الله تعالى حق دے نو د عوامو په خبره به څرنګي فيصله وشي او هغه به قانون جوړشي ځکه که د ټولے دنيا عوام او جمهوريان راجمع شي نو يو امام ابو حنيفه ته نه شي رسيدے۔

٢۔ د امام ابو يوسف رحمه الله شاګرد يحى بن يحى رحمه الله وائ چه ما د امام ابو يوسف رحمه الله نه د وفات په وخت کښ واوريدل چه كل ما افتيت به فقد رجعت عنه الا ما وافق كتاب الله وسنة رسول الله صلى الله عليه وسلم ما د خپلو ټولو فتوو نه رجوع کړي ماسوا د هغه نه چه د قرآن او سنت سره برابروي (تاريخ بغداد ص٢٥٢ ج١٣)

فائده:

هرکله چه د امام ابو يوسف رحمه الله هغه فتوے له اعتبار نشته چه کومه د قرآن او سنت سره برابر نه وي ځکه حاکميت يعني حکم کول او قانون جوړول د الله تعالى حق دے ، نو بل چاله دا حق د کوم ځائ نه حاصل دے چه هغه يو حکم او قانون د ځان نه جوړ کړي لکه په جمهوريت کښ دا حق عوامو ته ورکړي شوي۔

٣۔ امام مالک رحمه الله وائ:

الحكم حكمان حكم جاء به كتاب الله وحكم احكمته السنة (جامع بيان العلم لابن عبد البر ص٢٥)

قانون دوه قسمه دے یو هغه دے چه د الله تعالی د کتاب نه ثابت شویوي دویم هغه دے چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو نه ثابت شویوي

فائده:

معلومه شوه چه د کوم قانون مأخذ قرآن او سنت نه وي بلکه پارلمان جوړکړیوي نو دغه به قانون نه وي ځکه قانون جوړول او حاکمیت حق د الله تعالی دے۔

۴۔ امام غزالي رحمه الله وائ:

فانما النافذ حکم المالك علی مملوکه ولا مالك الا الخالق فلا امر ولا حکم الا اله (**المستصفی ص ۵۳**)

په غلام او مملوک به صرف دخپل مالک قانون نافذ کولي شي نو څرنګې چه د خالق نه په غیر بل مالک نشته نو د هغه نه په غیر به د بل چا امر حکم قانون نه شي منلي کیدے۔

فائده: یعني خالق او مالک صرف الله تعالی دے نو قانون جوړول او حاکمیت صرف د هغه حق دے۔

۵۔ ابن الهمام رحمه الله وای: الحاکم لا خلاف في انه رب العالمین (تحریر الاصول ص ۲۵۰ ج ۲)

پدي کښ هیڅ اختلاف نشته چه حاکم صرف رب العالمین دے۔ او په جمهوریت کښ د حاکمیت حق پارلمان او عوامو ته ورکړي شوي۔

۶۔ قاضي بیضاوي رحمه الله وای: الفصل الاول في الحاکم وهو الشرع دون العقل (منهاج الاصول علی حاشیة تحریر الاصول ص ۹۱ ج ۱)
د قانون ماخذ شریعت دے عقل نه دے او په جمهوریت کښ خبره الټه ده چه د قانون ماخذ عقل دے نه شریعت۔

۷۔ قاضي شوکاني رحمه الله وای: لاخلاف في کون الحاکم الشرع (ارشاد الفحول ص) **پدي کښ هیڅ اختلاف نشته چه حاکم د الله تعالی شریعت دے۔ البته جمهوریانو ددي خلاف کړي چه دا حق ئے عوامو ته ورکړے۔**

شرک في الحکم:

د تیر شوو آیاتونو او احادیثو او د خلفاء راشدینو د طریقه کار او د امامانو د اقوالو نه معلومه شوه چه حاکمیت د الله تعالی صفت دے او د قانون او نظام مأخذ قرآن او سنت دے۔

دا هم معلومه شوه چه د الله تعالی نه ماسوا پارلمان یا عوامو ته یا بل چا ته د حاکمیت شارعیت او د قانون جوړولو واکي ورکول شرک في الحکم دے اوس د شرک في الحکم یعني په قانون جوړولو کښ د شرک کولو په باره کښ یو څو ایاتونه هم ذکر کوو چه په هغه کښ د شرک في الحکم بدي بیان شوي:

۱۔ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ (الانعام:۱۲۱)

امام رازي رحمه الله وای:

وفیه دلیل علی ان کل من احل شیئا مما حرم الله او حرم شیئا مما احل الله فهو مشرك وانما سمي مشرکا لانه اثبت حاکما سوا الله تعالی وهذا هو الشرك (**تفسیر کبیر ص ۱۸۰ ج ۱۳**)

پدي ایت کښ ددي خبري دلیل موجود دے چه څوک د الله تعالی حرام حلال کړي یا د الله تعالی حلال حرام کړي نو دا مشرک دے ځکه دَ د الله تعالی نه ماسوا حاکم قانون جوړونکي اومنلو او دا شرک دے۔

او امام قرطبي وای:

فدلت الآیة علی ان من استحل شیئا مما حرم الله تعالی صار به مشرکا وقد حرم الله سبحانه المیتة نصا فاذا قبل تحلیلها من غیره فقد اشرک (قرطبي ص۷۷ ج۷)

دا ایت د لالت کوي پدي خبره چه څوک د الله تعالی حرام حلال وګڼړي نو دا مشرک دے او الله تعالی مُرداره په نص یعني ایت سره حرام کړي کله چه دا ددے تحلیل د بل چانه قبول کړي نو شرک ئے وکړو۔

فائده:

ددي عبارتونو نه معلومه شوه چه یوشي حلال ګڼړل یا حرام ګڼړل حکم او قانون دے او ناروا او حرام په قانون کښ جائز ګڼړل یا حلال او روا په قانون کښ منع کول او بندول شرک دے۔

۲ ۔ وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلَادِهِمْ شُرَكَاؤُهُمْ لِيُرْدُوهُمْ وَلِيَلْبِسُوا عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ (الانعام ص۱۳۷)

پدي ایت کښ څلور خبري پیجاندل ضروري دي یو دا چه پدي ایت کښ شرک في الحکم دادے چه الله تعالی د اولاد قتلول حرام کړي او دوئ دا کار جائز ګڼړلو لکه نن صبا په حکومتونو کښ ډیرناروا او حرام جائزوي۔

دویم دا چه دویته ئے پدي کار مشرکان اویل۔

دریم دا چه چا ورله دا کار جائز ګروځولي وو هغویته ئے مشریکان اویل چه هغه د مشرکینو مشران وو په قول د قتاده رحمه الله یا د بت خانو منجاوران وو په قول د زجاج او فراء (زاد المسیر ص۳۵۷ ج۳)

څلورم دا چه د شرک في الحکم سبب د هلاکت او دتلبیس د دین دے۔

د مولانا شبیر احمد عثماني رحمه الله وینا:

مولانا شبیر احمد عثماني رحمه الله په تفسیر د سورة النساء: ۱۱۶ کښ وای چه شرک یوازي دا نه دے چه د الله تعالی نه په غیر د بل چا بندګي وکړي شي بلکه د الله تعالی د حکم په مقابل کښ د بل چا حکم منل او خوښول هم شرک دے۔ دغه رنګي مولانا عثماني رحمه الله د سورة النساء په اخري ایت کښ هم د شرک في الحکم تفصیلي بحث کړي چه د الله تعالی نه په غیر بل څوک د شارع حاکم او قانون جوړونکي په حیثیت منل او هغویته دا حق ورکول چه څنګه مو خوښه وي قانون جوړ کړي دا هغه بدترین شرک دے چه نن پے د مسلمانانو حکومتونه ککړ دي او خلق هم ددي مشرکانه نظامونو د لاندي ژوند تیر وي په مسلمانانو دا فرض دي چه ددي مشرکانه نظامونو د ختمولو او د اسلامي توحیدي نظام د قیام په خاطر یو موټي شي مخلصانه هلي ځلي شروع کړي او په هغه ځایونو کښ چه دا قسم هلي ځلي د پخوانه شروع شویوي نوري هم ګړېندئ کړي شي۔

اللهم انصر من نصر دین محمد صلی الله علیه وسلم وجعلنا منهم

قانون سازي صرف د الله تعالي حق دے

په جمهوریت کښ انسانانو ته او پارلیمنټ ته د قانون سازي حق ورکړي۔ حالانکے قانون سازي صرف او صرف د الله تعالي حق دے۔ البته مقننه په انتظامي او غیر منصوصي امورو کښ قوانین جوړولي شي۔ دغه رنګي د منصوصي امورو د تفصیل او تطبیق دپاره اصول جوړولي شي پدے شرط چه د شریعت خلاف نه وي۔

د تقنین او تشریع دوه معني ګاني دي۔

لکه علامه سمیر عالیه لیکلي دي :

ان التشریع یراد به احد معنین احدهما ایجاد شرع مبتدأ وثانیهما بیان حکم تقتضیه شریعة قائمة فالتشریع بالمعني الاول في الاسلام لیس الا الله فهو سبحانه ابتدأ شرعا بما انزله في قرآنه وما اقر علیه رسوله وما نصبه من دلائل وبهذا المعني لا تشریع الا لله (نظام الدولة والعرف والقضاء في الاسلام ص:۴۷، سلطة التشریع في الاسلام للدکتور سمیر عالیه)

د تشریع دوه معني ګاني دي، اوله معني دا ده چه د سره نه د شریعت ایجاد کول، دویمه معني دا ده چه هغه حکم بیانول چه موجوده شریعت ئے تقاضي کوي۔ نو تشریع په اعتبار د اولے معني سره په اسلام کښ یواځي د الله تعالي کار دے۔ الله تعالي د اول نه شریعت ایجاد کړي په هغه څه سره چه الله تعالي د هغے ذکر په قرآن کښ کړي او دا رنګي هغه څه دي چه د رسول الله صلي الله علیه وسلم نه ثابت دي او هغه دلائل دي چه نبي صلي الله علیه وسلم ذکر کړي پدے معني سره تشریع او قانون جوړول یواځي د الله تعالي حق دے۔

واما التشریع بالمعني الثاني وهو بیان حکم تقتضیه شریعة قائمة فهذا هو الذي تولاه بعد رسول الله صلي الله علیه وسلم خلفائه من علماء الصحابة ثم خلفائهم من فقهاء التابعین وتابعیهم من الائمة المجتهدین فهؤلاء لم یشرعوا احکاما مبتدأة وانما یستمدوا الاحکام من نصوص القرآن او السنة وما نصبه الشارع من الادلة وما قدره من القواعد العامة۔

هر چه تشریع ده په اعتبار د دویمے معني سره چه هغه بیان او اظهار د هغه حکم شرعي دے چه موجوده شریعت ئے تقاضي کوي نو دا هغه دے چه د رسول الله صلي الله علیه وسلم نه روستو صحابو او تابعین او تبع تابعینو کړي ۔ دوي نوي احکام نه دي ایجاد کړي بلکه دوي د شرعي دلائلو نه (لکه د قرآن او سنت هغه دلائل چه شارع قائم کړي او هغه عمومي قواعد چه شریعت قائم کړي) مدد حاصل کړي او احکام ئے راویستلي۔

یعني دوي د ځان نه احکام او قوانین نه دي جوړ کړي بلکه د شریعت یعني د قرآن او سنت نه ئے مستنبط کړي۔

فائده:

بهر حال د دینه معلومه شوه چه قانون سازي او شریعت جوړول صرف د الله تعالي کار دے او دا ترینه هم معلومه شوه چه امامانو او مجتهدینو او خیر القرون ته هم دا حق نه وو حاصل چه هغه د ځان نه احکام یا قانون سازي وکړي۔ نو عوامو او پارلیمنټ ته د کوم ځاي نه دا حق حاصل دے۔

دغه رنګي علامه محمد مبارک په نظام الاسلام ص:۸۶ کښ واي:

اما الاول وهو التشريع فتري ان المجالس الانتخابية كمجالس النواب ليست مؤهلة لذالك باعتبار ان مصدر التشريع في الاسلام هو الشريعة وليس الشعب والمهم في الامر ان يكون هذا التشريع متحررا من اهواء الحكام ومصالحهم مراعيا لاحكام الشريعة ومصلحة الامة (مراعي الاحكام الشريعة و مصلحة الامة)

هر چه اول قسم دے یعني د قوانینو جوړول دي نو مونږ ګورو چه انتخابي مجلسونه یعني پارلیمان او د حاکمانو شوري د دے اهلیت نه لري چه قانون جوړ کړي او دا ځکه چه مصدر د قانون جوړولو په اسلام کښې شریعت دے او رعیت نه دے۔ اهمه خبره دا ده چه دغه جوړ قانون به د حاکمانو د خواهشاتو او ګټو نه آزاد وي او د شریعت د احکامو او د امت د مصلحتونو او ګټو لحاظ به کوي۔

شاه ولي الله رحمه الله واي چه تشریع د الله تعالي صفت تکویني دے

شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله واي چه تشریع یعني قانون جوړول د الله تعالي صفت تکویني دے، په شان د خلق او ایجاد او رزق ورکول او احیاء او امانت وغیره، لکه چه په نورو تکویني امورو کښې د الله تعالي سره شریک نشته نو په تشریع کښې هم بل څوک حصه دار نه دے۔ شارع مطلق صرف یو الله تعالي دے البته پیغمبر ته شارع ویلي شوي خو مجازا نه حقیقتا۔ (نداء الفرسان ص:۲۵)

اختیار د تشریع:

وأما الأمر فينقسم إلى قسمين: أمر كوني، وأمر شرعي.

فأما الأمر الكوني فهو موافق لمعنى الخلق، وأما الأمر الشرعي فهو التشريع الذي هو إحلال الحلال وتحريم الحرام، وهو حق خالص لله سبحانه وتعالى. (شرح كتاب التوحيد لعبدالرحيم السلمي:ج:۱،ص:۴)

" هر چه امر دئ نو دا په دوه قسمه دي : امر تکویني او امر تشریعي ۔ هر چه امر تکویني دي نو هغه مو افق دے د خلق د معني سره ، او هر چه امر شرعي دے نو دا هغه قانون سازي ته وئیل شي چه حلالول د حلالو پکښې وي یا حرامول د حرامو پکښې وي، او دا خالص حق دي د الله سبحانه و تعالي"

العلامة محمد الأمين الشنقيطي:

ولما كان التشريع وجميع الأحكام، شرعية كانت أو كونية قدرية، من خصائص الربوبية، كما دلت عليه الآيات المذكورة كان كل من اتبع تشريعاً غير تشريع الله قد اتخذ ذلك المشرّع رباً، وأشركه مع الله (الموسوعه العقديه ـ الدرر السنيه:ج:۲،ص:۸۰)

هر کله چه قانون سازي او نور ټول احکام خواه که شرعي وي او که تکویني قدرتي وي دا د ربوبیت د خاصیتونو نه دے، لکه چه آیت مذکوره (**اتخذوا احبارهم و رهبانهم**) ورباندے دلالت کوي، نو هر هغه څوک چه تابعداري کوي د داسي قانون سازي چه د الله د قانون سازئ نه علاوه وي یقینا د دغه قانون جوړونکے رب اومنلو ، او د الله سره ئے شریک کړو"۔

د قانون سازي تفصیل او د قانون دري قسمونه

نن سبا د قانون سازي کار د پارلیمنټ په ذمه وي. د دے وجه نه پارلیمنټ ته مقننه واي. په سیکولر جمهوریت کښ په پارلیمنټ د قانون سازي په باره کښ هیڅ پابندي نه وي ماسوا د هغه پابندي نه چه هغه دستور یا آئین مقرر کړیوي او دغه دستوري پابندي هم پارلیمنټ یا دستورساز ادارے مقرر کړیوي او چه پارلیمنټ کله اوغواړي نو دغه پابندي د دستوري ترمیم په ذریعه ختمولي هم شي. لهذا دانجام په اعتبار په پارلیمنټ هیڅ قسم پابندي نه وي. بل طرف ته د اسلامي ریاست اعلي ترین آئین قرآن کریم او د رسول کریم صلي الله علیه وسلم سنت دے او دا داسي آئین دے چه پدیکښ تبدیلي ممکن نه ده. لهذا دا ضروري خبره ده چه ټوله قانون سازي به د قرآن او سنت تابع وي. ددے اصولو ماتحت په اسلامي ریاست کښ دري قسمه قانون سازي کیدے شي:

۱ ـ اول قسم د قرآن او سنت ښکاره حکمونه دي، دا به د ملکي قانون په طور نافذ کولي شي.

۲ ـ د قانون سازي دویم قسم دا دے چه کوم حکمونه په قرآن او سنت کښ په ښکاره طور نه وي موجود بلکه دهغے دپاره د اجتهاد او استنباط ضرورت وي. یا د قرآن او سنت هغه حکمونه وي چه دهغے په تشریح کښ د راي د اختلاف گنجائش وي نو هغے ته به هم قانوني شکل ورکولي شي خو په اول صورت کښ اجتهاد ته ضرورت رازي په دویم کښ د یو موقف ترجیح ته ضرورت رازي. د دے خبرو دپاره د علم ضرورت وي چه د عدالتونو قاضیان صاحبان علمي مهارت لري.

نن صبا د پارلیمنټ ارکان دا کار نه شي کولي ځکه هغوي علمي صلاحیت نه لري، د قرآن او سنت نه ناو اقفه وي، بلکه اکثر افراد داسي وي چه هغه د قرآن او سنت د علم صلاحیت هم نه لري یعني د پارلیمنټ ارکان د دے قسم قانون سازي هیڅ صلاحیت نه لري.

۳ـ دریم قسم قانون سازي دهغه مباح کارونو متعلق ده چه دهغه کارونو په باره کښ د شریعت کوم خاص او متعین حکم نه وي. دا قسم قانون سازي د پارلیمنټ ارکان هم کولي شي پدے شرط چه کومه جزوي خبره پکښ د شریعت خلاف نه وي.

نن صبا چه پارلیمنټ کوم قوانین جوړئ نو په هغه کښ ډیر لوي تعداد د دے قسم قانون سازي دے. مثلا د سرکاري ملازمینو تنخوا د فوج د نظم نسق قوانین مقننه به یوه ایوانی وي یا دوه ایوانی، د ملک سرکاري ژبه به څه وي، د ملک صوبےبه څومره وي، د مقننه ارکان او د کابینه افراد به څومره وي. دا خبري اسلام د امت اجتماعي مشورو ته پریښي.

پارلیمنټ دوه قسمه قانون سازي نه شي کولي او یو قسم کولي شي

په موجوده ملکونو کښ په عام طور د قانون سازي ټول کار پارلیمنټ کوي بیا چه کله پارلیمنټ کوم قانون منظور کړي نو صرف د خانه پوري دپاره صدر مملکت یا بادشاه ته لیږلي شي او هغه پدے دستخط کوي او که د کوم قانون سره ئے کوم اهم اختلاف وي نو هغه زیات نه زیات د دوباره غور او سوچ دپاره پارلیمنټ ته لیږي او کچري پارلیمنټ د نظرثاني نه روستو هم په خپله راي قائم وي نو صدر یا بادشاه په دستخط کولو مجبوروي.

بهر حال هر څه دپارلیمنټ په لاس کښ وي. حالانکے د مخکښ نه معلومه شوه چه پارلیمنټ دوه قسمه قانون سازي نه شي کولي او یو قسم قانون سازي کولي شي.

په بل تعبیر د قرآن او سنت د حکمونو په مقابله کښ پارلیمنټ قانون سازي نشي کولي که هغه صریحي حکمونه وي او که اجتهادي او چه کوم حکمونه یا کوم انتظامي امورپه قرآن و سنت او شریعت کښ نه وي او مباح کارونه وي نو په هغے کښ

قانون سازي کولی شي خو چه په کوم جزئیه کښ یا په کوم خاص خبره کښ د قرآن او سنت خلاف نه وي۔ په هره معامله کښ د هغه معاملې د ماهرینو راي له اعتباروي نو دغه رنګي د قرآن او سنت د فهم معامله هم د قرآن او سنت د ماهرینو سره تعلق لري۔

په موجوده دور کښ دا کار هم غلط دے چه صدر مملکت یا بادشاه د پارلیمنټ په هر منظور شوي قانون مجبورا دستخط کوي، لکه ملکه وکټوریه ویلي وو چه ماته دا خبره غلطه ښکاري لکن دستخط کوم۔

حکم بغیر ما انزل الله

یعني وېه وضعي قوانینو او د جاهلیت په زړو رسمونو رواجونو فیصلې کول او د دے په حرمت دیارلس دلائل :

اول دلیل

الله تعالي واي:

فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى (البقرة:۲۵۶)

پدے آیت کښ د ایمان دپاره کفر بالطاغوت شرط کړي او په طاغوت کښ هر هغه څوک هم راځي چه هغه حکم بغیر ما انزل الله کوي۔ نو معلومه شوه چه د ما انزل الله نه په غیر په وضعي قوانینو او د جاهلیت په رسمونو فیصلې کول حرام دي۔

د طاغوت اصطلاحي تعریف یعني معني

علامه عبدالرحمن بن حسن رحمه الله په فتح المجید ص:۴۴ کښ او ابن عثیمین په القول المفید ص:۲۳ او ص:۸ ج:۲ کښ واي چه ډیر جامعه معني ابن قیم رحمه الله په اعلام الموقعین ص:۵۰ کښ ذکر کړي:

والطاغوت کل ماتجاوز به العبد حده من معبود او متبوع او مطاع

طاغوت هر هغه شي ته واي چه بنده پکښ د خپل حد او اندازي نه تجاوز وکړي که هغه معبود وي (لکه بتان یا نور معبودان باطله) او که متبوع وي (لکه ساحران کاهنان ناکاره ملیان) او که مطاع وي (لکه ناکاره حکمرانان)۔

اوس دي دریواړو ته طاغوت ځکه واي چه د دے معبود په عبادت کښ یا د دے متبوع په تابعداري کښ یا ددے مطاع په طاعت کښ د حد نه تجاوز وشو۔

د طواغیتو مشران پینځه دي

شیخ محمد بن عبد الوهاب رحمه الله واي چه طواغیت ډیر دي خو مشران ئے پینځه دي:

۱۔ ابلیس لعنه الله

۲۔ هر هغه معبود من دون الله چه په خپل عبادت راضي وي۔

۳۔ هر هغه څوک چه خپل عبادت ته خلق رابلي۔

۴۔ هر هغه څوک چه دعوه د علم غیب کوي۔

۵۔ هر هغه څوک چه حکم بغير ما انزل الله کوي۔ (انظر مجموع الفتاوي لابن عثيمين ص:١٥٦ ج:٦)

بهرحال د دغه مذکوره آيت نه معلومه شوه چه کفر بالطاغوت فرض دے او حکم بغير ما انزل الله حرام دے۔

دويم دليل

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ (النساء:٦٠)

ابن کثير رحمه الله واي حاصل ئے دا دے چه د طاغوت نه مراد هر هغه څوک دے چه د قرآن او سنت نه علاوه په بل شي فيصلے کوي۔ (ابن کثير ص:١٣٨ ج:٣)

علامه سعدي په تيسير الکريم الرحمن ص:١٩٨ کښ واي:

كل من حكم بغير شرع الله فهو طاغوت

چه د شريعت نه علاوه په بل شي فيصلے کوي نو هغه طاغوت دے

او واي چه ايمان او د شريعت نه علاوه په بل قانون فيصلے کول دواړه نه جمع کيږي۔

دريم دليل

وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ (النحل:٣٦)

علامه ابن باز رحمه الله واي چه د الله تعالي عبادت کونکي هغه څوک دے چه هغه الله تعالي ته عاجزي کوي۔ دهغه اطاعت کوي دهغه په وحي فيصله کوي او د طاغوت عبادت کونکي هغه څوک دے چه هغه غير الله ته عاجزي کوي او د شريعت نه علاوه په بل شي فيصله کوي او د لااله الا الله تقاضي دا ده چه طاغوت ته به فيصله نه وړي۔

څلورم دليل

فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ (النساء:٥٩)

ابن کثير رحمه الله واي:

من لم يتحاكم في مجال النزاع الي الكتاب والسنة ولا يرجع اليهما في ذالك فليس مؤمنا بالله ولا باليوم الآخر **(تفسير ابن کثير ص:١٣٧ ج:٣)**

څوک چه په لانجو کښ په قرآن او سنت فيصله نه کوي نو د ده ايمان په الله او قيامت نشته

يعني د ايمان بالله او د ايمان بالقيامة تقاضي دا ده چه په هره لانجه کښ به فيصله په قرآن او سنت کوي۔

علامه سعدي واي:

فالرد اليهما شرط الايمان (تيسير الكريم الرحمن ص:١٩٨)

دايمان شرط دا دے چه فيصله به په قرآن او سنت کوي۔

علامه شنقيطي رحمه الله واي:

لان الكفر بالطاغوت شرط في الايمان بالله او ركن منه كما هو صريح قوله فمن يكفر بالطاغوت **(تفسير اضواء البيان ص:۳۹۵ ج:۱)**

يعني کفربالطاغوت د ايمان شرط يا رکن دے لکه دا خبره پدے آيت کښ صراحة ذکر شوي چه فمن يکفر بالطاغوت۔

پينځم دليل

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا **(النساء: ٦٥)**

علامه سعدي رحمه الله واي:

فمن ترك هذا التحكيم المذكور غير ملتزم له فهو كافر ومن تركه مع التزامه فله حكم امثاله من العاصين **(تيسير الكريم الرحمن ص:۲۹۹)**

څوک چه په پيغمبر فيصله نه کوي او په پيغمبر فيصله کول لازم هم نه ګڼړي نو دا کافر کيږي او چه څوک په پيغمبر فيصله نه کوي لکن په پيغمبر فيصله کول لازم ګڼړي نو دا د نورو ګنهګارانو په شان ګنهګار دے۔

شپږم دليل

وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ ، الظَّالِمُونَ ،الْفَاسِقُونَ **(المائدة:٤٧،٤٥،٤٤)**

علامه شنقيطي رحمه الله واي چه د کفر، ظلم، فسق نه کله مراد معصيت وي او کله مراد هغه کفر وي چه د ملت نه خارجونکي وي۔ وس چه يو سړي په ماانزل الله فيصله نه کوي، پدے حيثيت چه د انبياءُ مقابله کوي د الله تعالي حکمونه باطلوي نو دا ظلم فسق اوکفر، هغه کفردے چه انسان ہے د ملت نه خارجيږي۔ اوکه يو سړي په ماانزل الله فيصله نه کوي او دائے عقيده وي چه دا ځه حرام کارکوم نو دا کفر، ظلم، فسق د ملت نه خارجول نه کوي۔ (اضواء البيان ص:۱۰۳ ج:۱)

اووم دليل

وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ (المائدة:۴۹)

اتم دليل

أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ (المائدة:۵۰)

ابن کثير رحمه الله په ص:۲۵۱ ج:۵ کښ واي چه څوک د تاتاريانو په شان د ځان نه قانون جوړ کړي او هغه په قرآن او سنت مخکښ کوي نو فهو کافر يجب قتاله دا کافر دے قتال ورسره فرض دے لکه د پاکستان قانون يا مروجه جمهوري نظام ۔

نهم دليل

وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ (الشوري:١٠)

علامه شنقيطي رحمه الله واي چه شرک في الحکم په شان د شرک في العبادة دے، ځکه الله تعالي واي:

وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا (الکهف:٢٦)

او په قرائت د ابن عامر رحمه الله کښې صيغه د نهي راځي ولاتشرك فى حكمه احدا او د شرک في العبادة په باره کښې واي وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا (الکهف:١١٠) نو معلومه شوه چه شرک في الحکم او في العبادة دواړه يو شي دے۔ (اضواء البيان ص:١٦١ ج:١٠)

لسم دليل

أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُمْ مِنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ (الشوري:٢١)

علامه سعدي رحمه الله واي:

من الشرك والبدع تحريم ما احل الله وتحليل ما حرم الله ونحو ذالك ما اقتضته اهواؤهم (تفسير تيسير الكريم الرحمن)

يعني د شرعو لهم من الدين نه مراد د دوي شرکيات بدعات او تحريم د حلالو او تحليل د حرامو دے په خپل خواهشاتو سره۔

يو لسم دليل

اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ (التوبة:٣١)

پدے آيت کښې د نصاري وو په باره کښې واي چه دوي د خپلو مليانو او پير انو نه خدايان جوړکړيو۔ د دے وجه په حديث د عدي بن حاتم رضي الله عنه کښې راځي چه مليانو او پير انو به حلالو ته حرام اويل نو نصاري و به هغه حرام ګڼړل يا به هغوي حرامو ته حلال ويل نو دوي به حلال ګڼړل فتلك عبادتهم نو دا د مليانو او پير انو عبادت دے۔ دغه رنګي ابن کثير رحمه الله د حذيفه بن اليمان او عبد الله بن عباس او نورو صحابو نه نقل کوي چه اتبعوهم فيما حللو و حرموا نصاري وو په تحليل تحريم کښې د مليانو او پير انو تابعداري کوله نو په دے وجه ئے مليانو او پير انو ته د دوي خدايان اويل۔

د دے مثال دا دے لکه نن صبا جمهوري نظام منل چه په دغه نظام کښې تحليل د حرامو او تحريم د حلالو دے۔ نو دغه د جمهوريت مشران د نورو خلقو دپاره خدايان وګرځيدل۔

پدے مسئله شيخ محمد بن عبد الوهاب په کتاب التوحيد کښې باب ذکرکړي چه باب من اطاع العلماء والامراء في تحريم ما احل الله او تحليل ما حرم الله فقد اتخذهم اربابا من دون الله۔ يعني هر څوک چه د علماء او حکمر انانو طاعت به تحليل او تحريم کښې وکړي نو دغه اطاعت کونکي د دغه علماء او حکمر انانو نه خدايان جوړکړل۔

عبد الله بن عباس رضي الله عنه واي: يو شك ان تنزل عليكم حجارة من السماء اقول قال رسول الله صلي الله عليه وسلم وتقولون قال ابوبكر و عمر (مجموع الفتاوي ص:٢١٥ ج:٢٠ و زاد المعاد ص:١٩٥ ج:٢)

نزدي ده چه په تاسو د کاڼرو باران وشي ځکه څه و ايم چه رسول الله داخبره کړي او تاسو وايوي چه ابوبکر او عمر رضي الله عنهما داسي واي.

فائده:

هر کله چه د رسول الله صلي الله عليه وسلم د قول په مقابله کښ د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما خبري له اعتبار نشته نو موجوده خودساخته او فرسوده نظامونو له به څه اعتبار وي.

دو لسم دليل په حديث د ابو امامه باهلي رضي الله عنه کښ راځي رسول الله صلي الله عليه وسلم واي: **لتنقضن عري الاسلام عروة عروة** (الحديث) خامخا سپړودل کيږي به کړئ د اسلام (يعني حدود احکام او امر نواهي) (النهاية في غريب الحديث لابن الاثير ص:۱۹۰ ج:۲) عروة عروة يوه يوه کړي (يعني پرلپسي او يو شيئ روستو د بل شي نه) واولهن نقضا الحکم اول به قضا او شريعت ماتيږي.

علامه خطابي واي چه يوه يوه کړي او حکم به پريږدي تردي چه د ملت نه به خارج شي او په کفر کښ به داخل شي (عون المعبود ص:۱۸۰ ج:۲)

شيخ سعيد بن علي القحطاني به الطاغوت ص:۳۵ کښ واي چه نن صبا دټول براي نام اسلامي ملکونو دا حال دے چه شرعي نظام نشته.

ديارلسم دليل

اجماع د امت ده لکه شيخ سعيد بن علي القحطاني په الطاغوت ص:۴۰ کښ واي چه د ټولو علماء پدے اجماع ده چه په وضعي قوانينو او د جاهليت په هغه رواجونو چه هغه د قرآن او سنت نه خلاف وي فيصله کول حرام دے او چه څوک دا کار کوي نو دا لوي منکر دے لوي جرم دے ښکاره ګناه ده او د حق نه لري ګمراهي ده.

د الله تعالي د بندګانو دپاره شرعي نظام کافي شافي دے او پينځه ضروريات

د بندګانو د ګټو او فائدو دپاره او د دوي د ضرورتونو دپوره کيدو دپاره د الله تعالي شريعت او نظام کافي شافي دے. بل قانون او نظام ته هيڅ ضرورت نه لري، ځکه د الله تعالي نظام مکمل نظام دے، هيڅ قسم نيمګړتيا پکښ نشته، الله تعالي واي:

اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي (المائده:۳)

او د الله تعالي په نظام کښ د هر ضروري څيزونو بيان:

وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ (النحل:۸۹)

حفاظت د پينځه ضرورياتو

هر انسان د پينځه ضرورتونو حفاظت ته ضرورت لري چه دا پينځه څيزونه دِ محفوظ وي:

۱ـ حفاظت د دين

۲- حفاظت د نفس

۳- حفاظت د عقل

۴- حفاظت د نسب او عزت

۵- حفاظت د مال

او زمونږ په دین کښې د دے ټولو حفاظت شوے- هر بنده اول حفاظت د دین ته ضرورت لري چه د ده دین محفوظ وي د دین حفاظت الله تعالي په مختلفو طریقو کړي:

۱- الله تعالي علم فرض کړي لکه:

فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طَائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ **(التوبة:۱۲۲)**

۲- په مشکلو مسئلو کښې الله تعالي د علماء نه تپوس کول فرض کړي، لکه:

فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ **(النحل:۴۳)**

۳- الله تعالي امیر او خلیفه مقرر کول فرض کړي او په خلیفه اول فرض دا دي چه د دین حفاظت به کوي لکه:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ **(النساء:۵۹)**

۴- الله تعالي دین ته دعوت ورکول فرض کړي، لکه:

ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ (النحل:۱۲۵)

۵- الله تعالي امر بالمعروف او نهي عن المنکر فرض کړي، لکه:

وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ **(ال عمران:۱۰۴)**

۶- الله تعالي د دین د خورولو او د بلندي دپاره جهاد او قتال فرض کړي، لکه:

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ **(الانفال:۳۹)**

۷- دغه رنګي الله تعالي د خوارجو او باغیانو سره قتال فرض کړي، لکه:

وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا (الحجرات:۹)

۸- الله تعالي د ولاء او براء دپاره اصول او قواعد مقرر کړي، د دے دپاره چه مسلمان د کار او منافق سره خلط نه کوي او د مسلمان دین خراب نه کړي، لکه:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِنْ دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ (ال عمران:۱۱۸)

۹- چه څوک د دین نه مرتد شي هغه له به سزا ورکولي شي، لکه:

وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ (ال عمران:۸۵)

او په حدیث کښ راځي:

من بدل دينه فاقتلوه (بخاري و مسلم)

۱۰- د ګنهګارو دپاره الله تعالي د توبې دروازه کولاء کړي د غرغرې پوري، لکه:

إِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللَّهِ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السُّوءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ يَتُوبُونَ مِنْ قَرِيبٍ (النساء:۱۷)

حفاظت د نفس

دویم ضرورت حفاظت د نفس ته دے چه د بنده بدن دِ محفوظ وي، د نفس حفاظت هم الله تعالي په مختلفو طریقو کړي:

۱- الله تعالي قصاص مقرر کړي، لکه:

وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (البقرة:۱۷۹)

۲- په قتل خطاء کښ الله تعالي دیت مقرر کړي، لکه:

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَأً وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ (النساء:۹۲)

۳- د ساعي بالفساد دپاره الله تعالي حد مقرر کړي:

إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ (المائدة:۳۳)

۴- د مرضونو علاج الله تعالي مباح ګرځولي، لکه:

يَخْرُجُ مِنْ بُطُونِهَا شَرَابٌ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ (النحل:۶۹)

۵- خودکشي الله تعالي حرام کړي، لکه:

وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ (النساء:۲۹)

۶- الله تعالي هر هغه شي حرام کړي چه د بدن صحت ته ضرور رسوي، لکه:

وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ (البقرة:۲۲۲)

حفاظت د عقل:

دریم ضرورت حفاظت د عقل ته دے، نو د عقل د حفاظت دپاره الله تعالي شراب او نشه حرام کړي، لکه:

إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ (المائدة:۹۰)

حفاظت د نسب او عزت

ځلورم ضرورت حفاظت د نسب او عزت ته دے۔ د نسب او عزت د حفاظت دپاره هم الله تعالي مختلف حکمونه رالیږلي، مثلا:

۱۔ الله تعالي زناء حرام کړي، وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا (الاسراء:۳۲)

۲۔ د زناء کاردپاره الله تعالي حد مقرر کړي، الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ (النور:۲)

۳۔ د زناکاري ټولي لاري الله تعالي بندي کړي، لکه الله تعالي په نکاح امر کړي، لکه فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ (النساء:۳)

۴۔ چه کله سړي په ځان د زناء نه یریږي نو د وینځي نکاح ئے جائز کړي، لکه ذَلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ (النساء:۲۵)

۵۔ په زنانو الله تعالي پرده فرض کړي، لکه يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ (الاحزاب:۵۹)

۶۔ الله تعالي خپل نظر ښکته کول او د خپل عورت حفاظت کول فرض کړي، لکه قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ (النور:۳۰، ۳۱)

۷۔ په طلاقو شوو او متوفي عنها زوجها زنانو الله تعالي عدت فرض کړي، د دے دپاره چه نسب محفوظ شي او د يو سړي نطفه د بل سړي د نطفے سره ګډه نشي۔ وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ (البقرة:۲۲۸) او وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا (البقرة:۲۳۴)

۸۔ حد قذف الله تعالي مقرر کړي، لکه وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً (النور:۴)

۹۔ بدګماني، جاسوسي، غیبت یو بل په ناکاره نومونو یادول الله تعالي حرام کړي، لکه يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا (الحجرات:۱۲)

حفاظت د مال:

شپږم ضرورت حفاظت د مال ته دے چه د بنده مال محفوظ وي، د مال حفاظت هم الله تعالي په مختلفو طریقو کړي:

۱۔ په شریعت کښ د غل نه لاس کټ کول فرض کړي، لکه وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا (المائدة:۳۸)

۲۔ سود او د سود لاري الله تعالي حرام کړي، لکه يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً (ال عمران:۱۳۰)

۳۔ شریعت منع کړي چه د يو بل مالونه په ناروا طریقو مه خوري، لکه وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ (البقرة:۱۸۸)

۴- د يتيمانانو د مالونو حفاظت الله تعالي فرض کړي، لکه وَآتُوا الْيَتَامَى أَمْوَالَهُمْ وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيثَ بِالطَّيِّبِ (النساء:٢)

۵- د قرضونو او معاملاتو ليکل الله تعالي فرض کړي، لکه يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَى أَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوهُ (البقرة:٢٨٢)

۶- بې ځايه مال لګول الله تعالي حرام کړي، لکه وَلَا تُسْرِفُوا (الانعام:١٤١) او وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا (الاسراء:٢٦)

۷- بې وقوفه کسانو ته مالونه مه حواله کوي، وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمُ الَّتِي جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَامًا (النساء:۵)

۸- ميراث ورکول الله تعالي فرض کړي، لکه يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنثَيَيْنِ (النساء:١١)

۹- زکوة ورکول الله تعالي فرض کړي چه غريبان غلا ته محتاجه نشي، واتوا الزکوة- دغه رنګي انفاق الله تعالي فرض کړي، لکه وَأَنفِقُوا مِمَّا جَعَلَكُم مُّسْتَخْلَفِينَ فِيهِ (الحديد:٧)

په شرعي نظام او په ماانزل الله د فيصلو کولو فائدے

د الله تعالي په نظام او په ما انزل الله د فيصلو کولو ډيري فائدي دي، مثلا:

١- دا حق دے هدايت دے، صراط مستقيم دے، لکه فَهَدَى اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا لِمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِهِ (البقرة:٢١٣)

٢- پديکښ د بنده ګانو د ټولو اختلافاتو حل دے، فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ (النساء:۵٩) او وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِن شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ (الشوري:١٠)

٣- دا خير دے

۴- او ښائسته کار دے په اعتبار د انجام سره، لکه ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا (النساء:۵٩)

۵- دا سبب دے د قبوليت د توبې

۶- دا سبب د رحمت دے، لکه وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوا أَنفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا (النساء:۶۴)

٧- دا معيار او علامه د ايمان ده، لکه فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا (النساء:۶۵)

٨- دا سبب د مضبوطوالي د ايمان دے، لکه وَلَوْ أَنَّهُمْ فَعَلُوا مَا يُوعَظُونَ بِهِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَشَدَّ تَثْبِيتًا (النساء:۶۶)

٩- دا سبب د لوي اجر دے، لکه وَإِذًا لَّآتَيْنَاهُم مِّن لَّدُنَّا أَجْرًا عَظِيمًا (النساء:۶٧)

١٠- سبب د صراط مستقيم دے، وَلَهَدَيْنَاهُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا (النساء:۶٨)

۱۱ـ سبب د ملګرتیا د منعم علیهم دے، **وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ** (النساء:۶۹)

۱۲ـ د الله تعالي فیصله ډیر ښائسته فیصله ده یعني سبب د ښائست دے، **وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ** (المائدة:۵۰)

۱۳ـ د دے انتخاب الله تعالي کړي نو د الله تعالي د انتخاب خوښول دي، لکه **وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا** (المائدة:۳)

۱۴ـ دا سبب د انصاف دے، لکه **وَمِنْ قَوْمِ مُوسَىٰ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِ يَعْدِلُونَ** (الاعراف:۱۵۹)

۱۵ـ دا تقاضي د ربوبیت ده نو د الله تعالي په ربوبیت راضي کیدل دي، **ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبِّي عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ** (الشوري:۱۰)

په وضعي او خود ساخته قوانینو د فیصلو کولو نقصانونه

په وضعي قوانینو د فیصلو کولو ډیر نقصانونه دي، مثلا:

۱ـ دا سبب د تیارو دے، لکه **وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَوْلِيَاؤُهُمُ الطَّاغُوتُ يُخْرِجُونَهُمْ مِنَ النُّورِ إِلَى الظُّلُمَاتِ** (البقرة:۲۵۷)

۲ـ دا سبب د تاوان دے، لکه **وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ** (ال عمران:۸۵)

۳ـ دا تحاکم الي الطاغوت دے، لکه **يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ** (النساء:۶۰)

۴ـ دا سبب د کفر دے، **وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ** (المائدة:۴۳)

۵ـ دا سبب د ظلم دے، **وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ** (المائدة:۴۴)

۶ـ دا سبب د فسق دے، لکه **وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ** (المائدة:۴۵)

۷ـ دا د جاهلیت فیصلے دي، لکه **أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ** (المائدة:۵۰)

۸ـ دا سبب د نفاق دے، لکه **رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنْكَ صُدُودًا** (المائدة:۶۱)

۹ـ دا سبب د مصیبتونو دے په دنیا کښ، **فَكَيْفَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ثُمَّ جَاءُوكَ يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا إِحْسَانًا وَتَوْفِيقًا** (النساء:۶۲)

۱۰ـ دا سبب د ګمراهي دے، لکه **فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلَّا الضَّلَالُ** (یونس:۳۲)

۱۱ـ دا سبب د تنګوالي د ژوند دے، لکه **وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَىٰ** (طه:۱۲۴)

۱۲ـ دا خواهشات دي، لکه **وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ** (الجاثیة:۱۸)

د وضعي قوانینو په رد کښ د علماؤ، اکابرینو عبارتونه

د وضعي قوانینو نومونه

وضعي قوانین په مختلفو نومونو یادیږي۔ انساني قوانین، وضعي قوانین، ارضي قوانین، انسان خوښ کړي قانون، د عوامي خواهشاتو مظهر، آئین پاکستان، د افغانستان اساسي قانون۔

او د دغه قانون او دین په اساس حکومت کولو ته جمهوري حکومت، ډیموکریټک حکومت واي۔ د دے په رد کښ د علماء عبارتونه۔

1۔ د شیخ الاسلام ابن تیمیہؒ قول:

''وَلَا رَيْبَ أَنَّ مَنْ لَمْ يَعْتَقِدْ وُجُوبَ الْحُكْمِ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ فَهُوَ كَافِرٌ، فَمَنِ اسْتَحَلَّ أَنْ يَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا يَرَاهُ هُوَ عَدْلًا مِنْ غَيْرِ اتِّبَاعٍ لِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَهُوَ كَافِرٌ؛ فَإِنَّهُ مَا مِنْ أُمَّةٍ إِلَّا وَهِيَ تَأْمُرُ بِالْحُكْمِ بِالْعَدْلِ، وَقَدْ يَكُونُ الْعَدْلُ فِي دِينِهَا مَا رَآهُ أَكَابِرُهُمْ، بَلْ كَثِيرٌ مِنَ الْمُنْتَسِبِينَ إِلَى الْإِسْلَامِ يَحْكُمُونَ بِعَادَاتِهِمُ الَّتِي لَمْ يُنْزِلْهَا اللَّهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى، كَسَوَالِفِ الْبَادِيَةِ، وَكَأَوَامِرِ الْمُطَاعِينَ فِيهِمْ، وَيَرَوْنَ أَنَّ هَذَا هُوَ الَّذِي يَنْبَغِي الْحُكْمُ بِهِ دُونَ الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ.

وَهَذَا هُوَ الْكُفْرُ، فَإِنَّ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ أَسْلَمُوا، وَلَكِنْ مَعَ هَذَا لَا يَحْكُمُونَ إِلَّا بِالْعَادَاتِ الْجَارِيَةِ لَهُمُ الَّتِي يَأْمُرُ بِهَا الْمُطَاعُونَ، فَهَؤُلَاءِ إِذَا عَرَفُوا أَنَّهُ لَا يَجُوزُ الْحُكْمُ إِلَّا بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَلَمْ يَلْتَزِمُوا ذَلِكَ، بَلِ اسْتَحَلُّوا أَنْ يَحْكُمُوا بِخِلَافِ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَهُمْ كُفَّارٌ ''

(منهاج السنه النبویه: ج:۵،ص:۱۳۰)

"او هیڅ شک نشته په دے خبره کښ چه یقینا هر هغه څوک چه د الله په نازل کړده نظام باندے فیصله واجب نه ګڼړي نو هغه کافر دئ، پس څوک چه حلال اوګڼړي فیصله کول په مابین د خلقو کښ په هر هغه قانون چه عدل ئے وېني بغیر د دینه چه هغه د نازل کړده قانون الهي اتباع اوکړي نو دا سړے کافر دئ ؛ ځکه چه هر یوامت په عدل سره په فیصله کولو باندے امر کوي ، او کله عدل د هغوي په دین کښ هغه وي کوم ته چه د هغوي مشرانو اکابرینو عدل وئیلے وي، بلکه ډیر اسلام ته نسبت کوونکي خلق شته چه هغوي د خپلو رواجونو په بنیاد داسي فیصلے کوي چه الله تعالي د طرفه نازل شوي نه وي، لکه تیر پلار نیکه د کلو بانړو والاو خبرے، او لکه د هغوي د مشرانو امرونه ، او هغوي دا عقیده لري چه فیصله هم په دے پکارده نه په کتاب الله او سنت رسول سره۔ او هم دغه کفر دئ ؛ پس ډیر خلق داسي دي چه هغوي اسلام قبول کړے دے ، لیکن سره دهغے صرف او صرف په خپلو هغه عاداتو او رواجونو فیصلے کوي د کومو امر چه ورته د هغوي مشران کوي؛ پس دے خلقو چه کله دا خبره اوپیژندله چه د الله د نازل کړي قانون نه علاوه په بل قانون فیصله جائز نه ده او د هغے التزام ئے اونه کړو، بلکه د الله د نازل کړده قانون نه خلاف ئے په بل قانون فیصله حلال اوګڼړله نو دوي کافران دي "

دغه شان فرمائي:

'' وَأَمَّا مَنْ كَانَ مُلْتَزِمًا لِحُكْمِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ بَاطِنًا وَظَاهِرًا، لَكِنْ عَصَى وَاتَّبَعَ هَوَاهُ، فَهَذَا بِمَنْزِلَةِ أَمْثَالِهِ مِنَ الْعُصَاةِ''. (منهاج السنه:۔ ج:۵،ص:۱۳۱)

"او هر هغه څوک چه التزام کوي د الله او دهغه د رسول د فیصلے د زړه نه او په ښکاره ،لکن نافرماني اوکړي او د خپل خواهش اتباع اوکړي ، نو دا هم د نورو ګناهګار انو په شان ګناهګار دئ"۔

2۔ علامه ابن القیمؒ:

والصحیح: أن الحکم بغیر ما أنزل الله یتناول الکفرین الأصغر والأکبر بحسب حال الحاکم فإنه إن اعتقد وجوب الحکم بما أنزل الله في هذه الواقعة وعدل عنه عصیانا مع اعترافه بأنه مستحق للعقوبة فهذا کفر أصغر وإن اعتقد أنه غیر واجب وأنه مخیر فیه مع تیقنه أنه حکم الله تعالى فهذا کفر أکبر وإن جهله وأخطأه: فهذا مخطیء له حکم المخطئین.

(مدارج السالکین:ج:۹،ص:۲۲۹،۲۲۸)

"او صحیح خبره دا ده چه د الله تعالي د نازل کړي قانون نه علاوه په بل نظام فیصله کول دا دواړه قسم کفر ته شامل دئ وړوکي کفر ته او غټ کفر ته د فیصله کونکي د حال مطابق،پس که چرے فیصله کونکي دا عقیده لرله چه د الله قانون ته فیصله وړل واجب دي په دے مسئله کښ او د هغے نه عصیانا بل خواه ته وګرځیدلو سره د دے اعتر افه چه هغه د سزا مستحق دئ په دے کار نو دا وړوکے کفر (کفر اصغر) دئ او که چرے دا عقیده ئے وه چه شرعي نظام ته فیصله وړل وربانده ضروري نه دي او زه پکښ اختیارمند یم سره د دے چه دهغه د ایقین وي چه دا د الله تعالي حکم دئ نو دا غټ کفر دئ، او که چرے د الله حکم نه جاهله وو یا پکښ خطا شو نو: دا سړے خطا کاردي او د خطاکارو په حکم کښ دئ"

3۔ علامه ابن کثیرؒ:

د {إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ} په تفسیر کښ فرمائي:"فَدَلَّ عَلَى أَنَّ مَنْ لَمْ يَتَحَاكَمْ فِي مَجَالِ النِّزَاعِ إِلَى الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ وَلَا يَرْجِعْ إِلَيْهِمَا فِي ذَلِكَ، فَلَيْسَ مُؤْمِنًا بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ". (تفسیر ابن کثیر:ج: ۲،ص:۳۴۵،۴۶)

" پس دا آیت دلالت کوي پدے باندے چه هر هغه څوک چه په وخت د جګړه کښ فیصله د الله کتاب او د پیغمبر سنت ته نه وړي او رجوع ورته نه کوي نو هغه په الله او ورځ د آخرت باندے ایمان نه لري"

4۔ محمد بن عبدالوهابؒ فرمائي:

" وَالطَّوَاغِيتُ كَثِيرُونَ، ورءوسهم خَمْسَةٌ: إِبْلِيسُ لَعَنَهُ اللهُ، وَمَنْ عُبِدَ وَهُوَ رَاضٍ، وَمَنْ دَعَا النَّاسَ إِلَى عِبَادَةِ نَفْسِهِ، وَمَنِ ادَّعَى شَيْئًا مِنْ عِلْمِ الْغَيْبِ، وَمَنْ حَكَمَ بِغَيْرِ مَا أَنْزَلَ اللهُ" (شرح ثلاثه الاصول لخالد المصلح:ج:۹،ص:۶)

"طاغوتیان ډیر دي ، او سرونه ئے پنځه دي : ابلیس ملعون ، او هغه څوک چه عبادت ئے کیږي او وربانده راضي وي ، او هغه څوک چه خلق د خپل ځان عبادت ته دعوت کوي ، او څوک چه د علم غیب دعوه کوي، او څوک چه د الله د نازل کړي قانون نه علاوه په بل قانون فیصله کوي"۔

5۔ امام شوکاني رحمه الله:

امام شوکانيؒ په خپله زمانه کښ په یمن کښ د دین د ناشنائي متعلق فرمائي پس د بیان د ضائع کولو د هغوي شعائر دین لره:

(منها): أنهم يحكمون بالطاغوت ، ويتحاكمون إلى من يعرف الأحكام الطاغوتية منهم، في جميع الأمور التي تنوبهم وتعرض لهم، من غير إنكار ولا حياء من الله ولا من عباده، ولا مخافة من أحد، بل قد يحكمون بذلك بين من يقدرون على الوصول إليه من الرعايا، ومن كان قريبا منهم، وهذا الأمر معلوم لكل أحد من الناس، لا يقدر أحد على إنكاره ودفعه، وهو أشهر من نار على علم.

ولا شك ولا ريب أن هذا كفر بالله سبحانه وبشريعته التي أنزلها على رسوله، واختارها لعباده في كتابه، وعلى لسان رسوله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ''(الفتح الرباني: ج:۱۱، ص:۵۴۳۹)

"بعض د هغې نه دا دي: چه هغوي فيصله په طاغوت کوي، او هر هغه چا ته په هغه امورو کښ چه دوي ته پيش راځي فيصله وړي چه کوم څوک په دوي کښ په طاغوتي قوانينو پوهيږي ، بغير د څه انکاره او د الله او د هغه د بندګانو نه د حيا کولو نه ، او نه د چا د يرے نه ، بلکه کله فيصله کوي په دغه په مابين د هغه چا کښ چه دوي پکښ ديته د رسيدلو باندے قدرت لري چه عوام دي ، او هغه څوک چه نزدي وي دويته ، او دا خبره هر چاته معلومه ده ، هيڅوک د دي د انکار او دفع کولو قدرت نه لري ، او دا خبره ډيره مشهوره ده د هغه اور نه چه د غره په سر بليږي۔ او پديکښ څه شک شبه نشته چه دا خبره په الله تعالي او د هغه په هغه شريعت باندے کفر دئ، چه په خپل رسول ئے راليږلي ، او د خپلو بندګانو د پاره ئے خوښ کړے په خپل کتاب کښ، او د خپل رسول ﷺ په ژبه "۔

6۔ علامه سليمان بن عبدالوهابؒ د کتاب التوحيد په شرح کښ فرمائي:

د باب" قول الله تعالى الم تر إلى الذين يزعمون أنهم آمنوا بما أنزل اليك وما أنزل من قبلك يريدون أن يتحاكموا إلي الطاغوت الخ دلاندے:" فإن من عرف أن لا إله إلا الله فلا بد من الانقياد لحكم الله والتسليم لأمره الذي جاء من عنده على يد رسوله محمد صلى الله عليه وسلم فمن شهد أن لا إله إلا الله ثم عدل إلى تحكيم غير الرسول صلى الله عليه وسلم في موارد النزاع فقد كذب في شهادته (تيسير العزيز الحميد شرح كتاب التوحيد: ج:۱، ص:۴۸۰)

پس چا چه دا خبره تصديق کړه چه د الله نه ماسوا بل اله نشته نو هغه لره د الله د حکم تابعداري او د هغه د حکم کوم چه په ذريعه د نبي پاک صلي الله عليه وسلم راغلے منل ضروري دي ،پس چا چه د لااله ګواهي وکړه او بيا په وخت د اختلاف کښ د فيصلے د پاره بل طرفته لاړو نو ده په شهادت کښ تکذيب اوکړو"۔

7۔ علامه عبداللطيف بن عبدالرحمن آل الشيخ :

د دوي نه تپوس شويدئ دهغه فيصلو په باره کښ چه کلو بانډو والا وغيره ئے کوي د پلار نيکه د عاداتو په بنياد چه آيا په دوي باندے پس د وضاحته اطلاق د کفر کيديشي که نه؟ نو هغه جواب کښ فرمائي:

من تحاكم إلى غير كتاب الله، وسنة رسوله صلى الله عليه وسلم بعد التعريف، فهو كافر۔۔۔ والآيات في هذا المعنى كثيرة'' (الدرر السنيه في الاجوبه النجديه: ج:۱۰، ص:۴۲۶)

" چا چه فيصله يوړه د الله تعالي د کتاب او سنت رسول صلي الله عليه وسلم نه علاوه بل ځائے ته پس د علم نه ، نو داسي سړے کافر دئ۔۔۔ بيا ئے آياتونه ذکر کړي اوو ائي چه پدے سلسله کښ آياتونه ډيرزيات دي"۔

8۔ علامه حمد بن عتيقؒ:۔ د دے آيت په تفسير کښ فرمائي {أفحكم الجاهلية يبغون ومن أحسن من الله حكما لقوم يؤمنون}.

قلت: ومثل هؤلاء ما وقع فيه عامة البوادي ومن شابههم، من تحكيم عادات آباءهم، وما وضعه أوائلهم من الموضوعات الملعونة التي يسمونها (شرع الرفاقة) يقدمونها على كتاب الله وسنة رسوله صلى الله عليه وسلم، ومن فعل ذلك فهو كافر، يجب قتاله حتى يرجع إلى حكم الله ورسوله. (سبيل النجاة والفكاك :ج:۱،ص:۲۹)

"زه وائم :" او د دے پشان هغه خلق دي چه عام د کلو بانډو او د هغوي پشان پکښ و اقع دي ، چه د خپل پلارنیکه د رواجونو په اساس فیصلے کوي ، او کومے موضوعي د لعنت ډ کے خبرے چه د هغوي پخوانو مشرانو جوړے کړي کومو ته چه دوي "شرع الرفاقه" وائي کوم چه هغوي د الله په کتاب او د هغه د رسول صلي الله علیه وسلم په سنتو مخکښ کوي،او څوک هم چه داسي کوي نو هغه کافر دئ،د هغه سره تر هغه جنګ واجب دئ تر څو چه د الله او د هغه د رسول حکم ته راوګرځي"

9- علامه عبدالرحمن بن ناصرالسعدي:

''وكل من حاكم إلى غير حكم الله ورسوله فقد حاكم إلى الطاغوت، وإن زعم أنه مؤمن فهو كاذب.

فالإيمان لا يصح ولا يتم إلا بتحكيم الله ورسوله في أصول الدين وفروعه، وفي كل الحقوق--'' -(القول السديد شرح كتاب التوحيد:ج:۱،ص:۱۳۶)

او هر هغه څوک چه د الله او د هغه د رسول د شریعت نه علاوه بل خواه فیصله یوسي نو د طاغوت ته فیصله ویوړه ، اګر چه د هغه ګمان دا وي چه مؤمن دئ ن خوهغه دروغجن دئ، پس ایمان نه صحیح کیږي سوا د الله او د هغه رسول ته د فیصلے وړلو نه په اصولو د دین کښ او په فروعو د هغے کښ ، او هم په ټولو حقوقو کښ"

10-الامام محمد بن ابراهيم آل الشيخ مفتي الديار السعوديه:

''كل من خالف أمرالله ،و أمر رسوله ،وحكم بين الناس بغير ما أنزل الله متبعا لهواه ، و معتقدا أن الشرع لا يكفي لحل مشاكل الناس ،فهو طاغوت قد خلع ربقة الايمان من عنقه ،وإن زعم أنه مؤمن--'' (فتاوي الشيخ محمد بن أبراهيم:ج:۱۲،ص:۲۸۹)

ترجمه:- هر هغه څوک چه مخالفت ئے اوکړو د الله د حکم نه ، او د هغه د رسول د حکم نه،او د خلقو په مابین کښ ئے د الله د نازل کړي قانون نه علاوه په بل قانون د خواهش په اتباع کښ فیصله اوکړه ،او پدے عقیده چه شریعت د خلقو د مشکلاتو د حل د پاره نه کافي کیږي،نو دا سړے طاغوت دئ د د ایمان پړے د خپلے غاړے نه ویستلو ،اګرچه د ده ګمان دا وي چه مسلمان دے"

۱۱-علامه شنقیطيؒ

'' كل من اتبع تشريعا غير التشريع الذي جاء به سيد ولد آدم محمد بن عبدالله عليه الصلاه والسلام فاتباعه لذلك التشريع المخالف كفر بواح مخرج من المله الاسلاميه '' (أضواء البيان:ج:۳،ص:۴۱)

"هر هغه څوک چه د محمد صلي الله علیه وسلم راوړل شوي شریعت نه علاوه د بل تشریع او قانون اتباع ئے اوکړه ، نو د ده دغه اتباع مخالف واضح او ښکاره کفر دئ چه د ملت اسلامیه نه خارج کونکے دے"-

12۔ و سئل الداودي عن هذه المسئلة فقال خطيبهم الذي يدعو لهم يوم الجمعة كافر يقتل و لا يستتاب تحرم عليه زوجته ولا يرث ولا يورث و ماله فيئ للمسلمين ''۔

(دا د بنو عبيد كلمه ويونكي وو او مونځونه يي كول جمعه او جماعت كښې حاضريدل خو په بعض شرعي احكامو كښې بدلون راوستي وو ځكه دغه علماء كرامو په كفر او ارتداد د هغوي باندے فتوي وكړه ، بلكه هغه بعض علماء او خطيبانو ته هم كافر ووئيل چه په دغه حكومت كښې ؤسيدل او هغوي د پاره د جمعي مونځونه كول او په خطبو كي ورته دعاګاني كولي)۔ (ازكتاب شيخ دوست محمد شهيدؒ : نداء الفرسان:ص:۴۴)

تنبيه:۔ پدي فتوي كښې اګرچه سختي ده خو مونږ نفس د تائيد د پاره نقل كړه چه بعض علماؤ په دے مسئله كښې ډيره سختي هم كړے۔

د آئين پاكستان د شريعت مطهره سره يو څو واضحه تضادات

شريعت مطهره او آئين پاكستان په مينځ كښې د يو څو تضاداتو اجمال:

د دي آئين صدرپاكستان ته صوابديد اختيارات حاصل دي، هغه كه هر څه كاركوي، اګركه د شريعت مطهره سره ټكرولي نه خوري، په هيڅ يو كورټ كښې هغه لره څوك چيلنج كولي نشي، حالانكه په شريعت مطهره كښې داسي نه وي، بلكه د شريعت په چوكاټ كښې دننه كاربه كوي، ک نه وي نو مؤاخذه به ئي كيدلي شي۔

۲۔ په دي آئين كښې صدرته دا اختيارحاصل دي چه هريو مجرم اګركه قاتل ولي نه وي د ورثاؤ د مرضي نه خلاف معاف كولي شي، حالانكه داسي اختيار امير المؤمنين ته نه دي حاصل، بلكه ورثاؤ ته دا اختياردي كه د قاتل نه ديت يا قصاص اخلي اوكه هسي ئي بخي اوكه نه ئي بخي۔

۳۔ په دي آئين كښې ښځه د وطن مشره جوړيدلي شي، په خلاف د شريعت چه زنانه ته هيڅ كله هم د قوم يا وطن مشري وركول جائزنه دي۔

۴۔ په دي آئين كښې د اعلي منصب د قاضي دپاره مسلمان او عادل كيدل ضروري شرط نه دي او غيرمسلم هم قاضی جوړيدلي شي، چيف جسټس بهګوانداس د دي مثال دي او د دي برخلاف په شريعت كښې د قاضي دپاره دا شرط ضروري دي چه دي به د مسلماني سره سره عادل هم وي۔

۵۔ د سود حالت هم زمونږ په وړاندي دي، صرف كاغذي وعده كړي شوي ده چه زرترزره به دا ختم كړي شي ليكن په عدالتي سطح د سود تحفظ كولي كيږي او استيټ بينک د نورو بينكونو دپاره باقاعده د سود د شرح اعلان كوي حالانكه په شرعيت كښې د سود خورسره د الله تعالي اورسول صلي الله عليه وسلم له طرفه اعلان د جنګ شوي دي، اوس په دغه جنګ مسلمانان مكلف دي۔

۶۔ شراب څكل په اسلام كښې حرام او د ټولو بدو جرړه ګرځولي شوي ده، برخلاف د پاكستان د آئين چه د هغي لاندي ورته باقاعده پرمټ جاري كولي كيږي او د دي په اخستلو او خرڅ باندي نه څه سزا شته او نه څه تپوس پښتنه، بلكه په پارليمان كښې دننه كوم ځائي چه جمهوري حضرات قانون سازي كوي د شر ابو خالي بوتلي ميلاويږي اوكه په اسلامي ملک كښې څوک

کافر شراب څکي یائي خرڅ کوي دا دهغه خپله معامله ده لیکن په دي معامله کښ مسلمان به ورسره مرسته نه کوي او دلته ورسره آئین مددگار دي۔

۷۔ په شریعت کښ د غل سزا لاس پریکول دي، په خلاف د آئینِ پاکستان چه په هغي کښ د غل سزا زیاتونه زیاته د دریو کالو نه تر اوه کالو پوري قید دي۔

۸۔ په شریعت کښ د ناواده کړي زناکار سزا سل دري وهل دي او د واده کړي دپاره رجم (سنگسارول) دي او د پاکستان په آئین کښ د دوي سزا پینځه کاله قید او لس زره روپي جرمانه ده۔

۹۔ په شریعت کښ د بلوغت شمار د بلوغت د آثارو په ظاهري دلو او یاد جیني دپاره زیات نه زیات دولس کاله او د هلک دپاره څوارلس کاله وي او په دي آئین کښ د بلوغت شمار د اتلسو کالونه شروع کیږي که هلک وي او که جیني۔

۱۰۔ په شریعت کښ الله تعالي د میراث حصي مقرر کړي دي چه په هغي کښ هر وارث ته خپل حق ورکولي کیږي او په دي آئین کښ د دي خبري اجازت ورکړي شوي دي که چري د مرگ نه مخکښ یو کس د خپل ټول مال و متاع وصیت د یو وارث دپاره یا غیر وارث دپاره اوکړي نو هغه منلي کیږي۔

دا پوره لس دي او د دي نه علاوه نو هم ډیر دي خو عاقل لره اشاره کافي وي، کوم خلق چه آئین پاکستان ته اسلامي واي یا ئي اسلامي گڼړي، دهغوي دپاره په طور د حجت دا کافي دي انشاء الله۔

د کثرة الآراء په بنیاد د فیصلے کولو شرعي حیثیت:

یعني چه کوم طرف ته رائ ګاني ډیري وي نو په هغه فیصله کول شرعا څه حکم لري۔

په جهوریت کښ کثرة الآراء د حق او باطل بنیاد دے او هر څه پدي بنیاد کولي شي پدي باره کښ علامه اقبال ډیره ښه خبره کړي۔

جمهوریت ایک طرز حکومت ہے که جس میں بندوں کو گنا کرتے ہیں تولانهیں کرتے

یعنی په جمهوریت کښ د خلقو صفاتو ته نه گوري بلکه شمار کولي شي چه د څومره خلقو څه رائ ده۔

اوس گورو چه آیا په شریعت کښ د رائ کثرت له اعتبار شته او که نه نو دا مسئله تفصیل ته محتاجه ده ځکه پدي کښ ډیر صورتونه دي۔

اکثریت دوه قسمه دے یو د خواصو دویم د عوامو:

اول پدي خبره ځان پوهه کول پکار دي چه اکثریت دوه قسمه دي یو اکثریت د خواصو دویم اکثریت د عوامو دے۔ زمونږ بحث په اکثریت د خواصو کښ دے یعني اکثریت د هغه خلقو چه هغه په خاص صفاتو موصوف وي لکه روستو به ددوئ د صفاتو بیان راشي۔

هر چه اکثریت د عوامو دے چه داد جمهوریت اکثریت دے چه پدي کښ د خاص او عام نظر برابروي نو دا په شریعت کښ دلیل نه دے او د حق او باطل دپاره معیار نه دے او پدي ډیر نصوص دلالت کوي لکه الله تعالی وائ **وان تطع اکثر من فی الارض یضلوك عن**

سبیل الله یعني د اکثریت تابعداري کول سبب د ضلالت دے بلکه معیار د حق او باطل قرآن او سنت دے او قوت د دلیل دے خلق وای سل پاپړ او یو لوړ.

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله وائ چه نن ورځ دا ډیره عجیبه مسئله ده چه ټول خلق پدي فکرکښ دي چه حق د اکثریت والا په طرف کښ دے زمادوستانو دا خبره تر یو حده پوري صحیح ده لیکن پدي باندي پوهه ضروري ده چه مراد د رائ نه د چا رائ ده آیا د عوامو کاالانعام رائ ده که چرته مقصود د عوامو رائ شي نو بیا څه وجه ده چه هود علیه السلام د خپل قوم په رائ عمل ونکړو ټول قوم ئے په یو طرف دے او هود علیه السلام په بل طرف دے ولي توحید پري نه ښود او ولي بت پرستي اختیار نه کړه ولي ئے د اختلاف تهمت د خپل قوم سره قبول کړو وجه داوه چه دده قوم ډیر زیات جاهلان وو او د دوئ جاهلانه نظریات وو. (فضائل العلم والخشیة ص۳۰ معارف حکیم الامة ص۶۱۷)

زه و ایم چه دغه رنګي حال د ټولو انبیاء وو لکه نوح صالح ابراهیم شعیب لوط علیهم الصلوة والسلام چه ددي ټولو نه اکثریت خلاف وو نو که مطلق اکثریت او د جمهوریت اکثریت دلیل شي نو دا خو د ټولو انبیاء د عوت باطلیږي یعني جمهوریت منل د ټولو انبیاء کرامو دعوت باطلول دي.

د رائ په کثرت د فیصلے کولو مختلف صورتونه او حکمونه دي:

د رائ په کثرت د فیصلے کولو مختلف حکمونه دي که حرام وي که مباح وي که واجب وي که اولی او راجح وي څکه صورتونه پکښ مختلف دي.

په یو صورت کښ درای په کثرت فیصله کول حرام دي.

په یو صورت کښ د رائ په کثرت فیصله کول حرام دي چه کله په یو مسئله کښ شرعي حکم معلوم وي او صریحي نص موجود وئ بلکه په دغه صورت کښ رائ او مشوره اخستل یا اجتهاد او قیاس کول هم حرام دي.

مثلا شراب سود زناء حرام دي او ددي په حرمت واضحه نصوص موجود دي اوس که اکثر عوام یا پارلمان ددي کارونو اجازه ورکوي او دا کارونه حلال او روا ګڼړي نو دغه اکثریت دلیل نه دے بلکه دغه اکثریت کفر دے څکه چه څوک اتفاقي حرام حلال ګڼړي یا اتفاقي حلال حرام ګڼړي نو دا کفر دے ترديي چه یو لوئ مجتهد او لوئ امام ته هم دا حق نه دے حاصل چه هغه په یو منصوصي مسئله کښ قیاس او اجتهاد وکړي یا متبادله رائ پیش کړي، نو د عوامو یا پارلمان اکثریت ته به دا حق د کوم ځائ نه حاصل شي. په موجوده جمهوریت کښ یو نقصان دادے چه د صریحي نصوصو په مقابله کښ دوئ په اکثریت فیصله کوي دا کار نارا او لوئ جرم دے.

دلائل:

پدي خبره ډیر دلائل دي لکه الله تعالی وائ یَاأَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا بَیْنَ یَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ او الله تعالی وائ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ

دغه رنګي په مشکوة شریف کتاب الاعتصام با الکتاب والسنة کښ حدیثونه راځي.

د عائشې رضي الله عنها د بهتان په معامله کښې نبي صلی الله علیه وسلم مشوره اخستله چه کله د عائشې رضي الله عنها براءت نازل شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم مشوره پرېښودله او په تهمت لږونکو ئې حد قذف قائم کړو۔

دغه رنګي په غزوه د حدیبیه کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم د اکثریت رائ رد کړیوه ځکه هلته د الله تعالی حکم موجود وو، لکه اکرم ضیاء په عصر الخلافة الراشده ص ۹۸ کښې وائ <u>واما رده لرأي الاكثرية في غزوة الحدينية فيرجع الى امر الله له ولا اجتهاد في موضع النص ولاتقدم على امر الله</u> او هر چه دا خبره ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د صلح حدیبیه په موقعه د اکثرو صحابه کرامو په نظر عمل نه دے کړي نو د هغې وجه داده چه رسول الله صلي الله علیه وسلم ته الله تعالی د صلح حکم کړیو او د نص په ځائ کښې اجتهاد نه شي کیدے او نه د الله تعالی په حکم د بل چا خبره مخکښې کیدے شي۔

په دویم صورت کښې د رائ په کثرت فیصله کول مباح دي:

دویم صورت دادی چه په قرآن او سنت کښې مانع نه وي موجود نو په اکثریت فیصله کول مباح دي لکه اکرم ضیاء په الخلافة الرشد ص ۹۸ کښې وائ <u>ومادام لم يرد ما يمنع من الاخذ برأي الاكثرية في الكتاب والسنة فهو امر مباح</u> ترڅو چه په قرآن او حدیث کښې داسي دلیل موجود نه وي چه هغه د اکثریت په رائ د عمل کولو دپاره مانع وي نو په اکثریت عمل کول مباح دي۔

د رائ ګانو په اکثریت د فیصلې کولو مثالونه:

۱۔ د بدر د قیدیانو په باره کښې د اکثرو رائ دا وه چه د دوئ نه دِ فدیه واخستلې شي رسول الله صلی الله علیه وسلم په اکثریت فیصله وکړه۔

۲۔ د احد په جنګ کښې د اکثرو رائ داوه چه د مشرکینو سره جنګ ته بهر ته اوزو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د رایو په اکثریت فیصله وکړه۔

۳۔ د طائف د محاصري په وخت هم رسول الله صلی الله علیه وسلم په اکثریت د رایو عمل وکړو ځکه نبي صلی الله علیه وسلم اراده وکړه چه د طائف محاصره ختمه کړي خود مسلمانانو رائ دا وه چه دافتحه شي نو نبي صلی الله علیه وسلم دا خبره صبا ته روستو کړه تردي چه صحابه کرام د محاصري په ختمولو راضي شو۔

فائده:

د اُحد او د طائف په واقعه کښې نبي صلی الله علیه وسلم خپله رائ او خپل واک او اختیار پرېښي او د اکثریت په رائ فیصله کړي۔

په دریم صورت کښې دا رائ ګانو په کثرت فیصله کول واجب دي:

لکه اکرم ضیاء په الخلافة الراشده ص ۹۸ کښې وائ:

<u>اذاً يتحول الامر الى واجب اذا تعلقت مصالح الامة به واذا افضي تركه الى حدوث مفاسد عامة كا الاستبداد او اضطراب الامن بسب تفرق آراء الناس وعدم مراعاتها</u>

کله د مباح په ځائ په اکثریت فیصله کول واجب ګرځي چه کله په اکثریت باندي په فیصله کولو کښ عمومي مصلحت وي او یا په اکثریت فیصله نه کول عمومي فساد ته مفضي کیږي لکه امیر او حاکم خود سره شي او یا د خلقو د نظرونو دنه منلو په وجه په خلقو کښ او امن کښ اضطراب او ګډ وډي راځي۔

حاصل دا شو چه په دوه صورتونو کښ په اکثریت فیصله کول واجب کیږي یو دا چه په اکثریت په فیصله کولو کښ عمومي مصلحت وي ځکه د یو مباح عمل سره چه کله د امت مصلح مربوط شي نو دا واجب ګرځي۔

دویم داچه په اکثریت په فیصله نه کولو کښ عمومي فساد راځي مثلا امیر او حاکم خو دسره کیږي یا امن خرابیږي پدي وجه چه د عمومي رائ ګانو خیالي ونه ساتلي شي۔

د خلفاء راشدینو په دورکښ د رائ په کثرت د فیصلے کولو مثالونه:

۱۔د ابو بکر رضي الله عنه ټاکنه په سقیفه د بنو ساعده کښ د رائ په اکثریت شویوه د بعض بنوهاشمو او په انصارو کښ د سعد بن معاذ رضي الله عنه رائ دَده په حق کښ نه وه۔

۲۔ د عمر رضي الله عنه ټاکنه هم د شورى او د رائ په اکثریت شویوه۔

۳۔ حضرت عمر رضي الله عنه چه د خپل ځان نه د روسته خلیفه د انتخاب دپاره کومه شپږ کسیزه شورى مقرر کړیوه نو هغوئ هم د حضرت عثمان رضي الله عنه ټاکنه د رایو په اکثریت کړیوه۔

عمر رضي الله عنه ورته هدایات کړیوه چه که ستاسو د ټولو د رایو په اتفاق سره راتلونکي خلیفه وټاکل شي نو دا به ډیره ښه وي او که ستاسو په رایو کښ اختلاف راشي نو د اکثریت رائ چه کوم طرف ته وي نو په هغے د عمل وشي او که څوک د اقلیت فیصلي ته غاړه کیدي نو عبرتناکه سزا دِ ورکړي شي۔

عمر رضي الله عنه صهیب رضي الله عنه ته اویل:

فقم یا صهیب علی رؤوسهم با السیف فان بایع خمسة ونقص واحد فجلد رأسه با السیف وان بایع اربعة ونقص رجلان فاجلد رؤسهما با لسیف حتی یستوثقوا (طبقات د ابن سعد ص ۶۳ج ۳)

ته د دغه شپږو کسانو په سرونو توره په لاس ودریږي که په دوئ کښ پینځه کسان د چا په لاس بیعت وکړي او یو تن ئے نه کوي نو د هغه سر په توره اووهه او که څلور کسان د یو چا سره بیعت وکړي او دوه تنه ئے نه مني نو د دغه دوه کسانو سرونه په توره اووهه تردي چه دوئ ټول په یو سړي د اعتماد اظهار وکړي۔

فائده:

حضرت عمر ضي الله عنه دا رایو په اکثریت فیصله کول د شریعت دومره کلکه او یقیني فیصله ګرځولي چه مخالفت کونکي ئے د قتل مستحق ګڼړي۔(د شورى شرعي حیثیت ص ۲۶۲ ریاست علی بجنوري)

کاتب الحروف وائ یعني د خواصو د اکثریت فیصله منل ئے په نورو خلقو واجب ګرځولي

په څلورم صورت کښ د رائ ګانو په کثرت فیصله کول اولی او راجح دي:

علامه ابن عابدین شامي رحمه الله وائ:

اذا لم یوجد في الحادثة عن واحد منهم جواب ظاهر وتکلم فیه مشائخ المتأخرین قولا واحدا یؤخذ به فان اختلفوا یؤخذ بقول الاکثرین (شرح عقود ص۴۸)

که په یوه نوي مسئله کښ د احنافو د امامانو نه کوم واضحه قول موجود نه وو او متأخرینو په کښ صرف یو قول کړیو نو په هغه یو قول به عمل کیدے شي او که د متأخرینو په مینځ کښ اختلاف راشي نو بیا به د اکثرو په قول عمل کیدے شي لان المقرر عن المشائخ انه متی اختلف في المسئلة فالعبرة بما قاله الاکثر ځکه د مشائخو په مینځ کښ دا خبره فیصله شوي چه کله په یوه مسئله کښ اختلاف راشي نو هغه قول به معتبر وي چه کوم اکثر علماء اختیار کړي وي۔

فائده:

هرکله چه په دیني معاملاتو کښ د اختلاف په صورت کښ د اکثریت قول له ترجیح ده نو په انتظامي امورو کښ هم په طریقه اولی سره اکثریت له ترجیح پکار ده بهر حال کثرت د رایو له ترجیح کیدے شي۔

فائده:

مونږ څلور صورتونه ذکر کړل یو صورت د حرمت دویم د وجوب دریم د اباحت ۔څلورم د ترجیح خو یاده دِ وي چه صورت د اباحت او ترجیح یو بل ته نذدي دي یعني دواړه جمع کیدے شي۔

د ټولو انبیاء خلاف د عوامو او اکثریت فیصله

کچري د اکثریت فیصله او عوامي فیصله معتبر شي نو د ټولو انبیاء دعوت باطلیږي۔ د جمهوریت په اصولو کښ یوه خبره دا ده چه اعتبار فیصلے د اکثریت لره دے او اعتبار عوامي فیصلے لره دے، یعني چه د عوامو اکثریت کومه فیصله وکړي نو هغه به معتبره وي۔ نو کچري دا خبره صحیح شي نو د ټولو انبیاء دعوت باطلیږي، ځکه ټول انبیاء به دروغجن شي او د رجم مستحق به شي او د شړلو مستحق به شي او د وهلو او سیزلو مستحق به شي، ځکه همیشه دپاره اکثریت د انبیاء خلاف دا قسم فیصلے کړي دي۔

د نوح علیه السلام خلاف د عوامو د اکثریت فیصله:

د نوح علیه السلام خلاف د عوامو فیصله د تکذیب وه او د رجم وه، لکه الله تعالي واي **كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ الْمُرْسَلِينَ** (الشعراء:۱۰۵) او بیا واي **قَالُوا لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ يَا نُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمَرْجُومِينَ** (الشعراء:۱۱۶)

د هود علیه السلام خلاف د قوم عاد عوامي فیصله:

كَذَّبَتْ عَادٌ الْمُرْسَلِينَ (الشعراء:۱۲۳)

د صالح علیه السلام په خلاف د قوم ثمود د اکثریت فیصله

كَذَّبَتْ ثَمُودُ الْمُرْسَلِينَ (الشعراء:۱۴۱)

د لوط علیه السلام خلاف د قومي اکثریت فیصله

كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ الْمُرْسَلِينَ (الشعراء:١٦٠)

بيا واي

قَالُوا لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ يَا لُوطُ لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمُخْرَجِينَ (الشعراء:١٦٧)

د شعيب عليه السلام خلاف د اکثريت فيصله

كَذَّبَ أَصْحَابُ الْأَيْكَةِ الْمُرْسَلِينَ (الشعراء:١٧٦)

قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِنْ قَوْمِهِ لَنُخْرِجَنَّكَ يَا شُعَيْبُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَكَ مِنْ قَرْيَتِنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا (الاعراف:٨٨)

د ابراهيم عليه السلام خلاف زبردست اکثريت وو

د ابراهيم عليه السلام خلاف اکثريت د سيزلو او وجلو فيصله کړيوه، لکه:

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَنْ قَالُوا اقْتُلُوهُ أَوْ حَرِّقُوهُ فَأَنْجَاهُ اللَّهُ مِنَ النَّارِ (العنکبوت:٢٤)

په موسي عليه السلام او فرعون کښ اکثريت د فرعون سره وو:

إِنَّ هَؤُلَاءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ (الشعراء:٥٤)

دغه رنګي فرعون د موسي عليه السلام خلاف د عوامي قوت د مظاهرے دپاره د ټولو ښارونو نه د عوامو د راغوښتلو او د غټ اجتماع او ريلي انتظام وکړو او عوامو د فرعون دے مهم ته سو فيصد مثبت جواب ورکړو۔

اکثريت د عوامو هميشه د انبياء او د حق خلاف وي

د مذکوره آياتونو او دغه رنګي د نورو ډيرو آياتونو نه دا خبره معلوميږي چه اکثريت د عوامو هميشه د انبياء او د حق خلاف وي۔

دالله والا هميشه په اقليت کښ وي

په انسانانو کښ د الله تعالي والا او نيکان خلق هميشه په اقليت کښ وي لکه وَقَلِيلٌ مِنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ يعني شکرګزار په اقليت کښ وي۔ فَقَلِيلًا مَا يُؤْمِنُونَ پس ډيرکم ايمان راوړي تاسو۔

او ډيرکرته الله تعالي د اقليت والا له غلبه ورکوي۔

كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ (ډيرکرته د اقليت والا په اکثريت غالبه کيږي د الله تعالي په حکم۔)

په اهل کتابو او مشرکانو او مؤمنانو او عوامو کښ د اکثريت کردار او فيصلے

په اهل کتابو کښ د اکثريت کردار او فيصلے

مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ (ال عمران:١١٠)

يعني په اهل كتابو كښې اكثريت د فاسقانو وو.

وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ سَاءَ مَا يَعْمَلُونَ (المائده:٦٦)

يعني په اهل كتابو كښې اكثريت د بد عمله وو.

وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ طُغْيَانًا وَكُفْرًا (المائده:٦٤)

يعني په قرآن كريم سره د دوي د اكثريت كفر او سركشي ډيريږي.

ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِنْكُمْ وَأَنْتُمْ مُعْرِضُونَ (البقرة:٨٣)

يعني په اهل كتابو كښې اكثر خلقو د حق خبري نه مخ واړولو، البته اقليت په حق خبري كلک پاتي شو،

فَقَلِيلًا مَا يُؤْمِنُونَ (البقرة:٨٨) يعني د ايمان والا په اقليت كښې دي.

فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ (البقرة:٢٤٦)

يعني چه په اهل كتابو كله جهاد فرض شو نو اكثريت د جهاد نه مخ واړولو البته اقليت جهاد وكړو.

وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَى خَائِنَةٍ مِنْهُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ (المائدة:١٣)

يعني په اهل كتابو كښې اكثريت د خائنانو وو او اقليت د امينانو وو.

په مشركانو او كافرانو كښې د اكثريت كردار

وَأَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ (المائدة:١٠٣) (اكثر د مشركانو نه بے عقله دي)

وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (الانفال:٣٤) (اكثر د مشركانو نه بے علمه دي)

په مؤمنانو كښې د اكثريت كردار

وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُمْ بِاللَّهِ إِلَّا وَهُمْ مُشْرِكُونَ (يوسف:١٠٦) (يعني اكثر مؤمنان د ايمان سره شرک هم كوي.

په عامو خلقو كښې اكثريت د بے لوظه او فاسقانو دے

وَمَا وَجَدْنَا لِأَكْثَرِهِمْ مِنْ عَهْدٍ وَإِنْ وَجَدْنَا أَكْثَرَهُمْ لَفَاسِقِينَ (الاعراف:١٠٢)

او مونږ او نه مندلو اكثر خلقو له وفاداري په لوظونو او مونږ اكثر فاسقان اومندل

په عامو خلقو كښې اكثريت د اصلاح حاميان نه دي

فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُونِ مِنْ قَبْلِكُمْ أُولُو بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِي الْأَرْضِ إِلَّا قَلِيلًا مِمَّنْ أَنْجَيْنَا مِنْهُمْ (هود:١١٦)

یعني په مخکنو پیړو کښې اکثریت نهي عن الفساد نه کوله، البته اقلیت نهي عن الفساد کړیوه او نجات هم صرف اقلیت ته میلاؤ شویو۔

ابلیس هم دعوه د اکثریت کوله

وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَاكِرِينَ (الاعراف:۱۷)

لَأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُ إِلَّا قَلِيلًا (الاسراء:۶۲)

الله تعالي هم د ابلیس د اکثریت د دعوے تصدیق کوي

وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُ فَاتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقًا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ (سبا:۲۰)

فائده:

د جمهوریت او د اکثریت د فیصلو او کردار په باره کښې په سوونو آیاتونه دي مونږ دنمونے په طور ځاي په ځاي یو څو آیاتونه زکر کړل۔ ددغه آیاتونو نه ډیري خبري واضحه شوي۔ یوه خبره ترینه دا هم واضحه شوه چه پدے آیاتونو کښې د ټولو انسانانو د اکثریت د راي ګانو، ووټونو او فیصلو او کردار اجمالا بیان دے چه د دوي راي او ووټ د چاپه باره کښې استعمال شوي د دوي فیصلے او کردار څه وو۔ او دا خبره واضحه شوه چه د ټول انبیاء د امتونو د اکثریت فیصلے او کردار راي او ووټ د انبیاء د کردار او تعلیماتو نه قطعا خلاف وو، که هغه ښکاره کافران او مشرکان وو او که هغه یهود، نصاري او منافقان وو او که هغه عام خلق وو۔ اوس کچري یو منصف مزاج انسان د جمهوریت ړوند تقلید پریږدي او په دے حقائقو نظر اوغورزئ نو د جمهوریت د دے اصل او عقیدے په بطلان کښې یئے هیڅ شک پاتي نه شي چه اکثریت معیار حق دے۔

پینځم باب: اسلام او سیاست

د جمهوريت په بنيادونو کښ يو بنياد د سيکولرازم نظريه ده ددي حاصل دا وو چه سياست د اسلام نه جدا ګڼړل۔

نو اوس ګورو چه آيا سياست د اسلام نه جدا دے او که نه د اسلام سره یے څه تعلق شته او که نه۔

د سياست په باره کښ دري قسمه نظریے دي:

نو پدي باره کښ دري قسمه نظریے دي، په يوه نظريه کښ تفريط دے په دويمه کښ افراط دے په دريمه کښ اعتدال۔

د تفريط او کمي والا نظريه د سيکولرزم نظريه ده چه د هغوئ په نيز اسلام هم د نورو مذهبونو په شان د انسان ذاتي او انفرادي معامله ده۔ د سياست او اسلام د يو بل سره هيڅ تعلق نشته او دا نظريه د عيسائ تهيو کريسي د نقصانونو په رد عمل کښ راغلي وه او د سيکولر جمهوريت نه روستو دا نظريه په دنيا کښ مقبول شوه۔

او ددي نظريه ته مزيد تقويت د بعض هغه ديني حلقو د طرز عمل نه هم ميلاؤ شو چه هغوي د خپل ټولو سرګرميانو محور عقائد او عبادات او يا ورسره د اخلاقو د صحيح کولو د حد پوري محدود کړيو بلکه چه کوم څوک ددے دائرے نه بهر کيږي او په سياسي سرګرمو کښ مصروف کيږي په هغوئ تنقيد هم کوي چه يو ديندار سړے په سياست کښ ځان ولي ملوث کوي حالا نکے د اسلام هدايات تعليمات صرف په عقائدو عباداتو اخلاقو پوري محدود نه دي۔

بلکه د اسلام د سياست او حکومت په باره کښ ډير تعليمات او احکام شته چه د هغه نه په غير اسلام نه مکمل کيږي۔

د افراط نظريه:

دويمه نظريه د افراط ده او د انتهاء پسندي بعض خلقو د سيکولرزم په رد کښ دومره سختي کړي چه سياست ئے د اسلام اصلي مقصد ګرځولے يعني هغه وائ چه اسلام اصل مقصد دادے چه په دنيا کښ يو عادلانه سياسي نظام قائم شي او د اسلام باقي احکام ددے مقصد اصلي تابع دي ددے وجے نه چه څوک د سياست په ميدان کښ د دين د سر بلندئ دپاره کار کوي نو هغه د دين اصلي مقصد او مندلو۔

او چه کوم خلق د سياست نه علاوه په تعليم تبليغ اصلاح د نفس او اصلاح د معاشره کښ مصروف دي نو هغه د دين د اصل مقصد نه غافل دے دا دواړه نظریے د افراط تفريط دي او دا پدي بنا دي چه دوئ د سياست صحيح مقام په اسلام کښ نه دے پيجاند لے۔

د اعتدال نظريه:

دريمه نظريه د اعتدال ده چه سياست د دين شعبه ده ليکن دا مقصود اصلي نه ده او نور احکام ددے تابع نه دي۔

ځکه د اسلام هدايات تعليمات احکام د زندګئ د هرے شعبي سره متعلق دي او پدي شعبو کښ سياست هم دے ليکن داسي نه ده چه سياست اصلي مقصد دے او نور احکام ددے تابع دي مثلا د تجارت متعلق په اسلام کښ تفصيلي احکام شته ليکن تجارت د اسلام اصلي مقصد نه دے دغه رنګي په اسلام کښ د نکاح متعلق مفصل احکام دي ليکن نکاح د اسلام اصلي مقصد نه دے نو دغه رنګي د سياست متعلق هم ډير احکام دي ليکن سياست د اسلام اصلي مقصد نه دے بلکه ساست د

دين يوه شعبه ده او د الله تعالی بالواسطه عبادت او بندګي ده يعني پدي حيثيت عبادت دے چه د سياست او حکومت کارونه د الله تعالی د حکم مطابق د الله تعالی د رضاء دپاره کوي او که په صحيح معنیٰ اسلامي حکومت قائم شي نو ډيرے فائدي لري۔

او عادةً يو سړے د دين په ټولو شعبو کښې کارنه شي کولے څوک په يوه شعبه کښې کارکوي څوک په بله شعبه کښې۔

سياست د اسلام نه جدا نه دے:

اوس اصل موضوع ته و اپسي کوو چه سياست د اسلام نه جدا نه دے بلکه د يو بل سره لازم دي او په اسلام کښې سياست هم شته۔

دلائل:

قال ابو حازم رحمه الله قاعدت ابا هريرة خمس سنين فسمعته يحدث عن النبي صلى الله عليه وسلم قال كانت بنو اسرائيل تسوسهم الانبياء كلما هلك نبي خلفه نبي وانه لا نبي بعدي وسيكون خلفاء **الحديث**

ابو حازم رحمه الله وائي چه ما د ابوهريره رضي الله عنه سره پينځه کاله ناسته لګړي ما د هغه نه دا حديث واوريد چه د بني اسرائيلو سياست به انبياء کولو چه يو پيغمبر به وفات شو په عوض کښې به بل پيغمبر راغلے او زمانه روستو نور پيغمبران نه راځي ليکن خلفاء به وي (بخاري كتاب الانبياء مسلم كتاب الامارة)ب معلومه شوه چه سياست د پيغمبرانو په فرائضو کښې داخل دے او د انبياء فرائض دين دے نو سياست هم دين دے۔

د علامه عيني رحمه الله تشريح:

علامه عيني رحمه الله د تسوسهم الانبياء په تشريح کښې وائي:

اي تتولي امورهم كما تفعل الامراء بالرعية والسياسة القيام على الشئ بما يصلحه وذالك لانهم كانو اذا ظهر الفساد بعثه الله نبيا يزيل الفساد عنهم ويقيم لهم امرهم ويزيل ما غيرو من حكم التوراة (عمدة القاري ص٦٧ ج١٤)

يعني د بني اسرائيلو پيغمبرانو به د هغوئ د کارونو نظم داسي برابرولو لکه حاکمان چه د خپل د کارونو نظم برابره وي او سياست د يو شي د اصلاح دپاره تدبير جوړلو ته وائي او دا سياست پدي طريقه وو چه کله به خلقو فساد شروع کړو نو الله تعالی به هغوئ ته يو پيغمبر راوليږو چه د دوئ د مينځ نه فساد ختم کړي او د دوئ حالت ښه کړے او هغه تغيرات ختم کړي چه دوئ په تورات کښې راوستلي وو۔

د حافظ ابن حجر رحمه الله تشريح:

حافظ ابن حجر رحمه الله وائي:

وفيه اشارة الى انه لا بد للرعية من قائم بامورها يحملها على الطريقة الحسنة وينصف المظلوم من الظالم (فتح الباري ص٢٨٦ ج٦)

پدي کښې ديته اشاره ده چه د رعيت دپاره د يو داسي شخص نه لابدي ده چه د دوئ د کارونو تدبير کوي او نيکي لاري ته خلق برابره وي او د ظالم نه د مظلوم حق اخلي۔

ددي حديث شريف او د محدثينو د تشريح نه معلومه شوه چه شرعي سياست د شريعت نه جدا نه دے بلکه دا د انبياءُ فريضه ده او علماء کرام د انبياءُ وارثان دي نو شرعي سياست د علماء ذمواري هم ده۔

په بل حديث کښ راځی الاسلام والسلطان اخوان توأمان (الحديث)، چه اسلام او بادشاه دواړه د غبرګونو رونړو په شان دي يو په غير د بل نه نه بر ابريږي اسلام بنياد او بادشاه څوکيدار دے چه دکوم شي چه بنياد نه وي هغه ختميږي او د کوم شي چه څوکيدار او ساتونکي نه وي هغه ضائع کيږي

(جمع الجوامع للسيوطي ص١٤٦ ج١، جامع الاحاديث ص٤٥٨ ج٣، کنز العمال ص١٠ ج٦)

پدي حديث کښ اسلام او سياست او بادشاهان د يو بل رونړه ګرځولي او دا خبره ئے کړي چه دا د واړه د يو بل نه په غير نه بر ابريږي نو د شرعي سياست نه په غير حکومت نه بر ابريږي۔

په الموسوعة الفقهية ص ٢٩٥ ج ٣٥ کښ وائ:

وقد كان النبي صلى الله عليه وسلم والخلفاء الراشدون يسوسون الناس في دينهم ودنياهم فكان الحكم والسياسة شيئا واحدا

يقيناً نبي صلی الله عليه وسلم او خلفاء راشدينو به د خلقو د ديني او دنيوي امورو سياست او اصلاح کوله نو حکم او سياست يو شي وو۔

ددي نه هم معلومه شوه چه سياست د دين اسلام نه بيل نه دے ځکه چه سياست نبي صلی الله عليه وسلم او خلفاء راشدينو کړے۔

حافظ ابن قيم رحمه الله وائ چه سياست د شريعت يو جزدے او يو باب دے:

لانقول ان السياسة العادلة مخالفة للشريعة الكاملة بل هي جزء من اجزائها وباب من ابوابها (اعلام الموقعين ص٥١٣ ج٦)

مونږ دا نه وايو چه عادلانه سياست د کامل شريعت سره مخالف دے بلکه دا د شريعت د اجزاء نه يو جزدے او د شريعت د بابونو نه يو باب دے۔

مولانا تقي عثماني صاحب وائ:

تقي صاحب په تکمله د فتح الملهم ص ٢٧٢ ج ٣ کښ عنوان ذکر کړے مكانة السياسة في الاسلام يعني په اسلام کښ دسياست مرتبه بيا وائ قد اشتهر عن النصارى انهم يفرقون الخ د نصارى وو په حق کښ دا مشهوره ده چه دوئ سياست او دين د يو بل نه جدا ګڼړي او وائ چه قيصر ته خپل حق پريږدي او الله تعالی ته خپل حق پريږدي ګويکه د دين هيڅ تعلق د سياست سره نشته او دسياست تعلق د دين سره نشته او دا باطله نظريه درجه په درجه را روانه ده تردي چه په دي روستني وختونو کښ ناکاره شکل اختيارکړو۔ په نوم د علمانيت يا سيکولزم دوئ دين د ژوند دنورو حصو نه ايستلي او پدي خبره ئے حتمي فيصله کړي۔

د اسلام د سیاسي نظام په باره کښ دعلماء لیکل:

ددي خبري چه اسلام او سیاست د یو بل نه دجدا نه دي پدي بل دلیل دا هم دے چه د اسلام د سیاسي نظام په باره کښ علماء په مختلف وختونو کښ ډیر لیکل کړي او بحثونه ئے کړي۔

بیا د دغه بحث او لیکلو دوه طریقي دي یو دا چه د احادیثو او دفقهي د کتابونو په ضمن کښ ددي بحث او تذکره کوي او پدي ئے بابونه قائم کړي لکه مونځ اودس حج زکات روژه پدي مستقل مستقل بابونه دي نو دارنګي د خلافت امامت امارت بابونه هم شته۔

دویمه طریقه داده چه پدي موضوع ئے مستقل مستقل کتابونه لیکلي د دغه کتابونو تعداد ډیر زیات دے په سونو کتابونه دي مولانا عبد الباقي د دري سوه [۳۱۳]دیارلس کتابونو نومونه ذکر کړي مثلا الاحکام السلطانیه د ماوردي او دابویعلی، الامامة والسیاسة د ابن قتیبه، اساس السیاسة، آداب السیاسة وغیرذالک۔ زمونږ سره چه کومه مکتبه شامله ده په هغه کښ ۳۰۴ کتابونه دي۔ نو که په دین کښ سیاست نه وي نو علماء به ولي دومره کتابونه لیکلے۔

د هغه چا حکم چه اسلام او سیاست د یو بل نه جدا ګڼي:

اصل موضوع داوه چه د هغه چا څه حکم دے چه هغه اسلام او سیاست د یو بل نه بیلا بیل ګڼي لکه په سیکولر جمهوریت کښ دا نظریه ده مولانا تقي صاحب ددي حکم په تکمله د فتح الملهم ص ۲۷۲ ج ۳ کښ بیان کړے:

وان هذه النظرية في الحقيقة نوع من انواع الاشراك با الله من حيث انها لا تعترف للدين بسلطة في الحياة المادية وانما تقصر سلطة الدين على رسوم وعبادات يما رسها المرأ في خلوته او في معبده فكان الاله ليس الها الا في العبادات والرسوم واما الامور الدنيوية فلها اله آخر والعياذ با الله

دغه نظریه په حقیقت کښ د الله تعالی سره د شرک د اقسامو نه یو قسم دے او دا ځکه چه دغه نظریه په مادي ژوند کښ د دین دپاره په سلطی او اختیار نه ده قائله او پدي نظریه کښ د دین سلطه او اختیار په هغه عباداتو او رسوماتو پوري محدود دے چه انسان ئے په خلوت کښ او د عبادت په ځائ کښ کوي ګویکه د الله تعالی الوهیت یواځي په عباداتو او رسوماتو پوري محدود دے او د دنیوي امورو دپاره بل اله موجود دے پدي وجه دا نظریه یوه نوعه د شرک ده۔

فائده:

ددینه معلومه شوه چه د سیکولر جمهوریت یعني دین او سیاست د یو بل نه جدا ګڼل کفري او شرکي نظریه ده۔

بیا تقي صاحب وای:

ولذالك لم يزل المسلمون الراسخون يردون على هذه النظرية الزائعة في كل زمان ومكان لانه لامحال لها في الاسلام الذي يؤمن بعقيدة التوحيد في اصح تعبيراتها واكمل صورها والذي قرر الاحكام الالهيه في جميع شؤون الحياة بما فيها السياسة والاقتصاد فكان من واجب اهل العلم المسلمين ان يرفضوا هذه النظرية ويردوا عليها ردا علميا ناجعا وقد قاموا بهذا الواجب والحمد لله۔

ددي وجه نه لوئ علماء دغه نظریه په هر ځائ کښ او په هروخت کښ رد کړے ځکه ددي نظریے په اسلام کښ هیڅ ګنجائش نشته هغه اسلام چه په عقیده توحید تصدیق لري، او هغه اسلام چه الهي حکمونه د ژوند په ټولو حصو کښ ثابتوي چه په هغے کښ سیاست او اقتصاد هم دا خل دے نو په علماء واجب دي چه دغه نظریه پریږدي او په علمي انداز او په فائده مند انداز ے رد وکړي او الحمد لله چه علماء دغه فرض اداء کړے۔

فائده:

ددنیه معلومه شوه چه ددي نظریے په اسلام کښ هیڅ ګنجائش نشته او ددي نظریے پریښودل فرض دي او پدي رد کول فرض دي او لوئ او مضبوط علماء کرامو خپل فرض اداء کړي او پدي نظریه ئے رد کړے۔

د ابن جوزي رحمه الله وینا:

ابن جوزي رحمه الله وای:

فمدعی السیاسة مدعی الخلل في الشریعة وهذا یزاحم الکفر (تلبیس ابلیس الباب السابع في تلبیس ابلیس علی الولاة والسلاطین ص ۷۵۳ ج ۲)

هر هغه څوک چه هغه د ے دینه سیاست دعوه کوي نو دا په حقیقت کښ په شریعت کښ د نیمګړتیا دعوه کونکي دے چه داد کفر خبره ده

فائده:

ددینه معلومه شوه چه څوک ے دینه سیاست کوي مثلا داسي سیاست چه په دین کښ نه وي یا سیاست د دین نه جدا ګڼړي نو دغه سړي ته په دین کښ کمي او نقصان ښکاري او دا د کفر خبره ده۔

د سیاست قسمونه:

په سیاست کښ مختلف قسمونه دي په مختلف اعتباراتو سره۔

شرعي او وضعي سیاست

اول تقسیم دادے چه سیاست دوه قسمه دے شرعي او وضعي۔

۱۔ شرعي سیاست په حقیقت کښ په مخ د ځمکه د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم د عدل څخه عبارت دے او همدارنګي د یو کار په هکله د اصلاحي تدبیر څخه عبارت دے او هدف ئ دوه شیان دي یو عدل او بل مصلحت چه په دي دواړو مدارونو کښ به محصوروي۔

۲۔ شرعي سیاست د د نیوي امورو د تنظیم او اصلاح په خاطر د وسیع قوانینو د جوړولو په خاطر ډیره زمینه سازي او ګنجائش پیدا کوي او دا ځکه چه شرعي دلائل محدود دي او د شرعي سیاست استعمال په ضوابطو او شرطونو سره مضبوط دي۔

۳۔ په شرعي سیاست باندي عمل د شریعت په وسعت او عدم جمود دلالت کوي او د اجتهاد سلسله لاجاري ده۔ د حال، زمان او د ځائ دپاره په تشریع او احکام شرعیو په تغیر کښ تاثیروي او دا تغیر د شریعت د مقاصدو او ددي د ثابتو اصولو په چوکاټ کښ وي۔

۴- شرعي سياست ته هغه څوک احتياج لري څوک چه په تغير قدرت لري لکه حاکمان قضيان وزيران او د دوئ نائبان لهذا د دوئ دپاره دا ضروري ده چه د شرعي سياست او د دي د قواعدو په هقله علم ولري البته ډير خلک د شرعي سياست مفهوم او ددي تاثير څخه ناخبره دي.

جميلة عبد القادر السياسة الشرعية ص ۳۶ المقدمة.

د شرعي او وضعي سياست ترمنځ فرق:

کله چه د سياست شرعيه د اعتبار دپاره دوه شرطونه ذکر شو نو دا واضحه شوه چه د شرعي سياست اعتماد به په شرعي کلي اصولو او مباديو باندي وي په کومو سره چه مقصد د مصالحو او منافعو جلب او د مفاسدو دفع وي او هر چه وضعي سياست دے.

فإنها قوانين وأحكام مستمدة من العرف والعادة أو من مختلف التجارب والاوضاء المتوارثة من غير ان يراعي فيها ارتباطها بالوحي السماوي او اعتمادها علي مصادر التشريع الاسلامي بل وضعها الناس لتدبير شؤون امهم ولاسير بها حسب ارائهم ومذاهبهم ومعتقداتهم الفاسدة (محمد رضا السياسة القضائية ص:۱۴)

وضعي سياست هغه قوانين او احکام دي په کومو کښ چه د عرف عادت او د مختلفو تجربو او د مخکي نه د راپاتي شويو اوضاعو نه په کښ استفاده شوي وي، د آسماني وحي سره د ارتباط لحاظ به په کښ نه وي شوے او نه به په کښ د اسلامي تشريع د مصادرو لحاظ شوے وي بلکي دغه قوانين به د خلکو دخوا دامت د کارونو د سمون په خاطر وضع شوے وي چه تفصيل يئ مخکښ ذکر شوے د الهي او وضعي نظم په تفصيل او موازنه کښ.

عادلانه او ظالمانه سياست.

دويم تقسيم دادے چه سياست دوه قسمه دے عادلانه او ظالمانه:

علامه ابن نجيم مصري حنفي رحمه الله واى:

السياسة نوعان سياسة عادلة تخرج الحق من الظالم الفاجر فهي من الشريعة علمها مَن علمها وجهلها مَن جهلها و قد صنف الناس في السياسة الشرعية كتباً متعددة والنوع الاخر سياسة ظالمة فالشريعة تحرمها

(البحر الرائق ص۷۶ ج۵ کتاب السرقة باب قطع الطريق، طرابلسي، معين الحكام ص:۱۶۹ القسم الثالث من الكتاب في القضاء)

سياست په دوه قسمه دے عادلانه اوظالمانه عادلانه سياست هغه دے چه ددي په توسط د ظالم فاجر نه د مظلوم حق واخستل شي او دا د شريعت يوه برخه ده په دي هغه څوک پوهيږي چه يئ پيژني او هغه څوک پري نه پوهيږي چه نه يئ پژني او ليکونکو دشرعي سياست په اړه ډيري ليکني کړي دي، بل قسم ظالمانه سياست دے چه هغه ددي مقابل او شريعت حرام کړے دے،

الهي سياست او انساني سياست:

دريم تقسيم په داسي الفاظو کيږي چه سياست دوه قسمه دے. الهي سياست او انساني سياست

علامه شمس الحق افغاني نور الله مرقده چه په ۱۴۰۳ هـ کښ وفات شوے د سورة فاتحي د سیاسي تفسیر په ضمن کښ د سیاست اقسام دا رنګي بیان کړي دي۔

سیاست په دوه قسمه دے ۱۔ الهي سیاست ۲۔ انساني سیاست۔

په دي عقیده استوار سیاست چه لکه څرنګي چه الله تعلی د ټولو کائناتو خالق دے همدا رنګي الله تعالی د ټولو کائناتو اعلی حاکم هم دے او ټول مخلوقات بي د استثناء نه د الله تعالی رعیت او محکوم دي دا الهي سیاست دے۔

او که سیاست په دي عقیده بنا نه وو نو دا انساني سیاست دے۔

انساني سیاست هغه وخت کامیاب وي کله چه د الهي سیاست په طرز وي، اسلام د الهي سیاست نه په خلافت سره تعبیر کړے چه شروع یئ د حضرت آدم علیه السلام نه شوي ، الله تعالی فرمائ په سورة البقرة ایت ۳۰ کښ انی جاعل فی الارض خلیفة زه ګرځونکے یم په ځمکه کښ یو خلیفه، ټول پیغمبران علیهم السلام د الله تعالی خلفاء وو او نبي صلی الله علیه وسلم آخري خلیفه وو د انبیاء نه روسته خلفاء راشدین رضوان الله علیهم اجعین وو او د دوینه ورسته د اسلام بادشاهان وو او تر قیامته پوري راتلونکي مسلمانان حاکمان درجه په درجه د نبي صلی الله علیه وسلم خلیفه ګان دي (مولانا محمد علي اصغر عباسي مرتب دروس الفاتحة من افادات شمس الحق افغاني ص ۲۴۵)

عقلي سیاست او دیني سیاست:

څلورم تقسیم په داسي الفاظو کیږي چه سیاست دوه قسمه دے عقلي او دیني لک علامه ابن خلدون رحمه الله په مقدمه کښ سیاست د قانون په لحاظ تقسیم کړے۔

۱۔ بادشاهي د قانون په ځائ د مطلق العنان بادشاه په زور او غضب باندي ولاړه وي چه په کښ د غضب او حیوانیت اثار لیدل کیږي۔ دغه قسم حاکمان په خپل رعیت باندي د یو درونډ بار حیثیت لري چه د هغوئ د هلاکولو په هڅه او کوشش کښ وي نو دارنګي حالاتو د اصلاح دپاره د سیاسي قوانینو د وضع کولو د ضرورت احساس پیدا کیږي چه ددي قوانینو وفاداري په حاکمانو او رعیت دواړو باندي ضروري ده۔ اوس به کتلے شي که چیرته دا قوانینو۔

فاذا كانت هذه القوانين مفروضة من العقلاء وأكابر الدولة وبصرائها كانت سياسة عقلية وإذا كانت مفروضة من الله بشارع يقررها ويشرعها كانت سياسة دينية نافعة في الحياة الدنيا، وفي الآخرة وذلك أن الخلق ليس المقصود بهم دنياهم فقط فالمقصود بهم أنما هو دينهم المفضي بهم إلي السعادة في آخرتهم فجاءت الشرائع بحملهم علي ذلك في جميع أحوالهم من عبادة، ومعاملة حتي في الملك الذي هو طبيعي للاجتماع الإنساني۔ (مقدمه ابن خلدون ص:۱۹۰ الفصل الخامس وعشرون في معني الخلافة والامامة)

د قوم عاقلانو د مسئولیت د حکومت او د نورو پوهانو په توسط رائج شوے وي نو بیا په دي قوانینو ولاړ سیاست ته عقلي سیاست ویل کیږي او کله چه دا قوانین د الله تعالی مقرر کړي قوانین وي، چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په توسط نافذ شوي وي نو دیته دیني سیاست ویل کیږي چه دنیا او آخرت دواړو دپاره ګټور دي او دا ځکه چه د مخلوق دپاره مقصود یواځي او یواځي دنیا نه ده بلکي مقصود دوئ دپاره دین دے کوم چه د اخروي سعادت دپاره سبب دے۔

سیاست کونکي څلور قسمه دي:

امام غزالي رحمه الله د سیاست دپاره څلور[۴] اقسام ذکر کړي دي۔

الف: اعلی سیاست:

دا قسم د انبیاء علیهم السلام د سیاست څخه عبارت دے چه تعلق یې د عوامو او خواصو سره وي ددوئ د ظاهري بدنونو او د زړونو اصلاح ورسره کیږي او اصلاحات په ښکاره او پټه سره راځي۔

ب: د حاکمانو بادشاهانو او سلاطینو سیاست:

ددي قسم سیاست تعلق هم د تیر قسم په شان د عوامو خواصو سره وي البته صرف د ظاهري بدنونو سره به یې تعلق وي، نه د دوئ د زړونو سره په استثناء د هغه صورت، چه حاکم عادل زاهد، نرم زړے او روحاني شخصیت وي۔

ج: د علماؤو سیاست:

ددي قسم تعلق هم د خواصو او عوامو سره وي البته د دوئ د زړونو سره وي نه د دوئ د ظاهري بدنونو سره او دتعلیم او تربیئ په توسط د عوامو او خواصو اصلاحات راولي په خلکو ظاهري حاکمیت نه لري البته متقیان او و اقعیت پیژندونکي خلق ورته د وخت حاکمانو څخه هم زیات احترام لري۔

د ـ دواعظانوسیاست

چه خلقوته وعظ اونصیحت کوي اودخلقوپه زړونوحکومت کوي

په اسلامي او غربي سیاست محققانه تبصره:

مخکښ د سیاست اقسام ذکر شو او ددي وضاحت وشو، چه دیني او شرعي سیاست محمود او مطلوب دے بي دینه او غربي سیاست نه محمود دے او نه مطلوب په دي دواړو قسمه سیاست باندي علامه محمد کفیل بجنوري رحمه الله چه د کلکتۍ مشهور مفسر تیر شوے یوه عجیبه محققانه تبصره لیکلي ده، چه د مولانا حسین احمد مدني رحمه الله د یو سیاسي مضمون (سیاسي معمه) په مقدمه کښ په لاندي قسم ذکر شوي ده۔

مسلمه امت دپاره یقینا د داسي سیاست نه پناه غوښتل پکار دي د کوم دارومدار چه په تکبر، غرور، دوکي، سپیره توب، وعده خلافي وغیره په شان رزیلو امورو باندي وي او دا سیاست کله هم نه شي کامیابیدے، که چیر ته دوه څلور ورځي کامیاب هم شي لیکن یو څو ورځي وروسته به بالکل ختم شي خلق وائ چه د یورپ ابلیسانه سیاست دپاره د داسي کس ضرورت دے چه د یورپ او ایشیایي قومونو سره خالص ابلیسانه تعامل وکړي او د دوئ د نفاق، د هوکي وغیره مقابله په همدغي طریقي سره وکړي لیکن دا خبره بالکل غلطه ده او د الله تعالی د عادت نه مخالفه ده، ځکه چه الله تعالی د نمرود، شداد، فرعون، قریشو کافر انو او د بني اسر ائیلو کافر انو په شان غدارو، مکارو او ظالمانو په مقابله کښ د همدوئ په شان ابلیس او شیطانان نه دي رالیږلي، بلکښ د حضرت ابرهم علیه السلام حضرت موسی علیه السلام حضرت عیسی علیه السلام، او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم، په شان ریښتیني په حق باندي قائم او په حق باندي پاتي کیدونکي پیغمبران یې رالیږلي دي۔

او د ټولو اصلاح يئ کړې ده حق يئ روښانه او باطل يئ ختم کړے، ترڅو پورې چه د اسلامي سیاست تعلق دے، نو هغه په عدل او انصاف سره د اسلام د اجتماعي قوانینو مطابق د خلقو ژوند بر ابرول دي، د اسلامي سیاست ظهور او د هغه پاکو اغراضو د تکمیل دپاره کیدائ شي د کومو تعلق چه د امت د افرادو او دعامو انسانانو د ګټو او کامیابو سره دي، انساني معاشره د الهي قانون پابند جوړول، د عامو مصالحو تکمیل او د الله تعالی د عامو بندګانو د اصلاح او تربیت په خاطر انساني معاشره په یو عادل حکومت سره منظم کول، د عامو مصالحو لحاظ ساتل، چه ددي نظام ماتحت دي هر سرے په امن و امان او خوشحالئ کښ ژوند تیر کړي او د امن خلاف اقدام کول د انسانیت سره دوکه، وعده خلافي او سخته بي وفايئ ګڼل د اسلامي سیاست عین منشا او هدف دي بي د څه شبهي نه د علم وعمل د قوتونو، د قول او فعل صداقتونو په لحاظ سره د قومي امانت حاملین او اهل اول نبي بیا صدیق مسلمان او د دینه وروسته بیا شهید او صالح مسلمان دي په دي عَالم کښ د انسانیت ابتداء د حضرت آدم علیه السلام نه شروع شوي او دا په مخ د ځمکه اول د الله تعالی خلیفه جوړ شوي وو او همدا هغه مقدس نبي وو، چه هغه د فتني، فساد او خونریزي مقابله په دنیا کښ په اول ځل د خپل قول او فعل په صداقت او رښتینئ سره کړې ده او د ابلیس لعین مغرورانه دعوه چه (انا خیر منه) زه د حضرت آدم علیه السلام نه غوره یم د خپل صحیح علم او صالح عمل په وجه تر قیامته باطله کړې ددینه وروستو که چیرته ابلیس یو ساده ناتجربه کار انسان د خپل ډپلوماسئ په ذریعه ممنوعه وني ته راوستل یو طبعي امر دے نو بیا د شیطانیت د ظاهریدو نه وروستو مخلص بنګان د ابلیس د دوکي په دام کښ نه راتلل هم یو عقلي امر دے، ځکه چه ان کید الشیطان کان ضعیفا د شیطان تدبیر ضعیف وي اوس زمونږ په مخ کښ صرف دوه لاري او دوه ډلي دي۔

۱۔ د حضرت آدم علیه السلام او د هغه هم مسلکه انبیاء حضرت ابراهیم علیه السلام وغیرو لاره ده، چه هغه د نبوت او هدایت لاره ده او د همدي جماعت او ډلي اتباع د امن او امان ذمه داري ده۔

۲۔ د دوئ په مقابله کښ د ابلیس او د هغه د تابعدارانو نمرود وغیره لاره ده، چه هغه د بدبختئ او ګمراهئ لاره ده او ددي لاري تابعداري فتني او فساد ته بلونکي او ددي ضامنه لاره ده تاسو په خپله سوچ او فیصله وکړئ چه ای الفریقین احق بالامن ان کنتم تعلمون په دي دواړو ډلو کښ کوم یو فریق په امن سره حقدار دي که تاسي پري پوهیږئ چه آیا د فقهي او اجتهاد د باریکو او شرعي عمومي سیاست پیژندلو نه په غیر کوم کس د مشرئ او سردارئ مستحق جوړیدائ شي؟ هر ګز نه شي جوړیدے علامه اصفهاني رحمه الله لیکلي دي:

انکم لا تصلحون للسیادة قبل معرفة الفقه والسیاسة العامة، الذریعة الي مکارم الشریعة ص ۲۶ ا؛الباب التاسع السیاسة التي یستحق بها خلافة الله تعالی

تاسي د اسلامي فقهي او عامه سیاست د پوهي نه مخکښ د مشرئ مستحق نه یوي۔

همدارنګي حافظ ابن قیم رحمه الله لیکلي دي:

لاسیاسة الا ما وافق الشرع بحیث یکون الناس معه اقرب الی الصلاح وابعد من الفساد (اعلام الموقعن ص ۳۷۲ ج ۴

حقیقي او واقعي سیاست هغه دے، کوم چه د شریعت مطابق وي په داسي شان سره چه خلک ددي په ذریعي سره د فتني او فساد نه لري او اصلاح وفلاح طرف ته نژدي شي۔

۱ـ بیا د اول فریق او د اسلام په اتباع کښ دخپلو حالاتو مطابق به کله کله د جنګ کوونکي کافر سره جنګ کول وي۔ الله تعالی فرمائ:

فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ (التوبة:۵) کوم ځائ چه مشرکان بیا موځئ دوئ ووژنئ۔

۲ـ او کله به صلحه کول وي الله تعالی فرمای: وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ (الانفال:۶۱)

او که چیرته دوئ صلحي ته مائله شي نو ته هم ورته مائله شه۔

۳ـ او کله به امان غوښتونکي کافر ته امن هم ورکولے شي الله تعالی فرمائ:

وَإِنْ أَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ (التوبة۶)

او که په مشرکانو کښ یو کس ستانه پناه وغوښتله نو ته ورته پناه ورکړه۔

۴ـ کله به په خپله د کافرنه د خپل ځان دپاره امن هم طلب کولے شي حدیث شریف کښ ذکردي:

ارسل رجلا من خزاعة الي مطعم بن عدي أءدخل في جوارك؟ قال: نعم (طبقات ابن سعد ج۱ ص ۲۱۲)

ذکر سبب خروج رسول الله صلی الله علیه وسلم الی الطائف، یو تن د خزاعه قبیلي نه يئ مطعم بن عدي ته ولیږل او هغه ته وویلي شو، چه ایا زه ستا په امان کښ داخل شمه؟ هغه ورته وویل چه او داخل شه۔

۵ـ او کله به د ذمي کافرنه جزیه اخیستے شي او د هغه د ځان او مال حفاظت به په خپله کوي الله تعالی فرمای: حَتَّى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ (التوبة:۲۹) تردي چه هغوئ په خپل لاس جزیه ورکړي او ذلیل و خوارشي۔

۶ـ او کله به د قبائلو کافرانو نه قوت حاصلوي، چه د خپل ځان مال حفاظت په هغوئ سره وکړي حدیث شریف کښ ذکر دي:

کان النبي صلی الله علیه وسلم یستنجد من احیاء العرب (شاه ولي الله حجة الله البالغة ج۲ ص ۱۹۱ بیعة العقبة)

رسول الله صلی الله علیه وسلم به په قبیلو د عربو سره طاقت حاصلول۔

۷ـ کله به د سختئ او تکلیف سره سره د کافر د پیشکش او غښتني باوجود هم د کافر او مشرک امداد رد کولے شي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائ:

انا لا نستعین بمشرك (کنزل العمال ج۴ ص ۳۵۸ رقم ۱۰۸۸۷، ابن ماجه کتاب الجهاد باب في الاستعانة بالمشرکین ص ۲۰۳)

مونږ د مشرک نه امداد نه اخلو۔

۸ـ او کله به د کافر او مشرک نه امداد اخیستل ښکاره اجازت ورکوي، امام ابوبکر جصاص رحمه الله چه په ۳۷۰ هـ، کښ وفات شوے دے لیکلي دي: قال اصحابنا لا باس بالاستعانة بالمشرکین اذا کانوا متي ظهروا کان حکم الاسلام هو الظاهروان کان حکم الشرک هو الغالب فلا ینبغي للمسلمین ان یقاتلوا معهم

(ابوبکر احکام القران ج ۲ ص ۲۴۷ باب الاذان مطلب في الاستعانة، کتاب السیر الکبیر وشرحه ج ۴ ص ۱۴۲۲ باب الاستعانة با هل الشرك)

زمونږ احنافو ویلي دي چه د مشرکانونه په امداد غوښتلو سره څه باک نشته دے کله چه د مسلمانانو د غلبي په وخت کښ د اسلام حکم غالب وي او که چیرته د کامیابۍ په نتیجه کښ د شرک نظام غالب وي، نو بیا د مسلمانانو دپاره مناسب نه دي چه د کافرانو په ملګرتیا کښ جهاد وکړي۔

۹۔ کله به د پیغمبر په رهنمایۍ کښ د دښمن د دفع کولو په خاطر د مسلمانانو او غیر مسلمانانو نه یو امت جوړول او د دواړو فریقینو ترمنځه د معاهدي خط ترتیب کول وي حدیث شریف کښ ذکر دي:

هذا کتاب مِن محمد النبي بین المسلمین والمؤمنین من قریش ویثرب ومَن تبعهم فلحق بهم وجاهد معهم انهم امة واحدة دون الناس **(البدایة والنهایة ج ۳ ص ۲۲۴، سنن بیهقي کبری ج ۸ ص ۱۰۶ رقم ۱۶۱۴۷ باب العاقلة)**

دا لیک د محمد صلی الله علیه وسلم د خوا دے چه د الله تعالی نبي دے او دا لیک دے په منځ د مسلمانانو او مؤمنانو د قریشو او د مدیني منوري او د هغه چا تر منځه، چه د دوئ تابعداري او د دوئ سره یے الحاق راغلے وي او د دوئ سره یئ جهاد کړے وي دوئ به د مخالفینو د مخکښ یو امت وي۔

۱۰۔ او کله به په خپله نبي صلی الله علیه وسلم، او حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په شان پاکو شخصیتونو ته اجازت وي، چه دوئ د عبد الله بن اریقط په رهنمایۍ کښ د غار ثور لاره قطعه کړي او د دشمن نه ځان بچ کړي بیا د دشمن د مقابلي دپاره تیارے تر قیامته پوري عام پریښو دي شو دا تیارے که په مادي اسلحو سره وي او یا تنظیمي وسیلو سره الله تعالی فرمای: وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ (الانفال :۶۰)

او د دوئ مقابلي ته تیارے وکړئ چه څومره ستاسو طاقت وي۔

۱۱۔ او کله به په دوه مصیبتونو کښ د مبتلا کیدو په وخت کښ د لوي او سخت مصیبت په مقابل کښ دواړه او آسان مصیبت د اختیار اجازت ورکړل شوي دي:

ثم الاصل في جنس هذه المسائل ان من ابتلي ببلیتین وهما متساویان یاخذ بایهما شاء وان اختلفا یختار اهونهما **(ابن نجیم الاشباه والنظائر ص ۱۱۱)**

بیا د ذکر شوو مسائلو په باب کښ قاعده داده، چه څوک په دوه مصیبتونو مبتلا شي نو که دواړه برابر وو، نو په دي دواړو کښ چه کوم ده ته خوښ وي هغه دے اختیارولے شي او که یو د بل په مقابل کښ سخت او ګران وو نو بیا به په دي دواړو کښ په آسان باندي عمل کوي، حضرت مولانا حسین احمد مدني رحمه الله چه په ۱۳۷۷ ه کښ وفات شوے وائ:

مذہب اسلام بھی احوال کی بنا پر احکام بدلتا ہے، احوال گردو پیش سے چشم پوشی ہلاکت اور خود کشی ہے۔ (ابو الحسن ملفوظات حضرت مدنی ص ۲۱)

په اسلام کښ هم د حالاتو په بنا احکام بدلیږي د حالاتو او د ماحول د لحاظ نه سترګي پټول هلاکت او ځان وژنه ده۔

خلاصه دا چه د ځائ، وخت، د موقع او محل په اعتبار سره د شرعي مصالحو لحاظ ساتل صرف د هغه کس کار دے چه د فقهي او اجتهاد په باریکو ښه پوهیږي او د شریعت د منشا او هدف نه خبروي په دي کښ هیڅ شک نشته چه دا دورد غرب دور دے او دغربي سیاست غلبه ده خلق د غربي سیاست نه په نشو او مستۍ کښ دي، خود خلقو دا نشه او د حق نه اعراض به تر

کوم ځایه پوري وي یوه ورځ داسي راتلونکي ده چه دا بحراني کیفیت او فساد به ختم شي حق به روښانه او باطل به ختم شي اے د غربي سیاست دعوه کوونکو تاسو هم د هغه وخت انتظار کوئ او مونږ به یې هم کوو **قال الله تعالی فتربصوا انا معکم متربصون** نن سبا دا پروپیګنډه او تبلیغ کولےشي چه د اسلام علماء په سیاست نه پوهیږي او که چیرته پوهیږي هم نو بیا هم په وړاندیني اسلامي سیاست باندي پوهیږي کوم چه ددي زماني د نظریاتو او د دنیا د اجتماعي اصولونه با لکل جدا او مخالف دے یورپ د سیاست مرکزدے، نو څکه اوس دنپولن، میکلیا ویلي، مسؤلیني، هټلر، اسټالن، او مسټر چرچل وغیره سیاست زده کول ضروري دي او چه کوم سړے دا ضرورت پوره کړي، نو هغه زمونږ قائد او مشر دے لیکن سوال دا دے چه موجوده نظریات د سیاست د وړاندیني نظریاتو د سیاست نه اعلی مرتبه لري که ادنی او که مساوي؟ که مساوي مرتبه لري، نو بیا خود اسلام د علماء کمزورتیا بیانول، چه دوئ په سیاست نه پوهیږي حماقت او کم عقلي ده او که ادنی مرتبه لري، نو بیا خود اسلام د علماء ناپوهي نه ده بلکي صراحتاً خپله ناپوهي ده چه ستاسو سیاسي نظریات د اسلام د سیاسي نظریاتو نه لاندي مرتبه لري او که اعلی مرتبه لري نو بیا خو صرف په یواځي خبرو باندي کار نه کیږي بلکي د فریقینو په نظریاتو کښ د تقابل ضرورت دے چه دواړه نظریات سره موازنه کړے شي چه ایا په حقیقت کښ هم دا نظریات د اسلام د سیاسي نظریاتو نه عالي دي او که هسي د خولي خبري دي۔

حقیقت دادے چه په خپله انصاف لرونکي غربي سیاست دانو د اقرار نه دا خبره ثابته شویده چه یورپي سیاست او تمدن د اسلام د نظریاتو، حکمت او سیاست نه مستقیماً استفاده کړي ده۔ دقرآن اوحدیث په رڼا کښ د راشده خلافت نظام مخې ته راغے او د راشده خلافت نه روسته د بنو امیه او د بنو عباسو حکومت شروع شو چه دوئ د راشده خلافت د اجتماعي اصولونه استفاده وکړه او خپل نظام یې په شاهي صورت کښ چلول د دینه روستو په قرون وسطي کښ دیورپ کلیسائ دورپه خالص اظهارتي او تبلیغاتي شکل کښ ښکاره شو، چه صرف د خپل کمال اظهارات او تبلیغات کوي او بس۔ او په دے دورکښ د مغرب سیاسي علماء د اسلام د سیاسي علماء د کتابونو او د اسلامي حکومتونو د طرز او طریقو نه فائده واخسته۔ نن څوک دي چه انکار اوکړي چه یورپ د ابن خلدون، فارابي او د نورو علماء د اسلام د سیاسي کتابونو نه استفاده نه ده کړي۔

مکیا ویلي د ابن خلدون رحمه الله د اسلامي فکر مقلد وو د فرانسي عالم موسیوربنان ډینه د وینا مطابق نپولین په سیاسي نظریاتوکښ د اسلام د حکومتي نظریاتو نه استفاده کړي ده او د حاضر العالم الاسلامي د مصنف د یاداشت نه دا معلومیږي چه نپولین د انسانیت د بهترئ دپاره د قرآن کریم د سیاست مطابق د حکومت د نظام بنیاد ایخودل ضروري ګڼړي نپولین دا ضروري ګڼړي چه د انسانیت د بهترئ او ترقئ دپاره دي حکومت په هغه بنیادونو باندي جوړ کړے شي کوم، چه په قرآني سیاست کښ ذکر دي۔

ابونصر فاربي رحمه الله د کتاب مبادي آراء اهل المدینة تراوسه پوري زمونږ ترقي یافته د اعلی شهري سیاسي نظام نه نیولي تر کمیټو جوړولو پوري ټول نظام چلوي او دا ترقي یافته دنیا دفارابي د کتاب زیر احسان ده د تاریخ په اعتبار سره د څلورمي صدئ په منځ کښ د اخوان الصفا رسائل لیکل شوي دي، اخوان الصفا سیاست یو مستقل فن وګرځولو او سیاست یې په پینځو حصو کښ تقسیم کړو یورپ ددي رسالو نه هم ډیره استفاده وکړه پروفیسر کلازیوني ابن خلدون د خپلي زماني د سیاست د علماء پیشوا او استاذ تسلیم کړے هغه لیکي چه لوئ او ماهر مُورخ ابن خلدون په قرون وسطي کښ هغه وخت د فن اجتماعیات، اقتصآدیات او سیاسیاتو مبادي مخکښ کړل کله چه د فرانس اشتراکي کنسیډرن د اشترکیت باني کارل مارکس د روسي سیاست ماهرپیکو نن ددي نظریاتو د مخکښ کولو دپاره په دنیا کښ موجود هم نه وو۔

خلاصه دا چه د صفحو د تنګوالي په جه زيات تفصيل نه شو کولے ورنه مونږه به په زياتو دلائلو سره دا ثآبته کړي وے چه د يورپ نظري سياست د اسلام د علماء د نظري سياست مقلد او محتاج دے او دا ظاهره خبره ده چه د مقلد مرتبه د مجتهد او امام نه نه شي اوچتيدے۔

پاتي شو د يورپ عملي سياست نو دا خو خالص د ډېلو ميسي دهوکي بي حيايي او د فتني او فسا نه ډک سياست دے لکه چه جارج ايلن کتاب په جنس تمدن کښ د اسلامي نظرياتو نه د نقل په توګه شائع کړي دي د موجوده تمدن ټوله خلاصه او مغز منافقت دے خلق په ظاهر کښ په الله تعالى عقيده لري ليکن دوئ تر خپل ځانونو پوري په مال قربانوي په خوله د ازادئ دعوي کوي ليکن چه څوک د ازادئ طلب ګاروي هغوئ ته سزاګاني ورکولے شي دعوه د حضرت عيسى عليه السلام د پيروي کوي ليکن اتباع د مسوليني وغيره کولے شي د عزت الفاظ د عصمت مطابق استعمالولے شي ليکن عملي ژوند يئ د حرام کارئ او بد عملئ دپاره وقف دي په خوله د صداقت او رښتينولئ لافي وهي ليکن د اقتدار او اختيار په کرسو باندي بي دينه خلق کينوي په خوله د رورولئ اوازونه کوي ليکن کوم کس چه د دوئ سره د جنګ يا وطنيت او يا دقوميت په خر ابو اجتماعاتو او جلسو کښ شريک نه شي نو يا خوئ بندي کوي او يا يئ د وطن څخه اوباسي او يا يئ په ټوپک باندي وژني دا دي غربي سياست او يورپي زهر چه ددي علاج صرف اسلامي سياست دے او بس۔ (مقدمة سياسي معمه لمولانا حسين احمد المدني ص ١٥)

په سياست کښ بے احتياطي:

نن سبا مسلمانانو عوام او خواص ټول په سياست کښ ډيره بي احتياطي کوي د اسلامي نظام د راوستو دپاره غير اسلامي طريقي اختياروي د نظام نبوي صلى الله عليه وسلم دپاره نهج نبوي صلى الله عليه وسلم ضروري دے مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله چه په ١٣٦٢ ﻫ کښ وفات شوئ ليکلي دي، نن ورځ زمونږ د مسلمانانو دا حال دے، چه زيات هغه خلق چه د اسلام د خدمت دعوى کوي زيات د خپلو شخصي منافعو او مقاصدو دپاره کارکوي او د الهي احکامو څه پروانه کوي او هدف يئ خالص کارکول وي د شريعت سره مو افق وي او که مخالف د جائز او د ناجائز څه پروا نه کوي په داسي صورتحال کښ به د الله تعالى د امداد انتظار څنګه وشي، تردي، چه بعضي خلک په دي فکر دي، چه في الحال د حلالو او حرامو، جائز او ناجائزو مسائلو خبره پريږدئ اوس دکار وخت دے روسته به ددي مسائلو لحاظ ساتو انا لله و انا اليه راجعون، په حقيقت کښ دوئ ددي خبري نه غافله دي چه د شرعي مسائلو او احکامو د لحاظ نه په غير، نه مسلمانان په دنيا کښ او نه په آخرت کښ کاميابي حاصلولے شي او د ټولو کارونو نه مخکښ د مسلمانانو دپاره خلوصِ نيت لازمي شرط دے چه دا هم صفر دے، (مواعظ محاسن الاسلام ص ٢٨٠۔)

د انساني سياست قسمونه:

هرکله چه ثابته شوه، چه مسلمان ته شرعي سياست محمود او مطلوب دے نو دابه د مسلمان په فر ائضو کښ داخل وي دا، چه مسلمان په اسلامي ټولنه کښ څنګه موثر کردار ولوبوي، نو لازمه ده، چه اول بايد خپل ځان اصلاح کړي او بيا دنورو انسانانو د اصلاح په فکر کښ شي، نو د مسلمان دپاره د سياست دوه جهته شو يو د خپل ځان په رابطه او دويم د اسلامي جامعي او ټولني په رابطه، امام اصفهاني رحمه الله ليکلي دي:

السياسة ضربان احدهما سياسة الانسان نفسه وبدنه وما يختص به والثاني سياسة غيره مَن دونه واهل بلده ولا يصلح لسياسة غيره مَن لا يصلح لسياسة نفسه ولهذا ذم اللهُ تعالي من ترشح لسياسة غيره فامر بالمعروف ونهي عن المنكر وهو غير مهذب في نفسه

سیاست په دوه قسمه دے اول قسم د انسان سیاست دے د خپل نفس، بدن او د هغه څه په رابطه چه انسان پوري خاص وي دویم قسم د انسان سیاست دے د نورو خلقو په رابطه او هغه څوک د نورو خلقو د سیاست دپاره اهل نه دي څوک چه د خپل ځان د سیاست دپاره اهل نه وي۔ د دے وجے نه الله تعالي د هغه چا بد ویلي څوک چه د نورو د سیاست او اصلاح دپاره ځان مخکښ کوي په نیکئ ورته حکم کوي او د بدو نه يئ منع کوي او حال دا وي، چه دے په خپله د خپل نفس په تهذیب او اصلاح قادر نه وي۔

همدا رنګي علامه اصفهاني رحمه الله لیکلي دي:

وبهذ النظر قيل تفقهوا قبل ان تسودوا وتنبيها علي انكم لا تصلحون للسيادة قبل معرفة الفقه والسياسة العامة ولان السائس يجري من المسوس مجري ذي الظل مِن الظل، ومحال ان يعوج ذوالظل ويستقيم ظله ولاستحالة ان يهتدي المسوس والسائس ضال (اصفهاني الذريعة الى مكارم الشريعة ص٣٦ الباب التاسع السياسة التي يستحق بها خلافة الله تعالى)

او د همدي نظر او فکر په بنیاد ویل شوي چه تاسي پوهه حاصله کړئ مخکښ ددي نه چه تاسي مشران جوړشي او تنبیه ده په دي خبره باندي، چه تاسي د مشرئ دپاره اهل نه یاستئ مخکښ د پیژندلو د فقهي او دعام سیاست نه او بل دا، چه سیاست کوونکي او هغه څوک، چه د هغه د سیاست سره تعلق دے مثال يئ د سوري د خاوند او د سوري دے او دا محاله ده، چه د سوري خاوند دي کوږ غیر مستقیم وي او د ده سوري دي برابر وي او دا هم محاله ده، چه متبوع او مقتدي دي ګمراه وي او تابع دِ په هدایت او په سمه لاروي۔

د سیاست او اصلاح شروع:

هرکله، چه د سیاست تعلق د فرد او اجتماع دواړو سره دے، نو د سیاست او اصلاح شروع به د خپل ځان نه کیږي امام ماوردي رحمه الله په دي موضوع مستقل عنوان پدي قسم ذکر کړے دے:

اول مايبدا به الملك سياسة نفسه وتقويمها

اول هر هغه څه چه د وخت بادشاه او حاکم پري شروع کوي، نو هغه د خپل نفس په سیاست او اصلاح باندي شروع ده۔

د خپل ځان د اصلاح کولو طریقه:

مخکښ ذکرشو، چه انسان ته دا مهمه ده چه اول خپل ځان اصلاح کړي، نو ددي طریقه به دا وي چه خپل اخلاق او اعمال د شریعت مطابق وګرځوي علامه ماوردي رحمه الله لیکلي دي:

فلزم ذا الامرة والسلطان ان يبدا بسياسة نفسه ليحوز من الاخلاق افضلها وياتي من الافعال اجملها فيسوس الرعية بعد رياضته ويقومهم بعد استقامته ماوردي ۔ تسهيل النظر وتعجيل الظفر ص ٣٦ الفصل السادس الافعال الشريفة بالاخلاق الشريفة

د ټولو نه مخکښ چه بادشاه او حاکم يئ وکړي هغه د خپل نفس اصلاح کول او برابرول دي نو په بادشاه او حاکم لازم دي، چه د نفس اصلح د ټولو نه مخکښ شروع کړي پداسي شان سره چه نفس ته غوره اخلاق او نیک اعمال راجمع کړي او په غوره

اخلاقو او نيکو اعمالو سره د خپل نفس اصلاح وکړي او د خپل ځان د اصلاح نه روسته د خپل رعيت اصلاح وکړي او په خپلو نيکو اخلاقو او اعمالو باندي د استقامت نه روسته خپل رعيت درست او برابر کړي.

مشهور جليل القدر تابعي ابو الاسود دوئلي رحمه الله چه په ۶۹ هـ کښې وفات شوے واى:

۱۔ ابدأ بنفسك فانهها عن غيها فاذا انتهت عنه فانت حكيم

۲۔ فهناك يسمع ماتقول ويقتدي بالرأي منك وينفع التعليم

۳۔ لاتنه عن خلق وتأتي مثله عار عليك اذا فعلت عظيم

(الموافقات ج ۴ ص ۱۴۸ الطرف الثاني فيما يتعلق بالمجتهد المسألة الثالثة)

۱۔ تة اول د اصلاح شروع د خپل ځان نه وکړه او خپل نفس د سرکشۍ نه منع کړه او کله، چه دِ دا کاروکړو، نو ته هوښيارېئ

۲۔ نو په دغه وخت کښې به ستا وينا خلق اوري او ستا په نظرپسي به خلق اقتداء کوي او ستا تعليم به نفع مند وي

۳۔ او ته خلق د هغه اخلاقو نه مه منع کوه چه ته يۍ پخپله کوي او که ته دا وکړي نو دا به ستا دپاره لوئ شرم وي.

د خپل ځان د اصلاح ضرورت:

تر څو پوري چه انسان خپل ځان نه وي اصلاح کړے، نو دا دَ نورو خلقو اصلاح نه شي کولے، علامه ماوردي رحمه الله ليکلي دي:

قال بعض العلماء ينبغي للملك ان يبتدي بتقويم نفسه قبل ان يبتدئ بتقويم رعاياه والا كان بمنزلة مَن اراد تقويم ظل معوج قبل تقويم عوده الذي هو ظل له (تسهيل النظر وتعجيل الظفر ص ۳۶ الفصل السادس الافعال الشريفة بالاخلاق الشريفة)

بعضي علماء ويلي دي چه د بادشاه او حاکم دپاره مناسب دي چه اول خپل ځان برابر کړي او بيا خپل رعيت برابر کړي او که داسي اونکړي نو ددے حال به د هغه چا پشان وي چه ځان ئے نه دے برابر کړي او د خپل نا برابر بدن سورے برابره وي او دا کله کيدي شي.

د خپل ځان د اصلاح کولو فائدي او د نه اصلاح کولو نقصانات:

هر کله چه انسان د مخکي نه خپل ځان اصلاح کړي نو ددي فائده داده، چه دے به ددي نه روسته د نورو خلقو په اصلاح کولو باندي ښه قادر وي او که د خپل ځان اصلاح ونه کړي کوم، چه ده ته نزدي او ډير محبوب دے نو د نورو اصلاح نه شي کولے کوم چه ده ته دومره نزدي نه دے او نه ورته دومره محبوب دے علامه ماوردي رحمه الله ليکلي دي:

فاذا بدأ بسياسة نفسه كان علي سياسة غيره أقدر واذا اهمل مراعاة نفسه كان بأهمال غيره أجدر فبعيد ان يحدث الصلاح عمن ليس فيه صلاح لان ضرورة نفسه امس وهو بتهذيبها اخص فاذا غلب عليه عنادها واستصعب عليه قيادها كان عناد المباين له اغلب وقياده عليه اصعب قال بعض الحكماء مَن بدا بسياسة نفسه ادرك سياسة الناس (تسهيل النظر وتعجيل الظفر ص ۴۷)

نو کله چه یو شخص اول د خپل ځان اصلاح وکړه نو دے د بل په اصلاح کولو کښې ښه قادر دے او چه کله انسان د خپل ځان د اصلاح په باب غفلت وکړو او اصلاح يې نه کړو نو بل څوک چیرته هم نشي اصلاح کولے نو دا ډیره لري او گرانه خبره ده چه د یو چا د خپل ځان اصلاح نوي کړي او د بل اصلاح کوي او دا ځکه، چه ده ته د خپل نفس د اصلاح ضرورت ډیر دے او دے د خپل نفس اصلاح په خپله کولے شي نو هرکله چه په ده د خپل نفس عناد او مخالفت غالب شي او تابع کول يې مشکل شي نو د بل عناد کوونکي عناد به په ده ضرور غالب راځي او د هغه تابع کول به ده ته ډیر گران کاروي بعضي حکماوو ویلي چا چه د خپل ځان په سیاست او اصلاح شروع وکړه او اصلاح يې کړو نو دے د نورو خلقو اصلاح په کامیابۍ سره کولے شي همدارنگې کله چه مشر خپل ځان اصلاح کړي نو دا دده د رعیت د اصلاح سبب گرځي۔

د خپل نفس د اصلاح اسباب:

مخکښې د نفس د اصلاح اهمیت واضح شو د خپل نفس د اصلاح دپاره ډیر اسباب دي، بعض اسباب يې علامه ماوردي رحمه الله په لاندي انداز ذکر کړي۔

په ځان د حسن ظن څخه ډډه کول:

همیشه دپاره به انسان په خپل نفس باندي بدگمانه وي او دا ځکه چه په نفس ښه گمان کول ډیر نقصانات لري علامه ماوردي رحمه الله لیکلي دي:

ربما حسن ظن بنفسه فاغفل مراعاة اخلاقه فدعاه حسنُ الظن بها الي الرضاعنها فكان الرضا عنها داعيا الي الانقياد لها ففسد منها ما كان صالحا ولم يصلح منه ما كان فاسداً قال بعض الالبّاء مَن رضي عن نفسه اسَخَطَ عليه الناسُ (تسهيل النظر وتعجيل الظفر ص ۴۸۔۴۹ الفصل السادس الافعال الشريفة بالاخلاق الشريفة)

د انسان د نفس د اصلاح یوه طریقه داده چه انسان به په خپل نفس بدگمانه وي ځکه چه ډیر کرتي یو تن په خپل نفس ښه گمان لري او خپل ځان ورته اصلاح ښکاري نو ددي نقصان بیا دا شي چه د نیکو اخلاقو د کسبولو نه غافل شي، نو په خپل ځان باندي ښه گمان کول په ده ددي باعث شي چه دے د خپل نفس نه راضي او مطمئن شي، چه څه نیک شخص یم او دا رضا سبب د دے شي چه دے د نفس تابع شي چه نتیجه ئے دا شي چه نیک اخلاق او اعمال يې فاسد شي او فاسد اخلاق او اعمال ئے صحیح نه شي بعضي هوښیارانو ویلي څوک چه د خپل ځان نه راضي شو، نو نور خلق به د دده نه ناراضه وکرځي۔

په خپل نفس د حسن ظن لوئ اسباب:

په خپل نفس د ښه گمان ډیر اسباب دي، چه د هغي د جملي نه کبر دے۔

دکبر او ځان خوښي او ددي نقصانات:

په خپل نفس باندي د حسن ظن د اسبابو نه یو کبر او بل ځان خوښي ده چه دا خصوصا په حاکمانو کښې ډیر قبیح صفتونه دي علامه ماوردي رحمه الله لیکلي:

تسهيل النظر وعجيل الظفر ص ۴۹ الفصل السادس الافعال الشريفة با الاخلاق الشريفة

په خپل نفس د حسن ظن ډېر اسباب دي چه قوي سبب يې د اسبابو نه تکبر او خود پسندي ده دا صفت د هر چا په حق کښ قبيح دي خو د بدشاهانو، حاکمانو او اجتماعي خدمت کوونکو په حق کښ ډېر قبيح دي، ځکه چه په دي سره لوړ همت کمزوري کيږي ، چه دے خپل ځان په عالي مرتبه او مقام کښ حسابوي چه د خپل ځان په رابطه دا فکر او نظر لرل دا د هغه طاقت او قوت ضعف دے، چه بادشاهان د هغي نه ځان ساتي ځکه چه قدرت د بادشاهانو په قدرت، قوت او غلبي سره ظاهريږي نه په تکبر او ځان خوښئ سره او د انسان د مذمت او بدئ دپاره دا کفايت کوي، چه د انسان همت دده د رتبي نه کم وي او قوت يې د قدرت نه کمزوره وي بادشاه د نورو خلقو په نسبت د عالي همت خاوند وي او د نورو نه اميدونه زيات وي۔ ددي وجي نه تکبر او ځان خوښي په حاکمانو کښ ډير قبيح او دويته يې راجع کيدونکي نقصان د دوئ دپاره ډېر شرموونکي دے۔

د حضرت ابوبکر رضي الله عنه اثر:

مخکښ ذکر شو چي تکبر او ځان خوښي په حاکمانو کښ خصوصا ډېر قبيح صفتو نه دي، نو حضرت ابوبکر رضي الله عنه د هغه بادشاه او حاکم صفت کړے په چا کښ چه تکبر او ځان خوښي نه وي اول خليفه حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ويلي دي:

اذا اردت شريف الناس کلهم فانظر الي ملك في زيّ مسکين

ذاك الذي حسنتُ في الناس فافته ذاك يصلح للدنيا وللدين

(مختصر تاريخ د مشق ج ۳ ص ۱۵۸ باب زراخ الهندي شاعر، کنز العمال ج ۵ ص ۷۶۳ رقم ۱۴۳۱۲ تسهيل النظر ص ۴۹۔ الفصل السادس)

کله چه ته اراده وکړي، چه په خلقو کښ د ټولو نه شريف او معزز شخص وګوري، نو ته هغه بادشاه وګوره چه په لباس او وضع د مسکين کښ وي او دا ځکه، چه د مسکين نرمي او شفقت په خلقو کښ ښه وي او صالح بادشاه د خلقو د ټولو ديني او دنيوي امورو دپاره بر ابرونکي او اصلاح کوونکي وي۔

د تکبر او ځان خوښئ تر منيځ فرق:

د تکبر او ځان خوښئ تر مينځ د فرق کولو په باره کښ د علامه ماوردي رحمه الله وينا:

، تسهيل النظر ص ۵۱ الفصل السادس

دا دواړه په بدوالي کښ سره جمع کيږي چه دواړه قبيح او بد صفتونه دي خو د معنى په لحاظ سره جدا دي هغه دا رنګي، چه د خود پسندئ او ځان خوښئ تعلق د نفس سره دي، چه انسان د خپل ځان په رابطه دا فکر کوي، چه زه د نيکو اخلاقو خاوند يم او د تکبر تعلق د مرتبي او دقدرت سره وي چه دے دغه قدرت او مرتبه د خپل ځان په رابطه ډيره اوچته ګڼړي نو د ځان خوښئ علت لذاته دي او د نفس سره لازم وي او د تکبر علت چونکه عارضي وي ډير دردونکے وي او دواړه د فضيلت او مرتبي خاوندانو دپاره بد صفتونه دي۔

د تکبر او ځان خوښئ غټ اسباب:

د تکبر او خود پسندئ قباحت ذکر شو دا چه انسان ځان تري وساتي لازمه ده چه اسباب يې هم مختصر پيژندل شي چونکه دا ډير اسباب لري خو دلته به يې قوي اسباب ذکر کولے شي۔

الف- د نیا پرسته دوستان، ب - دنیا پرست ستایونکي:

د تکبر او خود پسندئ د اسبابو نه یو سبب د دنیا غرَضي دوستان دي او بل د دنیا غرَضي صفت کوونکي دي، چه دوئ د خپلو اغراضو د تحقق دپاره د حاکم په حق کښ افراط وکړي، چه په نتیجه کښ په حاکم کښ تکبر او خود پسندي پیدا شي علامه ماوردي رحمه الله ددي په رابطه لیکلي دي:

تسهیل النظر وتعجیل الظفر ص ۵۲ من اسباب الکبر والاعجاب)

د تکبر دپاره ډیر اسباب دي د قوي اسبابو نه یو سبب يئ زیاتوالے د هغه اشخاصو دے چه دوئ په تکلف سره او د دنیوئ غرض په خاطر حاکم ته ځان نزدي کوي او هغه خلق دي، چه بي ځایه مدح او طمع کوونکي دي، چه دروغ او منافقت يئ د ژوند ذریعه گرځولي وي ټکي خوښوي او دا عمل، چه دوئ کوي، نو د دي وجي نه چه دوئ کمینه او بي حیثیته خلق دي کله چه دوئ د خپل منافقت دپاره موقع پیدا کړي او د خپلو دروغو دپاره توثیق او مطابقت پیدا کړي، نو دوئ دغه دروغ او منافقت خپل په ذمه وارئ د احمقانو کښ ذریعه د رسیدلو او د ترقئ وگرځوي او ځان پري حاکم شخص ته ورسوي دا د دوي دپاره غنیمت شي او مال پري راجمع کړي او د دي مال په عوض کښ خپل دین دلاسه ورکړي د دین په عوض کښ حاکم ورته څه حصه مال ورکړي حاکم د ځان سره دا فیصله کوي، چه دوئ چه زما په مدحه کښ څه اویل هغه دروغ دي ځکه ، چه حاکم په خپل نفس علم لري او حاکم په دي فکروي چه په دي طریقي سره دده دا مدحه او صفت په حقیقت کښ په ده پوري استهزاء او مسخري دي او دا ځکه ، چه بادشاه او حاکم د بي ځایه صفت کوونکو هدف دده سر دردي او دده دوکه کول وو او هغه مقصد حاصل شو -څرنګي چه دا عمل خطرناک دي نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم تري منع کړي او فرمایلي دي، چه کله تاسي د داسي بي ځایه صفت کوونکي وګورئ نو د دوئ په مخ خاوري واچوئ او همدارنګي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه د داسي بي ځایه مدحو څخه ځان وساتئ ځکه چه دا قسمه مدحي سبب د هلاکت د انسان ګرځي.

اسلامي دولت چاته واي

د اسلامي دولت یا اسلامي حکومت تعریف په ډیر ساده او واضحه الفاظو کښ داسي کولي شي:

انها الدولة التي تقوم علي مبادئ القرآن الکریم وسنة رسول الله صلي الله علیه وسلم وتتخذ من شریعة الله المتمثلة فیها منهاج حکم شامل (نظام الحکم في الاسلام ص: ۱۶۴ المبحث الثالث الدستور في الاسلام د محمد فاروق نبهان)

اسلامي دولت هغه ته واي چه د قرآن کریم او د رسول الله صلي الله علیه وسلم په سنتو ولاړوي او د الله تعالي د شریعت په رڼا کښ (چه هغه د قرآن او سنت نه اخستلي شوي) د حکومت دپاره یوه عامه او شامله لار جوړه شي. یعني اسلامي دولت هغه حکومت ته واي چه د شریعت او قرآن او سنت په رڼا کښ چلیږي.

د اسلامي دولت اساسي قانون چاته واي

د اسلامي دولت اساسي قانون یا په بل تعبیر د اسلامي ریاست اعلي ترین آئین قرآن کریم او سنت د رسول کریم صلي الله علیه وسلم دے او دا هغه آئین او قانون دے چه پدیکښ هیڅ تبدیلي ممکن نه ده. لهذا ټوله قانون سازي به د قرآن او سنت تابع وي.

شپږم باب: د جمهوريت متعلق شبهات او جو ابات

اوله شبه: په اميدوارانو كښې چه څوک غوره وي هغه ته ووټ وركول ضروري او واجب دي۔

جواب:

ووټ د جمهوريت حصه ده او جمهوريت كفر او غير اسلامي شي دے او گناه او معصيت دے او كوم شي چه د گناه يا كفر حصه وي هغه واجب نه وي۔

او دا به څرنګي واجب وي چه انسان د كفر او نفاق او د بغض او نفرت او مكر او فريب او د غيبت او بهتان او اسراف او تبذير او دوكے او فريب په سمندرونو كښې ډوب كړي او دا به څرنګے واجب وي چه هغه اولاد د پلار نه جدا كوي او هغه د مدرسو او جماتونو ماحول خرابوي او هغه د علم او تقوي جنازي اوباسي۔

دويمه شبه: بعض علماء كرامو فتوي وركړي چه ووټ وركول پكار دي ځكه ووټ شهادت دے سفارش دے وكالت دے۔

د بعض علماء د خبري تفصيل:

د ووټ حيثيت:

ووټ شهادت دے يعني چه څوک د دے منصب طلب كوي نو دهغه د اهليت گواهي ده چه دا د دے منصب اهل دے۔

او ووټ سفارش دے يعني ووټ وركونكي د اميدوار دپاره د دغه منصب سفارش كوي او ووټ توكيل يا وكالت دے يعني ووټ وركونكي اميدوار لره د خپلو حقوقو دپاره وكيل گرځوي۔ نو ووټ وركونكي مؤكل دے او اميدوار وكيل دے۔ د دے وجه نه په بعض ملكونو كښې د اسمبلي ممبر ته وكيل واي۔

مفتي محمد شفيع رحمه الله په جواهر الفقه ص:۲۹۹ ج:۲ كښې واي:

ہمارا ووٹ تین حیثیتیں رکھتا ہے، ایک شہادت، دوسری سفارش اورتیسری حقوق مشترکہ میں وکالت۔

د ووټ شرعي حكم د شهادت په حيثيت

كوم علماء چه د ووټ دغه درے حيثيتونه بيانوي نو دهغوي په نيز د ووټ شرعي حكم هغه دے چه كوم قرآن كريم د شهادت په باره كښې بيان كړي، لكه الله تعالي واي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ (المائده:۸)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاءَ لِلَّهِ (النساء:۱۳۵)

وَلَا يَأْبَ الشُّهَدَاءُ إِذَا مَا دُعُوا (البقرة:۲۸۲)

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ (البقرة:۱۴۳)

(البقرة:۲۸۲)

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا (النساء:۵۸)

پدے آیاتونو کښې چه د شهادت کوم حکمونه بیان شوي نو دغه حکمونه د ووټ هم دي۔ مثلا:

۱۔ صحیح گواهي به صرف د الله تعالي دپاره کوي نو دغه رنګي ووټ به صرف د الله تعالي دپاره استعمالوي۔

۲۔ که ستا دشمن په حقه دي او رشتیني وي نو انصاف دا دے چه دهغه په حق کښې گواهي وکړي نو دغه رنګي که په ووټونو کښې ستا مخالف په حقه وي او رشتیني وي، ووټ به هغه ته ورکوي دپارټي لحاظ به نه کوي۔

۳۔ کچري ستا د رشتیني گواهي په وجه تا ته په خپله یا ستا مور او پلار یا رشته دارو دوستانو یا پارټي والا ته نقصان رسیږي نو و دِ رسیږي نو دغه رنګي که ستا د صحیح ووټ په وجه دغه مذکوره کسانو ته نقصان رسیږي نو پرواه بۓ نه کوي۔

۴۔ څرنګي چه د گواهي نه انکارکول گناه ده ظلم دے نو دغه رنګي د ووټ د استعمالولو نه انکارکول هم لويه گناه ده او لوي ظلم دے۔

۵۔ صحیح اهل ته ووټ ورکول ضروري امانت دے او نا اهله ته ووټ ورکول خیانت دے او لویه گناه دي۔

د ووټ شرعي حکم د سفارش په حیثیت

ووټ په بل حیثیت سفارش دے یعني د ووټرد طرف نه د دے خبري سفارش دے چه فلاني امیدوار په نسبت د نورو امیدوارانو د مطلوبه عهدے او منصب زیات حقدار او اهلیت والا دے۔

نو هرکله چه دا سفارش دے او سفارش اسلامي زمواري ده که د یو حقدار دپاره د الله تعالي د رضا دپاره سفارش وکړي نو دا لوي عبادت دے او د الله تعالي درضا لویه ذریعه ده۔ نو دغه رنګي صحیح کس ته ووټ ورکول لوي ثواب دے او د الله تعالي د راضي کولو لویه ذریعه ده۔

او که د یو نا اهله خائن بدکردار دپاره سفارش کوي نو دا لویه گناه ده او د الله تعالي د ناراضګي لویه ذریعه ده۔ نو دغه رنګي نا اهله ته ووټ ورکول هم لویه گناه ده او د الله تعالي د ناراضګي لویه ذریعه ده۔

څکه الله تعالي واي:

مَنْ يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَكُنْ لَهُ نَصِيبٌ مِنْهَا وَمَنْ يَشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَكُنْ لَهُ كِفْلٌ مِنْهَا (النساء:۸۵)

د ووټ شرعي حکم د مشورے په حیثیت

ووټ په یو بل حیثیت سره مشوره هم ده یعني ووټر الیکشن یا سلیکشن کونکي اتهارټي ته د خپل ووټ په ذریعه دا مشوره ورکوي چه څه چه چا ته ووټ ورکوم نو په ده کښې د دغه منصب د اهلیت ټول شرطونه موجود دي۔ لهذا زما مشوره دا ده چه دَ ته دا منصب او عهده وسپارلي شي او په شرعي لحاظ مشوره امانت دے او مشوره ورکونکي امانت دار دے څکه رسول الله صلي الله علیه وسلم واي:

المستشار مؤتمن (متفق علیه)

د چا نه چه مشوره طلب کولي شي هغه امانت دار دے نو دا به صحیح مشوره ورکوي غلطه مشوره به نه ورکوي۔ نو ووټ امانت دے، ووټر امانتدار دے او ووټ په صحیح ځاي کښې استعمالول امانت داري او دینداري ده او ووټ په غلط ځاي کښې استعمالول خیانت دے۔

د ووټ شرعي حکم په حیثیت د وکالت

په ووټ کښې څلورم حیثیت د وکالت دے، یعني ووټ ورکونکي امیدوار خپل وکیل ګرځوي نو ووټر مؤکل دے او امیدوار وکیل یا نمائنده او نائب دے۔ او دا قانون دے چه د وکیل ټول ښه او بد د مؤکل په غاړه وي۔

که یو سړي یو خائن، زاني، شر ابي دالله او د رسول نافرمان او باغي خپل وکیل او نائب کړي نو دا مؤکل ګنهګار دے۔

او که د دے برعکس یو نیک او متقي سړي وکیل کړي نو دا اجر او ثواب دے نو دغه رنګي که ته ووټ صحیح سړي ته ورکړې ثواب دے ورنه عذاب دے۔

حاصل بحث

ووټ د دے څلور حیثیتونو په وجه اسلامي فریضه او زمداري ده۔ په صحیح ځایکښې استعمالول ضروري دي او په غلط ځایکښې استعمالول ګناه ده۔ دا دغه بعض علماء د قول حاصل دے چه هغه ووټ استعمالول ضروري ګڼړي اګرچه مونږ ورسره مو افق نه یو۔

اجمالي جواب:

دا شهادت ځکه نه دے چه د د شهادت نصاب معلوم وي، مثلا دوه کسان وي، او د دے نصاب په دوه وو نه پوره کیږي بلکه په زرګونو هم نه پوره کیږي۔

دویم دا چه دا شهادت ځکه نه دے چه په شهادت کښې مسلمان او کافر نارینه او زنانه بر ابر نه وي او په ووټ کښې بر ابر وي۔

دریم دا چه دا شهادت ځکه نه دے چه په شهادت کښې مرتد مردود الشهادت وي او په ووټ کښې مرتد مردود الشهادت نه دے۔

او دا سفارش هم نه دے ځکه د سفارش قبلول ضروري نه دي او په ووټ کښې که یو کس هم زیات شي نو دهغې قبلول ضروري وي۔

او وکالت هم نه دے ځکه په وکالت کښې مؤکل د وکیل نه مضبوط وي او پدیکښې خو وکیل د مؤکل نه زیات مضبوط وي۔

تفصیلي جواب

مونږ و ایو چه مروجه ووټ نه شهادت دے او نه سفارش او وکالت دے

مونږ و ایو چه ووټ نه اسلامي فریضه ده او نه شهادت دے ځکه په اسلام کښې د ټولو فر ائضو دپاره څه شرطونه دي لکه مونځ روژه حج زکوة۔ د دے د صحت دپاره شرطونه شته نو دغه رنګي که ووټ اسلامي فریضه او شهادت سي نو د شهادت دپاره هم څه شرطونه شته۔ یو شرط دا دے چه ووټر یعني ووټ ورکونکي په بل تعبیر شهادت کونکي به صحیح العقیده مسلمان وي۔

او په مروجه ووټونو کښې دا شرط نشته چه ووټر به صحیح العقیده مسلمان وي، ځکه اکثرپکښې داسي دي چه په هغوي کښې د کفر علامات موجود دي، مثلا اسلامي تعزیراتو ته وحشیانه او ظالمانه سزاګاني واي، اسلامي نظام ته فرسوده نظام واي، اسلامي نظام ته باعث د تنزل واي، کله واي چه د موجوده زماني دپاره دا نظام غیرموزون دي، څوک پکښې د ختم نبوت نه انکار کوي، څوک قرآن کریم کامل او مکمل نظام نه ګڼړي۔ نو داسي سړي د دائرے د اسلام نه خارج دے۔ اګرچه کلمه واي، مونځ اودس کوي، روژه نیسي، حج زکوة ورکوي، تلاوت او تهجد کوي۔ او په داسي سړي کښې دا اهلیت نشته چه دا ووټر او شهادت ورکونکي وګرځي۔

بل دا چه ووټ ورکونکي شاهد او ګواه ځکه نه دے چه ګواهي ورکونکي به عادل یا کم ازکم مستورالحال وي، یعني د ظاهري صورت او سیرت په لحاظ به صحیح العقیده مسلمان وي۔ داسلامي فرائضو او ارکانو به پابند وي د کبیره ګناهونو نه به ځان ساتي او که کومه ګناه ئے کړي وي، دهغے نه بې رشتیني توبه ایستلي وي، د توبے نه روستو به په هغه کښې اصلاح عمل او تقوي ښکاره لیدلي کیږي او په مروجه ووټونو کښې اکثر ووټران داسي نه دي۔ ځکه د اکثرو ظاهري صورت او سیرت هم د اسلام نه خلاف وي او د اسلامي ارکانو او فرائضو پابندي پکښې هم نه وي۔ د مونځ اودس حج روژې زکوة خیال نه ساتي، اکثر په کبیره ګناهونو کښې اخته وي، ځکه شراب څکي، سودي کاروبارکوي، رشوت خوري، ولهم اعمال من دون ذالک هم لها عاملون۔

بل دا چه ډیر کرته ووټ په پیسو او دولت خرڅولي کیږي۔ په شریعت کښې د داسي ووټ هیڅ قدر او قیمت نشته او ووټ اخستل او خرڅول دواړه حرام دي نو داسي ووټ ته به څرنګې شهادت اوویلي شي۔

بل دا چه ووټ شهادت ځکه نه دے چه شهادت د مورپلار اولاد دپاره صحیح نه دے۔ دغه رنګې شهادت دهغه چادپاره صحیح نه دے چه دهغه سره د ګواه نفع او نقصان شریک وي یا د عصبیت قوم پرستي او دشمني په بنیاد هم شهادت صحیح نه دے او په مروجه ووټونو کښې دا ټولي خبري شته۔

او کوم علماء چه ووټ ورکول ضروري ګڼړي، ثواب ئے ګڼړي دیته شهادت سفارش وکالت واي۔ نو الله تعالي دهغوي په حال ښه خبردے، کیدي شي چه دا دهغوي اجتهادي خطائي وي۔ خو ظاهرا دا خبري د اسلام او جمهوریت خلط ملط ښکاري او ظاهرا شوده او بول یو ځای کول دي او ظاهرا د دے قول مصداق معلومیږي چه <u>نرقع دنیانا بتمزیق دیننا فلا دیننا یبقي ولا ما نرقع</u>

دریمه شبه:

بعض علماء کرامو فتوي ورکړي چه جمهوریت نه اسلام دے نه کفر بلکه جمهوریت ضرورت دے نو مونږ د ضرورت په وجه د ضرورت په اندازه پدیکښې حصه اخلو۔

بعض واي چه مونږ دا منو چه جمهوریت کفر دے لکه ضرورت دے مجبوري ده او د ضرورت په وخت کښې د خنزیر غوښه خوړل هم جائز دي۔

جواب:

اول خو مونږ دانه منو چه جمهوریت ضرورت دے ځکه په شریعت کښې د جمهوریت متبادل لارشته چه هغه دعوت او جهاد دے چه دعوت او جهاد د الله تعالي حکم دے او د رسول الله صلي الله علیه وسلم طریقه ده۔ د دعوت او جهاد د لاري نه په نظام کښې تبدیلي راتلي شي او که تبدیلي رانه شي نو خپل مسؤولیت عند الله اداء کیږي۔

ستاسو سره په زرګونو مدرسے مرکزونه او خانقاګاني دي او په هغے کښې په لکونو متحرک او صحت مند نوجوانان شته۔

ستاسو سره د فتوے هغه طاقت دے چه هغه په دنیا کښې دهیچا سره نشته او د دغه فتوے په برکت د طاغوت لښکري تهس نس کیدے شي۔

دویم دا چه دا څرنګې ضرورت دے چه تول عمر نه پوره کیږي۔ ستاسو خو تول عمر پدیکښې ختم شو آیا د خنزیر غوښه څوک تول عمر خوري۔

دریم دا چه که تاسو ویوي چه مونږ منو چه جمهوریت ګناه یا کفر دے خو ضرورت دے نو مونږ دا هم نه منو چه تاسو ورته ګناه یا کفر ویوي، ځکه چه تاسو خو د دے کفریا خباثتونه په یو تقریر کښې هم عوامو ته واضحه نه کړو، ستاسو د شرکت او خاموشي په جه د دے په کفر او خباثتونو کښې د اکثر عوامو شک دے۔

دا څرنګې کیدے شي چه یو دینداره غیرتي عالم یو شي کفر ګڼږي او بیا هم هغه خوربږي او دا خاموشه وي او خپلو شاګردانو مقتدیانو او معتقدینو ته د دے کفر نه واضحه کوي۔

څلورمه شبه: د ووټ په باره کښې بعض مشر انو علماء فتوي ورکړي

دا فتوي خو بعض مشر انو مشر انو علماء کرامو ورکړي چه ووټ شهادت دے، سفارش دے، وکالت دے، دغه رنګې فتوي ئے ورکړي چه نیکانو خلقو ته ووټ ورکول سبب د اجر عظیم دے۔

جواب:

دغه مشران مونږ ته ډیر زیات محبوب دي، د دغو سره مونږ مینه محبت کوو او د دغو احترام کوو لکن د دغه مشر انو نه مونږ ته حق ډیر زیات محبوب دے، لکه شیخ الاسلام ابن قیم رحمه الله د شیخ الاسلام الانصاري رحمه الله د بعض خبرو په باره کښې واي چه شیخ الاسلام مونږ ته محبوب دے ولکن <u>الحق احب الینا منه</u> (لکن حق مونږ ته د ده نه دیر زیات محبوب دے)۔

دغه رنګے امام ابو حنیفه رحمه الله واي چه کله څما خبره د قرآن او سنت نه خلاف وه نو د دیوال نه ئے وولي۔

نو مونږ دغه قسم فتوے نظر انداز کوو او د دغه سره هیڅکله مو افقه نه کوو۔

دغه رنګې د شریعت څلور دلائل دي، قرآن ، سنت، اجماع او قیاس۔ د یو عالم قول چه بے دلیله وي یعني په شریعت کښې دلیل نه وي۔ نو د یو عالم قول چه بے دلیله وي زمونږ دپاره هیڅکله حجت نه دے۔

قول او عمل د مشائخو او مشر انو دلیل شرعي نه دے:

امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائي:

لا یحل لاحد ان یاخذ بقولنا مالم یعرف ماخذه من الکتاب والسنۀ او اجماع الامۀ او القیاس۔ (النافع الکبیر ص:۱۰۱، الجواهر المضیئۀ ص:۵۲ ج:۱)

حلال نه دي یو کس لره چه زمونږه خبره قبوله کړي ترڅو چه د هغے ماخذ یعني د اخستولو ځائے ونه پیژني چه کتاب الله او سنت رسول دي یا اجماع امت یا قیاس دي۔

امام ابو یوسف رحمه الله د خپل وفات په وخت کښې فرمائیلي وو:

کل ما افتیت به فقد رجعت عنه الا ما و افق الکتاب والسنۀ۔ (تذکرۀ الحفاظ ص:۱۹۳ ج:۱)

ما چه په کومه خبره هم فتوي ورکړے ده زه د هغې نه رجوع کوم سوا د هغې نه چه د کتاب الله او سنت رسول صلي الله علیه وسلم سره مو افقت لري۔

امام اوزاعي رحمه الله فرمائي:

علیك بآثار من سلف وان رفضک الناس و ایاک وراي الرجال وان زخرفوه بالقول فان الامر ینجلي و انت علي صراط مستقیم (تذکرۀ الحفاظ ص:۱۵۰ ج:۱)

د سلفو صالحینو آثار لازم اونیسه اگرچه خلق تا پرېږدي او د خلقو د رایو نه لري اوسه (ځان اوساته) اگرچه هغوي دغه په ملمع وینا سره ډولي کړي۔ پس خبره روښانه ده او ته به په بر ابره لاره ئے۔

مجدد الف ثاني رحمه الله:

عمل صوفیه درحل و حرمت حجت نیست (دفتر اول ص:۲۶۶)

د صوفیانو عمل په حلت او حرمت کښې دلیل نه دي۔

مدخل کښې دي:

فکل مالم ینقل عن الشارع یجب طرحه ولا یتبع في ذلک المشایخ وان آل الامر الي فر اقهم وهجرهم فانما صلۀ الرحم في اتباع الشریعۀ لا في طواطؤ البدعۀ۔ وروي الا لایقلدن احدکم الحي فان الحي لا تؤمن علیه الفتنۀ (صفۀ الصفوۀ ص:۱۶۶، اغاثۀ اللهفان ص:۱۵۹)

پس ټول هغه څه چه د شارع نه نقل نه وي غورځول ئے واجب وي او په هغه کښې د مشایخو اتباع نه ده پکار اگر چه خبره د هغوي جدائي او پریخودلو ته راوگرځي، ځکه صله رحمي په اتباع د شریعت کښې ده نه د بدعت په مو افقت کښې

او رو ایت کښې راغلي دي:

خبردار! په تاسو کښې دِ یو تن هم د ژوندي اتباع نه کوي ځکه ژوندي د فتنې نه په امن کښې نه وي۔ (اصول السنة)

پینځمه شبه: د جمهوریت او انتخاباتو متبادل لارنشته

بعض خلق واي چه زمونږ سره د جمهوریت او انتخاباتو متبادل لارنشته۔

جواب:

آیا زمونږ دین مکمل نه دے، آیا زمونږ رب مونږ داسي خوار او ذلیله پرېښي یو چه زمونږ سره د دے بدبودار کفري سستم متبادل نشته۔ آیا زمونږ دین ناقص او نیمگړي دے چه اوس دهغې نیمگرتیا په جمهوریت او انتخاباتو پوره کوو۔ د دے خو داسي مثال دے چه د یوے ړندې زنانه پنځوس یاران وي او واي چه په اسلام کښې مالره د دے متبادل نشته۔ یا یو سړي د مفعولیت په مرض اخته دے او دا واي چه په اسلام کښې ما لره د دے متبادل لاره نشته۔

داسي خلقولره د دے خبرونه توبه پکارده، متبادل لاره غوښتل نه دي پکار، ځکه دا د مسلمان شان نه دے چه هغه ځانله د کفر او یا د ګناه داسي متبادل لاره ګوري چه هغه هم کفر او یا ګناه وي۔

خو په اصل کښ د جمهوریت تیارو د دوي په سترګو پردي راغورزولي نو دویته متبادل لارپه نظر نه راځي۔ که دوي توبه ویستله او د دوي سترګوته د جمهوریت تیاره ختمه شو او رڼرا راغله نو دویته به په نظر متبادل لارراشي۔

متبادل لار هغه دعوت دے او جهاد دے او د جهاد په نتیجه کښ فتوحات دي او بیا په دغه مفتوحه علاقو کښ شرعي نظام قائمول دي۔

بهر حال خپل دین او خپل اسلام نیمګړي ګڼرل نه دي پکار ځکه زمونږ دین مکمل دین دے

الیوم اکملت لکم دینکم

او زمونږ کتاب هره ضروري خبره بیان کړي **تبیانا لکل شی۔**

زمونږ کتاب یوه ضروري خبره هم نه ده پرېښي ما فرطنا في الکتاب من شيئ (وانظر اصول السنة)

زمونږ دین کامل دے احتمال د زیادت او نقصان نه لري

قال الله تعالي:

اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي

وقال تعالي:

وَلِيَلْبِسُوا عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ

نن ورځ ما ستاسو د پاره ستاسو دین مکمل کړو او خپل نعمت مو په تاسي پوره کړو۔

او الله تعالي فرمائي او د دِ دپاره چه په دوي باندي د دوي دین ګډوډ کړي۔

ملا علي قاري رحمه الله فرمائي:

لا نحتاج في امر الدین الي امر خارج من الکتاب والسنة **(شرح الفقه الاکبر ص:۱۱)**

مونږ د دین په کارکښ د کتاب او سنت نه بهر بل څه ته نه یو محتاجه

او علامه ابن حزم علي بن احمد واي:

والدین قد تم فلا یزاد فیه ولا ینقص منه ولا یبدل **(المحلي ص:۲٦ ج:۱)**

او یقینا دین پوره شویدي نو پدیکښ زیادت کول او نقصان کول به نه کیږي او نه پدیکښ څه بدلولي شي۔

امام مالک رحمه الله فرمائي:

فما لم یکن یومئذ دینا فلا یکون الیوم دینا **(الاعتصام ص:۴۸ ج:۱)**

پس هغه څه چه پدغه وخت دين نه وو نو نن هغه دين نه وي۔

دغه شان بل ځائے کښ و ائي:

قبض رسول الله صلي الله عليه وسلم وقد تم هذا الامر واستكمل فانما ينبغي ان نتبع آثار رسول الله صلي الله عليه وسلم ولا نتبع الرأي فانه متي اتبع الرأي جاء رجل آخر اقوي في الرأي منك فاتبعت فانت كلما جاء رجل غلبك اتبعته (الاعتصام ص:١٤٧ ج:١)

رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات شو او دا دين مكمل شو او پوره شو نو پكار ده چه مونږ د رسول الله صلي الله عليه وسلم په نقش قدم پسي روان شو او په راي پسي روان نه شو ځكه كله چه د راي اتباع اوكړيشي او ستا نه په راي كښ بل قوي سړے راغلو نو ته به د هغه اتباع كوي نو هر څوك چه راځي په تا غالبه كيږي ته به ئے اتباع كوے۔

۶۔ شپږمه شبه: مخالفينو ته ميدان خالي نه پريږدو

بعض خلق د جمهوريت او انتخاباتو نقصانو نه پيجني خو بيا هم واي چه مونږ پديكښ ځكه شركت كوو چه مخالفينو ته ميدان خالي پريښودل نه دي پكار۔

جواب:

ټولو پيغمبر انو كفارو ته د كفر او د ګناه ميدانو نه خالي پريښي۔ نو داسي نه ده پكار چه يو ډم په ميدان كښ ګډيږي او ته ورسره هم په ګډا شي۔ پدي دليل چه ډم ته ميدان خالي پريښودل نه دي پكار۔

۷۔ اومه شبه: مونږ په اهون البليتين عمل كوو

بعض خلق واي چه مونږ په اهون البليتين عمل كوو ځكه مجبوري ده، د مجبوري نه په جمهوريت او انتخاباتو كښ حصه اخلو۔

جواب:

هيڅ مجبوري نشته، مونږ د اهون البليتين په اختيارولو مجبور نه يو، په جمهوريت او انتخاباتو كښ حصه اخستل څه ضروري نه دي، ږے طرفه كينه او شرعي لار اختيار كړه چه هغه دعوت او جهاد دے۔

اتمه شبه: دجمهوريت په جواز اجماع سكوتي ده

ځكه ټول خلق د جمهوريت صفت كوي او په جمهوريت كښ اخته دي۔

جواب:

اول خو د جمهوريت په جواز اتفاق كول د مسلمان د شان سره مناسب نه دي، ځكه په جمهوريت كښ د عوامو حاكميت دے د اكثريت شارعيت دے او په جمهوريت كښ اباحت مطلقه دے۔

دويم دا چه كچري څوك ږے اتفاق وكړي نو داسي اتفاق له اعتبار نشته، ځكه جمهوريت د ټولو آسماني اديانو او نصوص قطعيو خلاف دے، او كه په جمهوريت د خلقو تعامل جاري دے نو دا دليل د جواز نه دے ځكه داسي خو ټول خلق د بينكونو په ذريعه په سودي نظام كښ په رشوتونو، دروغو او حكم بغير ما انزل الله كښ اخته دي نو دا تعامل دليل د جواز نه دے۔

نهمه شبه: هر کله جمهوریت غیر اسلامي او غیر شرعي عمل دے نو مذهبي جماعتونه پکښ ولي حصه اخلي۔

یعني د ډیرې زماني نه خالص مذهبي جماعتونه لکه جمعیة علماء اسلام، جمعیة العلماء پاکستان، جماعت اسلامي، جمعیت اهل حدیث وغیره په مروجه جمهوري عمل کښ برابر حصه اخلي او د دے باقاعده یوه حصه ده نو دوي ولي دا کار کوي، آیا دوي ئے جائز ګڼړي نو ځکه پکښ حصه اخلي او که نه دوي ئے ناجائز ګڼړي نو بیا پکښ ولي حصه اخلي۔

جواب:

په دوي کښ چه کوم پوهه او دیندراه خلق دے نو هغوي جمهوریت هیڅ کله جائز نه ګڼړي، لکه دا خبره د دوي د تحریرونو او تقریرونه معلومیږي، مثلا مولانا مفتي محمود صاحب قائد جمعیة العلماء اسلام او د پاکستان د قومي اتحاد سابق صدر او د صوبه سرحد وزیر اعلي او د عصر حاضر یو لوي مفتي هغه واي چه مروجه جمهوریت غیر اسلامي او ناجائز دے، لکه په آذان سحر ص:۱۱۹ کښ مفتي صاحب یو بیان چه هغه په ۴ جون ۱۹۷۲ء لاهور کښ د ختم نبوت منعقده کانفرنس ته خطاب کوي او واي چه د یورپ په جمهوریت کښ حاکم اعلي عوام دي او څه و ایم چه حاکم اعلي صرف الله تعالي دے، که څوک واي چه حاکم د الله تعالي ماسوا عوام دي نو دَ د الله تعالي په ذات کښ شریک وکړو او غیر الله ئے د الله تعالي سره شریک کړو، په اسلام کښ د داسي جمهوریت هیڅ جواز نشته۔

دغه رنګې د دوي داسي نور تحریرونه او تقریر هم شته۔

خو دا سوال پیدا کیږي چه هر کله دوي مروجه جمهوریت حرام او ناجائز ګڼړي نو بیا پکښ حصه ولي اخلي۔

نو پدے ځاي کښ د جواب دوه طریقي دي، یوه طریقه د دوي ده، یعني دهغه مذهبي جماعتونو چه هغه په جمهوریت کښ حصه اخلي، دویمه طریقه زمونږ ده۔

دوي پدي طریقه جواب کوي:

چه د مغربي جمهوریت پارلیمنټ نمرودي بت خانه ده، څوک د آذر غوندي بت تراشي ته ورځي نو دا لویه ګناه ده او څوک د ابراهیم علیه السلام غوندي بت شکني ته ورځي نو دا عظیم عبادت دے او دغه بت خانې ته د ورتلو لار جمهوري الیکشن دے نو د مجبوري په وجه دا عمل علماء لره صرف جائز نه بلکه فرض دے۔

شرعا او عقلا چه پدے ګنده لاره د یورپي جمهوریت بت خانو ته دننه ننوزي او د جمهوریت پرستو په نوي نوي بتانو جوړولو د ایمانداري ګذارونه وکړي او چه کله علماء اسمبلي ته دننه لاړشي او د اسمبلي ارکان د اسلام خلاف په تیزي سره کوم قوانین جوړ ئ چه دغه علماء دغه ناکاره ارکان د دغه اسلام خلاف قوانینو رفتار منع کړي یائے دغه تیز رفتاري کمه کړي او چه کله د اسمبلي نه بهر رااوزي نو د ټول ملک عوام مسلمانان دهغوي د ګمراهي په مقابله کښ بیدار کړي۔

او په الیکشن کښ دومره اکثریت د علماء نشي کامیابیدے چه هغوي په اسمبلي کښ اسلامي قوانین جوړ کړي، ځکه په اسمبلي کښ قوانین جورول یا په قوانینو کښ ترمیم د اکثریت په بنیاد کیږي نو که اسلامي قوانین نه شو جوړولي نو څه نه څه داسلام خلاف قوانینو مخ نیوي کولي شو۔

دغه رنګې جواب مولانا نور محمد په خپل کتاب (جمهوریت عقل ونقل کے آئنے میں) کښ کړي۔ مونږ ئے حاصل نقل کړو۔ خو د دے جواب رجع دے خبري ته ده چه زمونږ پدے جمهوري عمل کښ حصه اخستل په جمهوري طریقه الیکشن کول اسمبلي ته ځان رسول د منکر اتو د رد دپاره دي، مونږ د دغه اسلام خلاف قوانینو مخ نیوي وکړو دغه منع کړو یا ئے کم کړو۔

زمونږ اجمالي جواب:

دغه مذکوره جواب خو د غه مذهبي جماعتونو وو چه هغوي په مروجه جمهوريت کښ حصه اخلي او د دغه عمل باقاعده حصه ګرځيدلي، لکن مونږ پدے جواب هيڅ کله راضي نه يو او نه مونږ دغه کار فرض ګڼړو، نه ئے جائزګڼړو، نه ئے ثواب او عبادت ګڼړو او نه ديته د ابراهيم عليه السلام کردار وايو، بلکه مونږ الله تعالي ته د دغه جمهوري عمل نه برائت پيش کوو او وايو چه اللهم انا نبرء اليک مما صنع هؤلاء۔

او چه کومو مشرانو او ديندراه علماء په دغه عمل کښ حصه اخستي دا د هغوي اجتهادي خطائي ده، الله تعالي دِ ورته د اجتهاد اجر ورکړي او کومه خطاء چه ترينه په دغه اجتهاد کښ شوي هغه دِ ورته الله تعالي معاف کړي۔ او دهغوي دغه اجتهادي خطائي زمونږ دپاره دليل نه دے۔ دهغوي د مشري او ديندراي په خپل ځاي ډير احترام کوو لکن په دغه جمهوري عمل کښ ورسره هيڅ کله مو افقه نه کوو۔ پدے ځاي کښ زمونږ او د دوي لاري بيلا بيل کيږي۔ هذا فراق بيني وبينک۔ او د دوي دغه عمل يعني په مروجه جمهوريت کښ حصه اخستل زمونږ دپاره قابل تقليد عمل نه دے او نورهم د جمهوري طريقي نه منع کوو او دا توصيه ورته کوو چه د دغه علماء په اجتهادي خطائي پسي مه روانيږي، بلکه د رسول الله صلي الله عليه وسلم او خيرالقرون په نهج روان شي چه هغه دعوت هجرت او قتال في سبيل الله تعالي دے۔

زمونږ تفصيلي جواب

مونږ دغه کارنه فرض ګڼړو او نه ئے ثواب او عبادت ګڼړو ځکه چه مخکښ مونږ يوه قاعده ذکر کړيوه چه زمونږ دين کامل دے ځکه الله تعالي واي اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ او زمونږ په دغه کامل دين کښ مروجه جمهوريت او يا پدے جمهوري عمل کښ حصه اخستل نشته او امام مالک رحمهَ الله واي:

<u>فما لم يكن يومئذ دينا فلايكن اليوم دينا</u> (الاعتصام ص:۳۸ ج:۱)

چه کوم شي د نبي صلي الله عليه وسلم په زمانه کښ دين نه وو نو هغه نن هم دين نه دے۔

نو مروجه جمهوريت يا پدے جمهوري عمل کښ حصه اخستل د رسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه کښ دين نه وو نو نن صبا هم دا دين نه دے او ثواب او فرض هم نه دے۔

دويم قاعده

شرح العقيدة الطحاويه دا ذکرکړي چه <u>مبني الدين علي النقل والاتباع لا علي العقل والهواء</u>

يعني دين په نقل او د رسول الله صلي الله عليه وسلم به تابعداري بناد دے په عقل او خواهشاتو نه دے بنا۔

او موجوده يورپي جمهوريت يا د دے حصه ګرځيدل په دين اسلام کښ نه دي نقل شوي بلکښ دغه غربي جمهوريت په عقل او خواهشاتو بنا دے او کوم شي چه په عقل او خواهشاتو بنا وي هغه دين نه وي۔ نو موجوده غربي جمهوريت او په دے کښ حصه اخستل دين نه دے۔

دریمه قاعده: د اهل السنة والجماعة

ابن کثیر رحمه الله دا ذکر کړي چه هر یو فعل او قول چه د صحابو نه ثابت نه وي نو هغه به بدعت وي لانهم لم يتركوا خصلة من خصال الخير الا وقد بادروا اليها یعني د صحابو نه د خیر یو کار نه هم نه دے پاتي شوي او د خیر هر یو کار ته هغوي تلوار کړي. نو کچېري سیکولر جمهوریت د خیر کاروي نو صحابو به پکښ حصه اخستي وي او دهغوي نه بۀ نقل شوي وي.

لهذا د دے قاعدے مطابق په جمهوریت کښ حصه اخستل او ثواب او عبادت ګڼړل بدعت دے.

څلورمه قاعده علماء داسي ذکر کړي:

ولا يزال المنكر بما هو انكر منه

یعني ازاله د یو منکر به په بل غټ منکر نه کیږي. نو دوي چه واي چه مونږ په جمهوري عمل کښ حصه اخلو د دے دپاره چه د اسمبلي په داخل کښ د منکراتو او خلاف شرع قوانینو جوړولو رد وکړو نو مروجه جمهوریت او الیکشن په بے شماره منکراتو مشتمل دے چه مخکښ د دے بیان تیر شویو. نو دا د شرع او عقل نه ډیره بعیده ده چه یو سړي د بے شماره منکراتو ارتکاب کوي، د ازالے د یو څو منکراتو دپاره.

پینځمه خبره دا ده چه په الیکشن کښ ارتکاب د دغه منکراتو قطعي او یقیني دے او ازاله د منکر په داخل د اسمبلي کښ وهمي خبره ده او دا هم د شریعت نه خلاف خبره ده چه ته ارتکاب د قطعي او یقیني منکر کوي د وهمي ازالے د منکر دپاره، نو ازاله د منکر وهمي خبره ده او ارتکاب د دغه منکراتو یقیني دے نو دا خو عجیبه عبادت او ثواب او فرضي کار دے.

شپږمه خبره دا ده چه په داخل د اسمبلي کښ رد یا ازاله د منکر ضروري نه ده. د اسمبلي نه بهر د دغه منکر رد کول یا ختمول ممکن دي او هغه داسي ده چه ته دعوت وچلي او عوام د دعوت په ذریعه دیته تیار کړي چه د دغه جمهوري طریقي نه برائت او بائکاټ وکړي.

اومه خبره دا ده چه په الیکشن کښ حصه اخستل مجبوري او ضرورت هم نه دے، ځکه د دغه جمهوري طریقي متبادل لارپه قرآن او سنت کښ شته چه هغه دعوت، هجرت او قتال في سبیل الله دے او دغه لادینه جمهوریت نه برائت اوبائکاټ دے.

اتمه خبره دا ده چه زمونږ د تجربے او مشاهدے خبره دا ده چه څوک په مروجه جمهوریت کښ حصه اخلي نو دهغوي مقصد اسلام نافذ کول نه دي او د منکراتو ختمول مقصد نه دي ځکه دوي د حزب اقتدار په مقابله کښ دهغه چا سره اتحاد او د ملګرتیا کوي چه هغه د دغه اقتداروالا نه ډیر زیات ګمراهان وي، جمهوریان وي او د منکراتو خاوندان وي.

نهمه خبره دا ده چه دوي د خپل کردار تشبیه د ابراهیم علیه السلام د کردار سره ورکوي چه هغه بت خاني ته ننوتلي وو، د بتانو د ماتولو دپاره نو مونږ هم اسمبلي ته ورځو، د دوي د خلاف اسلام قوانینو د جوړولو د رد دپاره یعني د منکراتو د رد دپاره نو دا تشبیه هم صحیح نه ده، ځکه ابراهیم علیه السلام د لږ وخت دپاره د بتانو د ماتولو دپاره ورغلي وو او تاسو ټول عمر پدے عمل کښ حصه اخلي او ستاسو په حصه اخستلو دغه جمهوري نظام ښه مضبوطیږي نو آیا تاسو جمهوري نظام مات کړو او که مضبوط مو کړو.

بل دا چه ابراهیم علیه السلام د دغه عمل په رد عمل کښ اور ته غورزیدلي وو او تاسو ته کرسي اقتدار، وسائل، مادیات، سهولیات میلاویږي.

بل دا چه ابراهيم عليه السلام هغوئ ته اعلان د عداوت کړو چه فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِي إِلَّا رَبَّ الْعَالَمِينَ او اعلان د برائت ئې او اعلان د بغض او نفرت ئې کړيو چه إِنَّا بُرَآءُ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاءُ أَبَدًا

او تاسو ورسره نوي نوي اتحادونه کوي او هغه ورته اعلان د هجرت کړيو چه واعتزلكم وما تدعون څه ستاسو نه هجرت کوم او ابراهيم عليه السلام د نمرود د پارلمان رکنيت حاصلولي شو څکه د ابراهيم عليه السلام پلار اذر د نمرود خاص سړي وو لکن هغه دا هر څه پريښود لاړ هجرت ئې وکړو. دغه رنګي زمونږ پيغمبر صلي الله عليه وسلم هم د قريشو دپارلمان (چه دار الندوه وه) رکنيت حاصلولي شو لکن هغه د دغه پارلمان د رکنيت د حاصلولو کوشش نه دے کړي څکه دغه شرعي لار نه ده او نه په دغه طريقه شرعي نظام نافذ کيږي او نه د کفر مخه نيولي کيږي. او تاسو ورسره اوګه په اوګه روان او همکاران ئيوي.

حاصل دا دے چه دا هم يو عظيم جرئت دے چه د خپل دغه عمل چه د بے حجاب زنانو سره په اسمبلي او جلسو او احتجاجونو کښ اوګه په اوګه ناست ئيوي او بيا د دے تشبيه د ابراهيم عليه السلام د کردار سره ورکوي.

لکه د دے خط د ليکلو په وخت کښ لږ ساعت مخکښ راته ملګرو د مولانا فضل الرحمن صاحب ويډيو اوښودله چه کله دوي د عمران خان خلاف د پيپلز، مسلم ليګ، نيشنل وغيره سره مشترکه په ګجر انواله کښ احتجاج کوي د مريم نواز سره ناست دے او په دويمه ويډيو کښ دواړه اوګه په اوګه روان دي او بيا هم د دے عمل تشبيه د ابراهيم عليه السلام د کردار سره ورکولي کيږي.

الحاصل:

کوم مذهبي جماعتونه چه په مروجه جمهوريت کښ حصه اخستل د دين په رنګ کښ پيش کوي او يا پديکښ حصه اخستل فرض او ضروري ګڼړي او ديته عبادت او ثواب عظيم واي نو دا ټولي خبري زخرف القول دے، د دے مثال داسے دے لکه خوشانو يا اوسپني او تانبي له د سرو زرو اوبه ورکړي او بيا ورته سره زرواي او خلق پے دوکه کوي.

اصل مقصد ته وا پسي:

زمونږ د جواب حاصل دا دے چه څرنګي جمهوريت غير اسلامي او غير شرعي عمل دے نو دغه رنګي چه کوم مذهبي جماعتونه پديکښ حصه اخلي نو دا هم غير اسلامي او غير شرعي عمل دے او د دوي حصه اخستل پدي عمل کښ هيڅ کله دليل د جواز نه دے.

او کوم مذهبي جماعتونه چه مروجه جمهوريت کښ حصه اخلي د دے يو لوي نقصان دا هم دے چه په لکونو خلق د هجرت او جهاد في سبيل الله نه محروم دے، څکه هغوي په مروجه سياست اکتفاء کړي او په مروجه سياست کښ حصه اخستل او محنت کول ورته لوي عبادت ښکاري.

لسمه شبه: آيا مروجه جمهوريت ته اسلامي جمهوريت ويل صحيح دي

جواب:

د مروجه جمهوريت سره د دغسي سابقے يا لاحقے لګول صحيح نه دي څکه مروجه جمهوريت هيچري اسلامي کيدے نشي څکه د اسلام او د مروجه جمهوريت بينادونه بيلا بيل دي دواړه نه يوځاي کيږي.

او پدے لفظ کښ دا وهم پيدا کيږي چه گني مروجه جمهوريت اسلامي کيدے هم شي او د اسلام سره يو ځاي کيدے شي۔

اگرچه جمهوريت دوه قسمه دے غربي او اسلامي لکن مروجه جمهوري غربي دے اسلامي نه دے۔ بهر حال دا موهم لفظ دے او د موهم لفظ استعمال ناروا دے لکه الله تعالي د راعنا د لفظ د استعمالولو نه منع کړي چه لاتقولو راعنا۔ ځکه راعنا لفظ موهم وو، پديکښ د صحيح معني او د غلطے معني دواړو احتمال وو۔ نو صحابه کرام د دينه منع شو۔

يو لسمه شبه: او د اسلام د نورو اديانو سره صلح او يو ځاي کيدل ممکن نه دي او د دے ديارلس وجوهات

آيا د اسلام د مروجه جمهوريت يا د نورو اديانو سره صلح کيدلے شي يعني آيا دا ممکنه ده چه د اسلام او د مروجه جمهوريت يا نورو اديانو صلح وشي چه جمهوريت يا نور اديان هم په خپل حال وي او د اسلام صورت هم اختيارکړي شي او پدے اديانو کښ څه اصلاحات وشي او د کچه لو اورکچه دو په اساس د دوي د يو بل سره روغه جوړه راشي او يو دريم دين اسلامي جمهوريت تيار کړي شي۔

جواب:

د اسلام د نورو اديانو سره روغه جوړه هيڅ کله ممکن نه ده، لکه چه د جفت او طاق عدد داسي روغه او صلح ممکن نه ده چه دواړه يو هم شي او د دواړو خپل حقيقت او حيثيت هم برقرار وي او لکه څرنگي چه اور او اوبه نه جمع کيږي نو دغه رنگي اسلام او نور کفري دينونه نه جمع کيږي۔ د دواړو لاري بيلا بيل دي۔ دغه رنگي د شپے او ورځے په مينځ کښ او د تيارے او رڼړا په مينځ کښ سمجهوته ناممکن ده۔

او د دے ډيرے وجے دي۔ اوله وجه دا ده چه د اسلام او جمهوريت يا نورو اديانو بنيادونه بيلا بيل دي۔ مثلا د جمهوريت د وجود بنياد دا دے چه اقتدار اعلي او حاکميت حق د عوامو دے او د حق او باطل او د حلال حرامو معيار د عوامو د اکثريت رضامندي ده او که داسي نه وي نو دغه جمهوريت نه دے۔

بل طرف ته د اسلام د وجود بنياد دا دے چه اقتدار اعلي او حاکميت صرف او صرف د الله تعالي حق دے او د حق او باطل او د حلالو حرامو معيار او ماخذ قرآن او سنت دے او که دا بنيادي څيزونه نه وي نو دغه دين اسلام نه دے۔

دويمه وجه دا ده چه کله کفارو نبي صلي الله عليه وسلم ته د کچه لو اورکچه دو پيشکش کړي نو الله تعالي دغه پيش کش رد کړي، لکه قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَٰذَا أَوْ بَدِّلْهُ (يونس:١۵)

يعني يا ټول قرآن بدل کړه او د دے په ځاي بل کتاب راوړه چه هغه د دوي د خواهش مطابق وي او يا پکښ ترميم وکړه چه په کومو آياتونو کښ زمونږ د آلهو عيبونه بيانيږي يا د قيامت تذکره پکښ کيږي هغه بدل کړه (زجاج رحمه الله معالم التنزيل)

نو ددغه روشن خيالو په جواب کښ واي مايكون لي ان ابدله من تلقاء نفسي يعني څه پکښ ترميم نشم کولي يو حرف يا يو لفظ نشم بدلولي نو ټول قرآن به څه بدل کړم۔

فائده:

د دينه معلومه شوه چه پيغمبر حامل د شريعت دے خو باني د شريعت نه دے نو هر کله چه معصوم پيغمبر د ځان نه په يو حکم کښ ترميم نشي کولي او يو حکم نشي جوړولي نو بل چا ته دا حق د کوم ځاي نه حاصل دے۔

وفد د ابوسفیان په مشري کښ د جنګ احد نه روستو مدینې ته

دریمه وجه دا ده چه کله د کفارو یووفد د ابوسفیان په مشري کښ د جنګ احد نه روستو مدینې ته د نبي صلي الله علیه وسلم خواته راغلي اوورته ویویل چه ارفض ذکر آلهتنا اللات والعزي ومناة وقل ان لها شفاعة لمن عبدها وندعك وربك

یعني زمونږ د معبودانو عیبونه مه بیانوه او دا اومنه چه دوي شفاعت کولي شي نو ته خپل کار او تبلیغ جاري شاته۔ نبي صلي الله علیه وسلم پدے خبره ډیر زیات خفه شو، عمر رضي الله ورته اویل چه ماته اجازت وکړه چه قتل ئے کړم، نبي صلي الله علیه وسلم ویل ما دویته امن ورکړي، بیا نبي صلي الله علیه وسلم عمر رضي الله عنه ته اویل چه دوي د مدینې نه اوباسه نو الله تعالي د دوي دغه مطالبه رد کړه۔

او د دغه کفارو په رد کښ الله تعالي د سوره احزاب اولني آیاتونه نازل کړل يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللَّهَ وَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَالْمُنَافِقِينَ (تفسیر الخازن وغیره)

نو نبي صلي الله علیه وسلم د دوي سره کومه سمجوته ونکړه او د دوي د کچه لو اورکچه دو پالسي ئے رد کړه ځکه د اسلام او کفر په مینځ کښ د جوړکوم صورت ممکن نه دے ځکه د دواړو لاري بیلا بیل دي۔ دواړه متضاد عقیدي او نظري دي په یو زړه کښ دوه متضاد عقیدي او نظري نه جمع کیږي۔

ځلورمه وجه :

د سوره کافرون د شان نزول په باره کښ راځي چه د مکي کافرانو رسول الله صلي الله علیه وسلم ته د صلح او د کچه لو اور کچه دو دعوت ورکړي وو لکن د دغسي صلح د رد کولو دپاره الله تعالي سوره کافرون نازل کړو۔ نو د دغسي صلح دعوت رسول الله صلي الله علیه وسلم ته په مکي کښ هم ورکړي شویو څرنګي چه د سوره کافرون د شان نزول نه معلومیږي او په مدینه کښ هم ورکړي شویو لکه د سوره احزاب د شان نزول نه معلومیږي۔

د سوره کافرون شان نزول دا دے:

د ابن اسحاق روایت د ابن عباس رضي الله عنه نه دا دے چه ولید بن مغیره، عامر بن وائل، اسود بن عبد المطلب او امیه بن خلف رسول الله صلي الله علیه وسلم ته راغلل اوورته ئے اوویل چه راځئ خپل منځ کښ په دے صلح اوکړو چه یو کال به تاسو زمونږ د بتانو عبادت کوئ او بل کال به مونږ ستاسو د معبود عبادت کوو (قرطبي)۔

او د طبراني روایت د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه دا دے چه د مکے کافرانو اول خو خپل منځ کښ د صلح دپاره د رسول الله صلي الله علیه وسلم په وړاندے دا صورت پیش کړو چه مونږه درته دومره مال درکړو چه تاسو به په مکه مکرمه کښ د ټولو نه زیات مالداره شئ او کومه ښځه دِ چه خوښه شي هغے سره به دِ دَ نکاح کولو بندو بست اوکړو۔ تاسو صرف دومره اوکړئ چه زمونږه معبودانو ته بدمه وایئ، که تاسو دا هم نه مني نو داسے اوکړئ چه یو کال دپاره به مونږه ستاسو د معبود عبادت کوو او بل کال به تاسو زمونږ د معبودانو عبادت کوئ۔ (مظهري)

او د ابي صالح روایت د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه دا دے چه د مکے کافرانو د صلح دپاره دا صورت پیش کړو چه تاسو زمونږ په بتانو کښ څنوته صرف لاس ووړئ نو مونږ به ستاسو تصدیق کول شروع کړو۔ په دے باندے جبرائیل سوره کافرون هغوي ته راؤړو چه پکښ د کافرانو د عملونو بیزاري او خالص د الله تعالي د عبادت حکم دے۔

د دے سورت شان نزول چه پکښ ګڼړ و اقعات ښولے شويدي په هغے کښ هيڅ ے سموني نشته۔ کيدےشي چه دا ټولے و اقعے راپيښے شوي وي او د دے ټولو په جواب کښ دا سورت نازل شوے وي چه حاصل ئے د داسے صلح کولو نه منع کول دي۔ (معارف القرآن)

پينځمه وجه:

د سورۀ بني اسرائيل د دے آياتونو په شان نزول کښ راځي:

وَإِنْ كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ لِتَفْتَرِيَ عَلَيْنَا غَيْرَهُ وَإِذًا لَاتَّخَذُوكَ خَلِيلًا (٧٣) وَلَوْلَا أَنْ ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدْتَ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلًا (٧٤) إِذًا لَأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا (٧٥) (بنى اسرائيل:٧٥،٧٤،٧٣)

چه د ثقيف قبيلي يو وفد نبي صلي الله عليه وسلم ته راغلي او ورته ويويل چه متعنا بآلهتنا سنة حتي ناخذ ما يهدي لها يو کال زمونږ آلهو (بتانو) ته څه مه و ايه چه مونږ د دے هدايا واخلو يو کال روستو به مونږ دا بتان مات کړو او اسلام به راوړو او زمونږ علاقه داسي حرامه وګرځوه څرنګي چه مکه حرامه ده۔ د دے دپاره چه زمونږ په نورو عربو فضيلت معلوم شي۔ نبي صلي الله عليه وسلم دا اراده وکړه نو الله تعالي دا آياتونه راوليږل۔ (قرطبي ص:٣٣٠ ج:١٠، طبري ص:٨٨ ج:١٥، زاد المسير ص:٤٣ ج:٣)۔

د زاد المسير عبارت دا دے:

في سبب نزولها أربعة أقوال «1» :

أحدها: أن وفد ثقيف أتوا رسول الله صلى الله عليه وسلّم فقالوا: متّعنا باللات سَنة، وحرِّمْ وادينا كما حرَّمتَ مكة، فأبى ذلك، فأقبلوا يُكثرون مسألتهم، وقالوا: إنا نحب أن تعرِّف العرب فضلنا عليهم، فإن خشيتَ أن يقول العرب: أعطيتهم ما لم تعطنا، فقل: الله أمرني بذلك فأمسك رسول الله صلى الله عليه وسلّم عنهم ودخلهم الطمع، فنزلت هذه الآية، رواه عطاء عن ابن عباس. وروى عطية عن ابن عباس أنهم قالوا: أجِّلنا سنة، ثم نُسلم ونكسر أصنامنا، فهمَّ أن يؤجِّلهم، فنزلت هذه الآية.

(907) والثاني: أنّ المشركين قالوا للنبيّ صلى الله عليه وسلّم: لا نكفُّ عنك إلا بأن تُلِمَّ بآلهتنا، ولو بأطراف أصابعك، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلّم: «ما عليَّ لو فعلت والله يعلم إني لكاره» ؟ فنزلت هذه الآية، قاله سعيد بن جبير، وهذا باطل لا يجوز أن يُظَنَّ برسول الله صلى الله عليه وسلّم، ولا ما ذكرنا عن عطية من أنه همَّ أن يُنْظِرهم سنة، وكل ذلك مُحال في حَقِّه وفي حق الصحابة أنهم رَوَواْ عنه.

(908) والثالث: أن قريشاً خَلَواْ برسول الله ليلةً إلى الصباح يكلِّمونه ويفخِّمونه، ويقولون: أنت سيدنا وابن سيدنا، وما زالوا به حتى كاد يقاربهم في بعض ما يريدون، ثم عصمه الله من ذلك، ونزلت هذه الآية، قاله قتادة.

والرابع: أنهم قالوا لرسول الله صلى الله عليه وسلّم: اطرد عنك سُقّاط الناس، ومواليهم، وهؤلاء الذين رائحتهم رائحة الضأن، وذلك أنهم كانوا يلبسون الصوف، حتى نجالسك ونسمع منك، فهمّ رسول الله صلى الله عليه وسلّم أن يفعل ما يستدعي به إسلامهم، فنزلت هذه الآيات. حكاه الزجاج

واه بمرة. أخرجه الطبري 22540 عن عطية العوفي عن ابن عباس مختصرا بإسناد فيه مجاهيل، وذكره الواحدي في «أسباب النزول» 581 بدون إسناد عن عطاء عن ابن عباس، فالخبر واه جدا فالسورة مكية، وتحريم مكة كان في حجة الوداع، والحديث ليس بشيء لخلوه عن الإسناد.

ضعيف جدا. أخرجه الطبري 22536 عن سعيد بن جبير مرسلا، ومع إرساله فيه يعقوب القمي، وشيخه جعفر بن أبي المغيرة، وكلاهما غير قوي.

باطل. أخرجه الطبري 33537 عن قتادة مرسلا، فهو ضعيف، والمتن باطل بهذا اللفظ فإن قريشا لم تقل للنبي صلى الله عليه وسلّم أنت سيدنا.

پدے آياتونو كښې الله تعالي واي كه كافر انو ته معمولي ميلان ته نزدي شوي نو الله تعالي به په دنيا او آخرت كښې دو چند عذاب دركړي۔

او د دينه معلومه شوه چه د دعوت او اسلام د مصلحت په خاطر به هم كافر انو ته ميلان نه كوي او په دين كښې به ورته تنزل نه كوي ځكه معمولي ميلان سبب د لوي ميلان گرځي ـ بل دا چه د اسلام په احكامو كښې تجزي او تقسيم نه راځي۔ (الموالاة والمعاداة في الشريعة الاسلامية ص:٩٨)

او په سوره هود كښې الله تعالي واي چه كه كافر انو ته مو ميلان وكړو نو اور به درته ورسيږي۔

نو معلومه شوه چه د اسلام او كفر د يو بل سره مصالحت او جوړ نه راځي۔

شپږمه وجه:

الله تعالي امر كوي چه د كفارو سره قتال وكړي د دے دپاره چه دين اسلام ټول په ټوله نافذ شي او ر نور ټول اديان ختم شي۔

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ **(الانفال:٣٩)**

او حديث كښې راځي:

امرت ان اقاتل الناس حتي يقولوا لااله الا الله

په تفسير قرطبي ص:٣٥٤ ج:٢ كښې واي:

فدلت الآية والحديث علي ان سبب القتال هو الكفر

دا آیت او حدیث دواړه دلالت کوي پدے خبره چه سبب د قتال کفر دے یعني چه ترڅو په مخ د زمکه کفر موجود وي نو قتال به جاري وي۔

نو د اسلام او کفر جوړنه راځي بلکه اسلام د کفر په مقابله کښې یو اقدامي دین دے۔

اومه وجه:

د کفارو موالات او مشابهت نه په ډیرو نصوصو کښې منع راغلي۔

اتمه وجه:

په ډیرو نصوصو کښې امر شوي په مخالفت دکفارو، مشرکینو، یهود و نصاري وو او مجوسو۔ نو که د اسلام او کفر د یو بل سره جوړ راتلي نو ولې به د کفارو د موالات او مشابهت نه منع کیدے او ولې به د هغوي په مخالفت امر کیدے۔

نهمه وجه:

الله تعالي د دوي سره د جهاد او تشدد امر کوي۔

لسمه وجه:

الله تعالي د دوي سره د بائکاټ او د دوي نه د نفرت امر کوي۔

یو لسمه وجه:

چه څوک د کفارو سره موالات او تعلق ساتي نو قرآن کریم په هغوي مختلفے فتوي ورکوي۔ کله ورته منافق واي، کله ورته مرتد واي، کله واي چه ایمان او د کافر سره دوستي دواړه نه جمع کیږي۔

دولسمه وجه:

د اسلام او د پیغمبر د رالیکلو مقصد دا دے چه اسلام په ټول باطل دینونو غالبه شي نه دا چه د هغوي سره صلح او جوړوشي او د مساوات او بر ابري په بنیاد ژوند تیروي او یا دا چه اسلام د جمهوریت یا بل تابع شي یا د جمهوریت په دائره او قالب کښې اوغورزولي شي۔ څکه الله تعالي واي:

هُوَالَّذِی أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْكَرِهَ الْمُشْرِكُونَ (الصف:۹، التوبة)

دیارلسمه وجه:

الله تعالي د هغه مؤمنانو ډیر صفتونه کړي چه هغه د کفر په مقابله کښې سخت دریزه او شدت پسند وي، لکه الله تعالي واي:

وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ (الحجرات:۷)

او الله تعالي واي:

أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ (المائدة)

او الله تعالی وای:

أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ (الفتح)

د اسلام او د کفر جوړنه راځي

د ملل متحد او سلامتي کونسل ټول قرارادات په د ښپو دلاندي کولي شي، ځکه رسول الله صلي الله علیه وسلم وای:

کل امر الجاهلية موضوع تحت قدمي

او پدے موضوع د ابن تیمیه رحمه الله کتاب اقتضاء صراط المستقیم مخالفة اصحاب الجحیم کتل ضروري دي۔

بعض خبیثان وای چه مونږ وحدة الادیان ته خلق رابلو او څوک چه زمونږ په لارکښ رکاوټ کیږي نو هغه به د وسپني په پنجو وهو او وای چه د مسلمان او نصراني هیڅ فرق نشته۔

حالانکے قرآن وای چه د دوي په مینځ کښ ډیر فرق دے:

أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِينَ كَالْمُجْرِمِينَ (القلم:٣٥)

أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ (ص:٢٨)

أَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا لَا يَسْتَوُونَ (سجدة:١٨)

أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ أَنْ نَجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَوَاءً مَحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ (الجاثية:٢١)

بلکه دغه غیر دینه کفار د سپي نه هم ډیر پلیت او ناکاره دي، لکه الله تعالی وای:

إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِنْدَ اللَّهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ (الانفال:٢٢)

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أُولَئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ (البينة:٦)

دولسمه شبه : ووټ مشوره ده چه فلاني دِ د دے علاقې امیر یا وکیل شي او ممبر شي

دا خبره پیجاندل ضروري دي چه د جمهوریت او انتخاباتو د جواز دپاره خلق څومره دلائل او شبهات ذکر کوي نو د دے جواب ته هم ضرورت نه وو لکن مونږ ئے صرف پدے وجه دا شبهات او جوابونه لیکو چه ناپوهه مسلمانان ترینه متاثره نشي۔

جواب: ووټ مشوره نه ده، ځکه د ووټ او مشوري ډیر فرقونه دي

مثلا:

١۔ د مشوري منل لازم نه وي او په ووټونو کښ که یو ووټ زیات شي نو منل ئے لازم وي نو یو فرق په لزوم او عدم لزوم کښ دے۔

۲ـ په مشوره ورکولو کښې د صفاتو خيال ساتل ضروري دي او په ووټ کښې دا خبره ضروري نه ده، لکه يو طرف ته زرلوي لوي شيخ الحديثان د يو شيخ الحديث په باره کښې مشوره ورکړي او بل طرف ته يو دبره زرزناکاران د يوے زناکارې ښځې په باره کښې مشوره ورکړي نو مشري به دغه شيخ الحديث نه کوي، بلکه دغه زناکاره ښځه بۀ کوي، نو دويم فرق په اعتبار د لحاظ د اهليت او صفات سره دے چه په مشوره کښې د اهليت او صفاتو لحاظ ضروري دے او په ووټ کښې ضروري نه دے.

۳ـ په شورى کښې په دولتي اهم سياسي امورو کښې د کافر مشوري له اعتبار نشته او په ووټ کښې په اهم دولتي او سياسي امورو کښې د کافر راي له اعتبار شته.

نو دريم فرق د کافر په اعتبار سره دے چه په اسلامي شورى کښې په اهم امورو کښې د کافر راي له اعتبار نشته او په ووټ کښې ورله شته.

۴ـ نور فرقونه مخکښې بيان شوي.

ديارلسمه شبه: د جمهوريت پرستو د طرف نه يو اهم اشکال

جمهوريت پرست يو اعتراض په فخريه انداز پيش کوي او هغه دا دے چه کچري د حزب اقتدار په مقابله کښې حزب اختلاف نه وي نو د ملک ترقي ختميږي او حکمرانان د آمريت او ملوکيت په لاره ګامزن کيږي.

جواب:

دا خبره د جمهوريت پرستو خلقو د عوامو د ګمراه کولو دپاره يو فريب او دوکه ده، ځکه کچري په جمهوريت کښې د حزب اختلاف دا کردار وي چه د حزب اقتدار په غلطو ئ تنقيد کولي او په نيکو او غوره کارونو کښې ورله مدد او تائيد کولي نو بيا حزب اختلاف صحيح وو. لکن دلته خو معامله بدل ده ځکه د حزب اختلاف صرف دا يو مقصد وي چه د حزب اقتدار د لاس نه اقتدار خپل لاس ته کړي او د دے مقصد د حاصلو دپاره د حزب اقتدار نيک او غوره کارونه په ناکاره شکل پيش کول خپله جمهوري فريضه ګڼړي. نو دغه اعتراض بے ځاي دے.

بل دا چه د پاکستان په اوګد تاريخ کښې جمهوريت د رڼړا ورځ په شان دا خبره ثابته کړي چه د حزب اختلاف او حزب اقتدار اختلافاتو پاکستان د ترقي په ځاي د پاکستان د جغر افيائي حدودو او د اسلامي اخوت بنيادونه ويستل او هر چه دا خبره ده که حزب اختلاف نه وي نو حزب اقتدار به د آمريت او ملوکيت لار غوره کړي نو دا هم د جمهوريت دتياري نه ډکه پهلو ده، ځکه دا موقعه جمهوريت ورکړي چه حزب اقتدار نوي نوي قوانين جوړولي شي او په اسلامي نظام کښې دا خطره بالکل نشته، ځکه په شرعي نظام کښې شرعي حکمرانان او اهل اقتدار خود مختاره او مستقل نه دي، ځکه دهغوي په سرونو د قرآن او سنت توره زوړنده وي. هغوي د صراط مستقيم نه آخوا ديخوا کيدي نشي. کچري هغوي د الله تعالي نه نافرمان شي او د قرآن او سنت نه باغيان شي نو ټول امت به ورته حزب اختلاف واي. لاطاعة لمخلوق في معصية الخالق.

څوارلسمه شبه: بعض علماء خو د زنانه د رکنيت او د ووټ ورکولو د جواز فتوه ورکړي

دلته دا سوال پيدا کيږي چه بعض معاصر علماء چه هغوي په سياست اسلاميه کلام کړي او په هغوي کښې بعض مشران علماء هم شته هغوي واي چه زنانه د مجلس شورى (پارلمان) رکنيت کولي شي، پدے شرط چه په شرعي حجاب کښې وي.

د دوي دليلونه:

دوي دا دليل ذكر كوي چه ووړ مشوره وركول دي او ووړ شهادت سفارش او وكالت دے او په زنانوو كښ د دے څلورواړه كارونو اهليت شته۔

دويمه وجه دا ذكر كوي چه زنانه فتوي وركولي شي او قضاوت كولي شي نو د مجلس شوري ركنيت هم كولي شي۔

د دے مثالونه

دوي د دے دپاره مثالونه هم ذكر كوي چه زنانو مشوره وركړي او په هغے عمل شوي لكه شعيب عليه السلام ته د هغے لور مشوره وركړه او هغه ﷺ په عمل وكړو۔

قَالَتْ إِحْدَاهُمَا يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ (القصص:٢٦)

دغه رنګي د بچي دشودو د پريكولو په باره كښ خاوند او بي بي مشوري كولي شي

فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا (البقرة:٢٣٣)

دغه رنګي د صلح حديبيه په موقعه نبي صلي الله عليه وسلم د ام سلمي رضي الله عنها په مشوره عمل كړيو۔ (بخاري شريف ص٣٨٠ ج:١، كتاب الشروط)

دغه رنګي حضرت عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه د عثمان رضي الله عنه د انتخاب په وخت كښ د زنانو نه مشوره اخستي وه، لكه تاريخ والا وي:

ثم نهض عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه يستشير الناس فيهما ويجمع رأي المسلمين حتي خلص الي النساء المخدرات في حجابهن

بيا عبدالرحمن رضى الله عنه پورته شو او د عثمان او علي رضي الله عنهما په باره كښ د خلقو سره مشوره شروع كړه او د مسلمانانو راي ګاني راجمع كولي تردے چه د پرده نشينو زنانو نه ئے په پردو كښ مشوره واخسته۔ (البداية والنهاية ص:٢٢٧ ج:٥)

لهذا دغه علماء حضرات واي چه زنانه دشوري ركنيت كولي شي۔ پديكښ څه پابندي نشته، څكه ركن شوري هم د سربراه په انتخاب كښ مشوره وركوي يا سربراه ته مشوره وركوي۔

جوابونه

خو د جواب نه مخكښ دا خبره ضروري ده چه كوم علماء د زنانو دپارلمان د ركنيت د جواز فتوه وركوي نو دهغوي اكثريت په خپله عملا په جمهوريت كښ حصه اخلي، دهغوي نه په ډيرو خبرو كښ كمزوري كيږي، يوه كمزوري دا ده چه په بعض خبرو كښ هغوي جمهوري طريقي او د اسلامي طريقي يو بل ته د نزديكت كوشش كوي او دجمهوريت او د اسلام په مينځ كښ ميلاوټ كوي هغوي كله كله په شودو كښ د بولو څاڅكي هم كوي او په اسلام چه مختلفے حملے كيږي، نو په هغه كښ يوه حمله د جمهوري نظره مليانو او مفتيانو د طرف نه ده۔ حالانكے اسلام او جمهوريت د يو بل سره ډير تضادات لري، د اسلام او د جمهوريت په مينځ كښ د مغرب او د مشرق فاصله ده۔ هغوي پخپله نه بدليږي بلكه قرآن او شريعت بدلوي۔

اول جواب دا دے چه کومو علماء د زنانو د شوري د رکنیت یا د ووټ ورکولو د جواز فتوه ورکړې نو هغوي پدے شرط فتوه ورکړې چه شرعي حجاب وي او په مروجه طریقه کښې شرعي حجاب نشته، لکه مخکښې د دے بیان شویو۔

دویم جواب دا دے چه د مخکښې دلائلو نه د مشوري دورکولو یا په هغے د عمل کولو جواز معلومیږي، لکن د دغه دلائلو نه د مجلس شوري (پارلیمنټ) د باقاعده او د مستقل رکنیت جواز نه معلومیږي، لکه عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه چه د زنانو نه تپوسونه کړي نو یو خو هغه زنانه د د پردي شاته وي۔ دویم دا چه د دغه نه مستقل رکنیت نه معلومیږي ځکه په دغه روایت کښې دا هم راځي چه وحتي سئل الولدان في المکاتب تردي چه په مکتبونو کښې د ماشومانو نه هم تپوسونه وکړل (البدایه والنهایة ص:۲۲۷ ج:۵)

نو ځرنګې چه د دینه دا استدلال صحیح نه دی چه ماشومان د شوری رکنیت کولی شی نو دغه رنګې د مخکښې الفاظونه هم دا استدلال صحیح نه دے چه زنانه د شوری رکنیت کولی شی۔ -بل دغه روایت کمزورهم دے

دریم جواب دا دے:

چه پارلمان یوه واکداره اداره ده او واکداری حق د نارینو دے نه د زنانو، لکه الله تعالی وای **الرجال قوامون على النساء** (نارینه واکداران دي په زنانوو)

نو د پارلمان دغړونه صرف مشوره نه اخستلي کیږي بلکه د هغوي سره واکداري هم وي، لکه مخکښې د مولانا مودودي صاحب په کلام کښې ذکر شو۔

دغه رنګې د علماء کرامو په اصطلاح کښې دویته د واکداري په وجه اهل الاختیارهم ویلي کیږي، لکه علامه ماوردي رحمه الله په الاحکام السلطانیه کښې او ابو یعلي رحمه الله هم په احکام السلطانیه کښې او علامه جویني رحمه الله ورته په غیاث الامم کښې اهل الاختیاروای۔

څلورم جواب:

زنانه د پارلمان رکنیت پدے وجه نه شي کولي چه د پارلمان ارکان د سربراه د انتخاب اختیار لري او زنانه هیڅ کله د سربراه د انتخاب اختیارنه لري، لکه علامه جویني رحمه الله په غیاث الامم ص:۶۲ د دے عنوان د لاندي واي چه الفصل الاول في صفة اهل الاختیار فلتقع البدایة بمجال الاجماع في صفة اهل الاختیار فما نعلمه قطعا ان النسوة لا مدخل لهن في تخیر الامام وعقد الامامة فانهن ما روجعن قط ولو استشیر في هذا الامر امرأة لکان احري النساء واجدرهن بهذا الامر فاطمة رضي الله عنها ثم نسوة رسول الله صلي الله علیه وسلم امهات المؤمنین ونحن بابتداء الاذهان نعلم انه ما کان لهن في هذا المجال مخاض في منقرض العصور ومکر الدهور۔ بیا واي فخروج هؤلاء عن منصب الحل والعقد لیس به خفاء۔

حاصل ئے دا دے چه زنانوولره د امام او سربراه د انتخاب هیڅ اختیارنشته، ځکه (د اسلام په تاریخ کښې) زنانوو ته هیڅ کله د سربراه په انتخاب کښې مراجعه نه ده شوي، (نو د زنانه رکنیت د ټول اسلامي تاریخ خلاف دے)

او که د سربراه په انتخاب کښې د زنانوو سره مشوره کیدے نو د دے ډیره حقداره فاطمة رضي الله عنها وه او بیا امهات المؤمنین د نبي صلي الله علیه وسلم بیبیاني۔

او مونږ پدے پوهیږو چه په ټولو ختم شوو زمانو کښې او په و اپس شوو زمانو کښې زنانوو له پدے میدان کښې ننوتل او حصه اخستل نه وو۔ (دا خو زمونږ بد بخته زمانه ده چه زنانه پدے میدان کښې حصه اخلي او پدیکښې مداخله کوي)

او بیا واي چه د زنانوو وتل د دے منصب د اهل الحل والعقد نه واضحه دي، هیڅ پټوالي پکښې نشته۔ او په اول کښې واي چه پدي خبره اجماع ده۔

پینځم جواب:

زنانه د پارلمان رکنیت پدے وجه نه شي چه د دغه رکنیت دپاره داسي شرعي علم شرط دے چه دهغه علم په ذریعه د سربراه د انتخاب شرعي شرطونه پیجني، لکه علامه ماوردي رحمه الله او امام ابو یعلي رحمه الله د اهل الاختیار دپاره دویم شرط دا ذکر کوي:

والثاني العلم الذي يتوصل به الي معرفة من يستحق الامامة علي الشروط المعتبرة فيها (الاحكام السلطانية د ماوردي ص:۱۸ او الاحكام السلطانيه د ابو يعلي ص:۱۹)

او مروجه ارکان پارلمان زنانه دغسي علم نه لري او زنانه خو پریږده چه نارینه ئې هم نه لري۔

شپږم جواب:

په دین اسلام کښې د یو شي د جواز او عدم جواز دپاره یو بنیادي اصول دي او هغه دا چه په شریعت کښې د یو شي جواز او عدم جواز صرف دهغه د ذات سره تعلق نه لري بلکه دهغه شي ټول امور به مخې ته کیدي۔

مثلا فائده او نقصان نفع او ضرر۔ بیا ډیره کرته یو شي په اعتبار د ذات سره ناجائز وي لکن دغه شي د فائدو او ثمراتو په وجه صرف جائز نه بلکه لازم او ضروري وي لکه جهاد حدود قصاص تعزیرات، د لوي اختر قرباني په اعتبار د ذات سره مستحسن نه دي بلکه د نتیجو په اعتبار انتهائي مستحسن دي۔

دغه رنګې بالعکس خبره ده مثلا د اختر په ورځ روژه په اعتبار د ذات سره ښه کار او عبادت دے لکن د متعلقه نقصان په وجه ناجائز دے او هغه دا چه پدیکښې اعراض دے دا الله تعالي د میلمستیا نه۔

دغه رنګې د نمر ختلو په وخت کښې مونځ کول په اعتبار د ذات سره ښه کار دے او عبادت دے لکن د متعلقه نقصان په وجه دا ناجائز کار دے او هغه دا چه په دیکښې مشابهت دے د مشرکانو سره۔

د دے قاعدے او قانون شرعي نه روستو اصل مسئلے ته راشه او هغه دا چه د زنانه ووټ غورزول او د شوري د رکنیت دپاره انتخاب د ذات په اعتبار جائز کار دے، ځکه ووټ شهادت دے مثلا او زنانه شهادت کولي شي، دغه رنګې دپارلمان رکنیت د مشوري د ورکولو دپاره دے مثلا، او زنانه مشوره ورکولي شي۔

لکن د دے ووټونو او د شوري د رکنیت سره نور بي شماره منکرات ګناهونه او بي حیاء کارونه یو ځاي شوي چه دهغې تفصیل مخکښې بیان شوي۔ نو د دغه متعلقه ګناهونو منکراتو او بے حیاء کارونو په وجه د زنانوو ووټونه او د شوري رکنیت جواز نه لري۔

او کچري داسي الیکشن یا داسي پارلمان وي چه هغه د مذکوره ټولو قباحتونو نه پاک وي نو دغه بیا په جمهوري طرز الیکشن او پارلمان نه دے او په دغه کښې زمونږ بحث نه دے۔

پینځلسمه شبه: د زنانو ووټ غورزول یا د شوري رکنیت ضرورت دے

بعض خلق واي چه د زنانو ووټ غورزول یا د شوري رکنیت کول ضرورت دے او د ضرورت د وجے نه د شریعت د اصولو د پابندي سره زنانه د کورنه وتلي شي۔

جواب:

ضرورت دوه قسمه دے، شرعي او جمهوري۔ دا کار بالکل شرعي ضرورت نه دے، البته جمهوري ضرورت دے، ځکه په جمهوریت کښ د جائز او ناجائز معیار د عوامو خواهشات دي او د عوامو د خواهشاتو دپاره رنګداري زنانه ضروري دي۔

شپاړسمه شبه: که زنانو رکنیت او نمائندګي په اسمبلي کښ نه وي نو د زنانو حقوق ضائع کیږي

جواب:

اسلام د زنانو د ټولو حقونو تحفظ کړي، کچري د زنانو معمولي حق تلفي وشي نو داسلامي عدالت دروازه ټکولي شي، دویته به فورا مفت انصاف میلاویږي۔

اولسمه شبه: بعض خلق واي چه زنانه په انتخاباتو کښ حصه اخستلي شي د دے دپاره چه ټولني ته خدمت وکړي۔

جواب:

د زنانو په اختلاط کښ ډیر نقصانونه دي، دا کیدي نشي چه یو سړي دِ د اختلاط سره روغ پاتي شي، لکه خرد وربشو راشي ته وتړه او بیا و ایه مه ئے خوره۔

یو شاعر مثال بیان کړي:

القاه في اليم مكتوفا وقال له   اياك اياك ان تبتل بالماء

یعني لاس ئے ورله وتړل بیا ئے دریاب ته اوغوزولو او بیا ورته واي چه ځان ساته چه په اوبو کښ لوند نشي، نو دا کیدے شي چه یو سړي دریاب ته لاس تړلي اوغورزوي او بیا ورته واي چه احتیاط کوه چه لوند نشي۔

رسول الله صلي الله علیه وسلم واي:

ماتركت بعدي فتنةً اضرعلي الرجال من النسا

رسول الله صلي الله علیه وسلم بیبیاني ډیري پاکي وي او صحابه کرام هم ډیر پاک وو، خو بیا ورته هم الله تعالي واي :

واذا سئلتموهن متاعا فاسئلوهن من وراء حجاب

او رسول الله صلي الله علیه وسلم واي:

واتقوا النساء فان اول فتنة بني اسرائيل كانت في النساء

د جمهوری خلقو نه یو سوال

آیا د مسلمانانو پدے څوارلس سوه کاله تاریخ کښ او د خلافت عثمانیه د سقوط نه مخکښ د مسلمانانو د خلیفه ګانو انتخاب د ووټ په پرچې سره شوی۔

آیا په مدینه منوره کښ د خلفاء راشدینو انتخاب په داسی ووټونو سره شویو چه په هغه کښ د مشرانو صحابه کرامو او د یو عام سړی رای برابر ګڼړلی شوه۔ نن صبا خو داسی حال دے چه د یو مسلمان په مقابله کښ د یو عیسائی یا یهودی او یا هندو ووټ برابر دے۔

آیا په شریعت کښ د یو مسلمان او کافر شهادت سفارش او وکالت یو شان برابر درجه لری۔ والله هرګز داسي نه ده۔ د خیر القرون خلق د دے ټولو خباثتونو نه پاک وو او د هر داسي نظر یے نه بر ائت کونکي وو۔

د ووټونو په ذریعه شرعی نظام نشی قائمیدے

بعض اسلام پسند جماعتونه او د اسلامی ذهن والا وای چه مونږ به یو نیک صحیح مسلمان د انتخاباتو دپاره نامزد کړو او دهغه په حق کښ به د عوامي فضا د جوړولو کوشش وکړو دهغه دپاره به تقریرونه جلسے جلوسونه وکړو او چه کله د داسي افرادو اکثریت اسمبلي ته لاړ شي نو ډیر په آساني او برامن طریقه او په غیر د خون خرابه نه به اسلامي انقلاب او شرعي نظام راشي۔

جواب: این خیان ست محال ست جنون

پدے طریقه شرعي نظام قائمول ناممکن دي او د دے ډیرے وجے دي۔ اوله وجه دا ده چه د شرعي نظام اولني داعیان چه انبیاء علیهم السلام دي دهغوي په ټول تاریخ کښ دا نشته چه یو پیغمبر د وعظ او تبلیغ په ذریعه د خلقو دراي او مرضي اکثریت حاصل کړي او اسلامي انقلاب ئے راوستي، لکه زمونږ نبي صلي الله علیه وسلم درویشت کاله مؤثر تبلیغ کړي خو راي عامه او اکثریت ئے نه دے حاصل کړي بلکه هغه د ملک په پریښودلو مجبوره شوي۔ او زمونږ نبي صلي الله علیه وسلم او صحابه کرامو شرعي نظام یا اسلامي انقلاب د هجرت او جهاد په ذریعه قائم کړي۔

دویم دا چه تجربه هم پدے ګواه ده چه د بے دیني اثر ډیر دي په نسبت د دین او د بے دیني په محفلونو کښ شرکاء ډیر وي په نسبت د دیني محفل۔

دریمه وجه دا ده چه پدے طریقه اسلام نافذ کول اسلامي طریقه نه ده بلکه جمهوري طریقه ده او پدي جمهوري طریقه کچري اسلام نافذ شي نو هغه به هم صرف د څلور پینځه کالو دپاره وي۔ څلور پینځه کاله روستو به اسلامي نظام خود بخود ختمیږي او خلقو ته به یو ځل بیا دا حق ورکولي کیږي چه تاسو اسلامي نظام غواړي که غیر اسلامي نظام پدے طریقه به سیکولر (بے دینه) جماعتونو ته یو ځل بیا حاکمیت ته درسیدو حق ورکولي شي او که دهغوي حاکمیت راشي نو بیا به اسلامي نظام ختمیږي، حالانکے په شرعي طریقه کښ به شرعي نظام د همیشه دپاره وي۔

څلورمه وجه دا ده چه کوم اسلامي جماعتونو یو ځل په جمهوریت کښ حصه اخستي نو هغوي د اسلام د غلبي دپاره د جهادي کوششو نه لاس وینځلي، ځکه په جمهوري سیاست کښ د مسلح جدوجهد پریښودل ضروري دي۔

حالانکې د اسلام د نفاذ په لاره کښې دا یو خطرناک رکاوټ دے چه مسلح جدوجهد پرېښودلي شي او په جمهوري طریقه انتخاباتو ته د اسلامي مبارزے نوم ورکړي شي او د دے دپاره د مصر د اخوانیانو او د افغانستان د سابقه جهادي تنظیمونو او د پاکستان د اسلامي جماعتونو ناکامه تجربه واضحه مثالونه دي۔

دے خلقو په ډېره اوګده زمانه کښې اسلامي نظام نافذ نه کړو۔

علاوه د دینه چه د اسلام دشمنانو دا خلق په ډېر مکر او مهارت دوي د مجاهدینو خلاف په خپلو صفونو کښې ودرول۔ تردي چه دوي صرف براي نام اسلامي جماعتونه پاتي شو او جهادي کوششونه ئے ختم شو۔

پینځمه وجه دا ده چه د پاکستان په شپیته کاله تاریخ کښې دا خبره ولیدلي شوه چه اسلامي تنظیمونه اکثریت نشي حاصلولي بلکه د دوي مخالفین اکثریت حاصلوي او وجه ئے دا ده، ځکه چه په جمهوریت کښې حکومت اقتدار اکثریت حاصلول په څو خبرو بنا دي مثلا مال لګول، رشوت ورکول، د خلقو ووټونه په روپو اخستل، د خلقو سره د دروغو غټي او حیرانونکي وعدي کول او د خپل سیاسي مدمقابل په غټه پیمانه پروپیپګنډ کول۔

او دا نه اسلامي طریقه ده او نه اسلامي جماعتونه د دے وس لري، بلکه دا کار هغه څوک کولي شي چه هغه سرمایه داروي، جاګیرداروي، چوهدریان، وډېرګان وي، خانان نوابان وي، لوي لوي تاجران وي، په مالي خیانتونو کښې ملوث خلق وي۔

شپږمه وجه دا ده کچري یو اسلامي جماعت د دے ټولو رکاوټونو او مشکلاتو باوجود په انتخاباتو کښې اکثریت حاصل کړي او حکومت او اقتدار ته ورسیږي نو بیا به هم هغوي د جمهوري آئین پابند وي او جمهوري آئین او بے دینه قوتونه دویته دا اجازت نه ورکوي چه دوي مکمل شریعت نافذ کړي۔

ځکه په مکمل شریعت کښې د حکومت یوه اهمه زمداري دا ده چه امر بالمعروف او نهي عن المنکر به کوي او په نهي عن المنکر کښې یوه خبره دا ده چه ټول سیکولر او مرتد جماعتونو په سرګرمیانو او د دوي د بے دیني په دعوتونو به پابندي لګوي۔ بل طرف ته په جمهوري نظام کښې هر چا ته د عقیدے د اظهار او بیان آزادي ده۔

ځکه په جمهوریت کښې د راي آزادي یوه بنیادي عقیده ده۔

دغه رنګي په مکمل شریعت کښې د حکومت بله اهمه ذمداري د کفارو خلاف اقدامي جهاد کول دي چه دوي به د کفارو خلاف جهاد في سبیل الله کوي۔

بل طرف ته په جمهوریت کښې د ټول کفري ممالکو سره ښه تعلقات، امن او د یو بل سره تعاون ضروري دے۔

دغه رنګي په جمهوري انتخابي حکومت کښې دا ضروري دي چه دوي به داقوام متحده د سلامتي کونسل (د امن شوري) او د نورو عالمي معاهدو به پوره پوره پاسداري کوي ورنه د دے د خلاف ورزي په صورت کښې به دوي د عالمي پابندیانو ا سزا ګانو سره مخامخ کیږي۔ نو جمهوریت دا تقاضي کوي چه د دوي سره به ښه تعلق ساتي او شریعت دا تقاضي کوي چه د وي خلاف به جهاد کوي۔ نو په جمهوري طریقه به څرنګي مکمل شرعي نظام نافذ شي۔ نو د اسلام عملي نفاذ او جمهوریت د یو بل سره متصادم دي۔

اومه وجه دا ده چه د اسلامي دنیا د ماضي قریب تاریخ پدے خبره ګواه دے چه جمهوریت او انتخابات صرف د کفري نظام د مضبوط کولو او دیته د ترقي ورکولو دپاره کار آمد دے۔ په جمهوري طریقه کښ د عملي اسلام د نفاذ هیڅ ګنجائش نشته، اګرچه مسلمانان د جمهوریت او انتخاباتو په لار اقتدار هم حاصل کړي۔

مثالونه:

اول مثال:

په مصر کښ څه د بره د اتیا کالو په اوګده زمانه کښ اخوان المسلمین د اسلامي نظام د نفاذ دپاره په غیر معمولي سرګرمیانو کښ مصروف وو لیکن چه کله مصري حکومت ته د الاخوان د طرف نه د کوم دیني تبدیلي آثار په نظر راشي نو هغوي په فوري طور د هغوي دپاره څه مصیبت راپیدا کړي یا دهغوي قائدین جیلونو ته غورزوي یا دهغوي مالي اثاثے ضبط کوي او د هغوي قائدین د سیاست او د کار په میدان کښ غیر مؤثر وګرځي۔

هم دغه وجه ده چه په مصر کښ د اتیا کولونه نه اسلامي حکومت جوړ شو او نه کومه اسلامي معاشره مخې ته راغله۔ او اخوان هم په خپل هغه اصولو او بنیادونو ثابت قدم پاتي نشو کوم چه امام البناء او سید قطب شهید رحمهما الله په خپل تقریرونو او کتابونو کښ د اخوان المسلمین دپاره د نظریاتي او علمي لارې په حیثیت واضحه کړیو۔ بلکه د زماني د تیریدو سره سره جمهوریت د هغوي عزم سست کړو او دهغوي اصول او دستور ئے بدل کړو۔

دویم مثال:

په ترک کښ د نجم الدین اربکان اسلام پرست تنظیم په انتخاباتو کښ د جمهوریت د اصولو مطابق اکثریت حاصل کړو او حکومت ئے جوړ کړو لکن چه کله د ترک سیکولر فوج او د جمهوریت نه دفاع کونکي فوج د اسلام په مفادو کښ څه تبدیلیاني ولیدي نو فورا ئے د هغوي حکومت راوغورزولو د اربکان په تنظیم ئے پابندیاني ولګولي او د تنظیم قائدین ئے په سیاست کښ د حصے اخستلو نه منع کړل۔

دریم مثال:

دغه رنګې د شمالي افریقه د ټولونه په لوي ملک الجزائر کښ چه کله جبهۀ الانقاذ الاسلامیۀ پارټي د مغربي جمهوریت د اصولو مطابق په انتخاباتو اکثریت حاصل کړو نو هلته هم سیکولر فوج مداخلت اوکړو د انتخاباتو نتائج ئے لغو وګرځول، د اسلامي پارټي قائدین او کارکنان ئے جیلونو ته وغورځول او د الجزائر مسلمانان ئے په یو داسي داخلي جګړه کښ اخته کړل چه ترننه ئے لمبې اولوخړي پورته کیږي او د زرګونو مسلمانان ئے پدے وور کښ وسول او لا نور هم سوځي۔

څلورم مثال:

په پاکستان کښ هم چه کله بعض اسلامي جماعتونو د نورو مسلمانانو او مجاهدینو د قرباني په نتیجه کښ په ۲۰۰۲ء کښ په صوبه سرحد (صوبه خیبر پختونخوا) کښ انتخابات وګټل او خپل حکومت ئے جوړ کړو نو هغوي په خپل ټول دور حکومت کښ یو اسلامي قانون هم نافذ نه کړو او نه ئے د اسلام د فائدے دپاره څه داسي اقدامات وکړل چه هغه تاریخ د خپل ځان سره نمونے په طور محفوظ وساتي بلکه هغوي په ډیر مشکلاتو سره صرف هغه کارونه مخ په وړاندي بوتلل چه هغه سیکولر

حکومتونو ډیر په اساني سره مخ په وړاندي بیول او د دے وجه دا وه چه دغه جمهوري حکومت ته د مرکزي حکومت د طرف نه دا اجازت نه میلاویدو چه دوي اسلام نافذ کړي او دویمه وجه دا وه چه دوي هم د جمهوریت سره وفاداري قسم پورته کړیو۔

هم دغه رنګي په تولې اسلامي نړي کښ اسلامي شریعت د عملي کیدونه لري ساتلي کیږي او د اسلامي نظام طرفداران د حکومت نه محرومه کولي شي اګرچه دوي د جمهوریت په لار اقتدار ته ورسیږي۔

لهذا معلومه شوه چه په جمهوریت کښ د صحیح اسلام دپاره هیڅ ځاي نشته۔ البته دا کیدلي شي چه د جمهوریت په لار کفر د اسلام په شکل کښ معرفي کړي شي او په اسلام کښ تحریف وکړي شي۔

اصل مقصد ته و اپسي:

دا خبره ثابته شوه چه د جمهوریت او ووټونو او انتخاباتو په ذریعه شرعي نظآم نشي نافذ کیدے۔

ګیله او شکایت

دهغه اهل یورپ نه ګیله او شکایت نشته چه هغوي مسلمانانو ته د جمهوریت اره او تبرګي ورکړو او هغوي پدے سره د اسلام د شجرے طیبې جرړي او خاخونه کټ کوي بلکه ګیله او شکایت د هغه مسلمانانو نه دے چه هغوي قسم خوړلي او ښه په ناز او فخر جمهوریت د اسلام نه ثابتوي۔

من از بیگانه گان هر گزنه نالم   که بامن هرچه کرد آن آشنا کرد

څه هیڅکله د پردو نه نه جاړم ځکه چه ځما سره چه هر څه وکړل نو هغه خپلو وکړل۔

اوم باب: د جمهوریت په رد کښې د اکابرینو اقوال او دجمهوریانو حکم

جمهوریت د علماء دیوبند په نظر کښې

قاري طیب قاسمي رحمه الله واي:

قاري طیب قاسمي رحمه الله "فطري حکومت" کښې لیکلي دي:

یہ (جمہوریت) رب تعالی کی صفتِ ملکیت میں بھی شرک ہے اور صفتِ علم میں بھی شرک ہے۔

" دا جمهوریت د رب تعالي په صفت "ملکیت" کښې هم شرک دي او په صفت علم کښې هم شرک دي۔

مولانا ادریس کاندهلوي رحمه الله واي:

مولانا ادریس کاندهلوي رحمه الله "عقائد اسلام" ص:۳۳۰ کښې لیکلي دي:

جو لوگ یہ کہتے ہیں کہ یہ مزدور اور عوام کی حکومت ہے ایسی حکومت بلاشبہ حکومتِ کافرہ ہے۔

"کوم خلق چه دا واي چه دا جمهوریت د مزدورانو او عوامو حکومت دي داسي حکومت بغیر د څه شکه کافر حکومت دي۔

او فرمائي " داسي حکومت ته اسلامي حکومت نشي وئیل کیدلے کوم حکومت چه د الله تعالي د حاکمیت او شرعي قانون برتري او اوچت والے نه مني بلکه دا وائي چه حکومت د عوامو او مزدورانو وي او دملک قانون هغه وي کوم چه عوام او مزدور خلق په شریکه جوړکړي ۔پس داسي حکومت بغیر د څه شبهے نه حکومت کافره دئ "إن الحکم إلا لله " ۔"ومن لم یحکم بما انزل الله فاولئک هم الکافرون"۔

مفتي محمود رحمه الله واي:

مفتي محمود رحمه الله په مینگوره سوات کښې د یو وکیل د سوال په جواب کښې فرمائیلي وو:

ہم جمہوریت پر لعنت بھیجتے ہیں، اس میں تو دو مردوں کی آپس میں شادی کی اجازت ہے، جیسا کہ برطانیہ نے اس کا بل کثرتِ رائے سے پاس کیا ہے۔
(اسلامی خلافت، ص:۱۷۷)

مونږ په جمهوریت لعنت و ایو، په دیکښې خو د نارینو په مابین کښې د واده کولو اجازت دي، لکه د برطانیه د دے خبرے بل په کثرت رائے سره پاس کړے دي۔

مفتي محمود رحمه الله دا تاریخي جمله څوک هیرولے شي چه:

میں اسلام کے علاوہ ہر ازم کو کفر سمجھتا ہوں۔

"ځه د اسلام نه علاوه هر ازم کفر ګڼړمه"

او فرمائي:

نن صبا د جمهوریت مفهوم دا دے چه هر بالغ سړے ښځه ، تعلیم یافته او بے تعلیمه ، عاقل او کم عقل ته د ووټ ورکولو حق حاصل وي ، او د هغوي د ووټونو په اکثریت سره سربراه تجویز کیږي ، په اسلام کښې د داسي قسم جمهوریت هیڅ وجود نشته ، نه کوم صحیح عقل والا پدے کښې خیر تصور کولے شي"۔

"فتاوي محمودیه" ج:۲۰ ص:۴۱۵ کښې لیکي:

اسلام میں اس جمہوریت کا کہیں وجود نہیں (لہٰذا یہ نظام کفر ہے) اور نہ ہی کوئی سلیم العقل آدمی اس کے اندر خیر تصور کر سکتا ہے۔

"په اسلام کښې د دے جمهوریت چرته هم وجود نشته (لهذا دا نظام د کفر دي) او نه کوم صحیح سالم عقل والا سړے پدے نظام کښې د خیر څه تصور کولے شي۔

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله واي:

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله "ملفوظات تهانوي" ص:۲۵۲ کښې لیکي:

ایسی جمہوری سلطنت جو مسلم اور کافر ارکان سے مرکب ہو، وہ تو غیر مسلم (سلطنتِ کافرہ) ہی ہوگی۔

"داسي جمهوري حکمراني چه د مسلمانانو او کافرانو د مشترکه ارکانونونه جوړ وي، هغه صرف او صرف یو غیر مسلم حکومت دي۔

یو نصیحتي بیان کښې ئے فرمائلي:

آج کل یہ عجیب مسئلہ نکلا ہے کہ جس طرف کثرت رائے ہو وہ بات حق ہوتی ہے۔ صاحبو! یہ ایک حد تک صحیح ہے مگر یہ بھی معلوم ہے کہ رائے سے کس کی رائے مراد ہے؟ کیا ان عوام کالانعام کی؟ اگر انہی کی رائے مراد ہے تو کیا وجہ ہے کہ حضرت ہود علیہ السلام نے اپنی قوم کی رائے پر عمل نہیں کیا، ساری قوم ایک طرف رہی اور حضرت ہود علیہ السلام ایک طرف۔ آخر انہوں نے کیوں توحید کو چھوڑ کر بُت پرستی اختیار نہیں کی؟ کیوں تفریق قوم کا الزام سر لیا؟ اسی لیے کہ وہ قوم جاہل تھی، اس کی رائے جاہلانہ رائے تھی۔ (معارفِ حکیم الامت ص: ۶۱۷)

نن صبا دا نا آشنا مسئله راوتلے ده چه کوم طرف ته کثرت رائے وي حق خبره هغه وي، دوستانو دا د یو حده پورے صحیح ده مګر دا هم معلومه خبره ده چه د رائے نه د چا رائے مراد ده، آیا د دے عوام کالانعام رائے، کچرے هم د دوي رائے مراد وي نو بیا څه وجه ده چه هود علیه السلام د خپل قوم په رائے باندي عمل اونکړو، ټول قوم یو طرفته وو او هود علیه السلام بل طرفته۔ آخر هغوي ولي توحید پري نه خودلو او بت پرستي اختیار نه کړه، ولي هغه د قوم د تس نس کولو الزام په سر واخستلو، صرف د دے وجے نه چه هغه قوم جاهل وو او د هغوي رائے جاهلانه رائے وه۔

په یوه بله موقعه فرمائي:

(غزوۃ الاحد میں) ان پچاس آدمیوں میں جو پہاڑ کی گھاٹی پر متعین تھے، اختلاف ہو، بعض نے کہا کہ ہمارے بھائیوں کو فتح حاصل ہو گئی ہے، اب ہم کو گھاٹی پر رہنے کی ضرورت نہیں، حضور ﷺ نے جس غرض کے لیے ہم کو یہاں متعین کیا تھا وہ غرض حاصل ہو چکی ہے، اس لیے حکم قرار بھی ختم ہو گیا، اب یہاں سے ہٹنے میں رسول ﷺ کے مقصود کی مخالفت نہ ہو گی اور ہم نے اب تک جنگ میں کچھ حصہ نہیں لیا تو کچھ ہم کو بھی کرنا چاہیے۔ ہمارے بھائی کفار کا تعاقب کر رہے ہیں، ہم کو مالِ غنیمت جمع کر لینا چاہیے، بعض نے اس رائے کی مخالفت کی اور کہا کہ حضور ﷺ نے صاف فرما دیا تھا کہ بدون میری اجازت کے یہاں سے نہ ہٹنا، اس لیے ہم کو بدون آپ کی اجازت کے ہرگز نہ ہٹنا چاہیے، مگر پہلی رائے والوں نے نہ مانا اور چالیس آدمی گھاٹی سے

ہٹ کر مالِ غنیمت جمع کرنے میں مشغول ہوگئے، یہ ان سے اجتہادی غلطی ہوئی اور گھاٹی پر صرف دس آدمی اور ان کے ایک افسر رہ گئے۔اس واقعے میں کثرتِ رائے غلطی پر تھی، قلّتِ رائے صواب پر تھی، جو لوگ کثرتِ رائے کو علامتِ حق سمجھتے ہیں، وہ اس سے سبق حاصل کریں۔(معارفِ حکیم الامت ص:۶۱۸)

په یوه بله موقع کښ ارشاد فرمائیلې:

"په غزوه احد کښ د هغه پنځوسو سړو په مابین کښ کوم چه د یوې ډیر کۍ په سر مقرر وو اختلاف اوشو، بعض اویل چه زمونږ رونړو ته فتح حاصل شویده، اوس مونږ ته د ډیرګۍ په سر د پاتې کیدلو ضرورت نشته، حضور صلي الله علیه وسلم چه د کوم مقصد د پاره مونږ دلته متعین کړي وو هغه مقصد حاصل شویدي، د د وجي نه د باقي پاتې کیدلو حکم هم ختم شویدي، اوس د دے ځائې نه خوزیدل به د رسول صلي الله علیه وسلم د مقصود مخالفت نه وي، او مونږ په جنګ کښ تراوسه څه حصه نه دِ اخستې، نو مونږ لره هم څه کول پکار دي، زمونږ رونړه د کافر انو لټون کوي وړسي دي، مونږ لره مال غنیمت جمع کول پکار دي، بعض کسانو د دغه رائې مخالفت اوکړو او دائې اوئیل چه حضور صلي الله علیه وسلم صفا فرمائیلي وو چه ځما د اجازت نه بغیر به د د ځائې نه خوزیږئ، د دے وجې نه مونږ لره د حضور صلي الله علیه وسلم د اجازته بغیر هیچرې خوزیدل نه دي پکار، مګر مخکښ رائې والا خبره اونه منله او څلویښت سړي د ډیرګۍ نه راکوز شو او د مال غنیمت په جمع کولو کښ مشغوله شو، دا د هغوي نه اجتهادي غلطي اوشوه او په ډیرګۍ صرف لس سړي او دهغوي یو مشر پاتې شو، پدے و اقعه کښ کثرت رائې په غلطه وه او قلت رائې په صحیح وه، کوم خلق چه کثرت رائې د حق علامت ګڼړي، هغوي دِ د دینه سبق حاصل کړي۔

مفتي رشید احمد رحمه الله واي:

مفتي رشید احمد رحمه الله په "احسن الفتاوي" ص:۲۴ نه ۲۶ کښ لیکي:

اسلام میں مغربی جمہوریت کا کوئی تصور نہیں، اس میں متعدد گروہوں کا وجود (حزبِ اقتدار و حزبِ اختلاف) ضروری ہے، جبکہ قرآن اس تصور کی نفی کرتا ہے۔

په اسلام کښ د مغربي جمهوریت هیڅ تصور نشته، پدیکښ د مختلفو ډلو وجود ضروري دي (حزب اقتدار او حزب اختلاف)، حالانکه قرآن کریم د دغه سوچ نفي کوي۔

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا (ال عمران:۱۰۳)

مضبوطے منګولے او لګوي د الله تعالي په رسي باندي ټول او اختلاف مه پیدا کوي۔

اس میں تمام فیصلے کثرتِ رائے سے ہوتے ہیں جبکہ قرآن اس اندازِ فکر کی بیخ کنی کرتا ہے:

پدے نظام کښ ټولے فیصلے په کثرت رائې سره کیږي حالانکه قرآن د داسي قسم سوچ جرړه پریکوي۔

وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ إِنْ يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ (الانعام:۱۱۶)

یہ غیر فطری نظام یورپ سے درآمد ہوا ہے جس میں سروں کو گنا جاتا ہے تولا نہیں جاتا، اس میں مرد و عورت، پیر و جواں، عامی و عالم بلکہ دانا و نادان سب ایک ہی بھاؤ تلتے ہیں۔

جس امیدوار کے پلے ووٹ زیادہ پڑ جائیں وہ کامیاب قرار پاتا ہے اور دوسرا سراسر ناکام۔ مثلاً کسی آبادی کے پچاس علماء، عقلاء اور دانشوروں نے بالاتفاق ایک شخص کو ووٹ دیئے، مگر ان کے بالمقابل علاقہ کے بھنگوں، چرسیوں اور بے دین اوباش لوگوں نے اس کے مخالف امیدوار کو ووٹ دیدئے جن کی تعداد اکاون ہو گئی تو یہ امیدوار کامیاب اور پورے علاقہ کے سیاہ و سفید کا مالک بن گیا۔

یہ تمام برگ و بار مغربی جمہوریت کے شجرہ خبیثہ کی پیداوار ہے۔ اسلام میں کافرانہ نظام کی کوئی گنجائش نہیں، نہ ہی اس طریقے سے قیامت تک اسلامی نظام آسکتا ہے۔ بفحوائے 'الجنس یمیل الی الجنس' عوام (جن میں اکثریت بے دین لوگوں کی ہے) اپنی ہی جنس کے نمائندے کرکے اسمبلیوں میں بھیجتے ہیں۔

اسلام میں شورائی نظام ہے جس میں اہل الحل والعقد غور و فکر کرکے ایک امیر کا انتخاب کرتے ہیں۔ چناں چہ حضرت عمر فاروق رضی اللہ عنہ نے وفات کے وقت چند اہل الحل والعقد کی شوریٰ بنائی جنہوں نے اتفاق رائے سے حضرت عثمان رضی اللہ عنہ کو خلیفہ نامزد کیا۔

اس پاکیزہ نظام میں انسانی سروں کو گننے کی بجائے انسانیت کا عنصر تولا جاتا ہے، اس میں ایک ذی صلاح مدبر انسان کی رائے لاکھوں بلکہ کروڑوں انسانوں کی رائے پر بھاری ہو سکتی ہے۔

حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ نے کسی سے استشارہ کے بغیر صرف اپنی ہی صوابدید سے حضرت عمر رضی اللہ عنہ کا انتخاب فرمایا، آپ کا یہ انتخاب کس قدر موزوں مناسب اور بچا تلا تھا۔

دا غير فطري نظام د يورپ نه راوړل شويدي چه پديکښ سرونه شمارل کيږي تلل کيږي نه۔ پديکښ سړے او ښځه، بوډا او ځوان، جاهل او عالم بلکه هوشيار او بےوقوفه ټول په يوه تله تلل کيږي۔

د کوم اميدوار په چابړي کښ چه ووټونه زيات پريوځي هغه کامياب ګڼړل کيږي او هغه بل سراسر ناکامه، مثلا که د يوے علاقے پنځوس علماء، عاقلان او هوشياران په اتفاق سره يو سړي ته ووټ ورکړي او د دوي تعداد يوپنځوس وي نو دا اميدوار به کامياب او د ټولے علاقے د غوړو زيړو مالک ګڼړل کيږي۔

دا ټول هرڅه د مغربي جمهوريت د پليتے ونے پيداوار دي۔ په اسلام کښ د دے کفري نظام هيڅ ګنجائش نشته دي، نه په د طريقه تر قيامته پورے چرته هم اسلامي نظام راتلے شي، د دے خبرے په تناظر کښ چه "الجنس يميل الي الجنس" عوام (چه اکثريت ئے بے دينه وي) د خپل ځان په شان نمائنده ګان منتخب کوي او اسمبليانو ته ئے ليږي۔

په اسلام کښ شورائي نظام وي چه په هغے کښ "اهل الحل والعقد" سوچ او فکر کولو نه روستو د يو امير انتخاب کوي پدے وجه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خپل وفات په وخت کښ شپږ نفرو "اهل الحل والعقد" شوري اوټاکله او هغوي په اتفاق رائے سره حضرت عثمان رضي الله عنه خليفه اوټاکلو۔

پدے پاکيزه نظام کښ د انساني سرونو د شمارلو په ځائے دانسانيت ماده تلل کيږي، پديکښ د يو صلاح خاوند مدبر انسان رائے په لکهونو نه بلکه کروړونو انسانو په رائے باندے درنه کيدلے شي۔

حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د چا د مشورے اخستلو بغير صرف په خپل صوابديد د حضرت عمر رضي الله عنه انتخاب اوکړو۔ دهغه دغه انتخاب څومره زيات موزون مناسب او تلے وو۔

احسن الفتاوي ج:۶ ص:۹۴ کښ لیکي:

جمہوریت کو مشاورت کے ہم معنی سمجھ کر لوگوں نے یہ کہنا شروع کر دیا ہے کہ جمہوریت عین اسلام ہے، حالاں کہ بات اتنی سادہ نہیں ہے۔ در حقیقت جمہوری نظام کے پیچھے ایک مستقل فلسفہ ہے جو دین کے ساتھ ایک قدم بھی نہیں چل سکتا اور جس کے لیے سیکولرازم پر ایمان لانا تقریباً لازمی شرط کی حیثیت رکھتا ہے۔

جمهوریت د مشاورت په معني د ګڼړلو د وجې نه خلقو داویل شروع کړي دي چه جمهورت عین اسلام دي، حالانکه خبره دومره ساده نه ده۔ په حقیقت کښ د جمهوري نظام شاته یوه مستقله فلسفه ده، کومه چه د دین سره یو قدم هم نشي تلے۔ او چه د هغه په ځائے په سیکولرازم باندے ایمان راوړل تقریبا د لازمي شرط حیثیت لري۔

مولانا یوسف لدهیانوي رحمه الله واي:

مولانا یوسف لدهیانوي رحمه الله "آپ کے مسائل اوران کا حل" ج:۸ ص:۱۷۶ کښ لیکي:

جمہوریت دورِ جدید کا وہ صنمِ اکبر ہے جس کی پرستش اول اول دانایانِ مغرب نے شروع کی، چوں کہ وہ آسمانی ہدایت سے محروم تھے اس لیے ان کی عقل نارسانے دیگر نظام ہائے حکومت کے مقابلے میں جمہوریت کا بت تراش لیا اور پھر اس کو مثالی طرزِ حکومت قرار دے کر اس کا صور اس بلند آہنگی سے پھونکا کہ پوری دنیا میں اس کا غلغلہ بلند ہوا یہاں تک کہ مسلمانوں نے بھی تقلیدِ مغرب میں جمہوریت کی مالا جپنی شروع کر دی۔ کبھی یہ نعرہ بلند کیا گیا کہ اسلام جمہوریت کا علم بردار ہے اور کبھی اسلامی جمہوریت کی اصطلاح وضع کی گئی۔ حالاں کہ مغرب جمہوریت کے جس بت کا پجاری ہے اس کا نہ صرف یہ کہ اسلام سے کوئی تعلق نہیں بلکہ وہ اسلام کے سیاسی نظریہ کی ضد ہے، اس لیے اسلام کے ساتھ جمہوریت کا پیوند لگانا اور جمہوریت کو مشرف بہ اسلام کرنا صریحاً غلط ہے۔

"جمهوریت د دے زمانے هغه لوي بت دي د چا چه اول نه اول ځل عبادت د مغرب دانشورو شروع کړے وو، چونکه هغه خلق د آسماني هدایاتو نه محرومه وو د دے وجے نه د هغي ناقص عقل د نورو حکومتي نظامونو په مقابله کښ د جمهوریت بت اوتوګلو او بیائے دغه په یو داسي طریقه مثالي حکومت اوکرځولو چه په ټوله دنیا کښ ئے د هغه چرچا جوړه کړه تردے پورے چه مسلمانانو هم د مغرب په تقلید کښ د جمهوریت اخستل شروع کړل، نو کله ئے دا نعره اوچته کړه چه اسلام د جمهوریت علمبردار دي، او کله ئے د "اسلامي جمهوریت" اصطلاح وضع کړه، حالانکه مغرب چه د "جمهوریت" د کوم یو بت عبادت کونکے دي دهغه صرف دا نه چه د اسلام سره تعلق نشته بلکه هغه خو د اسلام د سیاسي نظریے په خلاف دي، پدغه خاطر د اسلام سره د "جمهوریت" پیوند لګول او جمهوریت په اسلام سره مشرف کول صراحتا غلط دے۔

اسلام د خلافت د منصب د پاره خاص شرطونه مقرر کړیدي، لکه مسلمان به وي، عاقل بالغ به وي، حواس به ئے برابروي، نارینه به وي، عادل به وي، د شرعي احکامو پوهه به لري، او جمهوریت د دغو شرائطو قائله نه دي۔ جمهوریت دا دي چه کوم یو جماعت هم عوامو ته شنه باغونه اوښائي په اسمبلئ کښ زیات نشستونه حاصل کړي هغوي ته به د عوامو د مشري حق وي، جمهوریت د دے خبرو سره کار نه لري چه عوامي اکثریت حاصلونکي ارکان مسلمانان دي یا کافر، نیکان دي یا بدان، پرهیزګاره دي یا ګنهګار او بدکاره، د شریعت په احکامو عالم دي یا ترینه جاهل وي، او لائق دے که نا لائقه، غرض دا چه په جمهوریت کښ د عوامو خوښه او ناخوښه د ټولونه غټ معیار دي او اسلام چه د کومو شرطونو او صفتونو په یو حکمران کښ موندل ضروري ګرځولي، هغه د عوامو د حمایت نه روستو ټول لغوه او بے فائدے دي او کوم نظام سیاست چه اسلام د مسلمانانو دپاره وضع کړیدي هغه د جمهوریت په نظر کښ خالص بے کاره او بے ضرورته دي نعوذ بالله۔

په خلافت كښ د حكمران دپاره بالاتر قانون كتاب الله او سنت دي، او كچرے د مسلمانانو د خپل حاكمانو سره څه لانجه او مشكل پيش راشي نو هغه د الله اورسول الله صلي الله عليه وسلم طرفته راجع كوي، او د كتاب او سنت په رڼرا كښ بيا د هغے فيصله ليږي، چه دهغے فيصله په راعي او رعيت دواړه لازمه وي۔د دے په خلاف د جمهورت فتوي دا ده چه د ملك او دولت آئين د ټولو نه مقدس اوراق دي او په ټولو نزاعي اموركښ د آئين او دستور طرفته رجوع لازمه ده، تر دے چه عدالتونه هم د آئين په خلاف فيصله نشي صادرولے۔

الغرض! د جمهوريت په عنوان د عامو حكومت د عوامو د پاره د كيدلو دعوي يوه دهوكه ده، او د اسلام سره د دغه پيوندكاري ۔د دهوكے د بره دهوكه ده، د اسلام د نوي جمهوريت سره هيڅ تعلق نشته، او نه د جمهوريت د اسلام سره څه واسطه شته، دواړه ضد دي نه شي جمع كيدلے۔

مولانا عاشق الهي بلند شهري رحمه الله واي:

مولانا عاشق الهي بلند شهري رحمه الله په تفسير"انوار البيان" ج:۱ ص:۵۱۸ كښ ليكي:

هغه فرمائي داسي جمهوريت چه په هغے كښ د بالغ رائے دهي په بنياد په ټول ملك كښ انتخاب كيږي ، او په كثرت رائے باندے فيصله موقوف كيږي په اسلام كښ داسي جمهوريت نشته دي ـ بعض اهل علم هم په ناپوهئ يا سره د پوهي په دے غلط فهمي كښ مبتلا دي هغه د اسلام خبرے منلو ته تيار نه دي او و ائي چه مونږ په لوئي محنت سره جمهوريت راوړے دے اوس د دے خلاف څرنگه خبرے اوكړو ـ او د دوي راوړے جمهوريت بالكل جاهلانه جموريت وي چه د اسلام سره ئے هيڅ قسم تعلق نشته ـ په انتخاب كښ چه څوك هم څومره هم بے دينه منتخب شي د جمهوريت جاهليه د وجے نه د هغه دعهدے منلو باندے مجبوره وي چه اوس څه اوكړو اوس خو منتخب شوئ دے د عوام رائے څرنگه ټكراوكړو۔ د قانون تابع يو د دے په خلاف قدم اخستلو او د خبرو كولو اجازت نشته دے۔

مفتي تقي عثماني دامت بركاتهم واي:

مفتي تقي عثماني دامت بركاتهم په "تكمله فتح الملهم" ج:۳ ص:۲۸۴ كښ ليكي:

"د اسلام نظامِ سياسي د ډيموكراسي او ډكټيټرشپه جدا دي"

مفتي نظام الدين شامزئي رحمه الله فرمائي:

"نن چه زه كومه خبره تاسے ته عرض كول غواړمه هغه دا ده چه اوس هم كچرے په دنيا كښ د الله تعالي دين غالب شي نو هغه د ووټ په ذريعه نشي كيدلے، چه تاسو سياسي جماعت جوړكړئ او د مغربي جمهوريت په ذريعه د الله تعالي دين مخ په وړاندي بوزي، كه د الله تعالي دين غالبه كول غواړئ نو كله هم په دنيا كښ د الله تعالي دين په ووټ سره د مغربي جمهوريت په ذريعه غالب كيدلئ نشي، ځكه چه پدے دنيا كښ د الله تعالي د دشمنانو اكثريت دي، د فاسقانو او فاجرانو اكثريت دي، او جمهوريت چه كوم دے دا د انسانانو د شمير نوم دي، د انسانانو د تول نوم نه دي۔ اقبال وئيلي دي چه:

جمهوريت يو ماډل د حكومت دي چه پدغه كښ د انسانانو د سرونو شماركيږي تول ئے نه كيږي۔

پديكښ انسانان شمارل كيږي چه څومره دي، لهذا د مغربي جمهوريت په لاره كله هم اسلام نشي راتللے، لكه څرنگه چه په متيازو اودس نه صحيح كيږي او يا لكه چه په نجاست سره صفائي او پاكيزي نشي حاصليدشي، دغه شان د بے دينه او مغربي جمهوريت د لارے كله هم اسلام غالب كيدلئ نشي، په دنيا كښ چه كله هم اسلام غالبه شوي دے نو د دے يواځينئ لاره هغه

لاره ده کومه چه د الله تعالي پیغمبر صلي الله علیه وسلم اختیار کړے وه، او هغه د جهاد لاره ده چه د کومے لارے په دے دنیا کښ د الله تبارک وتعالي دین غالبه کیږي۔

اسلام که راځي د جهاد په ذریعه به راځي، او په دے دنیا کښ که چرته هم د الله تعالي دین غالب کیږي نو هغه به د جهاد په ذریعه وي، د ووټ په ذریعه یا د مغربي جمهوریت په ذریعه کله هم د الله تعالي دین په دنیا کښ نشي غالب کیدلي او نه د دے په ذریعه کله هم اسلام راتللي شي۔ (کیا جمهوریت سے اسلام غالب آسکتا هے۔)

مولانا فضل محمد دامت برکاتهم واي:

مولانا فضل محمد دامت برکاتهم "اسلامي خلافت" کښ ص:۱۱۷ باندي لیکي:

اسلامی شرعی شوری اور موجودہ جمہوریت کے درمیان اتنا فرق ہے جتنا آسمان اور زمین میں، وہ مغربی آزاد قوم کی افراتفری کا نام ہے، جس کا شرعی شورائی نظام سے دور کا واسطہ بھی نہیں۔

په اسلامي شرعي شوري او جمهوریت کښ دومره فرق دي لکه د زمکے او آسمان، هغه د مغربي آزاد قومونو د افراتفري نوم دي، د کوم چه د شرعي شورائي نظام سره د لرے واسطه هم نیشته۔

په صفحه ۱۷۶ کښ لیکي:

کچھ حضرات یہ کہتے ہیں کہ اسلامی جمہوریت یہ کہنا ایسا ہی ہے جیسا کہ کوئی کہے کہ اسلامی شراب۔

څه حضرات دا واي چه اسلامي جمهوریت، دا ویل داسي دي لکه چه څوک و ائي چه اسلامي شراب۔

مفتي ابو لبابه شاه منصور دامت برکاتهم واي:

مفتي ابو لبابه شاه منصور دامت برکاتهم "عالمي یهودي تنظیمیں" کښ په صفحه ۱۹۷ باندي د جمهوریت یهودي ایجاد د سرخي لاندي لیکي:

" په حقیقت کښ دا نظام حکومت نه په عقلي معیار پوره جوړیږي نه عملي فائده مند ثابت شوي دي، نه په فطري طور صحیح دي، دا یهودي مزغو جوړ کړیدي۔"

مفتي حمید الله جان رحمه الله وای:

جمهوریت د فساد جرړه ده ترڅو چه د دے ملکه د جمهوري نظام خاتمه نه وے شوے ترهغے په دے ملک کښ د اسلام د نفاذ خبره صرف یو تصور دي ۔ هغو مزید اوئیل چه څومره هم په لادینیت مبني قوانین د دے ملک په آئین کښ دي نو مونږ د دے نظام حکومت (جمهوریت) د لارے د هغے کله هم خاتمه نشو کولي، هغوي هغه جماعتونو ته دعوت فکر ورکړو کوم چه په پارلیمنټ کښ د اسلام د دفاع دپاره خپله موجودګي ضروري ګڼړي چه کچري تاسو د دے نظام لاندے دفاع کولۍ شوه نو دا قوانین به کله هم نه وو جوړ شوي۔

مولانا محمد ادریس کاندهلویؒ فرمائي:

" داسي حکومت ته اسلامي حکومت نشي وئیل کیدلے کوم حکومت چه د الله تعالي د حاکمیت او شرعي قانون برتري او اوچت والے نه مني بلکه دا وائي چه حکومت د عوامو او مزدورانو وي او دملک قانون هغه وي کوم چه عوام او مزدور خلق په شریکه

جوړکړي ـ پس داسي حکومت بغير د څه شبهې نه حکومت کافره دئ "إن الحکم إلا لله " ـ"ومن لم يحکم بما انزل الله فاولئک هم الکافرون"ـ

حضرت مولانا محمد منظورنعماني صاحب رحمه الله:

چه د کوم تعارف محتاج نه دئ --- خپل استاد محترم علامه شبير احمد عثماني صاحبؒ ته په يو خط کښې ليکي: " په دے انتخابي هنګامه کښې چه د مسلمانانو د دين او اخلاقو کومه بربادي روانه ده --- او ديانت او سړي توب چه په کومه بده طريقه سره پامال او ذبح کيږي --- او د شيطانئ او درندګئ صفتونه چه څومره په اوچته پيمانه په امت کښې مخ په وړاندے روان دي --- په اخبارونو کښې د دے حال په لوستلو لوستلو او مقامي حالات په خپلو سترګو ليدلو ليدلو سره ځما په شان يو عامي او سياه کاره په زړه چه څه تيريږي په لفظونو کښې د هغے د تعبيرکولو نه عاجزيم --- زه په خپل تاثر او احساس باندے د قياس په بنياد قسم خوړلے شم چه--- که چرے جناب رسول ﷺ دے دنيا ته تشريف راوړي او زمونږ دے اليکشني هنګامے او په دے سلسله کښې چه څه روان دي دا اويني -- نو يقينا هغه ته به دومره درد اورسي چې شايد د دينه مخکښې دومره لوي درد ورته نه وي رسيدلے --- ځما خيال دئ چه--- د لکهونو مسلمانانو د کافرو په تورو سره شهيد کيدل --- او دغتو غتو ملکونو د مسلمانانو د لاس نه وتل او د کافرانو لاس ته تلل ---به هم مزاج نبوي ته دومره تکليف ده نه وي څومره چه د مسلمان قوم دين او اخلاقو او انسانيت ته خير اباد وئيل او ځناور جوړيدل وي "

مولانا محمد حسين اله آبادي رحمه الله

"مولانا محمد حسين اله آبادي رحمه الله سيد احمد خان ته ويلي وو چه تا سو خلق چه په کثرت رائے کومه فيصله کوي ، د هغه حاصل دا دي چه د بےوقوفئ په رائے باندے فيصله کوئ، ځکه چه قانون فطرت دا دي چه په دنيا کښې عقل مند کم او بےوقوفه ريات دي، نو د دے قاعدے مطابق د کثرت رائے فيصله د بے وقوفئ فيصله ده۔

د جمهوریانو شرعي حیثیت او د دوي مختلف حکمونه

سیکولر جمهوریت خو یو کفري او غیر شرعي نظام دے، ځکه دا نظام په ډیرو کفریاتو او منکر اتو او غیر شرعي کارونو مشتمل دے۔ یعني منکرات او غیر شرعي او کفري کارونو ته ئے نظام ویلي نو په خپل دا یو کفري او غیر شرعي او ناروا نظام شو او هر چه جمهوریان دي نو د جمهوریان مختلف حکمونه دي، ځکه د دوي مختلف صورتونه دي، نو اختلاف د حکمونو د وجے نه اختلاف د نوعیت او صورتونو نه دے۔

حاصل ئے دا دے چه جمهوریان دوه قسمه دي، یو هغه دي چه د مخکښ نه په غیر د جمهوریت نه هم کافر دي، لکه اکثر جمهوریان هم داسي دي نو په دویکښ زمونږ خبره نه ده۔ دویم قسم هغه جمهوریان دي چه ځان ته مسلمانان واي، زمونږ خبره هم په دویکښ ده نو دوي دوه قسمه دي۔

یو قسم خلق واضعین د دے نظام دي یعني چا چه جمهوریت جوړ کړي۔

دویم قسم عمل کونکي او چلیدونکي دي په دے نظام۔ یعني پدے نظام عمل کوي او پدے نظام چلیږي۔

د جمهوریت جوړونکي په اتفاق د امت کافر دي

هر چه واضعین د جمهوریت دي یعني جوړونکي د جمهوري نظام دي نو هغه په اتفاق د امت کافر دي، د دوي د کفر وجه څه ده نو د دے خبري د تفصیل نه مخکښ پدے خبره ځان پوهه کول پکار دي چه د جمهوریت جوړونکي په غیر د جمهوریت جوړولو نه هم کافر دي، ځکه هغه ملحدین عیسایان وو او دهغوي د کفر نوري هم ډیرے وجے کیدیشي، ځکه اسباب او علتونه د کفر او نو اقض د ایمان ډیر زیات دي، کله به په یو سړي کښ ډیر اسباب او علتونه د کفر موجود وي او ډیر نو اقض د ایمان به پکښ موجود وي۔

دا هم کیدیشي چه په یو سړي کښ د سلونه زیات اسباب د کفر یا نو اقض د ایمان موجود وي نو دا کیدیشي چه په بعض کفارو کښ په سوونو اسباب او علتونه د کفر موجود وي خو نفس جمهوري نظام جوړول هم کفر او زیادت في الکفر دے او د دے نظام جوړونکي کافر دي په اتفاق د امت۔

د دوي کفر ډیري وجے دي:

اوله وجه:

یوه وجه دا ده چه جمهوریت جوړونکو تبدیل د شرع کړي، ځکه جمهوریت د شپونه تر سره پوري او د ابتداءنه تر انتهاء پوري د شریعت په مقابل کښ یو نظام او نظریه جوړه شوي او په جمهوریت کښ تحلیل د اتفاقي حرامو کیږي، مثلا حکم بغیر ماانزل الله یا سود، زناء، شراب، فحاشي و عریاني وغیره۔

او په جمهوریت کښ تحریم د اتفاقي حلالو کیږي، بلکه تحریم د فر ائضو او واجباتو پکښ کیږي، لکه جهاد في سبیل الله، امر بالمعروف او نهي عن المنکر د جهاد دپاره د اسلحے تیارول او کررزول، حدود او تعزیرات قائمول، شرعي نظام نافذ کول، دا ټول کارونه حلال او جائز دي، بلکه فرض او واجب دي او دوي ئے په دے نظام کښ پابندي لګوي۔

او چه څوک تبدیل د شرع کوي یا تحلیل د اتفاقي حرامو کوي یا تحریم د اتفاقي حلالو کوي نو په اتفاق د ټولو فقهاء کافر دے۔

لکه ابن تیمیه رحمه الله واي:

والانسان متي حلل الحرام المجمع علیه او حرم الحلال المجمع علیه او بدل الشرع المجمع علیه کان کافرا مرتدا باتفاق الفقهاء (مجموع الفتاوي ص:۲۶۷ج:۳، الصارم المسلول ص:۳۷)

نو جمهوریت یو کفري نظام دے او د دے واضعین او بانیان هم کافر دي۔

دویمه وجه:

دویمه وجه دا ده چه دوي جمهوریت په خپل عقل او خواهش جوړ کړي او په قرآن او سنت ئے مخکښ کوي او هر هغه څوک چه هغه د ځان نه قانون جوړ کړي او هغه په قرآن او سنت مخکښ کوي نو هغه کافر دے۔

لکه ابن کثیر ص:۲۵۱ ج:۵ د **افحکم الجاهلیة یبغون** په تفسیر کښ واي چه څوک د تاتاریانو په شان د ځان نه قانون جوړ کړي او هغه په قرآن او سنت مخکښ کوي فهو کافر یجب قتاله دا کافر دے قتال ورسره فرض دے او دا حال د ټولو وضعي قوانینو هم دے، لکه آئین پاکستان۔

دویم قسم جمهوریان عمل کونکي دي په جمهوریت

یعني هغه خلق چه د هغوي سیاسي نظام جمهوریت وي او د جمهوریت مطابق خپل ژوند تیروي او په جمهوري طریقه خپل سیاست چلوي او د جمهوریت مستقله حصه جوړه شوي وي۔

نو دا خلق دوه قسمه دي یو غیر متاولین دي، دویم متاولین دي۔

غیر متاولین سیاسي خلق په څلور قسمه دي

غیر متاولین په څلور قسمه دي، یعني هغه سیاسي خلق چه څه تاویل نه کوي، دوي په څلور قسمه دي۔

یو هغه دي چه په سیکولر جمهوري طریقه سیاست کول صرف جائز ګڼړي، دویم هغه دي چه په جمهوري طریقه سیاست کول دشرعي سیاست سره برابر ګڼړي، یعني واي چه په شرعي طریقه سیاست کول او په جمهوري طریقه سیاست کول دواړه یو شان دي، په بل تعبیر جمهوریت د شریعت سره برابر ګڼړي۔

دریم قسم هغه سیاسي خلق دے چه هغوي جمهوري سیاست د اسلامي او شرعي سیاست نه غوره ګڼړي، په بل تعبیر جمهوریت د شریعت نه غوره ګڼړي۔

څلورم قسم هغه سیاسي خلق دي چه هغه په جمهوري طریقه سیاست کول ګناه ګڼړي، یعني واي چه مروجه جمهوري سیاست غلطه طریقه ده او دا طریقه ناروا ده حرامه ده لیکن بیا پکښ هم عملا شرکت کوي او په جمهوریت کښ حصه دار دي۔

د دے څلور قسمونو حکم

خو د دوي حکمونو د بیانولو نه مخکښ پدے خبره ځان پوهه کول پکار دے چه دویته مونږ کافر یا غیر کافر وایو نو دا هله چه په دویکښ نور اسباب د کفر موجود نه وي۔ صرف دا نقصان یا سبب پکښ وي چه جمهوري سیاست کوي۔ ولې که نور اسباب د کفر پکښ وي نو بیا دهغه اسبابو په وجه هم کافر کیدیشي چه کله پکښ شرطونه د تکفیر موجود وي۔

اوس د دے څلور قسمونو حکم بیانوو

څلورم قسم د سیاسي خلقو چه هغوي په جمهوري طریقه سیاست کول ګناه ګڼړي خو بیا پکښ هم حصه اخلي، لکه بعض دینداره او مذهبي خلق داسي کیدیشي نو دوي ګنهګار دي لکن کافر نه دي۔

او هر چه اول دري قسمونه دي چه په جمهوري طریقه سیاست کول جائز ګڼړي یا ئے په شرعي سیاست سره بر ابر ګڼړي یا ئے د شرعي سیاست نه غوره ګڼړي، لکه عام سیاسي خلق او دا قسمونه په پاکستان کښ په مسلم لیګ، پیپلز، نیشنل پارټو کښ موجود کیدیشي، یا بعض سیاسي مذهبي افراد داسي کیدے شي۔

نو د دوي دپاره دوه صورتونه دي، په یو صورت کښ کافر دي او په دویم کښ کافر نه دي، البته ګنهګار خامخا دي۔

کچري دوي جاهلان نه وو او دوي ته دا وضاحت شویوي چه جمهوریت کفر دے او کفري نظام دے نو بیا دوي کافر دي۔

او که دوي جاهلان وو د جمهوریت کفر ېے نه وو واضحه شوي نو دوي ګنهګار دي، پدے وجه چه دوي ازاله د جهل ونکړه او طلب د حق ئے ونکړو او اعراض ئے د بعض دین نه وکړو او کافر نه دي چه کله پکښ د جمهوري سیاست نه علاوه نور اسباب د کفر موجود نه وو، ځکه جهل مانع دے د تکفیر نه۔

دلیل

د دے خبري دلیل چه څلورم قسم کافر نه دي او دري اولني قسمونه کافر دي چه کله په جمهوریت پوهه شوي وي چه دا یو کفري نظام دے نو دلیل ئے دا دے چه کوم عاملین د جمهوریت دي یعني په جمهوري طریقه کښ خپل ژوند تیروي او په جمهوري طریقه سیاست کوي نو د دے رجع حکم بغیر ماانزل الله ته کیږي او په حکم بغیر ماانزل الله کښ دغه څلور صورتونه دي یو دا چه یو سړي فیصله په ماانزل الله نه کوي بلکه په بل قانون فیصله کوي مثلا په یهودي قانون یا انګریزي قانون یا په جمهوري قانون او پدے ورته ځان ګنهګار ښکاري یا مثلا یو قاضي رشوت واخلي او په ماانزل الله او شریعت فیصله ونکړي نو دا کسان ګنهګار دي او کافر نه دي

او دویم صورت دا دے چه فیصله په ما انزل الله او شریعت نه کوي بلکه په بل قانون فیصله کوي او دا په بل قانون فیصله کول جائز ګڼړي، ځان ورته ګنهګار نه ښکاري۔

دریم صورت دا چه په بل قانون فیصله کول ورته د شریعت سره بر ابر ښکاري۔

څلورم صورت چه په بل قانون فیصله کول د شریعت نه غوره ګڼړي نو پدے دري صورتونو کښ کافر کیږي۔ نو څلور صورتونه شو او دوه حکمونه شو۔ یو حکم د کفر دے چه په دري صورتونو کښ کافر کیږي، دویم حکم د عدم کفر دے، لکه په څلورم صورت کښ نه کافر کیږي بلکه ګنهګار دے۔

نو دغه څلور صورتونه او دوه حکمونه دهغه جمهوري سیاسي نام نهاده مسلمانانو هم دي چه دغه سیاسي جمهوري غیر متاولین مسلمانان په دري صورتونو کښ کافر دي چه کله د جمهوریت د کفر نه خبروي او په څلورم صورت کښ کافر نه دي۔

او په حکم بغیر ماانزل الله کښ دغه څلور صورتونه او دوه حکمونه د عقیدے په کتابونو کښ بیان شوي، لکه شرح العقیدة الطحاویة ص:۳۰۸، شرح نو اقض الاسلام للراجحي ص:۱۳ وغیره۔

مناسب به دا وي چه مونږدلته د اتحاف اکرام البررۀ شرح نو اقض الاسلام العشرۀ ص:۲۲ عبارت نقل کړو هغه اوګورئ:

الرابع: الذي يعتقد أن هديَ غير النبي صلى الله عليه وسلم أفضل من هدي النبي صلى الله عليه وسلم، أو أن القوانين الوضعية أفضل من شريعة الإسلام، أو أن حكم الجاهلية خير من حكم الإسلام، فلا شك في كفره ومروقه من الدين؛ بل لو اعتقد التسوية بين حكم الله وحكم الطاغوت كما سيأتي تفصيله؛ فهو كافرٌ أيضًا؛ بل لو استحل مع اعتقاده بأن حكم الله أفضل لكنه استحل الحكم بغير ما أنزل الله؛ فهو كافرٌ أيضًا.

ولعلي هنا أفصل قليلاً في هذه المسألة في مسألة الحاكم والحاكمية: والذي يبدو أن الناس في هذا الباب خمسة أصناف أعني من حكم بغير ما أنزل الله: خمسة أصناف؛ ثلاثة أصناف يكفرون يمرقون من الدين. وصنفان أرى أنهما لا يُكفَّران؛ بل هما مثل سائر أصحاب المعاصي.

الأول: شخص جاهل فحكم حكمًا، ولم يكلف نفسه أن يرجع إلى حكم الله جل وعلا مع اعتقاده أنه الحق؛ فهذا عاصٍ وآثم؛ حتى وإن أصاب حكم الله صدفة يعني دون اجتهاد؛ يعني شخص جاهل يتطفل على العلم فيصدر الأحكام جزافًا، ويعتقد أن حكم الله هو الحق؛ لكنه لم يكلف نفسه الاجتهاد في الوصول إلى حكم الله.

الثاني: رجل علم حكم الله، واعتقد أنه الحق، واعتقد أن حكم الطاغوت باطل، وأن حكم القوانين باطل، غير أنه غلبه هواه أو شهوته؛ كمن يأخذ الرشوة مثلا؛ كأن يكون قاضيًا يأخذ رشوة، أو أن يكون شخصًا يحكم بالقوانين الوضعية من أجل طلب القوت والعيش كالقضاة في المحاكم أو الدور التي لا تحكم شرع الله، أو غلبه هواه أو ميله إلى شخص معين فحكم لصالحه، وهو يعلم ويعتقد أنه مذنب انتبهوا إلى هذا القيد؛ يعتقد أنه مذنب ويعتقد أنه عاص؛ بل ربما تؤنبه نفسه، ويتمنى أنه لم يفعل؛ لكن غلبه هواه وغلبته شهواته؛ فحكم بغير ما أنزل الله.

فمثل هذين الصنفين حكمهما حكم مرتكب المعاصي، الذين وقعوا في ارتكاب المعاصي من غير استحلال، فمثل هؤلاء لا شك أنهم على خطر لكن لا يكفرون. أعيد ما هما الصنفان اللذان لا يكفران؟

الأول: شخص حكم بجهله مع اعتقاده أن حكم الله هو الحق، وهو يريده ولكنه لم يبحث عنه فمثل هذا شأنه شأن العصاة غير المستحلين. ومثله شخص حكم بغير ما أنزل الله تحت غلبة الهوى أو الشهوة؛ من أخذ رشوة أو محاباة أو نحو ذلك؛ فهذان الصنفان لا يخرجان من ملة الإسلام؛ حيث لم يستحلا ذلك؛ بل يعاملان معاملة سائر مرتكبي المعاصي التي دون الكفر ودون الشرك. أما الصنف الثالث والرابع والخامس.

الثالث: استحل حكم غير الله؛ استحل الحكم بغير ما أنزل الله، وإن اعتقد أن حكم الله أفضل؛ لكنه يستحل؛ يرى أنه يعني يجوز أن يحكم بغير ما أنزل الله واعتقد ذلك؛ فلاشك في كفره ومروقه من الدين.

الثاني : شخص اعتقد التسوية: يقول لا فرق إن حكمت بالشريعة أو حكمت بالقانون كل ذلك جائز؛ فهذا أيضًا يكفُر ويمرُق من الدين.

الثالث: شخص اعتقد فضل الطاغوت أو فضل حكم الطاغوت على حكم الله جل وعلا؛ كالذين أقصوا الشريعة بالكلية بدعوى أنها لا تصلح للتطبيق في هذا العصر. وأن العصر قد تغير وأنه يجب التطور ومن هذا التطور إقصاء الشرع، إقصاء حكم الله جل وعلا. فلا شك أن هذه الأصناف الثلاثة كفرة مارقون من دين الله عز وجل، أرجو أن يفهم هذا التفصيل لألا يختلط الأمر على الناس، وهو تفصيل مشايخنا كالشيخ ابن باز وغيره من مشايخنا وفقهم الله عز وجل.

وقد سبقهم إلى هذا شيخ الإسلام ابن تيمية وغيرهم؛ بل وابن عباس في فهم قول الله عز وجل: {وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ} (١) {فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ} (٢) {فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ} (3)؛ فقالوا: كفر دون كفر، وظلم دون ظلم، وفسق دون فسق. نعم. تفضل.

متاولین جمهوریان

بل قسم سیاسي او جهوري خلق متاولین دي یعني هغه خلق چه هغه په اصل کښی مذهبي او دینداره خلق دے۔ هغویته جمهوري طرز العمل ناروا او غلط ښکاري او پدے ښه پوهه دي چه جمهوریت کفر دے د جمهوریت قباحتونه او نقصانونه ورته ښه معلوم دي۔ او بیا هم په جمهوریت کښی حصه اخلي او د جمهوري طرز العمل او طریقي مستقله حصه جوړه شوي خو متاولین دي تاویل کوي۔

د دے خپل جمهوري طرز العمل دپاره وجوهات بیانوي، مثلا کله واي چه مونږ د دے لاري نه شرعي نظام یا اسلامي قانون نافذ کوو، کله واي چه پارلیمنټ بت خانه ده، مونږ ورته د انتخاباتو دلاري نه ځان رسوو، او هلته د ابراهیم علیه السلام کردار اداء کوو، حق وینا کوو، د دوي د منکراتو مخ نیوي کوو، دوي په تیزرفتاري خلاف شرع قوانین جوړئ مونږ دوي د دینه منع کوو، یا کم ازکم د دوي تیزرفتاري کمه وو او دوي پدي خپل کارکښی اجر او ثواب ګڼړي او دا کار ورته عبادت ښکاري۔ او پدے قسم متاولینو کښی بعض اکابرین او مشران علماء کرام هم دي۔

د دوي حکم

جمهوریت اګرچه کفر دے او پدیکښی حصه اخستل هم کفر دے پدے شرط چه سړي جمهوري طریقه جائز ګڼړي یا جمهوري سیاست د شرعي سیاست سره برابریائے د شرعي سیاست نه غوره ګڼړي۔

خو دا قسم په جمهوریت کښی حصه اخستونکي مذهبي خلق کافر نه دي، ځکه دوي متاولین دي او تاویل او خطا مانع دي د تکفیر نه، لکه په فرق ضالو کښی مثلا خوارج معتزله، معطله، جهمیه، مشبهه، مجسمه وغیره۔ د دوي ډیري خبري او کارونه د کفر دي خو اهل السنة والجماعة ورته کافر نه واي ځکه دوي متاولین دي، تاویل کوي او د تاویل یا د نورموانع التکفیر تفصیل د عقیدي په کتابونو کښی ذکر شوي، مونږ ترینه بعض بحثونه په شرعي دوره اول جلد کښی نقل کړي هغه اوګوري۔

نو دا قسم مذهبي او نیکان خلق کافر نه دي، ځکه دوي تاویل کوي۔

او ظاهره دا ده چه دوي ماجوردي، یعني الله تعالي به اجر هم ورکړي وي ځکه د دوینه اجتهادي خطا شوي او نیتونه ئے صحیح دي نو ظاهره دا ده چه د اجتهاد او صحیح نیت په وجه به الله تعالي اجر هم ورکړي وي۔

تاويل

تعريف

تاويل ديته واي چه يو مسلمان د كفر كار وكړي او عقيده ئے دا وي چه دا كار جائز دے د يو دليل د وجے نه چه هغه دليل دِ ته صحيح ښكاري او هغه په حقيقت كښې خطا وي. (تسهيل العقيدة الاسلامية ص:۲۳۹)

او تاويل مانع دے د تكفير.

د متاولينو تقليد كونكي

بل قسم هغه خلق دے چه هغه د دغه اكابرينو او مشرانو علماء كرامو تقليد كوي، په جمهوريت كښې حصه اخلي چه دا كار زمونږ مشرانو كړي، هغه زمونږ نه ښه پوهيږي، نو مونږ ئے هم كوو.

نو دا قسم خلق گمراهان دي، ځكه مشران خو په اجتهاد كښې خطا شوي او په خطا كښې د چا تقليد او تابعداري نشته. د مشرانو په دغه قول او عمل دليل شرعي نشته او د مشرانو بے دليله قول او عمل زمونږ دپاره هيڅ كله دليل شرعي نه دے. د دغه مشرانو احترام په مونږ لازم دي لكن د دوينه زيات احترام د حق پكار دے. ابن قيم رحمه الله د شيخ الاسلام الانصاري په باره كښې واي چه شيخ الاسلام حبيبنا ولكن الحق احب الينا منه (شيخ الاسلام زمونږ محبوب دے لكن حق مونږ ته د ده نه زيات محبوب دے) (مدارج السالكين ص:۳۶۶ج:۳) د دے تفصيل مخكښې ذكر شويو.

خلاصه بحث

حاصل ئے دا دے چه د جمهوريانو مختلف حكمونه دي، ځكه په دوي كښې مختلف صورتونه او قسمونه دي.

يو قسم بانيان او واضعين (جوړونكي) د جمهوريت دي نو دوي دوه قسمه دي، يو هغه دي چه دابتداء نه كافر دي نو پديكښې زمونږ بحث نه دي، ځكه دوي هسي هم كافر دي. دويم هغه دي چه كه بالفرض مسلمانان وي نو بيا هم د جمهوريت په جوړولو كافر دي. دريم عاملين د جمهوريهت دي چه په جمهوري طريقه سياست كوي.

دوي په دري قسمه دي، يو متاولين ، دويم تقليد كونكي د متاولينو او دريم غير متاولين.

متاولين كافر نه دي بلكه ظاهره دا ده چه الله تعالي به اجر وركړي وي او تقليد كونكي د متاولينو گمراهان دي او غير متاولين په دري صورتونو كښې كافر دي او په څلورم صورت كښې گنهگار دي.

هذا ماظهر والله اعلم بالصواب وهو اعلم وعلمه اتم واحكم وندعو بدعاء النبي صلي الله عليه وسلم اللهم اهدني لما اختلف فيه من الحق.

د ظالم حکمر انانو په باره کښې وعیدونه او هغوي سره تعلق:

رسول صلي الله علیه وسلم د ظالم او فاسق حکمر انانو په باره کښې ډیرزیات سخت وعیدات بیان کړي دي :

۱ ـ لکه په صحیح البخاري او مسلم شریف کښې راځي:

حَدَّثَنَا الْحَسَنُ أَنَّ عَائِذَ بْنَ عَمْرٍو كَانَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ زِيَادٍ فَقَالَ أَيْ بُنَيَّ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ شَرَّ الرِّعَاءِ الْحُطَمَةُ فَإِيَّاكَ أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ الخ (اللفظ لمسلم ج:۹،ص۳۵۵)

" حضرت حسن د عائذ بن عمرو نه چه د رسول الله صلي الله علیه وسلم د صحابه کرامو نه وو روایت نقل کړے چه هغه یو ځل د عبیدالله بن زیاد خواته ورغلو نو ورته ئے اوئیل اے بچیه ما د رسول الله صلي الله علیه وسلم نه اوریدلي دي فرمائیل ئے بیشک په حاکمانو کښې بدترین حاکم په خپله رعیت باندے ظلم کوونکے دے پس ته د دے خبرے نه ځان بچ کړه چه د هغوي نه شے"۔

۲ ـ په بل روایت د مسلم کښې راځي :

عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ أَنَّ عُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ زِيَادٍ دَخَلَ عَلَى مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ فِي مَرَضِهِ فَقَالَ لَهُ مَعْقِلٌ إِنِّي مُحَدِّثُكَ بِحَدِيثٍ لَوْلَا أَنِّي فِي الْمَوْتِ لَمْ أُحَدِّثْكَ بِهِ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ أَمِيرٍ يَلِي أَمْرَ الْمُسْلِمِينَ ثُمَّ لَا يَجْهَدُ لَهُمْ وَيَنْصَحُ إِلَّا لَمْ يَدْخُلْ مَعَهُمْ الْجَنَّةَ

ـ(سابقه حواله)

"د ابو ملیح نه روایت دے چه عبیدالله بن زیاد د معقل بن یسار رضي الله عنه بیمارپرسۍ ته ورغلو نو حضرت معقل رضي الله عنه ورته اوئیل چه تاته یو حدیث بیانوم که چرے زه د مرګ په حالت کښې نه وۍ ما به تاته دغه حدیث نه وۍ بیان کړے ما د رسول الله صلي الله علیه وسلم نه اوریدلي دي فرمائل ئے :" کوم یو امیر ته چه د مسلمانانو مشري ورکړي شي بیا د هغوي د مسائلو د حل کولو کوشش نه کوي او نه ورله خیر خواهي غواړي نو هغه به د هغوي سره جنت ته داخل نه شي"۔

۳ـ په بل حدیث کښې راځي:

عَنْ الْحَسَنِ قَالَ عَادَ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ زِيَادٍ مَعْقِلَ بْنَ يَسَارٍ الْمُزَنِيَّ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ قَالَ مَعْقِلٌ إِنِّي مُحَدِّثُكَ حَدِيثًا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ عَلِمْتُ أَنَّ لِي حَيَاةً مَا حَدَّثْتُكَ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْتَرْعِيهِ اللَّهُ رَعِيَّةً يَمُوتُ يَوْمَ يَمُوتُ وَهُوَ غَاشٌّ لِرَعِيَّتِهِ إِلَّا حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ **(صحیح مسلم :ج۱،ص:۳۴۳)**

" د حسن نه روایت دے وائي چه عبیدالله بن زیاد د معقل بن یسار رضي الله عنه په مرض الموت کښې عیادت اوکړو حضرت معقل رضي الله عنه ورته اوئیل زه تاته یو حدیث بیانوم چه ما د رسول الله صلي الله علیه وسلم نه اوریدلے دے که چرے ما ته دا معلومه وے چه ځما ژوند باقي دے ما به درته نه وو بیان کړے ما د رسول الله صلي الله علیه وسلم نه اوریدلي دي فرمائل ئے :" الله تعالي چه کله یو څوک د خلقو حاکم جوړ کړي او هغه د خلقو سره دهوکه کوي نو د مرګ نه روستو الله تعالي په هغه جنت حرام کوي "

۴ ـ او په طبراني کښې روایت دي :

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أَشَدَّ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ قَتَلَ نَبِيًّا، أَوْ قَتَلَهُ نَبِيٌّ، وَإِمَامٌ جَائِرٌ، وَهَؤُلَاءِ الْمُصَوِّرُونَ (الطبراني:ج:١٠،ص:٢١٦)

"عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دے هغه وائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائلي :" د قيامت په ورځ د ټولو نه زيات عذاب والا په جهنميانو کښې هغه څوک دے چه پيغمبر ئے وژلے وي، يا هغه لره کوم پيغمبر وژلے وي ، او ظالم حکمران ، او دا تصويران جوړونکي"۔

٥۔ وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: " إِن أحب النَّاس إِلَى الله يَوْم الْقِيَامَة وأقربهم مِنْهُ مَجْلِسا إِمَام عَادل، وَإِن أبْغض النَّاس إِلَى الله يَوْم الْقِيَامَة وأبعدهم مِنْهُ مَجْلِسا إِمَام جَائِر". او نبي صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي :" د قيامت په ورځ الله تعالي ته د ټولونه محبوب خلک او هغه ته د ټولو نه نزدے خلک په اعتبار د مجلس سره عادله حکمران دئ ، او د قيامت په ورځ الله تعالي ته په ټولو خلکو کښې ناخوښه او د مجلس په اعتبار د هغه نه لرے ظالم حاکم دئ "۔

٦۔ وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: " مَا من أَمِير عشيرة إِلَّا يُؤْتى يَوْم الْقِيَامَة مغلولا حَتَّى يفك عَنهُ الْعدْل، أَو يوبقه الْجور ".(الدرة الغراء في نصيحة السلاطين والقضاة والأمراء)

(المؤلف: محمود بن إسماعيل بن إبراهيم بن ميكائيل الخَيْرَبَيْتي (المتوفى: 843هـ)١٢٣ص١ج)

او فرمائي :" د هرے ډلے امير به د قيامت په ورځ خامخا لاس تړلے راوستل شي تر دے چه انصاف ئے خلاص کړي او يا ئے ظلم هلاک کړي"۔

٧۔ او په ترمذي کښې روايت دے :

عَن أبي سعيد الْخُدْرِيّ رَضِي الله عَنهُ قَالَ قَالَ رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم :"أحب النَّاس إِلَى الله يَوْم الْقِيَامَة وأدناهم مِنْهُ مَجْلِسا إِمَام عَادل وَأبْغض النَّاس إِلَى الله يَوْم الْقِيَامَة وأبعدهم مِنْهُ مَجْلِسا إِمَام جَائِر "قَالُوا إِذا رَأَيْت الْحُكَّام يتنافسون فِي الْعَدَالَة ويجتنبون الفسوق والجهالة فَتلك نعْمَة طائلة وَإِذا رَأَيْت الْجور فاشيا وَالْعدْل مطرحا مُنْكرا فَتلك نعْمَة زائلة ـ (بدائع السلك في طبائع الملك)

" د ابو سعيد رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي :" د قيامت په ورځ الله تعالي ته د ټولونه محبوب خلک او هغه ته د ټولو نه نزدے خلک په اعتبار د مجلس سره عادله حکمران دئ ، او د قيامت په ورځ الله تعالي ته په ټولو خلکو کښې ناخوښه او د مجلس په اعتبار د هغه نه لرے ظالم حاکم دئ " او صحابه کرامو به ويل : کله چه ته حاکمان وينې چه په عدل کولو کښې سيالي کوي او د ګناهونو او جهالت نه ډډه کوي نو دغه يو اوچت نعمت دے او کله چه ته اوينې چه ظلم خوريږي او عدل غورځول کيږي او بد ګڼړل کيږي نو دغه نعمت ختميدونکے دے "۔

٨۔ وَعَن أبي هُرَيْرَة عَن رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم قَالَ (أَرْبَعَة يبغضهم الله البياع الحلاف وَالْفَقِير المختال وَالشَّيْخ الزَّانِي وَالْإِمَام الجائر) أخرجه أَبُو حَاتِم (حسن السلوك الحافظ دولة الملوك٥٨ص،١ج)

ابو هریره رضي الله عنه د رسول الله صلي الله علیه وسلم نه ارشاد نقل کوي چه هغه اوفرمائیل : " څورقسم کسانو سره الله تعالي بغض کوي په قسمونو سره خرڅونکے ـ او متکبره فقیر ـ او زناکار بوډها ـ او ظالم حاکم"ـ

۹ـ په یو بل حدیث کښ نبي صلي الله علیه وسلم فرمائي :

''اللهم من ولي من أمر أمتي شيئا فشق عليهم فاشقق عليه ومن ولي من أمر أمتي شيئا فرفق بهم فارفق به '' (الدرة الغراء في نصيحة السلاطين والقضاة والأمراء)

" یا الله چاته چه ځما د امت څه مسؤلیت ورکړل شو او په هغوي ئے سختي اوکړه نو ته په هغه سختي اوکړه او چاته چه ځما د امت څه مسؤلیت ورکړل شو او د هغوي سره ئے د نرمۍ معامله اوکړه نو ته د هغه سره د نرمۍ معامه اوکړه "

۱۰ـ عن ابن عباس قال: «الأرض تتزين في أعين الناس إذا كان عليه إمام عادل، وتقبح في أعين الناس إذا كان عليها إمام جائر، وإنما تزكو في زمان الإمام العادل ما لا تزكو في زمان الإمام الجائر (النصيحة للراعي والرعية للتبريزي)

د عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روایت دے هغه فرمائي :" زمکه د خلکو په نظر کښ خائسته کیږي کله چه په هغے باندے عادله حاکم وي ، او د خلکو په نظر کښ قبیح کیږي کله چه په هغے ظالم حاکم وي ، او هغه چه څومره د عادله حاکم په زمانه کښ پاکیږي دومره د ظالم حاکم په زمانه کښ نه خائسته کیږي "

۱۱ـ ابن مسعودؓ وائی چه ماته رسول الله ﷺ اویل چه آیا تاته پته ده چه په بنی اسرئیلو کښ دوه اویا ډلی جوړی شویوی په هغو کښ صرف دری ډلوته نجات میلاؤ شویو ـ یوه هغه ډله وه چه هغه د بادشاهانو او جابرانو په مینځ کښ ودریدل د عیسٰی علیه السلام نه روستو مغوی د الله تعالٰی او د عیسٰی علیه السلام دین ته دعوت شروع کړو ـ

فَقَاتَلَتِ الْجَبَابِرَةُ فقتلت فصبرت ونجت(جابرانو ورسره جنگ شروع کړو دوی شهیدان شو صبر ئے وکړو او نجات ئے اومنده) ـ

بیا دویمه ډله پورته شوه چه د مغوی د جنگ وس نه کیده مغوی بادشاهان او جابران د الله تعالٰی او د عیسٰی علیه السلام دین ته رااوبلل ـ فقتلت وقطعت بالمناشیرِ و حرقت باالنیران فصبرت و نجت ـ دوی اووژلی شو او په ارو باندے اره کړی شو او په اورونو وسیزلی شو دوی صبر وکړو او نجات ئے اومنده ـ

بیا دریمه ډله پورته شوه چه د مغوی د جنگ وس نه کیده او په انصاف هم نشو ودریدے (یعنی د دعوت وس ئے هم نه کیده) فلحقت

باالجبال فتعبدت وترهَّبت (غرونو ته لاړ عبادت او رهبانیت ئے شروع کړو) ، لکه الله تعالٰی وائی ورهبانیة ابتدعوها

فائده پدی حدیث کښ د عیسٰی علیه السلام د ملگرو د قربانی تفصیل وشو چه مغوی د ظالم او جابر حکمرانانو په مقابله کښ ځانونه شهیدان کړل او په ارو دوه ټوټی شو او په اورونو وسیزلی شو ـ او یو قسم پکښ هغه وو چه مغوی د فتنو او کفر او ارتداد دویرے نه غرونو او ځنگلو ته لاړ د الله تعالٰی بندگی کوله او کفر ته ئے سر ټیټی ونکړه ـ

۱۲ـ په دویم حدیث کښ رسول الله ﷺ وائی اَلَا ان رُحی الاسلام دائرةٌ فدوروا مع الاسلام حیثُ دار اَلَا ان القرآن والسلطان سیفترقان فلاتفارقوا الکتاب ـ خبرداریقینًا جرنده د اسلام گرځیدونکی ده پس گرځی د اسلام سره چرته چه گرځی خبرداریقینًا قرآن او بادشاه زر ده چه دیو بل نه به جدا شی پس مه جدا کیږی د کتاب نه ـ او بیا وائی اَلَا انهٗ سیکونُ علیکم اُمراءُ ان

اطعتموهم اضلوکم وان عصیتموهم قتلوکُم ۔ خبردار په تاسو په داسی امیران مسلط شی کچری تاسو ددوی تابعداری کوی گمراه کوی به تاسو اوکه نافرمانی کوی نو وژنی به تاسو ۔ قَالُو ماذا تأمرنا ۔ صحابوو اویل چه ته مونږ ته څه امر کوی ۔ نبی ﷺ اویل کونوا کاصحاب عیسٰی نُشرُوا وحُملوا علی الخُشبِ ای صلبوا ۔ د عیسٰی علیه السلام د ملگرو په شان قربانی ورکړی چه هغوی اره شوی وو او پهانسی شویو فوالّذی نفسی بیدهِ لمیتةٌ فی سبیل الله خیرٌ من حیاةٍ فی معصیةٍ ــ١ پس ځما د په هغه ذات قسم وی چه ځما روح د هغه په لاس کښ ده خامخا مرگ د الله تعالٰی په لاره کښ ډیر غوره دے د ژوند نه په گناه کښ۔

۱۳۔ په دریم حدیث کښ رسول الله ﷺ وائی چه انه تصیب اُمتی فی اٰخرِ الزمانِ من سلطانهم شدائِدُ ۔ یقینًا رسیږی به ځما امت ته په آخره زمانه کښ د بادشاه د طرف نه مصیبتونه (یعنی دنیوی او دینی امتحانونه او مشقتونه) لا ینجو منهُ اِلَّا رجلٌ ۔ حاصل دا دے چه د دینه به دری قسمه خلق نجات بیاموځی یو قسم هغه سړی عَرِفَ دین الله فجاهد علیه بلسانه ویده وقلبه چه دالله تعالٰی دین پیجنی پس جهاد کوی د الله تعالٰی د دین د پاره په ژبه او لاس او زړه سره ۔ فَذالِک الذی سبقت له السو ابقُ پس دا هغه سړی دے چه ژومبی رسیدلی د ته ثواب پوره ۔ (یعنی داد سابقینو او اول نمبر خلقو نه دے) وَرَجُلٌ عَرِفَ دین الله فصدق بهِ۔ دویم هغه سړی چه د الله دین وپیجنی او د الله تعالٰی د دین تصدیق وکړی (یعنی حقه وینا او حق بیان وکړی) ۔ وَرَجُلٌ عَرِفَ دین الله فسکت علیه دریم هغه سړی دے چه د الله تعالٰی دین وپیجنی پس چپ پاتی شی په هغه باندے ۔ (یعنی په زړه کښ د حق تصدیق وکړی) فَاِن رأیٰ من یعملُ الخیر احبّهُ علیه وان رأیٰ من یعملُ بباطلٍ ابغضهُ علیه فذالک ینجو علٰی ابطانهِ کُلِّه ۔ کچری داسی څوک وینی چه د خیر کار کوی نو مینه ورسره کوی او که داسی څوک وینی چه ناروا کارکوی نو بغض ورسره کوی نو دا سړی به هم نجات مومی پدی۔ وجه چه دا د خیر سره مینه او د ناروا سره بعض په زړه کښ پټ ساتی۔

۱۴۔ څلورم حدیث سلمان رضی الله عنه زید بن صوحان رضی الله عنه ته اویل کیف انت اذا اقتتل القرآن والسلطان ۔ ستابه څه حال وی چه کله د قرآن او د بادشاه جنگ وی ۔ زید رضی الله عنه ورته اویل چه اذًا اکونُ مع القرآن ۔ ځه به د قرآن ملگری یم ۔ سلمان رضی الله عنه ورته اویل چه نعم الزیدُ اذًا انتَ ته به په دغه وخت کښ ډیر ښه زید ئے۔

۱۵۔پنځم حدیث عامر بن مطر رحمه الله وائی چه ماته حذیفه رضی الله عنه اویل ، کیف انت یا عامر بن مطرٍ اذا اخذ الناس طریقًا والقران طریقًا مع ایِّهِمَا تکونُ ، ستا به څه حال وی ای عامره چه خلق په یو لار روان وی او قرآن په بله لار روان وی ته به د چا ملگرتیا کوی ۔

فقلتُ مع القرآن احیا معهُ واموتُ ما ویل ځه به د قرآن سره یم د قرآن سره به ژوند تیروم او د قرآن سره به مرم قال فانت اذًا حذیفه رضی الله اویل چه ته به په دغه وخت کښ کامیاب ئے۔

۱۶۔ پۀ حديث د ترمذي کښې راځي رسول الله صلي الله عليه وسلم وائي:

اعيذك بالله يا كعب بن عجرة من امراء يكونون من بعدى فمن غشي ابوابهم فصدقهم فى كذبهم و اعانهم على ظلمهم فليس مني ولست منه ولا يرد على الحوض ومن غشي ابوابهم ولم يصدقهم فى كذبهم ولم يعنهم على ظلمهم فهو مني وانا منه وسيرد على الحوض

ای کعب بن عجره !ځۀ پۀ الله تعالی سره ستا دپاره پناه غواړم د هغۀ امیرانو نه چه زما نه وروسته به وي څوک چه د دوئ دروازو ته راغلو او د دوئ د دروغو تصدیق ئے وکړو او د دوئ سره ئے پۀ ظلم کښې مرسته وکړه نو دا زما نه نه دے او ځۀ د دوئ

نه نه یم ـ او زما خواته حوض کوثر ته به رانشي ـ او هغه څوک چه د دوئ دروازو ته ورغلو او د دوئ د دروغو تصدیق ئے ونکړو۔ او د دوئ سره ئے په ظلم کښے مرسته ونکړه نو دا زما نه دے او څۀ د دوئ نه یم او زردۀ چه دوئ به زما خوا ته حوض کوثر ته راشي۔

د ظالم او فاسق حکمرانانو په باره کښې د علماء کرامو اقوال :

۱ ـ حضرت سفیان ثوري رحمه الله فرمائي:

''إن دعوك لتقرأ عليهم :قل هو الله إحد ،فلا تأتهم'' **(بیهقي)**

"که ظالم حکمران تاسو د دے د پاره راوغواړي چه تاسو هغویته سورت اخلاص ولولي نو بیا هم مه ورځئ "۔

او مزید فرمائي :

ان فجار القراء اتخذوا الي الدنيا فقالوا : ندخل علي الأمراء نفرج عن مكروب و نكلم في محبوس''

" فاجره علماؤ دنیا ته د(رسیدلو د پاره) یوه بهانه تلاش کړے ده او وائي : مونږ د دے د پاره حاکمانو ته ورځو چه کوم مصیبت زده ته نجات ورکړو او د یو بندي سفارش اوکړو"۔

۲ـ د هارون الرشید په دورکښې چه کله امام اسماعیل بن علیه د بصرے د محصولاتو د حاصلولو د پاره لاړو نو امام ابن مبارکؒ هغه ته دا اشعار ولیکل او ورته ئے ولیږل:

ياجاعل العلم له ،بازيا :: يصطاد أموال المساكين

احتلت لدنيا و لذاتها :: بحيلة تذهب بالدين

فصرت مجنونا بها بعد ما :: كنت دواء للمجانين

أين رواياتك في سردها :: عن ابن عون و ابن سيرين

أين رواياتك فيما مضي :: في ترك أبواب السلاطين

إن قلت أكرهت فماذا كذا :: زل حمار العلم في الطين

لاتبع الدين بدنيا كما :: يفعل ضلال الرهابين

" اے اوس د ځان د پاره علم لره ښکار جوړونکیا چه د مسکینانو مالونه ورباندے ښکارکوے ـ تا د دنیا او د هغے د لذتونو د پاره داسے حیله جوړه کړے ده چه ستا دین ئے ختم کړو۔ او ته د دنیا لیونے شوے حالانکه یو وخت داسے وو چه تا په خپله د لیونو علاج کولو۔ ستا هغه روایات څه شول کوم چه تا د ابن عون او ابن سیرن نه نقل کړي دي ـ او ستا هغه روایتونه چرته لاړل کوم چه د بادشاهانو د دروازو د پریخودلو وو۔ که ته دا عذر کوے چه ته مجبوره شوے وے نو دا عذر صحیح نه دے ، ریشتیا خبره دا ده چه د علم خر په ختو کښې خوبدلے دے ـ خپل دین د دنیا په بدل کښې مه خرڅوه لکه چه ګمراه پیران ئے کوي۔

تتمه په باره د اکثریت او مساوات کښې

د جمهوریت په بنیادونو کښې یو مساوات دے او دا نظریه د دے آیاتونو نه خلاف ده:

قُلْ لَا يَسْتَوِي الْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيثِ (المائده:۱۰۰)

قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمَى وَالْبَصِيرُ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ (۵۰) سورة الانعام

قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمَى وَالْبَصِيرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِي الظُّلُمَاتُ وَالنُّورُ (الرعد)

ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا عَبْدًا مَمْلُوكًا لَا يَقْدِرُ عَلَى شَيْءٍ وَمَنْ رَزَقْنَاهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنْفِقُ مِنْهُ سِرًّا وَجَهْرًا هَلْ يَسْتَوُونَ الْحَمْدُ لِلَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (۷۵) وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا رَجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا أَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ عَلَى شَيْءٍ وَهُوَ كَلٌّ عَلَى مَوْلَاهُ أَيْنَمَا يُوَجِّهْهُ لَا يَأْتِ بِخَيْرٍ هَلْ يَسْتَوِي هُوَ وَمَنْ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَهُوَ عَلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ (۷۶) (النحل)

و مَا يَسْتَوِي الْأَعْمَى وَالْبَصِيرُ (۱۹) وَلَا الظُّلُمَاتُ وَلَا النُّورُ (۲۰) وَلَا الظِّلُّ وَلَا الْحَرُورُ (۲۱) وَمَا يَسْتَوِي الْأَحْيَاءُ وَلَا الْأَمْوَاتُ (الفاطر)

قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ (۹) سورة الزمر

وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمَى وَالْبَصِيرُ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَلَا الْمُسِيءُ قَلِيلًا مَا تَتَذَكَّرُونَ (۵۸) سورة مؤمن

لَا يَسْتَوِي مِنْكُمْ مَنْ أَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ أُولَئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِنَ الَّذِينَ أَنْفَقُوا مِنْ بَعْدُ وَقَاتَلُوا (الحدید)

لَا يَسْتَوِي أَصْحَابُ النَّارِ وَأَصْحَابُ الْجَنَّةِ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَائِزُونَ (۲۰) سورة الحشر

أَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا لَا يَسْتَوُونَ (۱۸) سورة السجده

أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَوُونَ عِنْدَ اللَّهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (۱۹) (التوبه)

أَفَمَنْ يَعْلَمُ أَنَّمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ الْحَقُّ كَمَنْ هُوَ أَعْمَى إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ (۱۹) سورة الرعد

أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِينَ كَالْمُجْرِمِينَ (۳۵) سورة القلم

أَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ كَمَنْ مَثَلُهُ فِي الظُّلُمَاتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِنْهَا كَذَلِكَ زُيِّنَ لِلْكَافِرِينَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (۱۲۲ سورة الانعام

مَثَلُ الْفَرِيقَيْنِ كَالْأَعْمَىٰ وَالْأَصَمِّ وَالْبَصِيرِ وَالسَّمِيعِ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا أَفَلَا تَذَكَّرُونَ (٢٤) سورة هود

قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِي الظُّلُمَاتُ وَالنُّورُ سورة الرعد

أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ (٢٨) سورة الزمر

قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ (٩) سورة الزمر

أَفَمَنْ يُلْقَىٰ فِي النَّارِ خَيْرٌ أَمْ مَنْ يَأْتِي آمِنًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ (٤٠) سورة حم السجده

أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ أَنْ نَجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَوَاءً مَحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ (٢١) سورة الجاثيه

د جمهوريت په بنيادونو کښې يو اکثريت دے او دا نظريه د دے آياتونو نه خلاف ده:

أَوَكُلَّمَا عَاهَدُوا عَهْدًا نَبَذَهُ فَرِيقٌ مِنْهُمْ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ (١٠٠) سورة البقره

وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِنْ رَبِّهِ قُلْ إِنَّ اللَّهَ قَادِرٌ عَلَىٰ أَنْ يُنَزِّلَ آيَةً وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (٣٧) سورة الانعام

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُونَ (١١١) سورة الانعام

ثُمَّ لَآتِيَنَّهُمْ مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَائِلِهِمْ وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَاكِرِينَ (١٧) سورة الاعراف

وَمَا وَجَدْنَا لِأَكْثَرِهِمْ مِنْ عَهْدٍ وَإِنْ وَجَدْنَا أَكْثَرَهُمْ لَفَاسِقِينَ ((١٠٢)

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (١٣١) سورة الاعراف

إِنْ أَوْلِيَاؤُهُ إِلَّا الْمُتَّقُونَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (٣٤) سورة الاعراف)

وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ إِلَّا ظَنًّا إِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ (٣٦) سورة يونس

أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَلَا إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (٥٥) سورة يونس

إِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُونَ (٦٠) سورة يونس

وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُمْ بِاللَّهِ إِلَّا وَهُمْ مُشْرِكُونَ (١٠٦) سورة يوسف

هَلْ يَسْتَوُونَ الْحَمْدُ لِلَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (٧٥) سورة النحل

وَإِذَا بَدَّلْنَا آيَةً مَكَانَ آيَةٍ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوا إِنَّمَا أَنْتَ مُفْتَرٍ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (١٠١) سورة النحل

قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ هَذَا ذِكْرُ مَنْ مَعِيَ وَذِكْرُ مَنْ قَبْلِي بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ الْحَقَّ فَهُمْ مُعْرِضُونَ (٢٤) سورة الانبياء

أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا (٤٤) سورة الفرقان

إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ (٨) سورة الشعراء

أَإِلَهٌ مَعَ اللَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (٦١) سورة النمل

وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُونَ (٧٣) سورة النمل

فَرَدَدْنَاهُ إِلَى أُمِّهِ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (١٣) سورة القصص

أَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَهُمْ حَرَمًا آمِنًا يُجْبَى إِلَيْهِ ثَمَرَاتُ كُلِّ شَيْءٍ رِزْقًا مِنْ لَدُنَّا وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (٥٧) سورة القصص

وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُولُنَّ اللَّهُ قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ (٦٣) سورة العنكبوت

قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلُ كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُشْرِكِينَ (٤٢) سورة الروم

قَالُوا سُبْحَانَكَ أَنْتَ وَلِيُّنَا مِنْ دُونِهِمْ بَلْ كَانُوا يَعْبُدُونَ الْجِنَّ أَكْثَرُهُمْ بِهِمْ مُؤْمِنُونَ (٤١) سورة سبا

لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ عَلَى أَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ (٧) سورة يسين

ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا رَجُلًا فِيهِ شُرَكَاءُ مُتَشَاكِسُونَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِرَجُلٍ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا الْحَمْدُ لِلَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (٢٩) (٤٨) سورة الزمر

فَإِذَا مَسَّ الْإِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَانَا ثُمَّ إِذَا خَوَّلْنَاهُ نِعْمَةً مِنَّا قَالَ إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَى عِلْمٍ بَلْ هِيَ فِتْنَةٌ وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (٤٩) سورة الزمر

بَشِيرًا وَنَذِيرًا فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ (٤) حم السجده

مَا خَلَقْنَاهُمَا إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (٣٩) سورة الزخرف

إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِنْ وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ سورة الحجرات (٤)

وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا عَذَابًا دُونَ ذَلِكَ وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (٤٧) سورة الطور

وَتَرَى كَثِيرًا مِنْهُمْ يُسَارِعُونَ فِي الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَأَكْلِهِمُ السُّحْتَ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (٦٢)

وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ طُغْيَانًا وَكُفْرًا (٦٤) سورة المائده

وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ طُغْيَانًا وَكُفْرًا فَلَا تَأْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ (٦٨) سورة المائده

وَلَا تَتَّبِعُوا أَهْوَاءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوا مِنْ قَبْلُ وَأَضَلُّوا كَثِيرًا وَضَلُّوا عَنْ سَوَاءِ السَّبِيلِ (٧٧) سورة المائده

تَرَى كَثِيرًا مِنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنْفُسُهُمْ أَنْ سَخِطَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خَالِدُونَ (٨٠) وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاءَ وَلَكِنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ فَاسِقُونَ (٨١) سورة المائده

وَإِنَّ كَثِيرًا لَيُضِلُّونَ بِأَهْوَائِهِمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِالْمُعْتَدِينَ (١١٩) سورة الانعام

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ كَثِيرًا مِنَ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ (٣٤) سورة التوبة

فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ آيَةً وَإِنَّ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ عَنْ آيَاتِنَا لَغَافِلُونَ (٩٢) سورة يونس

أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا فِي أَنْفُسِهِمْ مَا خَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا إِلَّا بِالْحَقِّ وَأَجَلٍ مُسَمًّى وَإِنَّ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ بِلِقَاءِ رَبِّهِمْ لَكَافِرُونَ (٨) سورة الروم

بلکي حقانیت په جانب د اقلیت کښې وي

ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِنْكُمْ وَأَنْتُمْ مُعْرِضُونَ (٨٣) سورة البقره

فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ (٢٤٦) سورة البقره

كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ (٢٤٩) سورة البقره

فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا (٤٦) سورة النساء

وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ إِلَّا قَلِيلًا (٨٣) سورة النساء

وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا (١٤٢) سورة النساء

فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا (١٥٥) سورة النساء

وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَى خَائِنَةٍ مِنْهُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ (١٣) سورة النساء

اتَّبِعُوا مَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ قَلِيلًا مَا تَذَكَّرُونَ (٣) سورة الاعراف

(١١) وَلَقَدْ مَكَّنَّاكُمْ فِي الْأَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ قَلِيلًا مَا تَشْكُرُونَ (١٠) سورة الاعراف

(١٢) فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُونِ مِنْ قَبْلِكُمْ أُولُو بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِي الْأَرْضِ إِلَّا قَلِيلًا مِمَّنْ أَنْجَيْنَا مِنْهُمْ (١١٦) سورة هود

(١٣) قَالَ أَرَأَيْتَكَ هَذَا الَّذِي كَرَّمْتَ عَلَيَّ لَئِنْ أَخَّرْتَنِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُ إِلَّا قَلِيلًا (٦٢) سورة الاسراء

(١٤) وَهُوَ الَّذِي أَنْشَأَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ قَلِيلًا مَا تَشْكُرُونَ (٧٨)

(١٥) سورة المؤمنون

أَإِلَهٌ مَعَ اللَّهِ قَلِيلًا مَا تَذَكَّرُونَ (٦٢) سورة القصص

(١٨) ثُمَّ سَوَّاهُ وَنَفَخَ فِيهِ مِنْ رُوحِهِ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ قَلِيلًا مَا تَشْكُرُونَ (٩) سورة السجده (١٩)

قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ الْمُعَوِّقِينَ مِنْكُمْ وَالْقَائِلِينَ لِإِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ إِلَيْنَا وَلَا يَأْتُونَ الْبَأْسَ إِلَّا قَلِيلًا (١٨) سورة الاحزاب

(١٩) يَحْسَبُونَ الْأَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُوا وَإِنْ يَأْتِ الْأَحْزَابُ يَوَدُّوا لَوْ أَنَّهُمْ بَادُونَ فِي الْأَعْرَابِ يَسْأَلُونَ عَنْ أَنْبَائِكُمْ وَلَوْ كَانُوا فِيكُمْ مَا قَاتَلُوا إِلَّا قَلِيلًا

(٢٠) سورة الاحزاب

(٢٠) وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمَى وَالْبَصِيرُ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَلَا الْمُسِيءُ قَلِيلًا مَا تَتَذَكَّرُونَ (٥٨) سورة مؤمن

بَلْ كَانُوا لَا يَفْقَهُونَ إِلَّا قَلِيلًا (١٥) سورة الفتح

(٢٣) قُلْ هُوَ الَّذِي أَنْشَأَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ قَلِيلًا مَا تَشْكُرُونَ (٢٣) سورة الملك

(٢٤) وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ قَلِيلًا مَا تُؤْمِنُونَ (٤١) وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ قَلِيلًا مَا تَذَكَّرُونَ (٤٢) سورة الحاقه

(٢٥) وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ اقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ أَوِ اخْرُجُوا مِنْ دِيَارِكُمْ مَا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٌ مِنْهُمْ (٦٦) سورة النساء

(٢٦) حَتَّى إِذَا جَاءَ أَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّورُ قُلْنَا احْمِلْ فِيهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ وَمَنْ آمَنَ وَمَا آمَنَ مَعَهُ إِلَّا قَلِيلٌ

(٤٠) سورة هود

وهذا اخر ما اردنا ايراده فى هذا الكتاب الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي هَدَانَا لِهَذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَا أَنْ هَدَانَا اللَّهُ

وصلي الله تعالي عليه خير خلقه محمد وعلي اله وصحبه اجمعين

مولوي گل محمد افغانستان کنړ دره چوکام تاریخ: ۳ ربیع الثاني ۱۴۴۲ هـ